Ketabona | کتابونه
WWW.KETABONA.COM

بسم الله الرحمن الرحیم

@Ketabona
DOWNLOADED
WWW.KETABONA.COM
info@ketabona.com

Ketabona | کتابونه
WWW.KETABONA.COM

# ګونديِ بيا ښيِ ورځيِ راشي

ليکوال: دوديال

@Ketabona
DOWNLOADED
WWW.KETABONA.COM
info@ketabona.com

# (۱)

دغو ورځو کې د صدارت له څلورلارې تر طُره بازخان څلورلارې، له شاببوجان کوڅې بيا د نوي ښار د پارک تر شاوخوا د توريستانو او هيپيانو شمېر ډېر کم شوی و. د انتيک پلورونکو، پُستکارت پلورونکو او پوستين پلورونکو بازار بيخي سوړ شوی و. کابل ته د پخوا په پرتله توريستان لږ راتلل، خو بهرني خبريالان ډېر شوي وو. مازيګر مازيګر به د "مُرغفروشي" کوڅه کې د شېرآغا د شېدو پلورلو هټۍ کې لکه د پخوا په شان هغه ځوانان را ټولېدل چې ورزشي کلبونو کې به يې د مازيګرني تکړښت يوه ګړۍ وخت پای ته رسيدلی و، خو هغه د پخوا په شان خوشحالي، خنداوې او ټوکې- ټکالي يې نه وې.
کله به چې شېرآغا له خپلې اوږې سپين نوجن څپونی د هټۍ پر ميزونو باندې تېر کړ، نو چا به د شيدو او چا به له شيدو سره د سيلو د خوندور روټ فرمايش ورکاو، يونيم به شيدو کې د يوې هګۍ د اچولو غږ هم وکړ. دا وخت به د دوی ترمنځ ورو ورو سياسی بحثونه شروع شول. هر يوه به خپله شاوخوا سترګو لاندې وڅارله او ورو ورو به يې په نويو حالاتو او بدلونو انديښنه ښودله. يوه به په خبرو خبرو کې د شپږم نمبر فرمان او اووم نمبر فرمان او بل به د (شاګردوفادار) تبی هم ور وکړ او بيا به په خندا شول.
سم له ماښام سره به شېرآقا ټول غابونه او پيالې ومينځلې او دشپې تر نهو بجو به يې هټۍ وتړله او خپل کورته به روان شو. له اتو- نهو مياشتوراهيسې چې دپسرلي يوه باراني ورځ کې دکابل په خونړي

ارګ کې ويني وبهېدې او نظام بدل شو، له هغه راهيسې د شپې ګرځېدنې بنديزونه لګول شوي وو، نو ځکه به شېرآقا مخکې دشپې له لسو بجو هټۍ تړله. نور نو هغه وختونه تېر وو چې تر نيمې شپې به بازار پرانيستی و. نن ماښام يې هم د هټۍ ور بند کړ، په کولپ يې د ډاډه کيدو په خاطر يوځل بيا زور وکړ، ښه کلک و. لاس يې د دُعا په دود پرمخ راکښه او په بيړه د ده افغانان په لوري روان شو.

دتل په شان لومړی شاه محمود خان واټ ته ووت او له هغه ځايه د صدارت د څلورلارې په لوري ور کوږ شو. مخامخ د آسمايی دغره د لمن د کورونو ژيړرنګه څراغونه ځلېدل. د آسمايي د غره لمن کې د ښار اصلي- پخواني، خو بېوزله خلک اوسېدل. دوی زياتره کسبه کاران او هټيوال يا د ښوونځيو ښوونکي او د اداراتو ټيټ رتبه مامورين وو. شېرآقا به په وړوکي پنډوکي کې د کېک او روټ هغه خځرکي او بځرکي تړلي وو چې توله ورځ به له مشتريانو څخه دميزونو پرسر پاتی و. ده به هره شپه دغه پنډوکی کورته وړ او بچي به يې ورته خوشحاله وو. ګړندي ګامونه يې اوچتول، پخوا وخت ورياد شو چې دشپې ګرځيدو بنديز نه و، نو دا وخت به د صدارت د څلورلارې له هوټلونو هندي، لويديزې پاپ او ايرانی يا دافغاني هنرمندانو سندرو غږ اورېدل کېد. کله به چې د “خواجه رستورانت” مخې ته ورسېد، له هغه ځايه به هم د هغه زوړ ريکاټ غږ راته چې “چل چل ميری ساتی” او “زنده کی ايک سفرهی” او يابه هم د سيګل غزل او سندرې پکې وې. اوس له څو مياشتو راهيسې پخوانی ريکاټ نشته، خو درستورانت برسر کې يو نوی تلويزيون ايښی دی.

خواجه نوره د پهلواني کارګاه پريښي، بوډا شوی، ږيره يې سپينه او ملا يې کږوپه ده، خو د هوټل په ديوال يې په يو لرګين چوکاټ کې د پهلوانی د ورځو انځورونه ځړيدلي دي.

د تلويزيون په اېښودو سره خواجه د رستورانت د ميزونو او چوکيو کتارونه هم بدل کړل، چې خلک وکولای شي تلويزيون آسانه وګوري، په دې سره د رستورانت بڼه بيخي بدله شوې ده. تلويزيون د رستورانت له مخې بهر او د پليو له لارې هم اوچته ښکاري او غږيې هم اورېدل کيږي. دا وخت لا ډېرو خلکو کورونو کې تلويزيون نه درلود. دا يو نوی شی و چې لارويانو او ګاونډيو هټيوالو به په حيرانتيا ورته کتل. د شېراغا هم لکه د نورو شپو په شان د تېرېدو پر مهال ورپام شو، خو نن د نورو شپو په پرتله ډېر خلک ورته ولاړ وو. ټولو په انديښنې سره غوږ ورته نيولی و. دصدارت د څلورلارې د سړک مخامخ بلې غاړې ته د " پرکاش عکاسی ستديو" هم وختي تړل شوې وه، هغه غاړه کراره کراري وه، خو دې غاړې ته د خواجه رستورانت مخې ته ډله خلک هک پک ولاړ دي. شيرآقا به چې پخوا دا مهال دې ځای ته راورسېد، تلويزيون به يا د مارشونوخبرونه ويل يا به د لومړي وزير وينا وه، خو نن حالات بل شانته وو. شيرآغا چې خلکو ته وکتل شک ور ولوېد چې هرومرو کومه نوې پېښه شوی ده. د روټ د خځوزګو کوچنی پنډوکی يې په اوږه راسم کړ او ښه ځير شو؛ تلويزيون خبرو ته دوام ورکړ:

... د امريکې سفير چې نن له نوي ښار څخه برمته او د کابل هوټل ۱۱۷ مې کوټې ته وړل شوی و له برمته کوونکو سره يو ځای ووژل شو...

د خبر د هرې جملې په اورېدو سره به ولاړ کسان لکه ترهيدلی پسونه لړ سره خواره واره شول، غوږونه به يې نور هم څک کړل، يو- دوو به د کورنيو چارو د وزارت خواته تللی سړک لوري ته وکتل، يو دوو نورو به د کابل ولايت د ودانۍ لوري ته وکتل او بېرته به سره نږدې او غوږ په غوږ شول. دغو ورځو کې ښه خبرونه نه وو. تلويزيون کې به آن هغه مهال چې سرې او برګې سندرې او

ګداګاني به وي، هم دخلکو پام به ورته نه اوښت، ټول په وېره کې وو.
شيرآقا چې وړوکی پنډوکی يې په اوږه و او د شيدو بوی ورڅخه لټېد، څو شيبې ودرېد، خو ډير ژر روان شو او د ترهيدلي پسه په شان څک غوږونه او لا زيات انديښنه کې شو. هغه هسې هم ټوله ورځ د هغو ځوانانو خپل منځي پس پسي اورېدل چې غلي غلي به يې د شفر او راز په توګه يو بل ته اورول، خو شير آغا د ټولو راز دار و. دا وخت چې خلک د ديوالونو له چاودو او سوريو هم وېرېدل، د شيراغا هټی د پټو سياسی بحثونو ځای و.
په هغه شپه چې شيرآغا د امريکې د سفير د وژل کېدو خبر واورېد، انديښنه کې ويده شو. په هغه سبا لکه د تل په شان د سهار تر لمانځه وروسته چې د آسمايی دغره په سر لا يو څو ځراغونه ځلېدل، د "ده افغانانو" له تنګو او مخ په ځوړ کوڅو څخه لومړی سالنګ واټ ته او بيا مخامخ د نوی ښار په لوري راروان شو. د سهار په مهال ډېره ګڼه ګوڼه نه وه. کله چې د کابل ولايت له اړخه را تېر شو، يو ځل يې د ختيځ خواته وکتل، زړه يې و د کابل هوټل مخې ته يا زرنګار پارک ته ورشي، خو په زړه يې وېره خوره شوه، له هر څه تېرشو.
ګړندی خپلې هټی ته راغی. بيا يې هم د هرې ورځې په شان دُعا وکړه دواړه لاسونه يې په مخ راکښل او سم له دې سره يې د هټۍ دروازه پرانيسته. ژر ژر يې د شيدو د پخولو لوی سپين ديګ په اوبو کنګال کړ، له اوبو يې ډک کړ او اور يې ورپسې ولګاو. په خپله ووت چې د ګُل پلورلو له کوڅې څخه شل يا ديرش روټ او شيېته يا اويا هګۍ رانيسي. دغه شمېره د ده د مشتريانو لپاره بس وه. دا مهال نورې هټۍ هم يوه يوه پرانيستل کېدې: کابل بوټيک، Asia Antique، هندوکش ټيلرز، کنيسشکا فوټو سټډيو، Pamir Jewelry، غزنوی پوستين او ورسره نورې هټۍ يوه يوه پرانيستل

شوې. دسړک په مخ شور- زوږ هم زيات شو. شيرآقا هګۍ او روټونه راورسول. طُره بازخان څلورلارې کې نوې څه نه ښکارېدل.
لمر څرک سره سم، هغه شپږ تنه ځوانان له سپورتي کلب څخه را ورسېدل چې هرسهار به د تکړښت له پای ته رسولو وروسته د شيراغا هټۍ ته راتلل او د شيدو اوروټ فرمايش به يې ورکاو. د ده درې نورو مشتريانو به سهار وختي د نوي ښار پارک کې په منډو او پلي تګ ځان ښه ستړی کړی و او بيا به دلته راتلل. دوی پسې به وروسته ګاونډي هټيوال او بازار کې تېرېدونکي خلک د سهار د ناشتا لپاره راتلل. د مازيګر مشتريان يې هم معلوم وو؛ د ورځې په بهير کې به ځينې بهرني ګرځندويان او هيپيان، ځينې رسمي مامورين او ګاونډي هټيوال د ده هټۍ ته راتلل. توريستانو د سيلو افغانی روټ ډېرخوښاو.
د شيرآغا سهارني لومړني مشتريان چې د خولو بوی يې لټېد، همدا له تکړښت څخه راغلي ځوانان وو. له راننوتو سره سم د ميز شاوخوا کيناستل. شيراغا نوې پخې شوې تودې شيدې اوړدو ګيلاسونو کې واچولې، يوه يوه هګۍ يې پکې ماته کړه او غابونو کې يې د دوی مخې ته کېښودې. دغو ځوانانو کې دوه تنه يوه توريستی موسسه کې ژباړونکې، يو تن اينجنير، يوبل ځوان د کرنې محصل او دوه نور د راډيو د اماتور د موسيقی د ارکستر غړي وو. دوی په دمه دمه شيدې څښلې او ورو ورو يې لکه د نورو ورځو په شان سياسی خبرې- اترې پيل کړې.
د دوی د نن سهار لومړنی خبره په کابل کې د امريکا د متحده ايالاتو د سياسی استازي (ادولف ډابس) د وژل کېدو په هکله وه. ډابس چې پرون کابل هوټل کې برمته او بيا وژل شوی و.
کله چې دوی دا بحث پيل کړ، شيراغا پر ميزونو صافی تېروله، خو دا کيسه يې ورو واورېده، ورته په زړه پورې وه. هغه بيګا شپه د خواجه د رستورانت په تلويزيون کې دا پېښه مازې اورېدلې وه، خو

پوره وربانديِ پوه شوی نه و. شيرآغا د صافی ځپونی په اوږه واچاو اود ځوانانو ختک ته راغی.
د پرون کيسه او د امريکا د متحده ايالاتو د سفير د وژل کېدو پېښه ډيره جره وه: څلورو تنو تومانچه لرونکو د طُره بازخان له څلورلاريِ څخه ډابس او د هغه موټر او ډرايور تښتولي او د کابل هوټل ۱۱۷مي کوټې کې يې يرغمل کړي وو. تښتوونکو د پوليسو اداريِ څخه د خپل ګوند د يو غړي د خوشيِ کولو غوښتنه کوله چې حکومت د مخالفت او(انقلاب ضد) په تور نيولی و. دوی پرله پسيِ ګواښ کاو که غوښتنه يې ونه منل شي، سفير به ووژني. اينجنير خپلو نورو ملګرو ته وضاحت ورکړ:
حکومت سره بندي د خلکی حاکميت په ضد چې نهه مياشتيِ مخکې واک ته رسيدلی، خبريِ کړي دي. د بهرنۍ موسسيِ ژباړونکی يې دخبرو منځ ته ورولوېد:

- د ډابس اختطاف او وژنه د پوزانوف کار دی!

شيراغا د اختطاف په مانا پوه نشو. ژباړونکي خپله خبره وغځوله:

- نور نو افغانستان کې لوبه بليِ خواته روانه ده. دا استازي نه دي، دا د جړ او ډېر پيچلي سياست لوبغاړي دي چې افغانستان کې اورونه بل او وينيِ بهوي. دا نهه مياشتيِ کيږي وينيِ بهول پيل شوي دي.

د کرنيِ محصل ځواب ورکړ:

- غم يې مه کوه، د روس د استازي ورځ به تر ديِ هم بتره ترخه شي. اډولف ډابس وړوکی سړی نه و، هغه د جيمي کارتر ښی لاس او په ټول ختيځ کې بيساری ديپلومات و.

بل اينجنير وويل:

- ورکوه يې دا ناولي استازي به افغانستان په اور واړوي او تياريِ ته به يې ټېل وهي...

په دې ورځ ټول ښار کې د پرونۍ پېښې کيسه پټه او ښکاره روانه وه. کيسه پېچلې او سياسي وه، خو ښاريان ټول ورڅخه خبر شوي وو.
يرغمل کوونکو پوليس څخه غوښتي و چې ډير ژر د دوی يو ملګری له بند څخه روغ رمت را خلاص کړي. پوليسو هڅه کړې وه چې په ژاندرمايی تکتيک ډابس له يرغملګرو راخوشی کړي. پوليس لومړی د هوټل لابی ته ورغلل. سفير دوهم پوړ کې يرغمل کوونکو سره و. کيسه هغه وخت جړه مشوره شوه چې برمته کوونکو پرله پسې همدا يوه غوښتنه لرله. دوی د امريکې د متحده ايالاتو سفير ځان سره کوټه کې ايسار کړی و، پوليسو کابل کې د متحده ايالاتو له نورو ديپلوماتانو سره اړيکه ونيوله، هغوی غوره وبلله چې دشوروي اتحاد سفارت سره دې خبرې وشي. شوروي ديپلوماتان د دې خبر په اورېدو تر هرچا زيات انديښمن شول. برمته کوونکو پوليسو ته ډېر لږ وخت ښودلی و، هغوی پرله پسې ګواښ کاو چې که غوښتنه يې ونه منل شي، ډابس به ووژني. دا وخت پوليسو ته امر وشو چې په يرغمل کوونکو بريد وکړي. په لنډه شيبه کې بريد پيل شو. لومړی پوليسو له بهر څخه کوټې ته دننه ډزې کولې، له هغې خوا هم په پوليسو ډزې وشوې. د هوټل ۱۱۷مه دروازه سوری سوری شوه، د سوځېدلې درې بوی تر سپږمو شو، يوه شيبه کراری شوه. يو پوليس وړاندې ورغی چې له سوريو څخه دننه وګوري، يوناڅاپه ورباندې ډز وشو، دا وخت بيا د پوليسو مشر د پرله پسې ډزو امر وکړ. دوی تر هغو پورې دکوټې دننه وويشته چې نور نو يکې د چا د ژوندي پاتې کيدو تمه پاتې نشوه. دا وخت نو د وره د پرانېستو اړتيا نه وه، هغه بيخي له منځه تللې وه. کله چې پوليس دننه ننوتل فکر يې کاو چې ښاغلی ډابس به چيرې ځان ګوښه کړی وي، ځکه چې هغه وسله نه لرله او پوليس سره يې کار نه و، خو چې ويې ليدل ډابس له يرغمل کوونکو

سره یوځای مړ پروت و. د لوګیو تریخ بوی سره د تازه بهېدلو وینو بوی تر سږمو کېد. د پولیسو آمر مخابره کې ټول راپور تېرکړ...
شېرآقا او پنځه تنه نورو د اینجنیر دغې کیسې ته غوږ نیولی و، هغه پایله اعلان کړه:
برمته کوونکي موخې ته ونه رسېدل، خو نوي واک ته رسیدلي حکومت ته یې لوی شرم واړاو او خدای دې خیر کوي چې د دې استازي کسات راخخه وانخیستل شي.
د موسیقی د ارکستر غړی د دې پایلې په اورېدو اندېښمن شو. دمېزشاوخوا ناست اندیوالان یې له سترګولاندې له نظره تېرکړل، لکه کله چې ورته د کوم کمپوز الهامي طرز راشي، په دې سیاسي خبره کې یې هم سمفونیک تخییُل وتخنېد او ویې ویل:
عجیبه دنیا ده، د ډابس د وژل کېدو ګواښوونکی کسټ ثبت شو، انګازې به یې تر ډېره اورېدل کیږي، بابېزه یې مه بولئ چې شل، دیرش یا پنځوس کاله وروسته کوم یوبل استازی له دې بتره لوبه راسره وکړي او ویربږم د دې استازي کسات واخلي!!
د زراعت محصل لکه دمني د یخ وهلي چنار د پاڼې په شان وربږدېد:
هسې هم د پیاوړو هیوادو سفیران خوارو ملکو کې خپلې ګټې تضمینوي، موږ ته یې تر خیر اوګټې زیان ډېر دی، که د ډابس او پوزانوف دګټو سیالی نه وای موږ ولاکه په دې بده ورځ اخته شوی وای... وروستیو دوو ټکو کې یې غږ لړزه وکړه او غلی شو.
اینجنیر دشیدو وروستی غوړپ وکړ، د ژباړونکي ګیلاس نیمایی و، د اماتور د موسیقی د ډلي غړي لاوختي خپله پیاله تشه کړې وه، خو یوه ته هم د نن ورځې ناشتا چندان خوند ورنه کړ.
شیراقا دغې کیسې ته حیران و. د ده هتې کې هرچا هره ورځ راز راز کیسې کولې، چابه جدي بحثونه کول، چا به بوس بادول او هسې ډډوزې به یې ویشتلې، چا به پخې خبرې کولې. چا په سیاست، چا په تجارت او سیاحت، ځینو په موډ او فیشن بحثونه کول. د شیراقا به

هغه څوک خوښ و چې وروسته د شیدو له ناشتا، د ده د روټ او شیدو صفت وکړي.
کله چې دتکړښت شیړو ملګرو خپل چای څښل او بحثونه پای ته ورسول، دا وخت یو اوچت دنګ ځوان چې پلن تور بریت یې لرل او د ده لاندنی شونډه باندې راپراته وو او عسکری دریشی یې لرله، را ننوت. شیراغا په منډه او وارخطا پاڅېد، د شیدو د دیګ او دخل خواته ورغی، په خپل ځای کې د لوښو په سمولو بوخت شو. دعسکری دریشي لرونکي ځوان پر اوږه د لومړي بریدمن پلیټونه وو. د یو میز شاته کیناست. د اینجنیر ترخنګ ناست د موسسي ژباړونکي په اوچت غږ نوي راغلی ځوان ته وویل:

- ملګریه سترې مشی!

اینجنیر د(ملګریه) په کلمه زور واچاو او میز لاندې یې د موسیقی د ارکستر غږي ته ډکه ورکړه. هغه پوه شو چې اینجنیر په ملګري توکې شروع کړې. د موسسې ژباړونکی هم سترې مشی ورکړه:
-ملګری بریدمن سهار په خیر!
هغه وویل: ملګرو کور ودان.
اینجیر بیا خپلو ملګرو ته میز لاندی ډکه ورکړه ټول پټ پټ مُسک شول.
بریدمن خپله عسکري خولۍ له سره هیسته او پر میز یې کېښوده، مخکې له دې چې د شیدو فرمایش ورکړی، یو دوه لټ یخني وهلي مچان یې مخې ته په میز کیناستل. سره له دې چې د فبروری میاشت وه، بهر هوا سړه وه، خو د شیراغا هټی به تل توده وه د اوبو او شیدو دیګونو څخه به تپ خوت. نیمزاله یخ وهلی مچ لا ګرځیدلی نه و چې بریدمن په غوسه ګوزار وربانديې وکړ، خو دواړه مچان والوتل. د موسیقی د ارکستر غږي چې د بریدمن ننداره کوله، وخندل وربانديې غږیې کړ:

- ملګریه ګوزار دې انقلابي نه و!

بريدمن د (انقلاب) د کلمې په اورېدو جذباتي شو، ورته ويې ويل:
ملګريه دا شرير تورمخي نشي تښتېدای، آخر به په لاس راشي.
په دغو ورځو کې ملګری، انقلاب، ګوزار، مارش، په شانه تلونکی، بزګر، کارګر، شرير او ډېر نور هغه اصطلاحات وو چې نوي رواج شوي وو.
د بريدمن په جذباتي کېدو سره، شپږ.واړو ځوانانو يو بل ته وکتل او ووېرېدل چې اوس ټوکې ښخه پټاکه جوړه نشي، نو يو يو پاڅېدل، د شيرآغا مخې ته يې پېسې کېښودې، ووتل. بريدمن لاهم د هټۍ د چت او کونجونو په لوري سترګې غړولې، دا وخت شيراغا د ده د ميز مخې ته راغی، بريدمن نيم روټ او يوګيلاس شيدی فرمايش ورکړ.
تر دې مهاله لمر ښه را اوچت شوی و او بهر پر سړک ګڼه- ګوڼه زياته شوې وه.



# (۲)

صادق ته په ټول هیواد کې حالات خواشینوونکي ښکارېدل. دا لومړی ځل و چې صادق په ښار کې د یو (غټ سړي) د وژل کېدو خبرې اورېدلې. پوهنتون کې یې د ټولګي ملګرو د سفیر له وژل کېدو لوی داستان جوړ کړی و. سږکال د کب په میاشت کې چې نوی پسرلنی سمستر پیل کیږي، د صادق د لوست شپږم سمستر دی. ده د حقوقو د پوهنځي له لوست سره یوځای په نوي ښار کې د خپل پلار حاجی صاحب عبدالخالق له شریک (آغابادار) سره توریستی موسسه کې هم کار کاوه. نیمه پانګه د حاجی صاحب او نیمه نوره د اغابادار وه. حاجي صاحب په اغابادار او دهغه په ورور نانې آغا پوره باور درلود، نو ځکه خپله موسسې ته ډیر نه راته، حسابونه یې صادق ته پریښي وو. د آغا بادار خپل نوم(عبدالباري) و، خو د درناوی په پار ټولو ورته اغابادار ویل. بل ورور یې عبدالباقی نومېد، دوی ورته نانی اغا ویل. تل به یې خامک اوبدل شوی غاړه او پرېږ اوږد واسکټ وربانديې اغوست، څادربه یې پر اوږه و او د لونګۍ شمله به یې شاته نږدې تر پوندو رسېدله. کنداری پڼې به یې پښو کولې. د توریستانو او هیپیانو له دغه ډول غاړې او پڼو سره ډېره علاقه وه، او چې جیب کې به یې(تلی) و او د بنګو د بوټي په شان به (تک شین) و، خو پههههو! هیپیان د چرسو ډېر شوقیان وو. دوی اروپایی (ملنګان) وو. بیخي ریښتیاني ملنګان، لکه د افغانستان ملنګان! اوږده ویښتان، کله لوڅې پښې او پرانیستې تنۍ چې ګریوانونه به یې ترپایه خلاص وو، ځنګیدلي ګامونه او خمار ګنګس ماغزه، په لاسو یې شنه خالونه او پرسېدلې سترګې. یونیم به چې ګیتار غږول پیل کړل، د نوي ښار موټرشویان هم پوهېدل چې نه سُر لري نه تال، هسې یې ترنګوي. یونیم به لا د ګیتار ترنګا او ډنګ ډُنګ سره ځګیروی وکړ: مااای لاووو؟؟! مای ستاار! مای.... ای ویل نیوورفارګیټ یووو...

آی آی آي! له دې سره به شاخوا ورتېولو هلکانو هر وهل خندل به يې، خو لاره کې تېرېدونکو لارویانو، هټیوالو، آغابادار او نانی آغا به یو دوه ګون، یوه ګوني یا پنځه ګوني مخې ته ورواچول.
یوه ورځ یو لوړ قدي هیپي د نوي ښار دتیلو ټانک ته نږدې د پارک په غاړه خپله شپو خولۍ لکه چیلمچي مخې ته ایښې وه، ولاړ و ګیتار یې ترنګاو چې د دوه- دریو نیمچه زلمي پنجشیري موټر مینځونکو چې ربړي موزې یې په پښو او د اوبو سطلونه او یو سفنج وروسره و، ورته پام شو:
هیپي لګیا و غړانګې یې را کښلې:...مای ګاډ..بیا به یې د بېس ګیتار ډډ غږ اوچت کړ: دینګ دونګ، ډونـــــــــــک دونګ !
دا وخت دا یوه موټر شوی آبل ته چې لږ لرې و غږکړ:
غریب ! غریب! ایدر...بیه بخدا اینی خارجی مسلمان شده، ګوش کو:
-مای ګاډ... ډونګ ډونګ، مایییــــــــــی ګااډ....او غږ یې پسې ښه نری کړ، لکه ژاړي چې. د غږ په نري کېدو دموټر شوی زړه هم نری شو، سخت هیجاني او احساساتي شو:
شونیدی ؟
آ بخدا. بتی یک قِران بتیش اینه مام یکشانزیي دارم میتُم. یو هلک یوه شنداپلۍ او دا بل یوغیران شپوخولۍ ته ورواچول.
هیپي په راز پوه شو، نو هرځای به یې خپل بېس ګیتار سره همدا غړانګه را کښله: ډنګ دینګ ډیـــنګ مای ګـاډ... او آخر کې به یې غږ داسې نرۍ کړ لکه ژاړي چې، خو ټول خلک لکه د موټرشویانو په شان په انګلیسی نه پوهېدل.
نوې ښار په هیپیانو نه چلېد، له دې ملنګانو څه نه جوړېدل. خو توریستان بیا ډېر شتمن خلک وو هم یې تجارت کاو، هم یې سیل کاو او هم یې سفرونه کول او ښې پیسې یې بربادولې. یوه ماته کټو به یې پنځوس ډالره پیرودله، یود لرګي زوړ صندوق به یې دوه سوه ډالره او پُوستکارتونه خو څه کوې!

د آريانا دشرکت، دلاسي صنايعو د امپوريم اود نوي ښار د هوټلونو (آمد) او ډک جيبونه د توريزم له صنعت څخه و، نه د هيپيانو له غړانګو او ژيړو ږيرو!
توريستانو تاريخي ځايونه کتل او د سيند دغاړو د مازيګر عکسونه به يې اخيستل. دلاسي صنايعو بازار ښه تود و. ځينو به علمي څېړنې کولې، هغه بوټې او خزندې چې يواځې افغانستان کې وو، دا به يې پلټل او علمي پروژې به يې بشپړولې، د يو شمېر ميووځانګړې سپشيزونه يې کتل او افغانستان کې يې د نوې صنعتي تکنالوژۍ د مارکيټينګ او بازار موندنې امکانات پلټل، ځينو نورو(تاريخ) لټاو او(آبدات) يې لوستل او کتل.
د صادق پلارحاجى صاحب عبدالخالق پروان مېنه کې خپل کور او له ښار بهر په ولسوالۍ کې يې پلرنى کلا، باغونه او زمکې لرلې. آغابادار کندهار کې جايدادونه، د انګورو باغ اود کندهارښارکې د ګرځندويانو هوټل او دفتر لرل. کندهار کې يې د توريستي چارو مديريت د ده وراره کاو. کندهار کې (کوچي هوټل او رستورانت) نوم درلود. دا يې لسم کال و چې حاجى صاحب سره يې په شراکت توريستي کاروبار چلاو. له کندهاره يې ګنډخامکونه، مرۍ، انتيک اسباب او نور په ګرځنډويانو پلورل، ښځينه توريستي جامې يې بهرته صادرولې او د هيپيانو ډلې يې کندهار، هلمند او ګرشک ته بيولې. د ګرځندوى اداري د افغان تور ترانسپورت، د لاسى صنعت د امپوريم او د هيپيانو پېژندنه، تاريخ، مقصد او ارزښت په برخو کې کار کاو. د توريزم رهنما، نقشې، هوټلونه او نور مسايل يې مديريت کول.
صادق د توريزم اوهيپيانو په اړه بريالى او مسلکي و، هغه لوستي و چې: کوم ګرځندويان چې اسيايى هېوادو او په تېره افغانستان ته راځي، دوه ډوله دي: يو يواځې سياحين يا توريستان و چې هدف يې د نړۍ د بيلابيلو برخو ليدل او ځان سره يو نيم سوغات اخيستل، يادګاري عکسونه اود بيلابيلو رواجونو او خلکو پېژندل او(جهان ديده

کېدل) و، بله برخه هيپيان و. هيپيزم يو غورځنګ و چى له ۱۹۵۰م. کال وروسته پراخ شو او د اوپايمي لسيزې تر پايه يې دوام وکړ، خو توريزم لاهم ټوله نړۍ کې شته او ښه پراخ شوى دى. هغوى چې يواځې د سياحت په خاطر راوتل، پوره شتمن و، خو هيپيان شتمن نه وو.

صادق د توريزم او سياحت په چارو کې د تخصصي کېدو په اړه معلومات راټولول او دخپلې مطالعې او د بهرينو ميلمنو له يادښتو څخه په دې پوه و چې: هيپيان په حقيقت کې د امريکا دمتحده اياالاتو او يو شمېر نورو لويديزو هېوادو (ملنګان) و چې دختيزې نړۍ له ژوند سره د علاقې له مخې به په دې خوا راتلل. دوى د لُکس، متکاثف صنعتى ژوند، اسراف، ماشينى چاپيريال او جنګي زورآزمايلو څخه د لرې کيدو په موخه د ساده، بى تبعيض، او بى الايشه ژوند او پاک طبيعت د ليدو په خاطر د خيتځ ساده چاپيريال ته راتلل او د يو- دوو کلونو په ترڅ کى يې د سفر ټاکلى لاره ومونډله چې په( Trail The Hippie) مشهوره شوه، د دوى سفرونه د لږ مصرف په خاطر ډله ييز او د زمکې له لارې وو. د الوتکو سفر دوى ته ډېر ګران و. هيپيانو يو اوچت آيديال درلود، کوم چى د غربي ټولنو سياستوالو نه خوښاو، نو ځکه يې هلته د دوى په وړاندې تبليغات کول او ان دوى يې" سوسياليستان" وبلل. دوى له استانبول را نيولې تر کابل، ډهلى او کټمندو پورې؛ تر ټولو سيمو افغانستان ډېر خوښاو. په افغانستان کې دوى چرس ډېر خوښول. دوى غو ښتل د نړۍ او طبيعت ننداره د هندوکش له لوړو وکړي. دلته د غزني پوستين د دوى لپاره د بغاوت يو سمبول ګرځيدلى و، چې د(کولډکوټ) نوم يې ورکړى و، اوږده ويښتان به يې لرل، غاړو کې به يې مرۍ اچولې، غټې ګوتمى به يې په ګوتو کولې، چې دغه درې جنسونه( مرۍ، چرس او ګوتمۍ) افغانسان کې ورته اسانه برابرېدل. يو شمير به يې بيخي لوڅې پښې ګرځېدل. هيپيان مصطفى هوټل، پنځه ستورې،

غُلغله او د جرمنيانو "زيګې" هوټل ته نه ورتلل، خو شتمنو توريستانو همدا لُکس او قيمتي هوټلونه خوښول. صادق خپله موسسه د دغو مسلکي معلوماتو له مخې رهبري کوله او د اغا بادار يو غوره مشاور و. د ګرځندوی رياست کې د دوی موسسې نيک شهرت درلود. د دوی د لاسي صنعت محصول د ملي صنايعو د ټول امپوريم ښايسته او مستظرفه برخه وه. صادق د دې بوختيا ترڅنګ، خپل تحصيل ته هم پام ساتلی و، د توريستي جاذبې په اړه يې ياداشتونه لرل او ليکنې يې کړې وې:

(... د افغانستان د توريزم صنعت ډيره جاذبه لري. د باميان دوه لوی پژونه، د نړی له اوو عجايبو څخه يو دي. امير بند، د ننګرهار هډه، ميرزکه، ای خانم، د ايبک تخت رستم، نوبهار بلخ هغه ځايونه دي چې افغانستان يې نامتو کړی دی، خو په کندهار کې دمنديګک نهه سوه کلنه غونډۍ، د آشوکا دوه نيم زره کلن ډبرليک، چهل زينه او مبارکه خرقه د ګرځندويانو لپاره ترټولو د خوښې وړ ځايونه دي...)

دا ډول ليکنې(KABUL TIMES) خپرولې او هڅولې. کابل ټايمز اخبار به پنځو تنو قراردادی کميشنکارو سهار وخته له دولتي مطبعې په بايسکيلو له وزير اکبرخان مينې تر نوي ښار کورپه کور، هوټل په هوټل، سفارت په سفارت او دوکان په دوکان رساوه، خو انترکانتيننتال، کابل هوټل، سپوږمۍ، راډيو، د پوهنتون کتابتون، سپينزر او پلازا ته د اخبار رسمي موټر رسول. صادق د ټولو تاريخي ځايونو د پُستکارتو کلکسيون جوړکړی و او د توريزم يوحرفوي لارښود شوی و. د آغابادار وراره به ګرځندويانو سره همدغو ځايونو ته سفرونه کول. ګرځندويان کليوته تلل، کوچيان يې ليدل، عکسونه يې اخيستل او دشپې ناوخته به کندهار ښار کې London Bridge، کوچې رستورانت او Sunshineهوټل ته راستنېدل. هر کال به دکابل د زرګونو ګرځندويانو نيمايي برخه د اغابادار مشتريان کېدل، دوی به د کابل ښکلا ته کتل او (د آسيا پاريس) نوم يې ورکړی

و. هغه وخت هيڅ بهرنی له افغانستانه بې سوغاته نه و ستون شوی، خو له تيرو اتو- نهو مياشتو را وروسته د توريزم بازار مخ په سوړوالی و. لويديځ هيوادو افغانستان سره اړيکې پرېښودې. ورځ تر بلې د ښار په ودانيو او ديوالونو سره رنګونه او ناآشنا انځورونه راښکاريدل چې خلکو ته نوي وو.
د حاجی صاحب زړه دغو رنګونو او بدلونو تنګ کړی و، ځو ځله يې صادق ته وويل چې کورنی له ښارڅخه کلي ته ليږدوي. حاجی صاحب به ورو صادق ته وويل:
زويه، ښار ګُفر ونيو، سرورنګونو جادې په سر اخيستي دي، خو کلی ښه دی.
صادق په خواريو او زاريو پلار ته قناعت ورکړی وچې هسې هم د پوهنتون تر پای ته رسولو يې يوازې يو کال پاتې دی، نو څه موده به صبر وکړو چې لوست پای ته ورسوم، بيا به کلي ته ځو.
حاجی صاحب په دوو کې حيران و، خو آخر يې د زوی ومنله. صادق ته يې سپارښت وکړ چې نور دی د ګرځندوی موسسې ته نه ورځي، ورو ورو به له آغابادار سره د شراکت حسابو نه خلاص کړو، دا ځکه چې نوي حکومت موسسو او ګرځندويانو ته په شک کتل. له دې خبرې درې ورځې مخکې له بلخ څخه راستنيدونکي ګرځندويان په دې تور نيول شوي ووچې خپلو کامرو کې يې د ګازو او تېلو د انګوت د څاګانو انځورونه اخيستي وو، بهرنيان يې خوشې کړل خو افغان ژباړونکی او د سفر لارښوونکي دواړه بنديان دي. دې خبرې رېښتيا هم صادق ته اندېښنه ور واچوله او د پلار خبره ورته سمه ښکاره شوه.
صادق په دوو کې حيران و؛ دتوريستي چارو موسسه کې اغابادار او نانی اغا او په کور کې حاجی صاحب د وطن حالات غمجن بولي، خو په ټولګي او پوهنتون کې د( سازمان خلقي جوانان ) هلکان وايی امپرياليزم په ګونډو شو او افغانستان په مخ روان دی.

عجیبې ورځې وې سپین ږیرو او مشرانو ته د نوي حکومت عُمر لنډ ښکارېده، خو ښار کې هرځای په سرو ټوټو لیکلی و:
-د ثور په شا نه تلونکی انقلاب،
-موږپه بري سره مخ په وړاندې ځو...
راډیو ګانو او تلویزیون بیا دا سندره بلله: دا کاروان په شا نه ځي ځي د کهکشان په لور!
صادق به کله یوې خبرې او کله بلې ته په شک شو. په ټولګي کې هم د ده څو ټولګیوال، په تېره پلوشه د نوي بدلون او حکومت کلکه مخالفه وه. هغې به په جار نارې وهلې مړه دې وي دا بیدینه خلکیان.
خو یوبل ټولګیوال چې تر ټولو سپېره او غلی غوندې و، خوشحاله ښکارېده. نوم یې عبدالوکیل و، خو دلیلیې هلکانو( وکیل لاغري) باله، دا ځکه چې د لیلیې "بي وینګ" کې دوه نور وکیل نومي محصلان هم وو. هلکانو یوه ته (وکیل دانګه یی) بل ته (وکیل فوتبالر) ویل. په ټولګي کې یواځې تازه ګُل و چې هرڅه ته بی توپیره و، هغه سیاسي پیښې په خپل کلیوالي تحلیل ارزولې، یوه ورځ یې ویل:
• دغزني کوچي ترکي په سردار دیوانه را چپه کړه !
په دې خبرې سره پلوشې کلک وراته، خو هغې ته یې په خندا ورغبرګه کړه:
• بس د خدای کارونه دي خورې، ښنګه یې کوې !؟
پلوشې بازګل ته وویل:
بازګُله لږ سنجیده شه، بله ورځ تا څخه دیپلومات جوړیږي، د حقوقو څلورم کال ته ور درومې !
• یره پلوشې ګُلې ! که د ملک ګل رسول ټینګار نه وای خدا که مې پوهنتون ته قدم ایښی وای، زه وای او هماغه غوا، د شوتلې پنډونه او د پیازو- میازو کښت مې. دلته خو یې لیونی کړم. هامورابي د قانون پلار شو، بی بی سیوما یی مور شوه، اپلاتون دی، ولتر دی، مدنی جزا، جنایی جزا ټرت لغت، پلان بیستان...

پلوشه به په برندو سترګو ورته حیرانه شوه، په دلاسایني به یې ورته وویل:

- وګوره همدا دلیل دی چې د ختیو دوه کوټې، یوه غوا، د مُلا تاویز اویو لویشت پټی دی په پاخه کور، روغتون، موټر، برېښنا او پوخ سړک نه بدلیږي. وګوره دُنیا چیرې رسیدلې !؟ زه یوه بې وروره نجلۍ یم، ته مې ورور یې. ستا ښه غواړم، یوه خور ورور ته د عزت ژوند غواړي.

د بازګل غوږو کې به د پلوشې دغږ انګازې تر ډېره پاتې شوې: زه یوه بې وروره نجلۍ یم، ته مې وروریې!

ټولګي کې د هرچا خپل خیال و. صادق به غلی و، د هیچا په خبرو یې کار نه درلود. پروني مارش کې هم یوه ښنده کې غلی روان و. ده ته په مارش کې د هرچا څېره او خبرې وریادې شوې، چُرت کې ولاړ:

پرون د لومړي درسي ساعت په پای کې د پوهنځی رئیس امر وکړ چې ټول استادان او محصلان دې په مارش کې ګډون وکړي. تولګیوال د دې خبرې په اورېدو زښت زیات خوشحاله شول، شور-زوږ شو، د چوکیو کړبا شوه، ټول له ټولګي ووتل. دوی لکچر ته تر کیناستو دا غوره بلله چې بهر ووځي او ورځ په ټوکو او خوشحالیو تېره کړي. له پوهنتون څخه لوی کتار د ښار په لوري روان شو. مخه کې سرې جنډې رپېدلې، دوهم کتار څو انځورونه هسک کړي وو، یوه انځور کې یو د سپینو وېښتو او غټو بریتو او اوږد مخ لرونکی مشر او بل کې یو ځوان چې توره کرتۍ او توره نکتایی یې تړلې وه او خوشحاله غوندې ښکارېد. هلکانو به کله انځورونه پورته کړل او کله به یې له خپلو قدونو سره نیولي وو. مخکې کتار کې یوتن چیغې وهلې:

ژوندی دې وي انقلاب !

نورو به ور غبرګه کړه: ژوندی دې وي !

مړ دې وي امپرياليزم.
محصلان پوهېدل چې دشپې به تلويزيون کې خبرراشي چې د پوهنتون استادانو او محصلانو د ثور انقلاب په ملاتړ مارش وکړ او له دې سره به د دوی ځيرې په تلويزيون راښکاره شي.
د صادق غوږونو کې لا اوس هم د هغو غږونو انګازې وی:
زنده باد ! مرده باد!...
مړ دې وي...، ژوندی دې وي...!
د پروني مارش سره بيرغونه ورياد شول، هره خوا نارې وې حورا، هورا، هورا !
ډېرو چيغی وهلې، ډېرو نورو ټوکې کولې. داسې ښکارېده چې هر يو خوشحاله و چې له ټولګي وتلي دي او د لکچر او نوټ ليکلو له جنجاله بېغمه شوي دي. دا يو- دوه ساعته دمه ورته لويه خبره وه. عجيبې ټوکې روانې وې. صادق ته ورياد شول چې د چا چپلکه له پښې وتې وه، درېيم يا څلورم کتار کې يو تن ومونده، پورته يې نيولې وه، نارې يې وهلی، دا دچا دا ؟!
وروسيتو کتارونو يې غږ نه اورېد، فکريې کاو چې زنده باد نارې وهي، نودوی هم څپلکې ته په کتو نارې کړی: زنده باد ! خومره چې هغه د چا دا؟ چيغې وهلې، هومره دلته زنده باد او مرده باد زور اخيست. د صادق خوا سره باز ګل هم نارې کړې:
زنده باد زيامتکشان زنده باد، مړ دې وي پيوډالزم !
شاخوا نورو ټولګيوالو له خندا بډوډي کلک نيولي وو.
باز ګل يو کليوال ځوان و، سپېره غوندي لويه کورتۍ يې لرله، په يخنې او ګرمي کې يې اغوسته، اوږد پتلون يې د شخصي جامو کميس او پرتوګ له پاسه اغوست، کمربند يې له نامه پورته د پوښتيو په برید تاړه. څپلۍ به يې پښو وې او يوه سترګه به يې رپېدله. دسترګې د رپېدلو تکليف له وړکتوبه ورته پيدا شوی و، خو قد يې ښه لوړ لکه چنار، متوردهقان کار او غږ يې ښه اوچت و. نه يې د امپرياليزم

پروا لرله، نه د سوسیالیزم. په یو هم خبر نه و. له درس او لکچر ځخه په سرېکونو مارش کولو ته خوشحاله و. هسې هم په ځو ځو سمسترونو کې په دویم او دریېم چانس تر دې ځایه را رسیدلی و. اوس یې مار ش کې بېدریغه زنده باد- مرده باد نارې وهلې.
کله به چې صادق د مرده باد نارې اورېدې، داسې به یې انګیرله چې دا خلک ده او حاجی صاحب ته ګوته نیسي، دا ځکه چې د ده پلار د توریزم موسسه کې عبدالباری سره شریک دی او د ده ناسته ولاړه هم موسسه کې امریکاییانو، استرلیایانو، جرمنیانو اونورو سره ده. دی پوهېد چې دا ټول اوس امپریالیستان بلل کیږي. حاجی صاحب په کلي کې زمکې، بزګران او باغونه لرل چې نیم کلیوال ورته خان صاحب او نیم ورته حاجی صاحب وایي. د ده "اوپل " موټر چې د موسسې مخې ته ولاړ دی هم د فیوډالتوب نښه ده. په مارشونو کې به یې غلی ځان یوې خوا ته کړ، له لوی واټ ځخه به یوې کوځې ته شو او د مرده باد له نارو به یې ځان لرې کړ.

***

نن چې کله پروفیسور ټولګي ته راننوت، بې له ځنډه یې پیل وکړ:
درس مو ډېر وروسته شو. پرون په سرکونو وګرځېدئ، پروګرام وروسته شوی دی، له دې خبرې سره یې عنوان په توره تخته باندې ولیک:
نظم او قانون.
دې پسې یې په یوه سا پیل وکړ:
نظم، حقوق او قوانین د بشر تاریخ کې اوږده سابقه لري، بشر تل د عدالت او قانون اړتیا لومړیتوب بللی. عدالت نه یواځې له اقتصادي پلوه، بلکې د نژادي، دینی، جنسیتی او رنګ له پلوه ټولو لرغونو فلاسفه وو ته د منلو و. برکسون او کانت انتزاعی بللی، فوکو عدالت مجرد مفهوم بللی، هایدګر بیا تر ډېره د قانون ابجکتیویتی والي باندې

زور اچولی، فوکو وايي ضوابط او قواعد تولنيز چلند ته سمون وربخښي....
پروفيسور په يوه سا لګياو، کله به يې چې د کوم فيلسوف يا سياسي مکتب يا حقوقپوه نوم ياد کړ، نو مخ به يې تختې ته واړاو او وبه يې ليکل:
Elphinston, M.ستوارت ۱۸۱۴م. ...د نجونو او هلکانو قلمونه په کتابچو ګړندي لګيا وو، نوټ يې ليک.
بيا به پرله پسې لګيا و، چې بل نوم به مخې ته راغی، وبه يې ليکل: Bernes Alexander ...
پروفيسور لکچر ته زور ورکړی و، نجونو او هلکانو په ليکلو ليکلو پنځه- شپږ پاڼې ډکې کړې وې چې درسي ساعت پای ته ورسېد.
پروفيسور نن حاضري اخيستو ځخه هم تېرشو. تولګيوالو د لاسونو او ګوتو شخي ايستله. د باز ګل سترګه رپېده او له جيب يې غټ (ګل سيب) دسمال را وکيښ په پوزه يې تېر کړ. صادق ځان سره وويل: ريښتيا هم چې پرون ورځ مو هسې تېره شوه، دې ډول ورځو ته بازګل غوندې خلک خوشحاله وي.

## (۳)

د سمستر د پای ورځې رانږدې کيدې. د هر مضمون کتابچې ډکې وې، د پروفيسور مضمون کې دوه کتابچې له نوټ ډکې شوې وې.
صادق وروسته تر ډېر سوچ دا وپتيېله چې موسسه کې له انډيوالانو او اغابادار سره خدای پاماني وکړي، دا ځکه چې لوستونه زيات او آزمويني را لنډې دي.
کله چې غرمه له پوهنتون ځخه ووت، مخامخ د نوي ښار په لوري روان شو. د ماسپښين دلمانځه په مهال موسسې ته ورسېد. وروسته تر روغبړ د اغابادار د ميز اړخ ته په کوچ کيناست. اغابادار يې په

څېره کې د اندېښنې او خپګان نښې ولیدې. د دفتر وروستۍ برخه کې د پردې شاته چې پخوا به اغابادار او د ده د پرې ملګرو یو دود چرس لوګي کول، اوس جاینمازونه اوار شوي وو. اغابادار صادق ته وویل:

صادک جانه، زمژ داموسسې کارکوونکی مو جومات ته له تګ منع کړل، ځکه چې باره پولیس دیندار خلګ نیسي. وس نو باره موسسه کې لمونځ کوو.

صادق حیران شو. په دې وخت کې د موسسې د دفتر له دروازې څخه یو دزړو جامو لرونکی درویزه رادننه شو. اغابادار به تل خپلې مخې ته میده پیسې د سوالګرو لپاره اېښودې؛ پنځه ګون، دوه ګونی اویوه ګونی. سوالګر به چې راتلل یوه به یې ورکړه، چې دا به تمامې شوې، بیا به یې یو لسګیز یا شلګون را وکیښ او د دفتر تر ټولو کشر کارکوونکي ته به یې غږکړ:

- اله آبچه، اسلم جان برو میده بیار.

کله یې چې درویزه ته یو دوه ګون ورکړ هغه دُعا وکړه ووت. اغا بادار مخ صادق ته واړاو:

- بالا ایکې نده پاته، انقلابی سوالګر دونی زیات سوی چې په ورځ لا له لسو زیات دي!

دا وخت د سړک په مخ د پولیسو آمر چې څوړند بریت او سور ملاوستنی یې و په چټکو ګامونو رانښکاره شو. دوه سرتیري هم ورسره وو. چټک روان و او هرې هټۍ او دفتر ته یې امرونه کول او ګوته به یې ورته خوځوله. کله چې د اغابادار د دفتر مخې ته راورسېد، په ګواښ سره یې وویل:

- شو چراغا روشن باشه، نبود سبا کتی تان کار دارم ! او چټک تېرشو.

اغابادار د دفتر د ښیښې له شا ور غږکړ:

- آ ځغله دې ګوزې ځو !

آمر پسي دوه عسکر له (په پښې) ټوپکو سره روان وو، خو لکه چې د اغابادرا غږ يې نه وي اوريدلی. دفتر کې ټولو کارکوونکو وخندل. اغابادار مخ راواړاو:

• برايي ويريدلی، پتلون يې لوند کړی، زوی مې په يو چپلاخه ځغلوم. د موسسې د کارکوونکوخندا لا زياته شوه.

اغابادار په نوي حکومت ملنډې وهلې. دا وخت يو بل سوالګر راغی. اغابادار يوه ګونې ورکړه، خو هغه لاس تېر کړ يو پنځه ګيز يې هم اوچت کړ، اغابادار ورته وويل:

• بالا نو دا چمونه مکوه، تلی په رانيسې؟ درځه دباباقوی مستان په اروا دابله ايکی ام درواخله !

سوالګر چې پوخ چرسي و، يو ځرخک وخوړ او په خپله لار ولاړ. دا وخت اغابادار ډېر ورو په اشاره صادق ته وويل:

• باره د اوغانستان ورځ بده سوه، هوری کندار کې سرپوزې سره دوه سوه عسکر وژل سوي، له دامان، سنګين، ادرسکن څه يې يو نيم زر سپنژري نيولي، ګرسره يې مړی- ژوندی ورک دی. دچا چې پرسر لنګوټه وي او ژره لري، را نيسی يې او ولچک کوي يې...

صادق ورته غوږ و. اغابادار يو ځل بهر وکتل ، ورو يې صادق ته وويل:

• تورجان ولاړی، د پوستين اوغاليو هټی يې نيمه بيه ليلام کړه، نغدې يې واخيستی کندار کې يې اخشی سره شالکوټ ته ولاړئ، وری يې خپلوان دي، دلې يې ايکی لا نده پاته.

صادق سمدلاسه وپوښتل:

شاليکوټ چيری دی؟

• دا کوټه دريادوم، ځينی يې شالکوټ بولي. شالکوټ يې نوکی پخوانی نوم دی، وری يې له بولدک او ژوب نيولی تر کلاسيفولا، موسی خيلو، آن تر لورلايي خپلوان دي، ناميان دي، دونی جايدادونه

لري چې میوې لا کراچۍ ته استوي. انګور، سیوان، د شلیل درختې او دا نور. شالکوټ پخوا نیمایی کندار و. زموږ دا پلرنی وطن دی، نو باره پردی خو ندی.

صادق بیا وپوښتل:

نو حکومت به ډیر خلک ونیسي؟

- یه د ګوره زامن دونی ندي چې پاته سي. نن- سبا به لا یو نه وي. دی سره یې مخامخ هټۍ او دیوالو باندې سرو جنډو او انځورونو ته ګوته ونیوله:

- زوی می هم ندی، دا ګرسره لا د پاچهی دي نه !

د صادق څیره کې اندیښنه له ورایه ښکارېده، اغابادار ته یې وویل:

زموږ آزمویني را رواني دي. زه نور کارته نه راځم. زه خدای پامانی ته راغلی یم. حاجی صاحب ویل چې لوست دی پای ته ورسېږ اغابادار سره حسابونه پاکوو، تاسي به یوبل ژباړونکی زما په ځای ونیسئ او حاجی صاحب شراکت ختموي.

- اررر ایکی لا نه ورکوم، آ د نامی زو وبیریدئ؟ حاجی ساب ته زما سلام کوه، ورته وایه خداکه شرکت درسره پریږدم لا، ویریږی به نه، دا د ګوره زامن ورکیږي. دیغ نسی غم یې مه لره.

صادق په کلکه او جدي بڼه ورته وویل:

نه د ویرې خبره نده، آزمویني مو راروانې دي.

- صادیکه، آزمویني جلا خبره ده، ورځه د آزمویني تر پای رخصت یې، خو دا ناځواني مه کوه چې مونږ پریدې، پام کوه دیغ نسې، وروسته تر آزموینو به بېرته خامخا راځې. حاجی صاحب به پُخلا کوو.

دا وخت یې د انصاري د څلورلارې خوا ته ګوته ونیوه ویې ویل:

- د امریکې د سفیر کور یې ونیوی، د سعودي سفارت هم ولاړی، بله ورځ دا نور هم ځي، ماویل َځغلئ په ماینه مو...

صادق وخندل. اغابادار په زړه سوي وویل:

- ډابس د ګوره زوی یې ورمړکۍ، نانی اغا ته مې ویل نور نو روس او امریکه دلې زور آزمایي. تورجان هرڅه ایله کړه بالایی ترپ وهل هه هه هه !

***

موسسه کې کارونه کم شوي وو. پخوا به دومره وخت کې څو ډلې ګرځندویان راتلل او اغابادار به دومره وخت ندرلود. اوس د دوی پوره یو ساعت په خبرو تېر شو. دا وخت اغابادار د واسکټ له جېبه د چرسو تلی راوکیښ او بل جیب ځخه یې یو M&Lسګرټ راواخیست، سګرټ یې د کیڼ لاس په ګوتو کې ونیو، لاس یې د ګیلاس په ډول راټول کړ او د ښي لاس په ګوتو یې د چرسو د تلي میده کول شروع کړل. صادق پاڅېد او خدای پامانی یې ورسره وکړه. اغابادار بیا ورته وویل. وروسته تر انتحانو درته په تمه یم، کار ته دوام ورکوو.
دصادق به دسګرټ له بوی ډېر بد راتلل، خو هڅه یې کوله اغابادار خپه نه کړي، کنه خامخا یې له سګرټو منع کاوه. بل دا چې اغابادار تر ده مشر او د حاجی صاحب شریک و.
د موسسې د دفتر په دیوال د ګڼ کمیسونوکتار، لړ هاخوا یو له تیرې ځخه جوړ زمری، بیا یو کتار په لاس جوړ شوي اوښان او څو اوبدل شوی خورجینی او پوستیونونه ښکارېدل. ورپسې هغه ډک کارتنونه ایښي و چې د اریانا(بوینګ ۷۰۷) الوتکې ته وړلو او بهر ته صادرولو ته چمتو وو. صادق په مات زړه د موسسې له دفتره ووت او کورته روان شو. هغه په دې خبره ښه پوهېد چې د افغانستان د توریزم سقوط بهرنیانو ته د افغانستان د اعتبار د کمښت مانا لري. هغه په خپګان سره لیدل چې د غالیو، پوستین پلورلو او پُستکارد پلورلو هټیو کې دا ډېر وخت هیپي او ګرځندوی مشتریان نشته. د Jewelry Pamir هټۍ تړل شوې وه، ګاونډیانو ویل چې مالک یې میلمستون ته تللی. صادق وروسته پوه شو چې خلک په رموز او

شفر زندان ته ( ميلمستون)وايي. دې ورځو کې ډېرې خبرې پټې پټې او ورو ورو يا په رمازه کې کېدې يا په اشارو، نوي نوي شفرونه او نومونه رواج شوي وو. کله چې صادق کورته ورسېد، د نورو شپو په پرتله وختي په کټ کې پرېوت، طبع يې ښه نه وه، له پلار، مور او خورکۍ سره يې خبرې او مجلس ونشو او نه هم تلويزيون ته کيناست. له هغې بلې کوټې غږ- زوږ اورېدل کېد، له کړکۍ بهر ځراغونو سترګکونه وهل، د صادق سترګې خوب درنې کړې.

# (۴)

ښاغلی فرانک وروسته تر يوې نيمې مياشتې سمندري مزل څخه د بنګال، عرب سمندرګي او برما ساحل ته راورسېد. شنو سترګو کې يې کوچني سره سره رګونه له ورايه ښکارېدل، د مخ پوټکی يې هم د انارو د پوستکي په شان شوی و، تک سور، خو وچ کلک. د اوږدې شپو خولی مزی يې چې تر زني لاندې تړلی وو، پرانيست. د مزل په بهير کې يې رنګړی ژيړه ږيره رسېدلی وه، د هند دسمندر له لوري توده او نوجنه هوا رالګېده، ډبل جمپر کې يې د تودوخې له امله زړه تنګ شو، خرمين پلن ملاوستنی يې لږ سست کړ، چې تومانچی يې ورپورې ټالی خوړلې. له دروند ځرمين بکس څخه يې د "استرابون" او "بطليموس" نقشې را کښلې، ګرده ذره بيني ښيښه يې ورباندې ونيوله او د هندوستان ټوله نقشه يې پکې وکتله. ماښو ګانو ته يې د بادبانو د راکوزولو امر وکړ. د هند د لوی او ژور

سمندر ويروونکي څپي لاهم تر دي ځايه رارسېدي، خو لويديځ لور ته د بمبئي په بريد د عرب سمندرګی لړ څه آرام و. لړ ور هاخوا خړې او شني- رڼي اوبه سره ګډېدي. جنتلمن بابافرانک غوښتل چي دکرستُف کولمب په شان نوم وګټي. د جنتلمن فرانک مشر ورور ښاغلی ک.کولمب د انګلو- ساکسون ټول لوی قوم ته وياړ ګڼلی و. هغه څه موده وړاندې د سورپوستو لويه وچه (اتازوني) لاندې کړې وه چې اوس يې واک "کاکا سام" سره دی. کاکا سام او جنتلمن فرانک ډېر ځيرک روزل شوي دي. فرانک اوس په دې لوري راغلی چې د دکيانوس د کتاب له مخې دلته د سوډرانو طايفه وومي او د کاکا سام د خوشحالي لپاره يې ورروزي. دهغه لپاره يې په دوکه دوکه تابع وګرځوي، زنځير يې غاړه کې واچوي او د پيلانو او مرچو اومسالې په دغه لويه زمکه هندوستان کې ورته ځای ورکړي. هسې هم دُرانی احمد خان مرهټه او هندوان له پښنو غورځولي، د لمدو خاورو لړ اوبه دارو وي.
بابا فرانک مخکې له مخکې کاکاسام ته ويلی وچې هندوستان د سرو زرو مرغی ده، زموږ East Indian Company به ډېرې ګټې وکړي. دا اوس چې فرانک ولاړ دی، تر دې وړاندې اندوس او له هغه پورته اکسوس بهيږي. له اندوس دېخوا څلور نور سيندونه دي: جيلم، بيلم، ښتليج او چيناب. د لوی هندوستان د پنجاب آبادی په همدې سيندونو ده. سوډران د همدغو سيندونو غاړو کې پراته دي، دال خوري، په تورو مټو، تندي او زنه خالونه وهي او ناريته او ښځينه يې اوږده ويښتان لري. عجب غلام کېدو ته برابر دي، فرانک ځان سره وايي؛ راسره ملګري به يې کړو، ګورکه لښکر به ورڅخه جوړ کړو !
بابا فرانک ځانته د نړی ډېر اصيل نژاد وايي، له انګلو جوتانو او ساکسو زيږيدلی قوم. هغه وايي سره زر زموږ خوراک دی! برآلا وايي موږ هغه خوکان يو چې سره زر مو خوراک دی.

انګلو- ساکسونیان ډېر پخوا له پروس څخه د فرنګ یا فرانسې له غاړو د مانش له اوبو پورې وتي او د انګلو- ساکسون یوه بېله پاچاهي یې جوړه کړې چې له دې ټاپو ورهاخوا یې آیرلند هم نیولی او دغې ټولې امپراتورۍ ته یې (ستربرتش) نوم ورکړی دی. بابا فرانک د کیانوس او حکیم جالینوس وړاندوینو ته ډېر ارزښت ورکوي. دوی دواړو ویلی و چې لوی هندوستان ختیځ کې د سمندر په غاړه پروت دی. دپیلانو، مارانو، توتیانو، طاووس، پېټار او پېټارګۍ او د مداریانو وطن دی. سلګونه قومونه، ژبې، او دینونه پکې دي. راجاګان یې مغرور او کمعقل، خو چهوډران یې لوی زمکوال دی. مرهټه قوم یې ډېر زړور او جنګی قوم دی. ځینې یې زبردست سوداګر دي. د بودا دین پکې پیاوړی دی. پخوا د کیانوس دین د البُرز د غرونو او اکسوس او اندوس دسیندونو ترمنځ خپور و، خو کله چې بزرګ زرتُښت راغی د دکیانوس د دین لمن ټوله شوه. دکیانوس ویلي و چې په ټول لوی هندوستان کې یواځې د پنځو سیندونو شاوخوا مېشت قوم په دین کلک نه دی، لاپه یوه دین هم نه دي، خو چې پېښه ورته ودربوی بیا هر دین مني. دکیانوس خپل کتاب کې د حکیم جالینوس په حکمت سره ویلي و چې د کاکاسام مشر تره بابافرانک به د لوی هندوستان یوه برخه کې ځانته د پېښې اېښودو ځای جوړ کړي. دا به د (انګلو- پاک) زمکه وي. انګلو- پاک به د انګلوساکسون نوی ویرژن او ولایت به یې د مانش له سمندر پورې غاړه (لندن ) وي، لارډمیکایلي( Macaulay Babington Thomas) به ورته ائین او قانون جوړ کړي.

بابافرانک چې د دقیانوس کتاب کې خپل فال ولید، د هندوستان په لور یې سفر پیل او دا دی یوه نیمه میاشت وروسته دلته راورسېد.

د بابا فرانک اصلي نوم(رابرت کلایو/ Robert Clive)و، خو کله چې دوی د نورو قومونو ښکېلاک کولو پسې ځي، بیا نو ځانته یو بل نوم غوره کوي... انګلو- ساکسون سخت چمباز او شلیته قوم دی.

کلايو د سمندري پوځيانو هغه بولندوی و چي څوځله يې پرتګاليانو، اسپانويانو او فرانسويانو سره د لرې اونږدې ټاپوګانو د نيولو په سر جګړې کړي وې او ماته يې خوړلې وه. په جګړو کې يې د بېشميره مريي ماښوګانو وينې توی شوی، په وروستي ځل يې فرانسويان مات کړل. اوس دا دی له ولجه شويو بېړيو سره مخ د يوې لويې زمکې په لوري رارهي شوی او دلته راورسېد. دغې زمکې ته يې (د سروزرو مرغی) نوم ورکړ. اوس نو د پخوانيو سمندری غلو(ships Pirates) ځای د دوی بېړيو نيولی و. همدا رابرت کلايو د هغه حريص نسل له زوذات څخه دی چي انسان يې هغه خوګ بللی چي سره زر خوري.
هندوستان د مالوچو، مالګو، وريښمو، چايو، چيټ، نيل او مسالو وطن دی. د انګلوساکسونيانو شنې سترګې په همدې شتمنۍ پسې وتلې دي. پيلان، ماران، مداريان، توتيان او نور پرنده او چرنده يې ندي په کار.
Robert Clive همدا شين سترګی فرانک، چي سترګو کې يې د وينو سره رګونه له ورايه ښکاري او مخ يې لکه د انارو ډيوستکي په شان تک سور اووچ کلک شوی، له خپلو ماښو ګانو سره د حرص په بېړيو سپور، وروسته تر اوږده مزل لومړی (کروماندول) ته راورسېد، وروسته د (سونات) سيمی ته ننوتل او بيا د سمندر له غاړې بمبئې ته وروختل. ډېر ژر يې کلکته لوټ کړه او د کرناټک کلا يې له خوبولي او په عيشونو کې ډوب کورګانی پاچا، جهانګير له پوځيانو ونيوله او شتمن بنګال يې هم لوټ کړ. کله يې چې د کورګانی جهانګير مانی ته د ورتګ ورځ راورسېده، نو څېره يې بدله او ځان يې د انګليس د پاچا(جيمز) سفير معرفي کړ. د سوداګری اړيکو د ټينګولوليکونه يې رابرسيره او ځان يې د ديپلوماسي(استازی) کړ. په دې حالت کې نو کلايو بابافرانک سمندري غل نه و، ځان يې سم وښود او د يوه سوداګر او استازي بڼه

يې غوره کړه. ده لکه زوړ ګيدړ په مکاری سره عاموخلکو ته هم ځان د (ستر برټش) د پاچا ( کينګ جيمز) استازی معرفي کړ.
لمر د سمندر له ژيو يوه نيزه را هسک شوی او د ختيځ له لوري يې د هندوستان زمکه رڼا کړې وه. جهانګير له خوبه پاڅېدلی و. ګنکس، زنګېد، له تخت را کوز شو. لړ هاخوا دشپې د عياشی دبزم او ګڼې- ګوڼې پايزيبونه لاهم خواره واره پراته وو. د نڅاګرو يونيم مات بنګړی، د شرابو تش شوی منګوټې او په زربفتواوبدل شوي بالښتونه ګډوډ پراته وو. د سهار په دې مهال به هره ورځ جهانګير ته نور واړه راجاګان، سرداران، او نواب صاحبان يا د دوی استازي دربار ته دکتني لپاره راتلل، خو نن سم د ده له پاڅېدو سره د دربار ملازم رامنډه کړه، ښنو ته يې پريوت، درناوی يې وکړ، کله يې چې لوی راجا جهانګير تعظيم ومانه، نو ملازم په اندېښمن انداز وويل:

- راجا دې ژوندی وي، د لاسونو رغوي يې غبرګ ونښلول او تندي ته يې پورته کړل:
- د کينګ جيمز استازی ستاسو ليدو ته راغلی .

راجا ناڅاپه غږ کړ:
هلئ ژر شئ ! د سفير صاحب د راتګ خبر مخکې ماته معظم کينګ صاحب راليږلی و. ژر يې ماته راولئ!
شيبه وروسته حريص او غاصب کلايو، د سفير په څيره کې د جهانګير مخې ته ناست و او راز راز ګاڼې يې دهغه مخې ته کيښودې. وروسته يې په(ديپلوماتيکو ادابو) سره د کينګ ليک ورکړ. ليک کې ظاهراً د لويې بريتانيا او لوی هندوستان ترمنځ د سوداګري د تړون خبرې وې، خو په اصل کې له همدې ورځې هندوستان مستعمره شو او په سيمه کې د انګلو- پاک د جوړلو د طرح مقدمه پيل شوه.
تړون ظاهراً دواړو لوريو ته په زړه پورې و: جهانګير د ګاڼو شوقی و او د کينګ مالګه، وريښم، مرچ، چای، چيټ او مالوچ په کاروو.

خو جهانګير لا هم خبر نه دی چې شتمن بنګال لوټ او بېوزله شوی او کپس ته د سروزرو د مرغۍ اچول پيل شوي دي. د سودا ګرۍ د دغه ترون تر لاسليک لا دمخه د بريتانوی کمپنۍ خنجر د لوی هندوستان ځيګر څيرلی و. ترڅو نور واړه راجاګان، سرداران او نوابان د دنيا له حاله خبرېدل، کمپنۍ هندوستان نيولی و. د سمندر دغاړو او ګڼو ځنګلونو بی شميره ډنګر او په ګېډه وړي يې را ټول کړي وو او د ګورکه لښکر يې جوړ کړی و. کلايو لکه د خپلو پلرونو په شان دا ګورکه د افريقايي مرئييانو په شان اتازوني او بريتانيا ته نه بيول، بلکې په خپله هندوستان کې يې له سيکهانو، مرهټه، پټان او نورو سره جنګول. د همدوی په وينو بهولو يې ځان له بنګال څخه د اندوس ترغاړې ورساو. يو نيم کال وروسته له دغې ورځې کلايو او د کمپنی جنرالان د اندوس تر غاړې رنجيت سنګهـ ونازاو او د پنجاب په نعمتونو کې ورسره شريک شول. کلايو خبر و چې له اندوس څخه نشي پورې وتلای. هغه د احمدخان، اميردوست محمد خان او بيا د زمانشا له زړورتيا او د آپه ګان له توری خبر و. کمپنۍ نه غوښتل له اندوس پورې وځي، خو د روس په وړاندې يوه ديوال ته اړتيا وه. همدا وخت رنجيت سنګهـ ورته په کار و. مهاراجا رنجيت سنګهـ !

کمپنۍ مهاراجا رنجيت ته د ګرونانک د استازي مقام ورکړ، هغه يې په شا وټپاو چې له اندوس څخه پورې وځي. د مداريانو په وطن کې کمپنی رنجيت باندې انتر منتر وکړ او هغه يې د هغه زمانشا په وړاندې بغاوت ته چمتو کړچی رنجيت يې روزلی و او د خپلې واکمنۍ په وربوی کې يې د پنجاب ولايت ورسپارلی و.

نور نو کمپنی لوی ځواک و. له بنګال او بمبئي نيولې تر ډيهلی او پنجاب يې ټول ولکه کې وو. اوس کمپنی له لويې بريتانيا څخه هم ځواکمنه وه. کمپنی د ګرونانک نوم او د رنجيت سر پورې تړلی ململ او د هغه له اوږدې ږيرې څخه د سحر او جادو وسيله جوړه

کړه. پنجابيانو د ګرونانک لمانځنه نه، بلکې د رنجيت لمانځنه پيل کړه.
پنجاب کې رنجيت يوه شپه کې لس کروړه بچی وکړل. غوج ماغوج پيل شو، تورلينګيو بچوړو يې سپينې جامې او پټکې وتړل، په پېښور راغلل، جلال اباد ته راورسېدل، د خلکو سرونه يې د کوپړ او الحاد په تور غوځول، د کابل په لورې يې نيت و. زنګ وهلې توری ورسره وې، په ژبه يې سپيڅلی خبرې، خو په مغزو کې يې د کلايو او رنجيت نقشه وه.
د سومات له تېچنې او ځنګلې سيمې توره وريځ راپورته شوه، د اسمان رنګ بدل شو، تياره شوه، پرزمکه د انسان د وينو ليکې ښکارې، له ګڼ ځنګله وحشي ليوان راووتل، تيرې دارې يې له ورايه ښکارې، هوا دپه شوه. د صادق سا بنده بنده شوه. له ويرې يې چيغه کړه چې له خوبه راويښ شو، ژر ژر يې کلمه وويله او خپل شاوخوا يې چُف کړه، زړه يې داسې درزېد چې د ده ټول وجود يې ښوراو، د ويرې خولې ورباندې روانې وې. حاجی صاحب، مورجانه، خورکۍ او ګاونډيان ټول ويده وو. له کړکۍ بهر ښراغونو سترګکونه وهل. صادق لاحوله ولا کړل او ځان سره يې په کمپنۍ، سفير، سوداګر او رنجيت لعنت ووايه. ژر په دې فکر شو چې آزموينه را لنډه ده او پرون يې موسسه کی کار هم پرېښود، نو غوره داده چې ټول پام آزموينې ته واړوي.

## (۵)

د هفتې ورځ وه، د سمستر وروستۍ ازموينې بيخي را لنډې وې. لومړی درسي ساعت ( قونسلي حقوق) و. صادق او درې ټولګيوال يې د پوهنتون په دروازه له ننوتو سره سم، په بيړه کيڼ لاس ته تاو

شول. دحقوقو د پوهنځي وره ته لاځو ګامه پاتې و چې سترګې يې هغه ځای ته واووښتې چې هره ورځ د قنسلی حقوقو استاد خپل فلُکس موټر هلته دروي، خو نن د پروفيسور موټر نه ليدل کيږي. هلکانو قدمونه ورو کړل، يو بل ته يې وويل:

-لکه چې نن استاد نه راځي؟

موټر خو يې نه وينم!

- نور ټولګيوال چيری؟ شاوخوا يو هم نشته .

-راځئ يو ځل دننه سر ښکاره کړو که استاد نه و، د کتابتون خواته به ولاړ شو د بل ساعت تر پيل پورې به مطالعه وکړو.

څلور واړه دحقوقو د پوهنځی ودانۍ ته ننوتل. دوهم پوړ کې مخ په ختيځ دهليز کې د رياست دفتر او ديپارتمنتونه وو، دغې بلې خواته مخ په جنوب دهليز کې درسي خونې وې. دا وخت استاد له خپلې څانګې راووت او په ګړنديو ګامونو د ټولګي خواته روان شو. هلکان ژرژر په ټولګي ننوتل.

استاد د نړيوالو حقونو او ديپلوماسی نامتو پروفيسور و. هغه په پښتو، دري، فرانسوی، انګليسی او عربی ژبو خبرې او ليکل کول، خو شاګردانو ته يې سرچينې او اخځ انګليسي کتابونه ښودل. مياشت دوو کې به له بهر څخه ورته بهرني ژورنالونه راتلل، په ځينو کې به يې خپلې مقالې وې.

نجونې او هلکان پوه شول چې وروسته له دغې ورځې پروفيسور خپل تيزرفتار فلُکس واګون کې نه راځي، هغه به سهار د پوهنتون د عملي او د استادانو بس کې درس ته راته. کله چې صادق او درې نور ټولګيوال ننوتل، نور ټولګيوال وخته راغلي وو او په خپلو ځايو ناست وو، دوی چې د سترګو له کونجو وکتل ناصر، زرلښته، قاسم، وربښمينه، باقر، تاج، مکی، خُماره، پلوشه، علی، بازګل، عبدالوکيل، سمندراو سمون ټول حاضر وو. تر څو دوی کيناستل، پروفيسور د

ټولګي مخې ته د لکچر د میز شاته ودرېد، عینکې یې په سترګو کړې او په تخته یې ولیکل:
(سفیر – سفارت/ استازی) ambassador /Embassy
د دې مانا دا وه چې د نن نوی درس سفیر دی. ټولګي کې د کتابچو په پاڼو قلمونه وچلیدل:
سفیر له یو هېواد څخه بل هېواد ته چې سیاسی اړیکې یوبل سره ولري، لیږل شوی استازی دی چې له یوې خوا د دواړو هیوادو اړیکې ساتي، له بلې خواسفیر په دغه هېواد کې د خپلو وطنوالو دحقوقو ساتنه او ملاتړ کوي. سفیر په سفارت کې دیپلوماتیک کار کوي او دخپل هېواد د ګټو ساتنه کوي...
پروفیسر پر تخته باندې (د ګټو ساتنه) اندر لاین کړه: ....دخپل هېواد د ګټو ساتنه کوي...
د صادق غوږ لکچر ته و، خو په لاس باندې یې په بیړه بیړه لیکنه کوله. دسفیر او سفارت په اورېدو د ډابس، پوزانُف، کلایو نومونه ورياد شول. تاریخ کې یې لوستي و چې د تموجن سفیر د سوداګرۍ له وړاندیز سره سلطان خوارزم ته راغی، خوخبره د وطن تباهی ته ورسېده. پروفیسر لګیا و، قلمونه د کتابچو په پاڼو ښښېدل او د صادق فکر له (سوداګر سفیر) سره بوخت و، چې ځینې دوستي او اړیکې پالي، خو ځینې نور د سوداګرۍ او د شتمنیو د لوټ کولو په فکر کې وي لکه کلایو. قلم د کتابچې بلې پاڼې ته واوښت او پروفیسر په تخته ولیکل:
دیپلوماتیک مصئونیت
قلمونه بیا وچلېدل...
صادق انګېرله چې کابل کې سفیر او سیاسي استازی دغو ورځو کې د هرچا د خولې خبره ده. خلکو انګېرله چې ورروسته د ډابس له وژل کېدو به د سفیر او استازیو پل دلته (ډېر دروند) وی !!

کله چې پروفیسور د سفیر عنوان پیل کړ، ټولګي کې د صادق غوږونه وپرېدل او (د ګټو ساتل) ټکي ته سوچ کی شو.
استاد کلونه، کلونه په همدې سمستر کې همدغه لکچر ورکړی، چې سیاسي استازی یې باله، خو نن صادق ته دا مُبهم ټکی حل نشو چې ( سفیر د خپل هیواد دګټو ساتنه کوي)، ده ته د شیراغا هتی کې د تکرښت د ملګرو بحث وریاد شو چې ویل یې د پیاوړو هیوادو سفیران خوارو ملکو کې خپلې ګټې تضمینوي، په تېره بیا چې اینجنیر ویل؛ که د دوی د ګټو سیالی نه وای موږ ولاکه په دې بده ورځ اخته شوي وای...
استاد د تختې مخې ته ولاړ و او تشریح ته یې دوام ورکړ. نجونو او هلکانو قلمونه کېښودل او غوږ شول:
سفیر په نړیوالو حقوقو کې دیپلوماتیک استازی دی، زموږ د نن لوست اصلي ټکي ,ambassador, embassy inter او nonce ,letters credentials ,agreement nonceدي.
صادق لکه د نورو ټولګیوالو په شان استاد ته غوږ نیولی و او ژرژر یې دلکچر غټ ټکي پرله پسې لیکل.
استاد دوه کاله مخکې د دوی ټولګي ته د نړیوالو حقوقو او نړیوالو اړیکو درس ویلی و، هغه مضمون تر دې اوسني ډېر پیچلی و. هغه وخت استاد یوه (فیات) موټر کې پوهنتون ته راته، له هغه وخته یې تراوسه ډیر توپیر کړی دی؛ اوږې یې لږ څه کړوپې شوي، ویښتان یې سپین، غوږونه یې لږ درانه شوي دي، ذره بیني عینکي په سترګو کوي او خبرو کې لږ لږ دمه کوي. هغه وخت د ټولګي بحثونه زړور او ازاد وو، اوس سیاسي درسونه په احتیاط اوربدل کیږي، په تېره بیا کله چې صادق ته د شیراغا هتۍ کې د اینجنیر خبرې او پس پسی وریادې شي، نو اندېښنه ورلوېږي.

د لوست پای ته رسېدو ته لږ شيبې پاتې وې. استاد خپلې پاڼې سره راټولې کړې او لاسونه يې د تباشير له ګردونو وڅنډل، مخ يې ټولګي ته واړاو:

- پوښتنه شته؟

د صادق شاته درېيم کتار څخه يوې نجلی لاس پورته کړ. استاد ذره بينی عينکې لږ د سترګو له بريد راکوزې کړې او د وروځو او دعينکو د پاسنی فريم له منځه يې زرلښتې ته وکتل، د لاس په اشاره يې د پوښتنې اجازه ورکړه. زرلښتې وپوښتل:

استاده که د يو هېواد استازی بل هېواد کې د دندې پرمهال ووژل شي، قضيه څنګه څيړل کيږي؟

پروفيسر وروځې پورته واچولې مُسکی شو:

- دا لوی بحث دی، دلايل بايد وموندل شي، راتلونکو ورځو کې دمصئونت خبرو ته دوام ورکوو.

له دې سره استاد له ټولګي ووت.

وای ديوه لاس پنځه ګوتې سره برابرې نه وي! ټولګي کې هم څېرې، فکرونه، عادتونه، جامې او غوښتنې او پوښتنې يو شان نه وې. ځينی يواځې لکچر ته غوږ نيسي، پوښتنې نه کوي، ځينی پوښتنې کوي او ليکي يې. په ټولګي کې زرلښتې، سمون او خُمارې د درس په اړه پوښتنې کولې، خوپلوشې سياسي او جنجالي بحثونه شروع کول، پوښتنې او بحث پسې به يې خبره د حکومت بد- رد ويلو ته ورسوله. باقر به له درس وروسته لاس پورته کړ د پوښتنې په ځای به يې خپل نظر ورکړ او هلکانو به ورپورې وخندل. ناصر به يو او بل ته کتل نه يې پوښتنه کوله او نه يې چا سره بحث کاو. هر کتابچه کې يې يوه- دوه لنډۍ خامخا وې. هلکانو به يو بل ته پټ پټ ويل (هلک چيرته مين شوی آخر به يې سر ساراته ووځي!!) او يو بل سره به يې خندل.

په ټولګي کې خُماري بل شانته غلې وه، غلې نه وه غله وه. د ډېرو زړونه يې وړي وو. ښايسته سرې شونډې، لنډه ګرده زنه، سپين ښکلي غاښونه، لږ هسکه غاړه او تور ويښتان چې تر نيمايي ملا يې رسېدل، خو په دې ټولو کې يې په ښي غومبوري يو وړوکی داغ و. څوک نه پوهېدل چې دا به يې له وړوکوالي د کومې زخې يا دانې نښه وه، يا به کوم ټپ و چې روغ شوی، خو هرڅه چې و په يو بېل شانته ځای کې و، د خماري ښايست يې دوه ځلي زيات کړی و. په خپله خُماري خواره به د دغه داغ له امله شرمېدله، ځيني وخت به يې خوررڼو ورېښمينی او مکۍ ته ويل: له بده شامِته مخ مې داغلی خومره به بده ښکارم ؟! هغوی به يې غومبري ته وکتل خه به يې نه ويل. خُماري خواره په خپل غومبوري د ټپ د نښې له امله خپه وه، خو هغه نه پوهېده چې ښايست يې دوه ځلي وربانديې زيات شوی. په تېره بيا چې هغې به وخندل، نو د ښايست پلټونکو سترګو جلب به بې اختياره له ښو، ويښتانو او شونډو همدغه داغ ته ورکوږ شو. دې ټپ په ښايسته ځای کې سترګک واهه. د هغې عادت و چې د خندلو په خت به يې ښکته زمکې ته کتل يا به يې کتابچه مخ ته نيوله. په دې راز څوک نه پوهېدل. که په يوه منه باندې داغ وي، څوک يې نه خوښوي، که په هينداره باندی مازې درز وي د هيسته غورځولو يې بولي، که په يوه ښايسته شنه پاڼه وړوکی خروکی وي، عيب يې بولي، خود خُماري د غومبوري د ټپ نښه عيب نه و، يوه داسې ګاڼه وه چې هيڅ چارګل، ټيک او نتکۍ يې ښايست ته نه رسېدل.
دغسې چې زده کوونکي رنګارنګ وو او د يوه لاس د ګوتو په شان يو ډول نه وو، د استادانو عادتونه هم بېل و. په بل درسي ساعت کې ترپروفيسور څخه يوځوان استاد ټولګي ته راغی. د دې استاد د لکچر په پای کې زرلښتي پوښتني شروع کړې، خود خُماري زړه د زرلښتي پوښتنو ته تنګ شو چې دا وخت غوسه ناکې پلوشې لاس اوچت کړ، استاد اجازه ورکړه.

پلوشې اوچته ونه، پر اوږو خواره مُشکين ويښتان، پراخ تندی او اوچت غږ درلود. په کيڼ لاس به يې تل کوچنی ګړی تړلې او له لرې به ځلېده. په بحثونو او استادانو ته د پوښتنو په ځواب ورکولو کې ډېره تکړه وه. کله چې استاد د پوښتنې اجازه ورکړه، پاڅېده، پيکی يې وځانده او په تندي باندې خواره ويښتان يې يوې خواته کړل، د ديپلوماسي په توضيح کې يې وويل:
يو شمېر ښکېلاک ځپلیو ولسونو او زموږ هيواد ته ځينی سفيران د ويسراګانو په بڼه راغلي دي. له ويليام مکناټن نيولې تر جان لارنس او کيوناری، بيا يې دا نور ورسره. خو بايد پوه شو چې اوس شلمه پيړۍ ده، نه ځوارلسمه او نه اتلسمه چې وايسراګان ومنو. دا وايسراګان که زموږ په پاکه خاوره يو بل سره زور آزمايي، د نړيوالوحقونو، د بشردحقونو، دملتونود خپلواک برخليک ټاکلو، د ولسونو د ملی غرور او عزت او آزاد ژوند تر پښو لاندې کول يې بولو. موږ د ختيځ اولويديځ د سوړ جنګ محراق نه کيږو...
استاد چې درس پای ته رسولی و او دا مهال له ټولګي څخه وتلو ته چمتو و، د ټولګي مخې ته تر هغو پورې ولاړو ترڅو چې د پلوشې خبرې پای ته ورسېدې. د استاد په شونډو د غرور او تحسين موسکا ښکاره او له پلوشې يې مننه وکړه ويې ويل:

- پلوشې ! د ولسونو برخليک او د آزادو ملتونو برخليک په خپله ولسونه ټاکي، سياسی او ديپلوماتيک استازي که له خپلې کاري آجندا او پروتوکول بهر پټ يا ښکاره څه نقشه ولري، نړيواله حقوقی او قضايي رويه دې برخه کې څرګنده ده.

يو ځل بيا يې پلوشې او ټولګي ته په استفهامی بڼه وکتل، لاس يې د خدای پاماني په نيامت اوچت، نورې خبرې يې پرېښودې او په بيړه ووت.

ځينو ټولګيوالو په پلوشي سترګې برندې کړې چې ولې خطري او جنجالي پوښتنې کوی. خو هيڅوک ګرم نه و، د استازيو کيسې ټوله نړۍ نيولې وه. بيا د هيواد دننه د هر چا په ژبه وه:

- د امريکی سفير...
- د شوروی سفير...
- سفير ووژل شو...
- له سفير سره کاته وشول...

اوس چې د استازي او سفير خبره ټولګې ته راورسېده، نو خامخا پوښتنې هم پکې ډېرې وې، خو پلوشي به د آزادي، خپلواک برخليک ټاکلو، ښکيلاک او يرغل خبرې کولې چې دا ټکي دا مهال له خپل ژوند سره لوبې کول و. پروفيسور ته سفير، سفارت، ديپلوماسي او ديپلوماتيکي اړيکې عادي خبرې وې او کلونه کلونه يې د لکچر موضوعات وو، خو د محصلانو لومړی ځل و چې دا ټکي يې زده کول، صادق ته ځکه ډير په زړه پورې و چې بهرنيانو سره يې اړيکې وې او په انګليسي ژبه پوهېد.

له همدې ورځې وروسته پروفيسور خپل موټر کې پوهنتون ته راتګ ځخه تېر شو، ورځ تربلې به خواشينی و، زړه به يې له خبرو ډک و، خو د خبرو کولو او زړه تشولو ځای نه و. د پروفيسور په دومره بدلون سره به يې شاګردان حيران وو. پروفيسور د کونسلی حقوقو په زده کړه ټينګار کاو، خو زده کوونکو ته ستونزمن لوست همدا و، نو ځکه به يې يوبل ته ويل:

- ډير له ستونزو ډک لوست دی،
- د کونسلی حقونو هره پاڼه کې لس- پنځلس نومونه، کلونه، قراردادونه او نور دي، دا به څوک زده کوی؟
- خدای خبر که په لومړی چانس ورڅخه تېرشم؟!
- دا ډېر ښکلي درسونه دي، ټول د سياست او د ديپلوماسي د عمل ډګر رازده کوي.

- ځینی سفیران د خپلو هیوادو استازي دي، خو ځینی نور ورانکاري دي، خپل غرضونه او مرضونه لري، غریبو ملکو کې ځان څخه وایسرا جوړوي.
- دا سفیران د خپلو هیوادو د ګټو ساتونکي دي، هسې خبره ده چې د دوستي استازی دي!...

لکه هغسې چې د یو لاس پنځه ګوتې برابرې نه وي، ټولګي کې فکرونه هم یو شان نه وو. خو له دې ټولو سره سره زده کوونکو په شوق د پروفیسور لوستونه اورېدل. په تېره بیا چې اوس یې خواشیني له ورایه ښکارېده، د لوست په پای کې به یې د لکچر له میزه خورې-ورې پاڼې ټولې کړې او د لاس په مازې پورته کولو به له ټولګي ووت. وروستۍ مُسکا به یې د ټولګي فضا خوږه او د زده کوونکو ستوماني ورکه کړه.

## (۶)

د اداري او دیپلوماسي څلورم ټولګی د رنګارنګ ګلونوباغچه وه. ناصر مجنون مشربه ځوان و، په ټولګي به چې ننوت یو اړخ ته به کېناست، مخامخ به یې د ټولګي تختې ته کتل، خو سروسودا یې نورو خواوو ته وه. ترڅو به استاد راته ده به د کتابچې د یوې پاڼې په څنډه ولیکل:

په آخرت خوار شې ریباره
په ایرو پټ اور دې لیده پرې ودې سومه
***
عالم چې کوډې کوډې وایي
کوډې مې دا دي نرۍ سترګې توروومه

د لیکل شوي لنډۍ شاوخوا به یې یوه د ګلونو لښته وکښله او میده میده ګلان به یې وربانديې رسم کړل. په بله پاڼه به یې لیکلي و:

د مار خوړلی به خدای روغ کا
د زلفو خوړلی روغ به نه شي وبه مرینه
دا لنډۍ خو یې دومره د ګلانو په پاڼو کې پټه کړې وه چې په سختۍ یې ټکي ښکارېدل. ټولګي کې یواځې دوه- درې تنو هسې تصادفي او څرښنده د ده لیکلې لنډۍ لوستې وې، کتابچې یې چاته نه ورکولې.
هلکان هم د ده په نازک طبیعت پوه شوي و، ډېر کار یې ورباندې نه لاره. یوه به په زړه سوي وویل: په دې کم عُمر مجنون شو. خدایه ته یې آرمان پوره کړې!
قدوس ګڼ اوږده ویښتان لرل چې تر اوږو یې رسېدل، د رنګه کرښو لرونکی کمیس پلن کالر یې جمپرسره د کوبای فلمونو هیرو را په زړه کاو. ده به د تفریح په مهال د امریکایي فلمونو د اتل کیسې کولې چې د ( sleeper Light) فلم کې یې لیدلی و. په ماته- ګوډه انګلیسی به یې د دې فلم یو نیم ډیالوګ وایه او هلکانو به ورته خندل، بیا به یې ورپسې زیاته کړه:
• د "ژمی خوب" فلم باید ولیدل شی!
کله به یې د موریس شوالیه او د هغه د آس کیسه راواخیسته او بیا به یې دا هم وراضافه کړه:
you One hour withفلم او د پارک سینما لوړ لوژ پهـــــهـــها
! بل ځای یې مه ګورئ.
هلکانو به ورته خندل.
اوشکوئ، جزیره وحشت ونه ګورئ، زړه به مو له ویرې بوټ وخیژي، دې ورځو کې زینب ننداري ته راغلی دی. اوله ورځ یې توربازار کې ټکټ نه موندل کېډ اوس لس تنه هم نه ورځي، ورکوه یې!
کله به یې د آلن دولن او د فرانسوي فلمونو د ژان رنوار او مارسل داریو کیسه را پیل کړه او سپارښت به یې کاو چې (ناپلیون) فلم وګورئ، بیا به یې دناتالي دولن او سوفیالوران صفتونه شروع کړل.

داوخت به تفريح پای ته ورسيده، هلکانوبه ورپوري وخندل اود ټولګي په لوري به روان شول، قدوس به تر ټولو آخر کې را روان شو. د دې باغچې بل ګل علی و. لنډه ونه يې وه، چې ورته کتل دې، تا به ويل چې وروځي بيخي نه لري، غاړه يې دومره لنډه وه چې اوږې يې د غوږونو په بريد ښکاريدې، خو باز ګل بيا په بل خېل و: لوړ قد، ګڼې وروځې، هسکه غاړه چې پتلانه سره به يې څپلی پښو کولې او د پتلون له جيب څخه به يې د سور (ګل سيب) دسمال پيڅکه راوتې وه، پر مخ يې د کوځَوَک د دانو او د شري د تبې نښې له ورايه ښکارېدې، مځ يې تيار لکه په پسته خاوره چې دانه دانه باران ورېدلی وي، پيکی به يې په تندي ښوی ږمنځاو، پښه يې کلي کې له ونې د رالوېدو له امله لړ څه ګوډه وه، د پوهنځی دهليز کې به يې شواړ شواړ ګامونه اوچتول او د يويو چارک درنو څپليو ښبا او دربا به يې وه. د پوهنځي د رياست مخې ته ناست ملازم به حيران حيران ورته کتل. ملازم به چې ټوله ورځ د دفتر مخې ته په چوکی ناست و، د دهليز تر پايه به يې بازګل پسې کتل. باز ګل به هره ورځ د لوست وروستی ساعت کې ډېر ناکراره و، ويل به يې ليليه کې دغرمې په ډوډی ګنه- ګونه زياتيږي. چې له ټولګي به ووت، په بيړه به د ليليې په لوري په ځغاسته شو او د پتلانه د پايڅو ترپا به يې تر لرې اورېدل کيده. بازګل به د لکچر په مهال د استادانو د لکچر ايله لسمه برخه ټکي په پنسل نوټ کولای شول او بيا به يې ليليه کې په (تورپن) خودرنګ قلم پاکنويس کول، خو زده کولو کې يې تکړه نه و. ټولو کارو ته يې نجونو پټ پټ خندل، په تېره بيا چې د (سپير) او (سپارت) به يې ويل، نو نجونو به کتابچې مخ ته ونيولې، بازګل به ځان سره ګڼله چې نجونې له ده څخه حيا کوي، آپرين شه په دوی! پلوشه بيا بل ډول زړوره او خوله وره وه. کله به يې چې حکومت پسې خوله خلاصه کړه، ټول ټولګيوال به ويرې واخيستل. د خبرو په مهال او دهليز کې د ګرځېدو په وخت چا ورته کتلای نشو. کله به

چې نجونو بازګل پورې پټ وخندل، پلوشې به نجونو ته داسې سترګې وروا ړولی چې ټولې به یې وویرولې او بازګل یې د یوه ریښتنی مسلمان په توګه ستایه. نجونو ته به یې اخطارآمیزه وویل:

- زه بې وروره نجلۍ یم، بازګل مې ورو دی. له دې خبرې سره به یې بیا سیاسي بحث را پیل کړ.

په ټولګي کې پلوشه د تل په شان جراره او زړوره وه او هر استاد سره یې بحث کاوه، د بحث او خبرو په مهال به یې په ښي لاس دستکول او کتابونه نیولي وو، کیڼ لاس به یې خوځاو چې له لستوني سره تړلې کوچنۍ ګړۍ به یې لکه د سرو زرو بنګړی له لرې ځلېده. دځماري په غومبوري به چې د چا سترګې ولویدې، چې د زماني زاهد به و، بیا به یې ترې بل خوا سترګې نشوی اړولای.

د ټولګي بل ګل عبدالوکیل و. هغه ډېر ښوزله او وچ کلک هلک و، رنګړي ژیړبخن وېښتان یې وو، خو په لوست کې ډېر ذهین او خواریکښ و. زرلښته یوبل ګل و چې د دې سمستر له نیمایی وروسته بیخي بدله شوې وه. هغه خواره وروسته تر هغه پخوانۍ زرلښته نه وه چې دسمستر منځنۍ آزموینه کې یې استاد له لستوني څخه د نقل کاغذونه وموندل. هغې په مهارت سره د مهمو نړیوالو میثاقونو هره موضوع، کلونه او د میثاق د لاسلیک کېدو ځایونه په ډېر میده لیک لیکلي وو. آزموینه بې غږ- زوږه روانه وه استاد دلکچر د میز تر شا ولاړ و او د میز پر سر یې خپل ډیپلومات ایښی و، د عینکو له شا په زرلښته شکمن شو، ناڅاپه یې غږ کړ:

زرلښت!

زرلښتې ورو لستونی دلاس تر بند پورې راکش کړ، د ټولګی نورو هلکانو او نجونو د خوابونو له لیکلو سرونه را پورته کړل او زرلښتې ته یې وکتل چې رنګ یې الوتی و. استاد خپل ډیپلومات بند کړ، عینکې یې هم ورسره کیښودې، وړاندې راغی، د زرلښتی لستوني څخه یې کاغذونه واخیستل او بیرته دمیز شاته ولاړ. هیڅ یې ونه

ويل، خو زرلښته خواره لکه پانه ريږدېده او رنګ يې الوتی و. وروسته تر دې ورځې بيا زرلښتې پوښتنې کولو ياالوست تشريح کولو ته زړه ښه نه کړ.
باقر به په چوغو سترګو ټولو ته کتل، ارتې سپږمې به يې هر ځل ساکښلو سره پراخه شوې، مکۍ به ټوله ورځ ژاولې ژوولې کله کله به يې د ټکار او ترق- تروق غږ اوچت شو، نورو ټولګيوالو به په ملامتوونکو کتلو سره ورته‌ له.
درې کاله کيدل چې دا کيسې پرله پسې رواني وې او خبره د ديپلوماسي، مديريت، حکومتولی او عامه او خصوصی حقوقو څخه بشري حقونو او دا دی اوس سفير او سفارت پورې راورسېده، صادق به چې کله دسفير واورېدل، نو زړه به يې تنګ شو، ځان سره به سوچونو کې ډوب شو:
...لعنت په سفير چې کله د دوست او کله د سوداګر په نوم راځي او بيا وايسرا جوړ شي، يوځل يې په موږ دچنګيز تندر راوغورځاو، بيا د کمپنۍ سوداګر سفير د پلرونو او نيکونو وطن په ناولې چاړه رانيم کړ او درې ځله يې جنګونه راسره وکړل ...
صادق ته د سفير کيسه د کابل هوټل د ۱۱۷مې کوټې له پيښې راپيل او اوس دادی ټولګې کې ورسره اخته شو. په دې سوچونو کې به يې د ليدلي خوب ځينی برخې ګډې- وډې ورپياد شوې. د کلايو او کاکاسام تت انځور به ورته ذهن کی تازه شو، دبنګال او کرناتک لوټ کول، بيا به يې  پيلان، راجاګان او مداريان هغسې ذهن کې مجسم کړل چې په ويښه يې هيڅکله نه وو ليدلي، خو خوب کی ورته راغلي وو، نور خوب يې ټپ هير و. ده داسې انګېرله چې  د دې سمستر ترټولو ستونزمن لوست  همدا دسفير او سفارت درس دی، خو چې د پلوشې زړورتيا او دسفيراوسفارت په اړه تشريح ته به يې کتل، ورته اسانه به ښکاره شول.

پلوشه د دري کلونو ښخوا او دلومړي سمستر په شان نه وه، دهغې دومره بدلون ټول حيران کړي وو، په تېره بيا کله به چې هغې په اوچت غږ، تريو تندي او جدي بڼه د نوي رژيم او حاکم ګوند بد- رد ويل، ټولګی به ټول ويرې ونيو. پلوشه به غوسه وه او وطن وربانديې تنګ او ژوند ورته تريخ شوی و. دپلوشې تبرته هغه وخت لاستی پيدا شو چې د حاکم ګوند مشر خپل نږدې ملګري او شاګرد چې لومړی وزير يې و، په بالښت وواژه. پلوشې به مخ ټولګی ته واړاو پوښتنه به يې کوله:

- چې د دوی خپل منځ کې دا حال وي، ولس ته به څه وکړي؟

په ټولګي کې به چا له ويرې د هو يا نه ځواب نه ورکاو. ټول د زرګونو کسانو له هغه لست څخه خبر وو چې رژيم پلچرخي کې اعدام کړي وو. کله به چې پلوشې په نوي واک ته رسېدلي ګوند او حکومت ملنډې پيل کړې، هلکان او نجونې به ورڅخه لرې شول. هره ورځ د محصلانو، استادانو، سپين ږيرو او ځوانانو د نيول کيدو خبرې کيدې، خو پلوشې د چا پروا نه کوله. يوه ورځ يې د پوهنځي ترمخې ونو لاندې د نجونو يوې ډلې ته په غوسه وويل:

- ته ولا دوی به دا چوکۍ او خپل واک تينګ او وساتلای شي؟!

يو بل يې ووژل، بنديخانې يې په مظلومو مسلمانانو ډکې کړې...

وربښمينی ورته د چُپ کيدو اشاره وکړه، خو هغې نور هم خپل غږ اوچت کړ. دا وخت مکۍ په غوسه خپلې ژاولې په زمکه وويشتې او ځان يې ګواښ ته چمتو کړ:

- بلا دي ووهه، په تا خو به هيڅ ونشي، خو موږ به په مُصيبت اخته کړې، چوپه شه! که يې کومه خورکۍ هسې ديوسات لپاره تحقيق ته بوتله، ژوند يې تبا دی...

پلوشې دتل په شان د پيکي وينتان له تندي يو خوا کړل، ځواب يې ورکړ: چې خلک مې په سره تبۍ ناست وي، خدای دې دا اوس زما

ژوند واخلي. لاس یې په بې پروایي هواکې ونڅاو په ملا ټیټه او بېرته هسکه شوه.
نجونې ورځخه خورې- ورې شوې. پلوشه یواځې شوه اود پوهنځی خواته روانه شوه.

## (۷)

د ژمي سره خیله راروانه وه، د هوا په بدلون سره د خلکو بیړه هم زیاته شوې وه. ټولو ژمي ته ځانونه برابرول.د پغمان د غرونو له څوکو سره د وریځو لړۍ رابښکاره او په ټول ښاربه دوره شوې، ونې له پاڼو لوڅې او راز راز مرغانو په کوم لوري کډه کړې وه. یواځې تور کارغان پاتې وو چې له پاڼو څخه په لغړو شویو ښاخونو به کېناستل او د کاغ کاغ غږونه به یې کول، له لوړو ښاخونو به یې لاندې داسې راکتل ته به وایې همدوی د واورې او یخنې استازي دي. سره له دې ټولو د ټېر مني منظرو صادق ته ښه ښایست هم درلود.
د ټېرمني د سړو ورځو په رارسېدو سره د فاینل آزمونیې را لنډې وې. په دغسې یوه ورځ کې پلوشه د پوهنځې وره سره په تمه ولاړه وه. د صادق په رارسېدو سره یې ورته سلام وکړ، صادق سلام ورغبرګ کړ. هغه نن بوټانو سره نه وه راغلی، پستې موزې او ډبله وړینه لمن او د سنیو جاکټ یې و، سر ترپیښو بدله شوې وه، د غاړې

دسمال يې د شا لوري ته له ګنوو ښتانو داسې را پيچلی و چې دهغې هسکه غاړه او غوړوالی يې پوښلې وې. دا درېيم کال و چې پلوشه به هره آزموينه کې يوه يا دوه نمرې له صادق مخکې وه. ځای يې د ټولګي لومړي کتار کې و، شاوخوا به يې د ګلبوټې په شان د عطرو موج و. د خبرو په مهال به يې صادق د يوې نااشنا سندرې په ځپو کې ډوب او ځان به ورځخه د اوبو د شرشرې په لوري او د يو ګڼ شين ځنګل منځ کې ورک شو او تر هغو به چې پلوشې په يوه خوږه مُسکا را په خود نه کړ، د نااشنا ځپو په وزرو به له ځانه بی خبره کړی و. دهغې تر مخې به يې يو ټکی خبره په خوله نه راتله. نن يې صادق ته وويل:

- زموږ وروستی کال دی، ځومره خواری مو چې کړي، خدای به يې ثمره را ته نصيب کړي. د فراغت تر ورځې پاتې يوه کال کې نوټ ليکل کمېږي، خو د ټولګي پروژې او کورنۍ دندې زياتيږي او بيا به داسې ورځ رارسيږي چې پوهنتون سره به خدای پاماني کوو. ته خو دا اوس هم ښه کاروبار لرې، ډله ډله بهرنيانو سره پېژني له فراغت وروسته دې په زړه څه دي، څه به کوې؟ د وطن ورځ بده ده.

صادق ورته وويل:

کيدای شي فراغت سره سم، له مور او پلار سره له ښاره ووځم او کلي کې د نيکه کلا ته ولاړ شم.

پلوشه نوره هم خوشحاله شوه. ورته ويې ويل: کلی خو د پرښتو ځای دی، پاک او ايماندار خلک خو په کليو کې دي. چې ولاړې، زه به درپسې روانه يم. ځيره کې يې د خوشحالی برېښنا وځليده او ويې خندل.

***

د آزموينو په رانږدې کېدو صادق د ګرځندويانو موسسې ته تګ پريښی و. اغابادار به تل صادق ته ويل چې زما اود حاجی صاحب

ورورري ده، زموږ داسې شراکت دی چې لکه ټول چې د يوه تن مال، ګټه او تاوان وي. حاجی صاحب به هم صادق ته ويل چې په عبدالباری باندې پوره باور لرم، نو دهمدې داږ له مخې صادق هم ټول پام ازموينو ته راواړاو.

د ژمي په يوه سړه ورځ د کال د لومړی واورې بخرکي په تاوېدو تاوېدو پرزمکه لوېدل، هوا ګردجنه وه، د هر مضمون کتابچه مخ په ډکېدو وه، کيدای شي يوه اونۍ وروسته ازموينې پيل شي. ټول ټولګيوال راغلي وو. استاد لا ټولګي ته نه و راغلی چې هلکانو اونجونو يو بل سره د ازموينو او لوستونو انديښنه شريکوله او يو بل ته به يې دسلا- مشورې په دود ويل:

- که د کومې ورځې نوټ درڅخه پاتې وي، اول هغه پوره کړئ!
- دا دومره لويه کتابچه به څنګه زده کړو؟
- يره ما خو غټ غټ ټکي جلا نوټ کړي دي، کار مې ځانته اسانه کړی دی،
- زه هيڅ انديښنه نه لرم دسمسترمنځنی ازموينه کې اوولس او کورنۍ دنده کې نهه نمرې لرم، روزانه مې لوست ياد کړی، له پاتې اويا څخه شپېته اخيستلای شم، چې هيڅ نشي، اتيا خو وړای شم.

بل به ويل:

- وروره ښه يې زده کړئ، سفارت لوی منصب دی،
- هو، د نن ورځې سفيران بايد تر وسله والو لښکرو پياوړي وي، د ديپلوماسي پياوړي!

په دې ټولو کې بازګل چې پټلون به يې ترنامه هم پورته ښه کلک تړلی و او سپيره کوټ کوټ کورتی او شخصی کميس به يې ورلاندې ښکاره کېده، لږ څه ګوډ ګوډ رادمخته شو:

- يره دسپارت او ډيپلوماسی چارې له بهلول دانا زده کړئ ! او سترګه يې ورپېده.

ټولو وخندل، اباسين بازګل ته مخ واړاو:

- هلکه ته خو په دې زخن مخ، سپېره کورتی، دغو ګاولو او ګل سيب دسمال سره ولاکه سفيرشې، سفير کيدل ډېر رموزات لري. څنګه به سترې مشې کوې، څنګه به رسمی پروتوکول برابروې، څنګه به غونډو کې خبرې کوی، ميلمستيا کې به کوکتايل کله څښې، غاب او کاچوغه به څه ډول ځانته نږدې کوی، کوم ډول مجلس ته به کوم ډول دريشی او نکتايی اغوندې، ديپلوماتيکی ناستو کې به کوربه سره څنګه بحث کوی... بلا خبرې دي.

خو باقر راوړاندې شو ويې ويل:

- ګُله اوبازګُله دا د بهلول دانا د ديپلوماسی نکل خو راته ووايه کنه.

د بازګل سترګه وربېده، غږ يې لږ ورو کړ اونکل يې راواخيست:

- وای د عثمانی خيلاپت په مهال چې دعثمانی خليپه لښکر تر اسلامبول، قسنتطنيې او بيزانس ورسېدل، نومخ يې د اوغانستان په خوا راواړاو، زړه يې و زموږ وطن هم خپله امپراتوری کې ورګډ کړي، نو اول يې د يوه سپير په راليږلو چورت وواهه چې دلته راشي او حالات وګوري، زموږ د نيکونو رواجونه، غزنی ښار، د سولتان ماموت لټان، د کندهار وهرات او لغمان دخلکورواجونه وګوري، ځان پوی کړي او خبرې ښې وشاربي، بيا د ټولو خبرو کوچ او ډېره لنډه پايله عثمانی خليپه ته وروړي. د عثمانی خيلاپت سپير او ديپلوماتيک هيئت له غټو غټو سياسی کتابونو، چپنو او څو ډکو خورجينو او آسونو سره رارهي شول. داوخت يې د (غټو کتابونو) د ټکی ويلو سره خپله کتابچه پورته ونيوله او کله يې چې د چپنې خبره کوله دخپلې کورتی څنډه يې په دوو ګوتو ښورولە، تاج، علی او سمندر له خندا شنه اووښتي وو. سمون او باقر له خندا تاوراتاو شول، بازګل تندی تريو کړ:

- غوږ شئ کنه، څه له خاندئ؟ بيخ مو شين شه!

قاسم خپله خندا غړوت کړه، جدي شو، ويې ويل: بازګله غوږ ياستو ، د بهلول تجربه راته وايه. بازګل ټول له سترګو تېرکړل:

- چيشته خاندئ؟

ښه نه خاندو، سفير او هيئت له غټو کتابو، خورجينو، چپنو او اسونو سره راغلل بيا څه وشول؟

-غوږ شه ! هيئت راغی. دا بهلول د غزنی و، د غزنی باچا هيئت ته ميلمستيا جوړه کړه، خو حيران و چې د زورور خليپه له دې سپير سره به څوک آ د پروپيسرصاحب خبره، ديپلوماتيک پروتوکول په مخ بوځي، څوک به په ديپلوماتيکو آدابو او نورو ټکيو پوه وی؟ باچا چورت کې لويدلی و، اول يې زړه و خپل د ښي لاس وزيرله هيئت او سپير سره مخ کړي، بيا يې چې کتل د ښي لاس وزير چندان ماغزه نه لري، دکيڼ لاس وزير هم ورته مناسب ښکاره نه شو، نو بيا يې زړه شو چې له بلخ ترهرات او کندهاره ترټولو ويښيار سوداګر ورسره ميلمستيا کې کينوي، خو باچاته وېره پيداشوه چې سوداګر ورسره ټول ملک داو نه کړي، هم به دربار له لاسه وځي هم وطن!!
باچا آخ کړ، تندي ته يې ټس ورکړ؛ اوهو بهلول مې هير دی. بهلول دانا ورپه يادشو. سړي يې ولېږل بهلول پسې. د دربار کسانو بهلول دانا دسيند ترغاړې وموند چې له شګو يې کوټنی جوړولې، ورباندې غږ يې کړ:
بهلوله باچا غوښتی يې! بهلول شګو کې بوخت و ځان يې پوی نه که. د باچا خلکو بيا ورباندې غږ کړ: دا ځل بهلول غوسه شو، خو د دوی خواست يې ومانه، ماڼۍ ته ورسره روان شو. دخيلاپت سپير ماڼۍ ته رارسيدلی و چې بهلول ورننوت. پرميزونو باندې راز راز خوراکونه، لوی او واړه غابونه، کاچوغې- پنجې، نالبکي، تازه ميوه، زاپران، مرچ، وچه ميوه، کيلې، پولاو، شربتونه او هرڅه کتاااار ايښي وو. بهلول د سپير مخامخ کيناست. سپير دځان تعارف وکړ او د عثمانی خليپه پيغام يی قرائت کړ. بيا نو باچا ورته سترګی مشی

وويله، د هغه باورليک يې واخيست، دي پسې يې مانۍ کې ناست کسان ټول ډوډۍ خوړلو ته وبلل. سپير لاسونه داسې د غابونو خواته اوږده کړل چې بهلول يې يوه لستوني کې دشکوڼ غشي اوبل کې د زانې پستې بڼکې ووينې. بهلول پوه شو چې د دوی وطن ته د سپير نيت ښه نه دی. د سپيرپيغام دا دی چې هم په اوږدو تېرو غشيو سمبال لښکر لرم او د خواره خوب لپاره دپستو بڼکو بالښتونه هم لرم، هر يو درته راليږلی شم، خو خبره به منې! په دې ګستاخانه پيغام سره د بهلول زړه اور واخيست، خو دا شيبه يې څه ونه ويل. دا وخت باچا بسم الله کړه د پولاو له غورې يې خپل غاب کې پولاو راواخيست، نورو هم ډوډۍ خوړل شرو کړل، سپير لاس کړ د ميوې د پوست کولو چاکو يې راپورته کړ، وروځولاندې يې بهلول ته وکتل او د پلو په غوري کې يې غوښې پسې مزبوته غوټه ووهله، چاکو يې وريجو کې دننه کړ يو ښه برغنډ غوښه يې د وريجو سرته راکښله. بهلول ورو غاړه ښه هسکه کړه، ښه نيغ کيناست ورو او په مدارا يې کاچوغه راواخيسته ترنيمايې پورې يې په اتيات وريجې راواخيستې، دا وخت د عثمانی خليپه سپير په موټې زاپران راواخيستل څه يې په وريجو او نور يې شاوخواوشيندل، بهلول بيا هم وروځې پورته وغورځولی، په زغم يې د دسترخان له مخ يوه ټوټه وچه ډوډۍ راپورته کړه. سپير بيا ځلي چاکو په وريجو کې خښ کړ. بهلول ته نور زغم پاتې نشو، د ميوې له پتنوسه يې غټه کيله راپورته کړه. دا وخت له خيلاپت څخه د راغلي سپير سترګې برندې وختې، وانې يې وتښتېدې، ترپ يې وهل، وارخطا پاڅېد او په منډه ووت. خپلو ټولو عمله او فعله وو ته يې اشاره وکړه، په آسونو سپاره شول او ياچاريار په ترات مخ په ترکې خيلاپت يې مخه کړه تر شا يې د اسونو ګردونه په هوا وو!! باچا او دواړه وزيران يې حيران او بهلول ته په غوسه شول. پوښتنه يې وکړه دا څه چل وشو چې سپير صيب ووت؟

بهلول ورته وويل:

- عمر دي ډېر شه باچا. سپير ويل يا راته تابعدار شئ چې پاسته بالښتونه درته کيږدم، موږ پوه شه او ملک دی، که نه تابعدار کيږئ، نو غشی او ليندۍ او لښکر دربانديې راولم. چاکو ته يې لاس کړ، مانا يې دا وه چی ښه بدماش يم جګړه درسره کوم، غزنی مزنی وبلخ وهرات درنه نيسم، ما نيمه کاچوغه وريجې راواخيستې پوه می کړ چې الکه انصاف کوه. بيا يې زېړان وپاشل، نو په ديپلوماسی يې پوی کړم چې دغسې به مو تارپه تار کړم! ماچې وريجې بس کړې وې، د ميوې وخت و، کيله مې را پورته کړه سم يې چې سترګې وربانديې ولګيدې، نور نوزما په مقصد پوه شو!!

هلکانو هر وهل او خنداګانو يې دټولګې فضا په سر سر واخيسته، اباسين، تاج او علی ترټولو بډوډي کلک کړي وو او له خندا ځرخيدل. بازګل وروسترګو لاندې شاوخوا وکتل چې کيسه يې بل چا او نجونو نه وي اورېدلي. خو ډېره ښه خبره دا وه چې نجونې لرې او د راروانی ازموينی له غمه خپلو منځو کې لګيا وې.

سمون د لاس په رغوي د خندا له زوره لمدې شوی سترګی وموښلي
:

بازګُليه ډېر سپين سترګی يې! کېله !

باقر وويل: ګُله باز ګُله لږ ادب ساته، کنه ولاکه سفير شی!

قاسم بيا خندا ونيو: بازګليه مړه دې کړو.

بازګل به تل هلکان په دې ډول ټوکو خندول. کله به چې ډاډه شو چې د نورو ټولګيو نابلده هلکان نشته، نو د ټوکو په مهال به يې غږ ورو کړ او پيل به يې وکړ. يابه يې کومه نادره کيسه کوله يابه يې په کوم ملګري کومه ټوکه برابروله. په باقر خوار يې ډېرې ټوکې برابرولې، هغه به خندل، څه يې کړي وای؟ ملګرتوب و. د ټوکو په وخت به يې چې يوه سترګه ورپيده، د هلکانو به نور هم خندا زور واخيست.

د بازګل د عثمانی خلافت د ټوکې په پای ته رسېدو بل درسي ساعت پيل شو، ټول د ټولګي خواته روان شول. چې ګوري اباسين ځنډ وکړ او سوداېی شانته را ورسېد، هغه اداري ته تللی و، د اداري ملازم ورته ويلی و چې پروفيسورصاحب له هيواده بهر ولاړ او د نړيوالو اړيکو استاد نيول شوی دی، نو سم له رارسېدوسره يې صادق ته ورو وويل:

- د قونسلی حقوقو استاد له هېواده وتلی او د ديپلوماتيکو اړيکو استاد مو نيول شوی دی.

دواړه خپه وو. صادق ته د حاجی صاحب هغه غمجن حالت ورياد شو چې همدا نن سهار يې وروسته د سهار له لمانځه پر مصلی تر ځنډه په سوچونو او اندېښنه کې ډوب ليدلی و. نن له هماغه سهاره صادق ته ښه ورځ نه وه. آن دا چې د سږني کال د مني سمستر د پوهنتون په ټوله دوره کې ورته بيخونده سمستر و:

پلار کلي ته د کډې کولو خبرې کولې، چې ده ته ګرانه تمامېده، ډيلوشې ډير زړه تنګوالی او حکومت پسې تونډې خبرې او پاڅون ته دخلکو لمسون او دا دی نن پروفيسور صاحب چې ټولو ته ګران و، له وطنه ووت. دغو ټولو خبرو دا سمستر بې خونده کړی و. صادق ورپه ياد کړل چې د دې سمستر له هماغه پيل څخه پروفيسور د پخوا په شان په خوشحالی ټولګي ته نه راته تر څو چې دا دی وطن يې پرېښود.

هلکان له دهليز څخه يويو ټولګي ته ننوتل او صادق همدې اندېښنه کې و چې د پوهنځي رئيس له خپل دفتر څخه راووت. هلکان او نجونې يې ټولګي ته وبللې او دوی ته يې اعلان وکړ:

- وروسته تر دې به د کُنسلی حقوقو تدريس ته يوبل استاد راځي، تاسې به ټولګي کې حاضر اوسئ.

ټول خواشيني وو.

پروفيسور په خپل تګ سره د زده کوونکو خوښي او مينه ځان سره وړې وه، دغه بل استاد چې نيول شوی، د زده کوونکو هيلې، غرور اوخپلواکي يې ځآن سره وړي دي. هيڅوک نه پوهېدل زړونه ولې تنګ او هيلي شليدلي دي. هره ورځ به ټولګيوالو، خپلوانو، ګاونډيانو او آشنايانو خپلو منځو کې د جګړو اومظاهرو د پيل، د مهاجرتونو او د خلکو د بندي کېدو خبرونه يو بل ته ويل.
هوا سړه وه، د ختيځ له لوري آسمان شين و، لمر نوی راختلی و، خو لاهم د جمال ميني په کورونو سيوری و. د لمر وړانګو دومره تودوخه نه لرله چې ځوک ورته ودريږي يا پيتاوی وکړي. دا وخت د صادق دوی د ټولګي ترټولو غلی او بيوزله کليوال ټولګيوال خپله کتابچه مخې ته نيولې وه، خپل لوستونه يې تکرارول. د دې ډنګر او بيوزله ټولګيوال نوم عبدالوکيل و. ډيرې لږ خبرې يې کولې او زياتره به ګوښه ناست و، د شونډو شا يې نوې توره شوې وه، قد يې اوچت، ويښتان يې ژيړبخُن اوډېر خواريکښ او ټولګي کې دريم نومره و. د مني په دې سړه ورځ يې لا هم هماغه کميس په غاړه و چې د پسرلني سمستر په يوه ورځ پلوشې له يو جوړه بوټانو سره ورکړی و. د نوټ ليکلو کتابچې يې ټولې کوپونی ارزان بيه او جمپر يې ليلامي کې رانيولی و. پلوشې به چې څومره په پټه ورسره مرسته کوله، عبدالوکيل به پټه نه پرېښوده او ملګروته به يې ويل:

- دغه بوټان راته پلوشې خور راکړل، خدای دی خوشحاله او عزتمنده لري،
- دا کميس راته پلوشي راکړ،ښه مې په ځان جوړ دی، خدای دی دهغې پرده وکړي، درنه خور موده.
- تېره پنج شنبې چې کلي ته تلم پلوشې د يو چارک بورې او د موټر د کرايې پيسې راکړې، خدای دی تل کاميابه او اول نمره لري...

پلوشې به چې عبدالوکيل سره څه مرسته کوله، نو ويل به يې: زه يوه بې ورووره نجلۍ يم، ته مې ورور يې. وکيل به د هرې مرستې په يادونې سره يوه دُعا هم خامخا کوله. پلوشې کله هم د وکيل د غرور د ساتنې په خاطر چاته د مرستې او خيرات څه نه ويل، خو عبدالوکيل يې احسان نه هېراو. ټولګی نه و، د کور غړي وو. درسونه پای ته رسېدلي وو، خو د ازموينو مهالويش نه و اعلان شوی. د کُنسلی حقوقو او د جزا او يو شمير نورو مضامينو کې د يو شمېر ملګرو کورنۍ دندي نه وې ټولې شوې او د سمستر سيمنارونه او يويو کنفرانس لا پاتې و.
د مني د لمر کمرنګه وړانګې له پانو څخه د لغړو شويو ښاخونو له منځه را لوېدلي وی، چې نجونې او هلکان را ټول شوی وو چې د کُنسلی مضمون پنځه دقيقه ی کنفرانسونه ارائه او د چا چې کورنۍ دندې نه دي سپارل شوي، هغه به وسپاري. د يوې ونې اړخ ته پلوشې له خپل بکس څخه د پيسو بټوه را کښله او د عبدالوکيل خواته ورغله، له ټولګيوالو پټ يې درې پنځوسګيز وکيل ته ورکړل، خو وکيل د نه اخيستو ټينګار کاو، پلوشې ورته وسپارل او په بيړه يې مخ واړاو د نورو ټولګيوالو لوري ته راغله. پلوشې دوی ته نن بيا وينا لرله . د پيغور په بڼه يې وويل:

- ټول غلي ياست! خوښ ياستو چې سمستر مو پای ته ورساو او کورنۍ دندې مو وسپارلې، خو تاسو يو هم د قدوس پوښتنه کړې ده؟

ټولو يو بل ته د پوښتنې په دود وکتل، ريښتيا هم چې له يوې اونۍ راهيسې قدوس ټولګي ته نه و راغلی، دا وخت پلوشې خبره رڼه کړه:

- قدوس خپلې کورنۍ سره مهاجر شو، خدای دې يې مل شي.

بازګل چې يوه سترګه يې د رپېدو د مخنيوی په خاطر نيمه پټه کړې وه، مخ راواړاو:

- پرېږده یې د پیوډال زوی و، د هډوکي په شان اتوکړی کالر به یې اغوست، د پیلمونو کیسي یې زده وی نور هیڅ، ځي دې الندوډلان او بیلچی بارډو سره دی چکر لګوي.

دا نومونه بازګل د قدوس له فلمی کیسوزده کړی وو. باز ګل لا یوه بله هم وروپسي شتی کړه:

لاړشه پیښور ته کمیس تور ماته راوړه...

نجونو او هلکانو د تل په شان د بازګل خبروته وخندل، پلوشه لومړی لږ مُسکی شوه، خو ژر په بازګل په غوسه شوه:

- غلی شه تام اوریدلي فیوډال!! خلک په سره تبی ناست دي، زندانونه له معلمانو، کلیوالو او مظلومانو ډک شول.

بازګل وخندل اوړې یې پورته واچولی ژر یې رپیدونکی سترکه پټه ونیوله. کله به چې نجونو سره مخامخ و رپیدونکی سترګه به یې پټه کړه چی نجوني وربانديِ غوسه نشي، بله چاره یې نه لرله.

بازګل ته به پلوشې هرځل په خوږه ژبه ویل: زه یوه بی وروره نجلۍ یم، ته مې ورور یې. خو نن لکه چې په ریښتیا له بازګل خپه شوه، ځکه یې نورې خبرې ورسره ونه کړې.

بازګل ملامت نه و، دهغه له قدوس سره جوړه نه وه. قدوس په ده ملنډې وهلې. بازګل د قدوس له ټوکو او مسخرو په تنګ و. کله چې لومړی ټولګي کې و، یوه غرمه درسي ساعت پای ته ورسېد، بازګل په بیړه ووت چې لیلیې ته ځان د غرمې ډوډی ته ورسوي، قدوس وروپسې غږ کړ:

-بازګل چیرته ځي؟

لیلیې ته ځم قدوس جانه،

-ښا مال خی علی اباد ته ځې!

بازګل لا تردې وخته علی آباد نه و اورېدلی، فکر یې وکړ چې د جلال اباد یا خان اباد یابل ځای په شان به کومه سیمه وي، خو کله چې هلکانو وخندل، شک ورته پیدا شو. وروسته یې چې علی اباد

وپېژاند، قدوس ته يې زړه کې غوټه ولوېده. بله ورځ چې هوا ډېره توده شوې وه لا هم بازګل خپله غټه کورتۍ اغوستې وه، نو قدوس د ملګرو تر مخې وربانديې غږ کړ:
-بازګل خان قُلنج لري، همدا هوا همدا کورتۍ!
هلکانو وخندل. بازګل قدوس ته غوسه شو:
د قولنج مولنج په مانا دی پوه نشوم، خو اوس به دې په يو سوک غونج مونج کم !
هلکانو بيا وخندل او قدوس هم له خندا ورته شين و، خو د بازګل سوک ته يې چې کتل د بزګر د زوی د کلکو لاسونو سوک له ګُرز څخه کم نه و، لږ به يې حيا کوله. بازګل هم ډير په مخه نه ورته، خو نن يې چې له تګ خبرشو، بی اختياره يې د زړه باد په همدې ويوست: لاړ شه پېښور ته کميس تور...
کله يې چې وليدل چې پلوشه خپه شوه، سر يې ټيټ واچاو نور يې هيڅ هم ونه ويل. ګل سيب دسمال يې له جيب راوکيښ په مخ يې تير کړ. بيرته يې ومروړ او جيب ته يې په خواريو دننه کړ. دا وخت د قدوس کيسه پاتې او د نجونو او هلکانو ډله خوره شوه چې د پنځه دقيقه ی پرزنتشن او کنفرانسونو لپاره ځانونه چمتو کړي.
د مني لمر لږ شانته را تود شوی و، خو سيورلن ځايونه يخ و، يوه نيمه د شاتو مچۍ به په لتۍ سره د بوټو په ژيړو پاڼو او مړاوې شويو ګلانو کيناسته او لږ شيبه وروسته به والوته. بازګل صادق، عبدالوکيل او تاج ته غږ وکړ:
- هلکو، ودريږئ. د کورنيو دندو د سپارلو له غمه خو خلاص شو، دابل غم يې ښنګه کوئ، زه خو ولاکه پنځه دقيقی خبرې کولای شم. دا ديپلوماتيکواړيکو استاد سره څه کوئ؟ ماته خو لوی دبړه مار ښکاري، ډېر ښوی غونډې دی، نمره خور راته ښکاري، څه خبر چې څه لياز وپياز به پيژني کنه. په دې آخر کال مو ډانډس نکړي !
تاج وخندل، خو عبدالوکيل او صادق ډاډ ورکړ ورته ويې ويل:

- بازګله، ورته ورخطا کيږه مه ستونزه نشته.

بازګل په پريشانی سره وويل:

- خو ويلي يې دي چې د سپير، سپارت، ديپلوماسی او بهرنيو اړيکو په اړه خبرې وکړئ! زه به کومه موضوع واخلم ، دا به څنګه شي؟

صادق ورته وويل : نورو ملګرو همدې کې يو يو ټاپيک غوره کړ، ته هم يوه موضوع په خپله خوښه ورته غوره کړه، نوردرسونه ختم دي، ورستی آزمونيې ته چمتو کيږو.

د صادق په دې خبرې سره لکه بازګل ته چې لوی غم په اوږه ايښودل شوی وی، ويی ويل:

- يره خدای که به دومره تکړه يم چې پنځه دکيکی خبرې وکړم، خو ان شاالله دا د نوي راغلي استاد مخکې به پنځه دکيکی يو کسم په يوه موضوع خبرې وکړم، خو چې يا دا نجونې نه وای يا می سترګه نه رپيدای.

تاج ببيا وخندل. خو صادق ډاډ ورکړ: پروا نه کوي، هغوی مو خويندی دي. تاج ببيا خبره ټوکې ته برابره کړه:

-ګوره چې د بهلول دانا ديپلوماسي تشريح نه کړې !

هلکانو وخندل ، بازګل ورته کړل:

-کينه بابا ترتا خو مې دوه نمرې لوړې دي، ببخ دې شين شه تا پنځوس وړي، ما دوه پنځوس .

تاج ورته وويل ، زه ناروغ وم،کنه هيڅ مضمون کې له اويا کمې نلرم، دا يو يې نظر وچ. خو ستا دوه پنځوس له لومړي ټولګی تر اوسه په هر استاد قلنګ دي. هلکانو وخندل، ورځ نيمايي وه يو بل سره يې خدای پاماني وکړه، بازګل د ليليې خوا ته روان شو او نور ملګري په هره خوا سره جلا شول.

# (۸)

د نورو ورځو په شان د کابل د ژمي دلومړيو ورځو سړه هوا د پغمان د لوړو غرونو له لوري راچلېدله. د پوهنتون ټول چمنونه او بوټي خزان وهلي وو. د ختيځ له لوري د لمر زرينې وړانګې په هسکو ودانيو لوېدلې وې. د پوهنتون له دروازې سره له ملي بسونو څخه ډلې ډلې نجونې او هلکان را کوزېدل، نيم نور محصلان له ليليې څخه را روان وو. د حقوقو د پوهنځي د اداري او ديپلوماسي څانګې د څلورم کال زده کړيالانو يو بل ته هغه موضوعات تکرارول چې نن استاد ورڅخه غوښتي دي. ټولګي کې ګونګوسې و او هر يو پنځه دقيقې تمرين کاو، چې دا وخت نوی استاد چې د پروفيسور له تګ څخه وروسته راغلی، ټولګي ته ننوت. هلکان او نجونې ودرېدل، دوی ته يې په لاس د کېناستو اشاره وکړه، زده کوونکي کيناستل او په خپله د ټولګي مخامخ د لکچر د ميز شاته و درېد. څو پانې يې مخ ته کېښودې. له کړکيو څخه ټولګي ته د مني دلمر وړانګې را لوېدلې وې،خو د پخوا په شان تودې نه وې. استاد نومونه اخيستل اود حاضري په پاڼه يې نښې اېښودې. ټول حاضر وو، يوازې قدوس نه و. د مخې کتار کې يې اباسين څخه چې ورته لنډ و، وپوښتل:

- ستاسې يو ټولګيووال قدوس چېرې دی؟

استاده، خبر نه ياستو، خدای وکړي، ناروغ نه اوسي.

- مقصد نن د پرزنت کولو وروستی او همدا يوه ورځ ده، چې څوک نه و، يا چمتو نه و لس نمری بايلی!

علی وويل: استاده چی څوک چمتو دي، دوی دې ارائه وکړي، چې څوک غير حاضر دي، د هغوی په خاطر وخت له لاسه نه ورکوو.

- سمه ده، زما هم همدا پريکړه وه، مننه.

استاد قلم جيب کې کېښود او د حاضری پاڼې يې ټولې کړې، ورپسې يې د حاضري لومړی نوم واخيست چې په افغانستان کې د سفيرانو او سفارتونو په تاريخي بهير پنځه دقيقي خبرې وکړي. لومړی نوم د پلوشې و. هغه پاڅېده، د ټولګي مخته ودرېده، په څو ګامونو کې ور پسې دعطرو خوشبويي هوا کې خپره شوه. استاد د لکچر د ميز خواته په چوکی کيناست، پلوشه د لکچر د ميزشاته ودرېده او سم له درېدو سره يې د خپل عادت سره سم، پيکی يو اړخ ته څنډ واهه او په خبرو يې پيل وکړ:

بسم الله الرحمن الرحيم. له بامي بلخه او له پيړيو، پيړيو بيا د غوريانو، سوريانو او غزنويانو پورې زموږ هيواد نړی سره اړيکې لرلې او د اوسني افغانستان د پرتم او برم دوران وو، خو د سلطان خوارزم په مهال کله چې د تيموجن چنګيز سفير محموديلواج افغانستان کې پښه کېښوده، د دې وطن ورځ بده شوه.

د دې ټکي په اورېدو استاد ورو د سترګو له کونج پلوشې ته حيران وکتل، خو څه يې ونه ويل، هغې دوام ورکړ:

...محمد يلواج د ديپلوماتيکو دوه اړخيزو ګټورو اړيکو په ځای ځانته د سرو او سپينو دسوداګرۍ په فکر کې و، نو دغه حرص د سوداګريزو لارو او د مغلو د کاروانو کيسه غږوله، نه د استازيتوب دوستانه ژمنه. عياش، بی ارادې او خُرافي سلطان هم لويه تېروتنه وکړه، پښه بل ډول شوه او د دوستانه تجارتی اړيکو ترنوم لاندې راغلی سوداګر ووژل شو، تيموجن يې په کسات کې يو لوی لښکر له کاشغرستان راتېر او د بالخاش په لاره يې په دې وطن لکه د

اورونو او وینو دسیلاو په شان راوست. کلي او ښارونه مو کنډواله، کتابتونونه وسوځېدل، پوه خلک یا ووژل شول، یا له وطنه ووتل تر قونیي او قستنطنی ورسېدل، هدیرې پراخه، باغونه او کروندې شاړې شوې. دسفیر نوم راته بد شامت وګرځید...
پلوشه دې سمستر کې ډېرو مسایلو ته بدبینه وه، هرڅه کې یې چاروا کي غندل او خبریې په روانو حالاتو را څرخوله. ټولګیوال په دې خبره پوهیدل، خو استاد حیران شو.
پلوشې د تندي وینتانو ته ټکان ورکړ یو خوایې کړل خپل پرزنتشن ته یې دوام ورکړ:
... له دې خونړي ځپرکي وروسته میرویس نیکه وطن بېرته راته یو موټی کړ، لارې، کلي او ښارونه یې ودان او د وطن د سرلوړی لپاره په ډېرو وطنو وګرځېد، له افغانستان څخه تر مدینې منورې ولاړ. نورو ته یې هم دتجارت، اړیکو او یووالی لارښوونې وکړې او خپل هیوادیې هم خپلواک او ټینګ کړ، ورپسې احمدخان ابدالي هم د نیکه په قدمونو ګام کېښود، خو نااهله لمسیانو یې بیا د استازیو او سفیرانو په حیله او نیرنګ د نیکونو دورند او ویاړلی میراث یرغلونو او تاراج ته برابر کړ. کله چې روس او انګریز د نړۍ له ستوني تېرول غوښتل، نو په هندوکش کې یوبل سره ښکر په ښکر کېدل. په ۱۸۳۶ او ۱۸۳۸م. کې دوه نور غرضی استازی یان ویتکوویچ او الکساندر برنس د خپلو ګټو د ساتلو لپاره زموږ وطن سور تنور کړ. دوی پسې د کلایو او برتانوی کمپنی مانیوګان او ګورکه د بنګال، کرناټک او بمبئي له غاړو په دې لوري راغلل اود اندوس ترغاړو را ورسېدل.
ټولګی چُپ وو، دپلوشې پنځه دقیقی پرزنت پای ته ورسېد، استاد یې ارزونې ته حیران و. د پلوشې پرزنتشن قهرجن و.
د صادق ذهن ته د کلایو، بنګال، کرناټک... په اورېدو د یوه لیدلي خوب غوندې تت تت انځورونه راتلل. نه پوهېد چې دغه نومونه او دغه پېښې یې کله لیدلي او اورېدلي دي؟ بابا فرانک؟ کلایو !...؟

له کړکيو د مني د لمر وړانګو هماغسې ټولګی تود کړی و، پلوشې خپلې خبرې پای ته ورسولې،پاڼې يې د ميز له سره راټولې او خپل ځای کې کيناسته، لاهم ټولګی او استاد د تراژيديو او په ناتار پسې د ناتار او کړکيچ پسې د کړکيچ دځپو کيسو ګنګس کړي وو، خو استاد ناڅاپه پاڅېد، ورسره ټولې نجونې او هلکان هم د سوچونو له ګرداو راووتل او څنډ وروسته يې د پلوشې پرزنتشن ته لاسونه وپړکول.
استاد هر يو ته پنځه پنځه دقيقې وخت ټاکلی و، وروستی وار د بازګل و. هغه هم له خپلو څو پاڼو سره پاڅېد، ګل سيب دسمال يې په مخ راتېر کړ، بيرته يې په لوی جيب کی دننه کړ، خو پيڅکې يې له جيب بهر وې، د ټولګي مخته ودرېد:
دکوردیپلوماتیک هیات امونيت
هلکانو غلي غلي وخندل.
تازه ګل د خپلو ملی جامو برسېره لوی پتلون او د تل په شان خړچکه غټه کورتۍ اغوستې وه، له کړکيو را لوېدلو وړانګو د ده د مخ زخې اوچته ښودلې. استاد ته يې د اجازې غوښتلو په دود وکتل، استاد ورته د لاس په خوځولو بلنه ورکړه. تازه ګل ژرژر د پاڼو له مخې په يوه سا لوستل پيل کړل. هلکانو او نجونو يوبل ته داسې وکتل لکه په تازه ګل يې چې زړه سوځي، استاد هم ورته حيران و. په پای کې يې يوځل بيا په تکرار د ديپلومات او سفير د امنيت ساتنه د کوربه هيواد د ذمه واري په توګه ياد کړل او خبرې يې پای ته ورسولې.
استاد هر يو ته د خبرو په پای کې پوښتنو ته وخت ورکاو. دا وخت تازه ګل زړه کې دُعا کوله چې يا خدايه چې څوک پوښتنه ونه کړي، خو علی، سمندر او مکی لاسونه پورته کړل. استاد علی ته د پوښتنې اجازه ورکړه، هغه وپوښت:

- که کوم هيواد کې د سفير ژوند ته ګواښ پېښ شي، څه کول په کار دي؟

د باز ګل لاړي له ستوني تېري شوې، پوښتنه يې آسانه وګڼله، دستي يې ځواب ورکړ:
وروره په کار ده چې په هوښیاری خپل امونیت ته پام وکړي چې له خطر بچ شي، داسې نه لکه اډلوپ ډابس چې په مرمیو غلبیل غلبیل شو.
ټولګی ټول په خندا شو، استاد وارخطا او په غوسه شو، تازه ګل ته يې د کیناستو وویل. سمندر او مکی ته يې د پوښتنې اجازه ورنکړه، خپل دیپلومات بکس يې اوچت کړ او ووت.
د استاد له وتلو سره سم، ټولګي کې د خندا څپو نور هم زور واخیست او ټوکې پیل شوې، چا تازه ګل ته شاباس ویل، علی خو بیخي غیږ کې ونیو او نورو ډاډ ورکاو چی پوره نمرې دې واخیستې!
بازګل خوار سره له دې چې دا يې څلورم کال و چې پوهنتون کې يې لوست کاو، لیلیه کې د بیلابیلو ولایاتو ځوانانو سره آشنا شوی و، لیلیه کې څو ایرانی، پېښوري، فلسطینی او څو جرمنی محصلان هم وو، په عمومی سالون کې به تلویزیون ته هم کېناست، خو بیاهم هماغسې کلیوال او ساده و، لکه څلور کاله مخکې. هغه ته دا ښاري ژوند درووند او پېچلی ښکارېد، له عصري ژوند څخه يې اندېښنه وه. کله به چې دلیلیې ملازم تلویزیون لګاو، د بازګل لا د تلویزویون لګول زده نشول، په میز او پتنوس کې ډوډۍ خوند نه ورکاو. ته به وایې د کلي پلتۍ وهلو اود شړومبو په ارمان و.
بازګل دکابل ښار جنوب لوري ته د نمونیاز په کلي کې په یوه بزګره کورنی کې را لوی شوی و. په دولس کلنی کې يې پلار له نړۍ سترګې پټې کړې وې. یونیم جریب آبی زمکه يې لرله چې له للندر څخه راغلې ویالې اوبه کوله، خو د یوې غونډۍ اړخ ته يې پلار په ډېرو خواریو د یو جریب په اندازه زمکه له تیږو پاکه کړې وه او د باران په هیله به يې للمي غنم پکې کرل. دغه للمی زمکه له ویالي پورته او شګلنه زمکه وه ایله يې د دوی د نیم کال غله برابروله. آبی

زمکه کې يې پسرلی پیاز او بیا ورپسې جوار یا شوتله کرله. کله چې یتیم شو، د کليوالي ښوونځي شپږم ټولګي کې و. وروسته تر دې يې ښوونځی پرېښود، خو په دې بل کال ګل رسول خان وهڅاو چې نورښوونځی د چهاراسیاب لېسه کې ولولي. دا وخت د ګل رسول خان یوه زوی حقوق لوستل او بل يې لا ښوونځی کې و. ګل رسول خان هم نمونیاز کې خپلوي او زمکه لرله او هم يې د ننګرهار دسرخرود په ککړک کې زمکه او کلا لرله. بازګل د ګل رسول خان په ټینګار په دې بل کال د چهاراسیاب په لېسه کې شامل شو. له کلي څخه به يې سهار وختی د سقاوې تردښتې مزل کاو، په یوه خلته کې به يې پتلون او کتابونه و، په سړک به هغو موټرو ته پورته شو، چې د لوګر له خوا به کابل ښار ته تلل، چهاراسیاب کې به کوز شو، چېرته به يې ګوښه دجامو په سر پتلون راکش کړ او په ښوونځی به ورننوت. غریبي وه، دېټي کار پاتې و، د هرې ورځې مزل ورته ستونزمن و، نیت يې و چې لسم ټولګي کې ښوونځی پرېږدي، خو ګل رسول خان ورسره مرسته وکړه او د کابل د ابن سینا لیسه کې يې لیلیه کړ. ایله د بازګل دمه جوړه او په مخ او څېره کې يې د سپورې ډوډۍ او سوکړک نښې ورکې شوې او دولسم يې پای ته ورساو. دا وخت ګل رسول خان وهڅاو چې د ده د زوی په شان حقوق ولولي.

کله چې بازګل د ابن سینا لېسې ته راغی، د پټي کار ټول دهغه مورته پاتې شو. هغې خوارې به په سره ګرمي کې تیکری ترملا تړلی و، په سر به يې یو دسمال د پټکي په شان تاوکړ او په ټوکرۍ کې به يې ډېران د پیازو پټي ته وړ او ټوله ورخ به يې د پټي خېشاوه کوله.

اوس دا دی بازګل د ګل رسول خان په هڅونه او د مور د خواریو په برکت دحقوقو تر ځلورم کال رسېدلی و، خو لا يې هم له موټرو، برېښنا، پخو او سیمنټي دیوالونو او میزاوچوکی سره جوړه نه وه. آرمان يې و چې خپل ختین کور کې وي، اوږی دالان کې پوزی او

ژمی تاوخانه کې ليمڅی ولري، خو ارمان چې يوه غوا او خرهم ولري. د خره ارمان يې له وړکتوبه و چې پټي ته ډيران او ژرندي ته غنم او جوار يوسي. کله شاتوری ورباندې سپور او ښه يرغه او په تراټ يې ترژرندې او پټيو وځغلوي، له دې سره يو ځای به يې کټ، ښنک، شکور، کوزړیَ او متیَ د کور ښايست وي...
سره له دې چې نن يې ( دسفير امنيت) کنفرانس هم ورکړ، خو د فراغت او د ديپلوم خوشحالي او هيلې يې څېره کې نه ښکارېدې. په ټولګي کې به پروفيسور د فرانسې د سُربن د پوهنتون د نامتو پروفيسورانواو څېرونکو، د امريکا د متحده ايالاتو د هاروارد او د کامبريج د تاليفاتو خبرې کولې، خو د بازګل سوچ کې د ويالې د غاړې ويلنی، د ولې سيوری يا د نمونياز اوسقاوې دښته کې د مېړو او وزو پيول کرځيدل راګرځېدل وو. ټولګيوالو به رنګه دستکلونه اوړو کې اچولي وو، شيک پټلون او لندني موډ کرتیَ به يې اغوستې او عطرونه به يې وهلي وو، خو بازګل به د تازه ربل شوې شوتلې پنډ په اوږه خيالاتو کې ډوب و. د بطليموس، هليکوليس...ژان ژاک روسو... ټولو څخه ستومانه و، زړه يې و خيروآکا سره د برپټې خوا ته د توت له ونې لاندې په چوتره ناست وي او د للندر د ژرندو او علافانو کيسو ته غوږ ونيسي. خيرو آکا به ورته کيسه کوي چې څنګه دوه علافان د للندر پيچومي کې غلو وهلي وو، کيسه به ورته کوي چې څنګه يوه شپه غلو د يو ګاونډي غواوې ايستلی وې. خيرواکا به ورته کيسه کوی چې څنګه يو ماښام ورباندې ناوخته شوې وه او د چهل ګزي بابا زيارت سره پيريان ورباندی راووتل. دا وخت به هغه کيسه ورياده شوه چې د غونډیَ د اړخ نړېدلی کلا کې دشپې څنګه شيشکې راوځي، که د ملاصاحب تاويز درسره نه وي، تړانګې وړانګې به دې کړي. خيرو آکا دکيسو يو ګوډی درلود، له کيسو ډک و. چې په چوتره به ورسره کيناستې يوې کيسې پسې به يې بله را شروع کړه.

د بازګل طبیعت د آرنت فیلسوف، براون حقوقپوه، حامورابي، چامسکي، دیاکونوف، ژیلسون، دورانت... ټولو سیاستوالو، حقوقپوهانو او قانون لیکونکو له نومونو او کارونو سره ونه لګېد.
ارمان یې دا و چې ځادر په اوږه، څپلي پښو او د نمونیاز د کلي لویدیځ غره هسک کمره ته وخیژي، پلنې تیږې ته ډډه ووهي او د زرکو،تزرو،کزلاخ مرغیو او سایرکو شکیلیو ته غوږ ونیسي او بیا په خلاص مټ ځو تیږي یو لوري او بل لوري ته داسي وشغوي چې تر لرې یې برررر هار تر غوږ شي او هلته ډېر وړاندې په یوه غټه تیږه ولګیږي او د (پړاااک!) خوندور غږ یې واوري او ده ته پټه ولګیږی چې ځومره یې لرې وويشته!!
هغه به ټولګي کې په چوکۍ ناست و، خو په خیال او ځُرت کې به د دښتې د سپاندې اوترخي بوی ورته راته او د نمونیاز، سقاوې، چهل دختران اوپېوله د ډاګونو ځوزان او د سپاندې بوټی یې سترګو ته درېدل، کله به یې هوا کې د مرغاویو هغه سپل پسي کتل چې له سیابینی د ګلزار غونډۍ لاندې د پراخه شپلوپه لوري په یو کتار الوځي، هلته په ډنډونو کې له کېناستو سره سم د اوبو سپین ځاځکي وشیندي او بیا مښوکې اوبو کې غوټه او کله کله وزرې وټپوي... خو چې را په خود به شو، آخوا به څُماري له مکی سره پُس پسک کاو، دا خوا به علی او سمندر دیو بل کیسو ته غوږ و، دې بلې خواته به ډنګرکي عبدالوکیل په کتاب او کتابچه بوخت و یا به یې کوپوني کتابچه کې نوټ پاکنویس کاو، پلوشي به د انقلاب په کیسو ملنډې وهلې او همدا وخت به استاد ټولګي ته راغی او هماغه د هانت، دورانت او ژان ژاک روسو کیسې به وې. وروسته به بیا د نجونو د بوټانو ټکا وه، هلکانو به غومبر واهه او سیاسی بحثونه به یې کول او بیا به استاد د تختې خواته ولاړ و د سپینو ذره بینی عینکو له شاه به یې دوی ته کتل، سترابو او هاینه به یې ستایل او دا وخت به د بازګل ځُرت د لیلیې دغرمې د ډودی خواته و.

کله چې د استاد خبرې او وروستی درسي ساعت پای ته ورسېد، بازګل له نورو مخکې ترپ وهل او له ټولګې د ليليې په لوري روان شو، لاره کې زښت زيات خوشحاله و چې د علي پوښتنې ته يې ځواب ورکړی و، خو په دې خبره لازيات خوشحاله و چې استاد مکۍ اوسمندر ته دپوښتنې اجازه ورنه کړه، کنه سمندر سختې پوښتنې کوي ډير مُضر دی، په دې هم خوشحاله و چې نور نو د ګُنسلي حقوقو د درس وروستۍ ورځ وه او ايله به يې ګوتې له نوټ ليکلو دمه وکړي.

بازګل به چې ليليې ته له رسېدو سره سم د علی اباد خواته وکتل قدوس او لومړی کال به ورياد شو چې ده ته به يې ويل:

بازګل چيرته ځې؟

ليليې ته!

خا، ماويل خی که علی اباد ته ځی!!

خو هغه وخت بازګل علی اباد نه و ليدلی. اوس يې زړه يخ و چې قدوس لاړ ورک شو له سمندرونو واوښت.

دبازګل ځانته جلا نړی وه.

ټول هلکان د پنځه دقيقه يی پرزنتشينونو له پای ته رسېدو خوښ وو. د ګُنسلی حقوقو دمضمون نوټ له ټولو مضامينو زيات و. د ډنګرکي عبدالوکيل دوه کوپوني کتابچې او د نورو هلکانو او نجونو يوه يوه سل ورقه کتابچه ډکه وه.

د سمستر په دې وروستيو کې يوځل بيا صادق ته ورياد شول چې دا لوست پروفيسور څلور مياشتې مخکې په تخته باندې د(ambassador) په ليکلو پيل کړ، خو هغه د سمستر نيمايي کې له وطنه ووت، د سمستر په پای کې قدوس هم پښې سپکې کړې او دسمندرونو پورې غاړې ته ورسېد او دا دی نن د سفير او سياسی استازيو درسونه د علي په پوښتنه او دبازګل په خندوونکی ځواب ورکولو پای ته ورسېدل.

# (۹)

فاينل آزموينې په داسې ورځ پيل شوې چې زمکه سپينو واورو پوښلې وه. په کابل کې د مرغومي مياشت د واورو مياشت وي. صادق په کلکه پتېيلې وه چې په دې آزموينه کې به خامخا لومړی لمبر وي.
دوه لومړۍ آزموينې ښې تېرې شوې، خو درېيمه آزموينه لا نه وه رارسېدلې چې بيا )پاچاګردشي( شوه، دا ځل په يوه بل باندې تخت چپه شو. د شپې ناوخته اعلان وشو:
... اميرغضب د تاريخ کندې ته وسپارل شو او مستضعفين له ظلم څخه وژغورل شول. نوې بشپړتيايي پړاو پيل او د زندانونو دروازې به پرانيستل شي...
ځيني خلک خوشحاله شول، ځينی ترپخوا په غوسه شول، ويل يې نابشپړتيايي چې له خلکوځرمن اونوکان وکښل، نو بشپړتيايی خو به يې هډوکي هم وروتوشيي.
ناڅاپي خبرو. صادق د خبر په اورېدو کتابچه له مخې لرې کړه، له خوبه ډکو سترګو څخه يې خوب والوت:
بيا څه ټکه راولوېده؟! له يو کړکيچ وتلي نه يو، چې پسې بل راځي، بيا ورپسې بل راځي او بل راځي.
په هغه سبا چې کله پوهنځي ته ولاړ، د ادارې مخه کې اعلان ځړول شوی و چې دوه ورځې رخصتي ده، ورپسې به آزموينې د پخوا په شان دوام ومومي.
کله چې صادق د رخصتي اعلان ولوست، حالات ورته تاوجن ښکاره شول، نوويې غوښتل له رخصتۍ په ګټې اخيستو به يوځل اغابادار او د نوي ښار د توريستي چارو موسسې ملګري ووينې. له پوهنځي څخه مخامخ د نوي ښار په لوري رهي شو. د ژوبڼ ترمخې واټ کې يې د شوروی پوځيانو زغره وال ګاډي وليدل، شاوخوا خلک دغو

پوځیانو ته حیران وو. کله چې ښار ته ورسېد او د صدارت له څلور لارې څخه د موسسې د دفتر لوري ته تاو شو، هلته هم یو روسي شسپې محاربوي ماشین او خواته یې عسکري لارۍ ولاړه وه. دوه روسي عسکر چې په خولیو یې سرې نښې له ورایه ښکارېدې، د زغره وال ترخنګ په واورو کې ولاړ وو شاوخوا یې ځارله. عسکروته یې ډېر ونه کتل ژر یې مخ ترې واړاو او دموسسې د دفتر خواته یې ګامونه ګړندي کړل. کله چې د مرغانو کوڅې ته ورسېد، ویې لیدل چې د کورنیو چارو د وزارت مامورین یې دننه نه پرېښودل، هغوی بېرته کورونو ته ولاړل.
صادق ته د ښاربڼه پرېشانه ښکاره شوه، کله چې د موسسې د دفتر مخې ته ورسېد، واوره پرته وه، د ډېرو لږو کسانو دپښو پلونه ښکارېدل، په دروازه یوه شړۍ ځړول شوې وه. دننه ځراغونه روښانه وو او کارکوونکو خپل کارونه کول. صادق د شړۍ په پورته کولو سره له ورایه اغابادار ولید چې د میز تر شا ناست و، لاس کې یې تسپې اړولې پرېشانه ښکارېد. دفتر ښه تود و، خو مشتریان، توریستان او هیپي ډلې نه وې. ټولو سره یې روغبړ وکړ. اغابادار د حاجي صاحب ډېره پوښتنه کوله. د صادق پلار په حاجي صاحب مشهور او ټولو د عبدالخالق په ځای حاجي صاحب ورته ویل. خو حاجي صاحب سره له دې چې له عبدالباری مشر و، هغه ته یې اغابادار ویل. د موسسې د دفتر په پانګه کې هم د عبدالباری او عبدالباقي په پرتله د حاجي صاحب ونډه ډېره وه، خو حاجي صاحب ځانګړې تواضع او تقوا لرله، په هیچا یې ځان نه درناو.
صادق له اغابادار سره کیناست، دا وخت د فاریابی هوټل خاوند چې ګاونډیانو ورته (خوجه یین) ویل، دفتر ته راننوت. خوجه یین به اوړی د قاسمي غاړې کمیس اوژمی به یې ډبله چپن او ځینې وخت ګوبیچه اغوستله، چې د هغه لنډې غاړې پلنو اوږو، نریو ځوړندو برېتوسره ښه ښکارېدل. نن یې برېتونه تر پخوا هم ځوړند وو او

طبيعت يې خراب و. د خوجه يين جيب له جلغوزو ډک و. تل به جنغوزي يا پسته ورسره وه.هغه به د سمنګانی پستې او دجنوبي د غرونود جلغوزيو صفتونه کول. د ده هوټل ته راتلونکو بهرنيو ميلمو به هم د افغانستان وچه ميوه د ده هوټل کې وپېژندله او بيا به يې خلتې ورڅخه ډکې او ځان سره به يې وړې. خوجه يين له راننوتو او سلام وروسته يو يو موټی جلغوزی په ټولو وويشل او د آغابادار ښنګ ته په کوچ کيناست. د خبرو پيل يې د شوروی پوځونو راتګ و. ورپسې يې د بخارا دنيولو هغه کيسه راواخيسته چې ده له خپل پلار او ترونو څخه اورېدلې وه، خو اغابادار ورته وويل:

- يا ، ته اوغانانو سره ناولده يې. دا بخارا نه ده ، دا اوغانان دي چای ناخورده کلاشينکوو رااخلي او بالايې بيرته څغلوي، ځئ د ګوره زامنو...

اغابادار يو دوه کنداری کنځلې وکړې اوبيا په خپلو تسپو بوخت شو، خوجه يين ورو ورڅخه وپوښتل:

شوروی به بېرته ووځي؟

- لا زوی مې نده، داسې به څغلي چې لابه شاته ونه ګوري. او له دې سره يې تسپې په لاس کې پورته او هوا کې يې موټې ته ټکان ورکړ. تاسې به ګورئ!

فاريابی خوجه يين د شاببو جان کوڅه کې تر ټولو نامتو هوټل درلود چې اُزبکی قابلی يې نوم درلود. تېرو کلونوکې يې زښت ډېر توريستان مېلمانه کېدل، شپه - ورځ به آسترلياېی، امريکايی او اروپايی توريستان رستورانت ته راتلل او هوټل کې به اوسېدل، د هوټل مخې ته به يې لنډرور، اوپل، شورليټ اودوه پوړيز بسونه ولاړ وو، خو دغو وروستيو څو مياشتو کې يې هغه ګڼه- ګونه نه وه پاتې. فاريابی خوجه يين له اغابادار سره ټوکې کولې او د موسسې کارکوونکو به خندل، خو نن نه خندا وه او نه ټوکې. مجلس ډېر سوړ او خواشينی و. موسسه کې د صادق ملګري هم خپه ښکارېدل.

دصادق زړه تنګ شو او د تګ په نیامت پاڅېد. ټولو سره یې خدای پاماني وکړه. اغابادار، فاریابی او د دفتر کارکوونکو سپارښت وربانديې وکړ چې حاجی صاحب ته به د هر یوه جلا جلا سلامونه رسوي.
صادق ته د شیراغا د شېدو خرخولو هټۍ ورياده شوه، له لارې ورتاو شو. ټول بازار د پخوا په پرتله سوړ و، خلک اندېښنو کې ډوب وو، خو د شیراغا هټې دپخوا په شان ډکه او ښه توده وه. صادق دننه ورغی، ټولو ته یې سلام وکړ، مخامخ د یوه میز شاته کیناست. لږ څنګ ته هماغه د تکړښت شپږ تنه ملګري ناست وو، مخې ته یې له شیدو تشې شوې پیالې، غابونه او د روټ خځرکي- بځرکي ښکارېدل. صادق هریو ته وکتل: دوه یې یوه موسسه کې ژباړونکي، چې ډبل سپورتي جمپرونه یې اغوستي وو، بل یې اینجنیر، چې وړین کوټ یې اغوستی و، یو د زراعت محصل او دوه نور د اماتور د موسیقی د ډلې غړي، خو دوی ته نږدې دوه نور ناآشنا او نوي کسان وو. کله یې چې شیراغا ته غږ کړ اود یو ګیلاس شیدو فرمایش یې ورکړ، د ناستو کسانو پام د ده خواته شو، ده ته یې په اشاره سلام وکړ. لږ هاخوا د یوه بل میز خواته دوه نور کسان ناست وو، خپلو منځو کې غږېدل، د هغوی مخې ته دوه د شیدو ګیلاسونه او نیم روټ ایښی و. د لوښو له کړپ- کړوپ سره یوځای د خبرو او بحثونو غږ- زوږ و. دا وخت شیراغا راغی، له نږدې یې صادق سره روغبړ وکړ او مخې ته یې له شیدو ډک ګیلاس کېښود. کله یې چې صافی پرمیز کښله، ورځخه ویې پوښتل:

- دحاجی صاحب زو، چیرې وې؟ موده وشوه نه ښکارېدې. ازموينې مو دي.
- خدای(ج) دی کامیاب لره.

صادق یو ځل بیا د تکړښت شېږو تنو او د دوی دوو نویو ملګرو ته وکتل. دوی په اوچت غږ خبرې کولې او تود سیاسي بحث یې را نښلولی و.

سم چې د پلچرخي له زندانه بندیان راخوشې شول، ښاریان زړور شول، اوس خلک دېخوا په پرتله ډېر نه ویرېږي. دغه اته تنه چې له یو میز څخه را تاو دي، پرته له دې چې خپله شاوخوا وڅاري زړور لګیا وو، یوه وویل:

- لوبه پیچلې شوه، د بغداد سنتو- مینتو او سیاتو میاتوپکت ونړېد، وروسته په ایران کې راغلي انقلاب سره سم، سیمه کې له شوروی راتاو شوی کمربند مات شو. افغانستان د امریکا په خوښه د شوروی برخه شو، دا شوروی پوځونه د واشنګټن په خوښه او خبرتیا راغلي، خو شورویان به کلکه لومه کې ونښلوي، اوس نو آسانه له دې لومې نشي وتلای.

بل ځوان یې خبرو کې ورولوېد:

- شوروی پوځیان اومشاورین له پخوا هم افغانستان کې وو، خود نظامي عملیاتو اجازه یې نه لرله، بازارونو کې نه راڅرګندېدل، له یو کال راهیسې رژیم خپلې مرستې ته شوروی محاربوي پوځونه غوښتل، خو هغوی جګړه کې د ګډون کولو نه منله. کله چې برژنف او استینوف د پوځ د رالیږلو پریکړه وکړه، د شوروی د بهرنیو چارو هوښیار او تجربه لرونکي وزیر اندری ګرومیکو برژنف ته وویل چې افغانستان ته زموږ د پوځ لیږل لویه تېروتنه ده. موږ هلته درې ځله د انګریزانو ماته نه هیروو. موږ د امان الله له خوا داصلاحی پروګرام او مترقی ځواکونو ناکامي هم نه هیروو، دا یوه ډُګمه تېولنه ده.

خو برژنف د کبر او دماغ په نشه کې ورته وویل:

هغه جلا وخت و. شهزاده امان الله یو ساده او بی زړه او افغانان هغه وخت بېسواده وو، برتش دوکه کړل، اوس د کارګرو او بزګرو

انقلابي ګوند حاکم شوی باید ملاتړ یې وشي. ګرومیکو بیاهم ټینګار کاو:
وخت جلا دی، خو د افغانستان غرونه هماغه دي!
دغه ځوان چې پخوا کله دشیرآقا هټۍ کې چا نه و لیدلی، اوس د دې اتو تنو منځ کې په تود سیاسی بحث لګیا دی، ډېر هوښار ښکاري.
صادق له دوی څخه لږ لرې بل مېز ته ناست و، خو د دوی غږ یې اورېد ورته غوږ و. ځوان خبرو ته دوام ورکړ:
...د ګرومیکو د دې خبرې په اورېدو د د دفاع وزیر جنرال اوستینوف په غوږو کې ترنګ شو، تر ځنډه په سوچ کې ډوب شو، ترڅو چې د پولیتکل مجلس پای ته ورسېد او زوړ برژنف لکه جای بندی چاغ پسه له ځایه پاڅېد، د افغانستان دنوي حکومت مرستې ته د پوځ لېږلو خبره پخه شوه .
دې ځوان خپله خبره پای ته ورسوله. اینجنیر د دې ځوان د خبرو په اورېدو د شیدو سوړ شوی ګیلاس څخه وروستی غوړپ وکړ، ګیلاس یې بېرته په درز سره پرمیز کېښود، ویې ویل:

- دا ځای دې ښه وي، مهاجرتونه زیاتیږي، پاڅونونه پیاوړي کیږي، خوښې شوي بندیان نیمایی بهر وځي او وسله اخلي.

له دې خبرې سره د میز په سر لږ کړوپ شو، له ورځو لاندې یې ټولوته وکتل، ویې ویل:

- ولاهې چې ګورئ به یئ! ټول به وسله واخلي، د روسانو راتګ هیڅوک نشي زغملای. یو ځل بیا یې تش شوی ګیلاس له میز پورته او کلک یې په میزکېښود: دا ځای دې ښه وي. د ګیلاس غږ شاوخوا د نورو کسانو پام راواړاو.

ځوان د تائید په توګه وویل:

- سمه ده، دا خلک به ښه آرمان لري، خو له بده مرغه دلارې نقشه نه لري. لا هم په ټولنيزې علمی تیوري او د خپلې ټولنې په ځانګړنو پوهه نه لري. دوی هسې یو څو قالبي فرمولونه له هغو دوه-

دري کتابو د توتيانو په شان زده کړي چې له اصلي لويو کتابو څخه ګاونډيو هيوادو کې ژباړل شوي. سمه ده دوی به پرمختګ غواړي، خو لاره او د تګ وسايل ورڅخه ورک دي. يووخت به يې سر په ديوال ولګيږي او ځان سره به يوځای د يو شمېر انساني عالي آرمانو نوم هم بد او ولس به له روښاندو زړه توری کړي.

صادق خپلې مخې ته ايښی تود ګيلاس څخه ګوټې راتاو کړې. د ده ګوتې بهر سړې هوا نوکراړې کړې وې، خو د شيراغا هټۍ ښه توده وه، د شيدو دېګ لاندې نغرى بل و، دلته يوه شيبه کيناستل خوندور و.

بهر خلک تېرېدل او را تېرېدل، د شيراغا د هټۍ ښيښې خولې وې.

دا وخت مخامخ ميز څخه دوه تنه پاڅېدل او ووتل، د روټ څو وړې ټوټې ورڅخه پاتې شوې، شيراغا په هغه ميز صافى کش کړه او د روټ ټوټې يې راټولې کړې چې ماښام يې کورته يوسي. ورپسې يې د ميز له سره تش ګيلاسونه راټول کړل. د مخامخ ميز شاوخوا د ناستو کسانو سياسى بحث دوام درلود، چې څلور تنه نوي راغلل او د شيدو فرمايش يې ورکړ.

سره له دې چې نوي بدلون سره ټول سياسى بنديان خوشې شوي وو، خلک هم زړور شوي وو، خو بياهم سياسى بحثونه بې خطره نه وو، نو اينجنير د نويو راغلو کسانو د پام غلطولو په خاطر په اوچت غږ وويل:

- شکر چې بنديان خوشې شول. د موسسې ژباړونکى وويل:

لکه چې خوبونه مو ريښتيا کيږي!

د موسيقى د آرکستر غړي وخندل، ويې ويل: خدای دې نه کوي.

ټولو په حيراني ور وکتل. ده خبره بدله کړه، په ټوکه يې واړوله:

وای يوسړي چې بانک کې يې پيسې امانت ايښې وې، خوب وليد چې غل بانک ته ننلى او ټولې پيسې يې وړي دي، بانک ديوالى شوی، نو سهار سم له ويښېدو سره په منډه بانک ته ورغى او خپلې

تولي پيسي يې راوکښلې، خپل اکونټ يې صفر کړ. د بانک مامور حيران شو. ورڅخه ويې پوښتل چې ولې مو ټولې پيسي وکښلې؟ هغه ورته وويل چې تاسو اعلان ليکلی چې " موږ ستاسو خوبونه ريښتيا کوو" .

ټولو وخندل. د زراعت محصل اينجنير ته ورو وويل:

- اينجنيرصاحب، دغه نوي مشر هم بيګا تلويزيون کې له يو سره فيوډاليزم، امپرياليزم، شئونيزم... ټکول، نو پخوانی سره يې فرق څه ده؟

اينجنير ورته وويل:

ته خو روماتيزم لری، نو ستا زړه دی چې ستا په خاطر روماتيزم وټکوي!؟

بيا ټولو وخندل. د موسسې ژباړونکي وويل:

د دوی نور څه زده نه دي! دا نوي لږ آبل پلو دربدلي، نور فرق ندی راغلی بيا که همدا ناري وهي هم پروا نه کوي. د ملانصرالدين کيسه دې نده اوربدلي؟ وای ملا نصرالدين يواځې دومره زده و چې come here، يعنی دلته راشه. دا يې تل ويل. خلک ورڅخه ستړي شول. يو چا ورته وويل که د يو چا د هاخوا تلوضرورت شی، نو بيا به يې څنګه ورته وايی؟

ملا نصرالدين په غرور ورته وويل: هغی بلې خواته يې دريږم بيا ورته وايم here come نو خودبخود هغې خواته ځي.

بيا ټولو وخندل. صادق چې کتل د زړه تنګې ټوکې وې او خنداوې. نو خپل ګيلاس يې تش کړ، پاڅېد. په دې ځُرت کې روان شو چې پاتې آزموينې به دوه ورځې وروسته بيرته دوام ومومي او بيا به نو وروستی سمستر پيل شي. ترهغه وخته موسسې او نوي ښار سره خدای پامان.

(۱۰)

دوه- درې ورځو کې د شوروی قواوو زغره وال وسایط دښار له منځه ووتل او له سترګو پنا ځایونه ته ولاړل، ژوند بېرته پخواني بهیرته راستون شو او په دې لړ کې د صادق دوی آزموینی هم بیرته پیل شوې. کله چې په ټاکلي ورځ آزموینو ته حاضر شول، پوهنتون کې ډېر بدلون راغلی و. له نیمایی زیات استادان او محصلان خوښ وو چې بندیان خوشې شوي وو. نیم غوسه وو چې سور پوځ هیواد ته راغلی دی. نجونې او هلکان ډلې ډلې ولاړ وو، پلوشې یوې ډلې ته خبرې کولې:

...مصیبت هماغه لومړی ځل هم مصیبت دی، خو تکرار یې مسخره ګي او لا لوی مصیبت دی. په ۱۸۳۶م. کې لعنتي پرنس د انګریز استازي له امیردوست محمد خان سره وکتل، امیر یې لومه کې ونښت، پرنس او انګریزانو یوویشت زریز لښکر په وطن راوست، دوست محمدخان یې له واکه وغورځاو او شاشجاع یې را مخته کړ، دا لومړی مصیبت و، خو نن بیا د دې کیسی تکرار په دې وطن باندې مسخره ګی کول دي...

هغه ډېره په غوسه وه. دسفیر، سفارت او استازي د بحثونو له پیل تر اوسه پورې یوې بدمرغي پسې بله را روانه ده.

کله چې آزموینې پای ته ورسېدې، کابل په واورو سپین و. په یوه سړه شپه کې ټول کابل د الله اکبر غږونو په سرواخیست. د کابل له هر کور، له هر بام او هرې بامبوتۍ څخه د الله اکبرغږونه اورېدل کېدل. د تکبیر له غږونو سره به یو یوځل دماشیندارو ډزې واورېدل شوې، سرې مرمۍ به په هوا کې وځلېدې. غوسه ناک خلک بامونو ته ختلي وو. شپه ډېره سړه وه، لارې او کوڅې سپینو واورو نیولې وې. پوهنتون بیا څو ورځې رخصت شو. صادق چې په دې سمستر کې خومره د لوړو نمرو د اخیستو ملا تړلې وه، هغومره آزموینه ګډه وډه تېره شوه. په صادق رخصتي وغمېدله. ده دا دُعا کوله چې پلار

کلي ته د تګ بيړه ونه کړي، ځکه چې دا وروستی سمستر به ورځخه پاتې او له پوهنتون څخه د وتلو آرمان به يې پورنه نشي. تر اوسه حاجی صاحب دوه- درې ځلې کلي ته تللی و چې هلته کلي کې د پلرونو او نيکونو کلا کې دوه- درې کوټې پاکې او د ميشت کيدو لپاره چمتو کړي. کلي کې د حاجی صاحب خپلوانو، ترورزيو او د تره زامنو ټينګار کاو چې نور نو ښار د اوسېدو ځای نه دی. حاجی صاحب به هم هريو ته ويل چې نه غواړم په شورويانو او د هغو په ټانګونو مې سترګې ولګيږي.

نوي حکومت سور بيرغ لرې کړ او د افغانستان خپل درې رنګه بيرغ يې ورپاو، دحکومت مخالفينو ته عفو او اساسي اصول يې اعلان کړل. خلکو ته يې ډاډ ورکاو چې شوروی پوځونه بېرته وځي اود جرګې او قانون خبرې يې ډيرې کولې، خو ولس په غوسه اود حکومت خبرې يې دوکه بللې.

نوی سمستر پيل شو اود صادق زړه ډاډه شو. دا وخت د ښار ښوونځي هم پيل شوي وو، خو له هرې خوا خبرونه راتلل چې د حکومت په وړاندې وسله پورته شوې او لازيات خلک له وطنه وځي. د شوروی پوځونو د راتګ په وړاندې دخلکو کرکه زياته شوې وه. په ټولګي کې پلوشې نجونو او هلکانوته په پټه او ښکاره ويل چې له وطنه وتل کومه مېړانه نه ده، موږ به همدلته، په همدې خوږه خاوره د نظامي تيري او ناروا په وړاندې پاځيږو. له وطنه وتل، له باران پاڅېدل او ناوې لاندې کيناستل دي. سور پوځ دلته دی او په وړاندې يې دلته دريږو...

په ټولګي کې ټولو ورته غوږ نيولی و، خو مکی ژر لرې شوه، نه يې غوښتل د حکومت د مخالفينو ډله کې و شمېرل شي او زندان ته ولويږي. علی به ويل موږ وسله نه لرو، له وسله بند پوځ سره څه کولای شو؟ بازګل به هلکانو ته ويل:

- ای هلکو، دا زموږ زنانه خور دومره زړوره غيرتي ده، چې موږ هم مازې پښې و دربوو دا د شوره يی پوځ بيرته وځي...

خو په دې ټولو کې عبدالوکيل په دوو کې حيران و:
له يوې خوا يې پلار نوي حکومت له زرګونو نورو بنديانو سره له زندانه راخلاص کړی، نود نوي حکومت منت نشي هيرولای، له بلې خوا يې ورور په کلي کې د بزګرانو د کوپراتيف مشر شوی دی او ولسوال د تعاوني صندوق چارې ورسپارلي دي. د توړی زوی يې کلي کې د انقلاب د دفاع ډله جوړه کړې ده. عبدالوکيل به دلته د پلوشې اود حکومت د نورو مخالفانو استادانو او محصلانو خبرو ته غوږ و، خو ټول فکر او سوچ به يې پلار، ورور او د توړی زامنوته و. عبدالوکيل دا لاره نشوه موندلای چې ټول سره يو لاس شي، هغه په يواځيتوب نشو کولای ټول زغم ته راوبولي او يوبل ته د ګواښ په ځای خبرو ته کيني، د پُخلاينې لار نه وه.
پلوشې درې کاله عبدالوکيل سره مرسته کړې وه، هغه بوټان چې پلوشې ورکړي وو اوس يې هم په پښو دي، هغه کتابچې او قلمونه چې دهغې په مرسته شويو پيسو يې پيرودلي، همدا اوس يې تخرګ لاندې دي او نوټ وربانديې ليکي. هغه پلوشه چې ايمانداره او کلکه مسلمانه ده، تل يې دکتابو بکس او دستکول کې وظيفات شريف وي او د لياقت ساری يې نشته، خو نوی دولت نه مني. بل خوا پلار، ورور او د توړی زامن چې کلي کې د انقلاب ملاتړ کوي.

***

د پسرلي بارانی ورځې په تيرېدو وې. د کابل د سړکونو تر غاړو د اکاسي د ونو ګلان غوړيدلي وو او په ټوله سيمه يې عطر شيندل، د ګلابو او مُرسل ګلان په غوړېدو وو. په ټولګي کې درسونه ګړندي په مخ روان وو. په دې سمستر کې به محصلان مونوګرافونه ليکي او دا د پنځه دقيقه يی پرزنتشن په پرتله دروند کار دی. کتابتون کې بوخت محصلان زياتره د خلورمو تولګيودي. دوی اړ دي چې د استاد

په لارښوونه يوه موضوع د علمی ليکنې په بڼه هم وليکي او هم يې ټولګي کې ارائه کړي.
حکومت د خپل انقلاب د دوهم کال نمانځنې ته چمتوالي باندې بوخت و، لرې کليو کې خلکو پاڅون پيل کړی و. ډېرو سيمو کې وسله والو مخالفينو ښوونځی وتړل، ښوونکي، حکومتي مامورين او ډاکتران يې دندې ته له تګ څخه منع کړل. څوک به چې حکومتی ادارو يا ولسوالی ته تلل سزا يې ورکوله، د چا چې زامن عسکري او ښوونځيو کې وو، مرګ يې ورته روا اعلان کړی و. د هيواد جنوب او ختيځ کې څو ولسوالی مخالفينو ونيولې. په ټولګي کې پلوشې د حکومت او سور پوځ په وړاندې د مظاهرې نقشه بيانوله. د پوهنتون د مظاهرې د سمبالښت لپاره ټولو پوهنځيو او ښوونځيو کې کسانو دنده په غاړه اخيسې وه. په مظاهر کې به د شوروی د پوځونو راتګ غندل کيږي، د افغانستان خپلواکي اود يو ملی حکومت جوړېدل د مظاهرې غوښتنه ده. د حکومت استخبارات دې پرته له جنايی مجرمينو د نور چا د نيولو هڅه نه کوي، ملی خپلواک حکومت جوړول دهر افغان حق دی، حکومتی الوتکی دې په کليو بمونه نه غورځوي او دبېګناه کليوالو د شهادت مخه دې ونيول شي. د مظاهرې آجندا ټولو ته څرګنده شوه. د حقوقو پوهنځی کې پرېکړه وشوه چې محصلان به د جمال مينې په لوري روانيږي، هلته به د کرنې د پوهنځي محصلان هم راوځي، ورپسې به د اينجنيری محصلان او بيا به د دهمزنګ دسړک په لوري د سوريا او بلخی رابعې، ابن سينا او غازي د ښوونځيو زده کوونکي هم مظاهرې سره يوځای شي او مظاهره به د شوروی د سفارت خواته ځي، هلته به يې د پوځيانو غندنه کيږي او د وتلو به ورته ويل کيږي...
دا وخت ټول له ټولګيو څخه راووتل، د کرنې د وزارت له مخې د دهمزنګ دسړک په لوري ورتاو شول، ډله وار په وار لويه شوه. کله چې مظاهره د جمال مينې په سړک ورسمه شوه، پوليس

راورسېدل. دپلوشي غږ د شور- زوږ له منځه اوچته اورېدل کېد. هغه مخکې کتار کې روانه وه:

- مړه دې وي تيري کوونکي ! له دې سره به يې کيڼ لاس اوچت کړ او په موټي شوي لاس تړلې کوچنی طلايي ډوله ګړی به يې له لرې وځلېده.

مظاهرې ور غبرګه کړه:

مړه دې وي!

- موږ آزاد او خپلواک افغانستان غواړو.

ژوندی دې وي خپلواکي...

دا وخت پوليسو د مظاهرې د خورولو په موخه ډزې وکړې او د پلوشئ په لوري ورغلل، پلوشې په اوچت غږ وويل:

-پوليس زموږ ورونه دي!

پوليس شاته شول. دا وخت د اينجنيری محصلان هم مظاهرې سره يوځای شول، کله چې مظاهره دهمزنګ ته ورسېده، د غازی، سوريا او ابن سينا د ښوونځيو زده کوونکي هم ورسره ګډ شول، هرچا چيغې وهلې، شورماشور او ګډ- وډي شوه. چا يو دبل خبرو ته غوږ نه نيو. د ښوونځيو هلکان خوشحاله وو چې له ټولګيو راوتلي دي.

د اينجنيري محصلانو سيف الدين مخکې کړی و. سيف الدين ټول پوهنتون پېژاند. هلکانو ورته (سيفوی بوغمه) ويل. ټيټکی ونه يې وه، ښه پنډ او اوږې يې پلنې وې، پوزه يې چخپيته وه، خو غومبري يې هسک هسک او پړسېدلي وو، لکه په مخ يې چې خواپه خوا درې پوزې وي! هلکانو ويل د سوک وهلو کلپ کې دی، هرچا مخه ترې چپوله. غرمه به يې کفتريا کې دوه ځله خوراک کاو. نورو محصلانو دغرمې پنځه افغانۍ لګولې، سيف الدين به په يوه غرمه لس افغانۍ د ګېډې دارو کړې، د پخلنځي کارکوونکو به له غوره مالي ورته ويل (نوش جان! نوش جان!). ښه شتمن و، ځينی وخت به يې دکفتريا دپخلنځي کارکوونکو ته يوه، دوه يا ځينی وخت پينځه پينځه افغانۍ

بخشش کولې. سيف الدين اصلي د نيمروز و. پلار يې دري (آهو) موټر او پنځه سوه پسونه او ميږې لرلې. آهو موټران يې قاچاق مال وړي او راوړي. سيف الدين هلکانو ته کيسه کړې وه چې پلار يې يو سل او اووه شپانه رمې ته او دري دېرش تنه دغو دريو آهو موټرو کې په کار بوخت کړي دي. شپنو ته دمياشتى لس لس منه غنم ورکوي، هغوى د دښتو خلک دي، پيسي چندان نه پېژني او نه يې کاروي، همدا لس منه غنم او د ښاروېو شيدى او مستې يې خوراک دى، ښارونو ته تګ نه لري، طبيب نه پېژنى اوجامې او نورې ساده اړتياوې قوالان کليو ته ورووړي، خو د آهو چلوونکو او ساتونکو ته په ايرانى پيسو (ښه غټه تنخا) ورکوي. دوى ته لا له خلکيانو مخکې هم د کابل پيسو خوند نه ورکاو او نه يې پېژندلې، اوس خو يې بيخى نه اخلي.
هلکان به حيران شول. سيف الدين کيسه کوله چې د خليکانو له راتګ مخکى هلته حکومت له اوس نه هم ناتوان او بېواکه و. والي يوه زړه روسي والګا لرله چې اونى کې درې ورځې به مستريخانه کې ولاړه وه، او دوه ورځې به يې تيل نه لرل، پاتې دوه ورځې به يې ايله والي صاحب دفتر ته ورساو، ژاندرما يو زوړ روسي جيپ درلود، ترڅو د قومندانى له مخې روانېد، آهو به بيا وختي دښتې ګزوګام کړې وې او له سرحدونوبه اووښتي وو. هلکان به حيران شول. له خلکيانومخکې نيمروز کى يو حاکم او جاندرما و، نور حکومت نه و، خو خلکيانو والى، ولسوالان، دسواد معلمان او عسکر مقرر کړي او قشله يې جوړه کړى او غواړى د نيمروز لرې عاقه جات هم تابع او قاچاق بند کړي. د آهو په دې دري دېرش کسيزه ډله کې؛ ځينې يې ډريور، ځينى يې پنديان چې د لارې په اوږدو کې بارونه کوز او ليږدوي، ځينې يې ژاندرما ښاري چې دوى ونه نيسي او پنځه تنه پکې وسله لري. سيف الدين پوليسو ته (ژاندرما) ويل.
آهوان موټران به يې اونى کې درې ځله د ايران خاورې ته اووښتل

او قاچاق کې يې نوم درلود. سيف الدين به هلکانو ته د نيمروز د دښتو کيسې کولې.
سيف الدين ويل چې له ټول نيمروز يواځې همدی پوهنتون ته راغلی، په نيمروز کې دحکومت له ټولو مامورينو سره سل تنه سواد نه لري. خلک ترماتړ، ګندنه او نور سابه نه پېژني، دښکار غوښه، شيدې او د غنمو او وربشو ډوډی د شتمنو او سپوره ډوډۍ د بيوزلوخلکو خوراک دی، زياتره يې څپلی نه لري او بوټان نه پېژني، دپوستکی خولۍ او وروسته تر يو دوه کلونو يوه جوړه جامی...
د هلکانو به بيوزلو نيمروزيانو ته زړه بد شو او سيف الدين به ورته د ټول نيمروز باچا ښکاره شو. سيف الدين به هلکانو ته د وچو دښتو نکلونه کول: هلته دښتو کې بی ځښتنه اوښان او برګ ګوره خره ډېر دي چې له پولو آخوا ښکاريان ورپسې مړه مړه دي. د ګوره خرو ښکاريانو ته به هلکان حيران وو او خندل به يې.
د سيف الدين د کيسو ګټه دا وه چې د ښاري سيمو محصلان د خپل وطن د کليو د خلکو له ژوند څخه خبرېدل. بله ګټه يې دا وه چې د جزا دقانون درس کې چې کله استاد د (مافيا) نوم واخيست، هلکان ټول حيران شول چې مافيا يې لا څه شی دی. استاد کوښښ وکړ چې توضيح يې کړي. و يې ويل هغه تبهکارې ډلې چې ژوند يې په نامشروع کارونو او ګټو چليږي، خو بيا هم يو- دوه تنه پوه نشول، دا وخت باقر ټوليکوالو ته مخ واړاو ويې ويل:
لکه د اينجنيري د سيف الدين د پلار ډله !
په همدې يو ټکي هلکان د مافيا په مانا وپوهېدل. مظاهره کې هم سيف الدين يوه نادره مشابيه وه؛ مرده باد سره به يې دواړه سوکان پورته کړل چې ايله به د هلکانو تر اوږو ورسيدل او لکه چرګوړی چې نوی په اذان راغلی وي، په نري غږ به يې نارې کړې: مورده باد!

هلکانو به ورپورې وخندل، خو د اینجنیری په نورو هلکانو به د دوی خندا بده ولګېده. یوبل ته به ګوابښونه شروع شول. یو نیم به پټ غږ کړل: سیفو، سیفو، سیفوی بوغمه یې! او دې سره به بیا ټولو هر وهل. په ګڼه- ګونه کې د حقوقو محصلانو یوبل پېژندل، هڅه یې کوله سره جلا نشي. په دې منځ کې بازګل مخ دبهیر خواته واړاو، په اوچت غږ یې ناري کړې:

- مرګ په شوربیانو!

ټولو مرګ، مرګ ناري کړې.

د حقوقو ټولو محصلانو بازګل پېژاند. هغه سره د مینې اودهغه د ملاتړ په خاطر یې د ده غږ ځوځلي بدرګه کړ او سوکان یې هواته پورته کړل. یو- دوه ټوکمارو ناري کړی:

بازګل، بازګل!

دا وخت بازګل وویرېد، هغه داسي و انګېرله چې نوم یې ټولو واورېد، نوسبا به د مظاهرې د سرکښ په تور ونیول شي، دا وخت یې مزبوته چیغه کړه:

- مړ دې وي پیوډال !

هلکانو وخندل.

هرچا په خپل سر ناري وهلې. چا زنده باد، چا مرده باد غږونه کول. مظاهره کې د خندا او ټوکو ځپو دیلوشي طبعیت ورخراب کړ، هغه بیا د بهیر له منځه مخې ته شوه. بازګل د هغې په لیدو په لوړ غږ وویل:

موږ خپلواک یاستو، مړ دې وی سورپوځ!

د هلکانو غږونه واورېدل شول:

بازګل، بازګل !

باز ګل خوار بیا ناري کړی:

زینده باد اینکلاب !!

سراسر ګډوډي شوه. داسې ښکارېده چې يو شمېر شوخو هلکانو هسې ځانته بوختيا موندله او د مظاهرې موخه ورته ډېره مهمه نه وه. چا سيفو مسخره کاو او چا بازګل ته خندل. د مظاهرې سمبالوونکي په دې وضعيت ډېر خواشنيي شول. دهمزنګ ته په رسېدو، نيم د ښار په لوري ولاړل او نيم په کوځو ننوتل، نيم نور بېرته د دهبوري او پوهنتون په لوري ستانه شول. دمظاهرې دوو خواووته کتار روان پوليس ډاډه شول، په خپله مخه ولاړل.
د مظاهرې له ګډونوالو پرته، د شاوخوا کورنو اوسيدونکو او د هټيوالو او عامو خلکو غوسه هم زياته وه. ولس د روسانو له راتګ څخه ناخوښه او لوی پاڅون ته چمتو و. په ښارونو کې له بازار نيولې تر پوهنتون او روغتون او له جومات نيولې تر مارکيټونو پورې ټولو د شوروی د پوځ د راتګ غندنه کوله.
په هغه شپه صادق د مظاهرې ټوله کيسه پلار ته وکړه، دخواشينی خبره دا وه چې د ښار خواته يوه بله مظاهره باندې دپوليسو د ډوزو له امله يوه پېغله او ځوتنه لګېدلي دي، ځينې شهيدان او نور ټپيان دي. حاجی صاحب راډيو ته غوږ نيولی و. دا وخت بی.بی. سی. راډيو له پروفيسور سره مرکه کوله. پروفيسور د افغانستان حالاتو ته خپګان وښود اود شوروی د پوځ راتګ يې د افغانستان او شوروی اتحاد د دوو هيوادو د دوستۍ د تړون خلاف وښودل. هغه دوه ځله وويل چې د سره پوځ راتګ د افغانستان او شوروی اتحاد دوديزه دوستي له منځه وړي او افغانستان سره ټولې اقتصادی-عمراني مرستې يې په اوبو لاهو کوي.
مرکه اغيزناکه او د نړيوالو ميثاقونو بيانوونکې وه. صادق پلار ته وويل:

- اغا، دا زموږ استاد و، تير سمستر بهر ته مهاجر شو. موږ ته يې له لومړي ټولګي تر درېيم ټولګي درس راکړی و.

حاجی صاحب حیران شو. راډیو یې غلې کړه د زوی خبرو ته غوږ شو:

... پروفیسورزموږ ډیر مهربان استاد و، موږ ورباندې ګران وو. ډیر پوه او د قوی قلم لرونکی و، په پینځو ژبو پوهېد. زموږ ډیر استادان یې شاګردان تېر شوي. حاجی صاحب وویل:

- خبرو څخه یې پوه شوم. دعزت سړی دی. دا ډول پوه او درانه خلک داعلیحضرت په دوران روزل شوي وو. سړی به سرتمبه عبدالولي اومغرور سردار داود ته څه ووایي، خپلو منځوکې یې د کینې او سیالي په سر دپاچاهي نظام نسکور او دا دی وطن کې سره اورونه بل شول.

صادق د ننني مظاهرې کیسه ورته وکړه. حاجی صاحب ورته وویل:

- غږ اوچتول فرض ده. د افغانستان حق چې همدا منور ځوانان او دغه شانته پوهان چی دا راډیو کی یې خبری وکړې، ترلاسه نه کړي، دا ځینی اورګډي چې هسې ښوونځي سوځي او باغیان شوي، څه نشي کولای. خدای وکړي آلا ازرت بیرته راستون شي. دغو کودتاچیانو د آلاازرت په مهال پارک زرنګار کې د خلکو د آرمانو چیغې وهلې، ډېرې ښې خبرې یې کولې، خو اوس یې چی واک نیولی هغه څه نه کوي، چی ویل یې. کاشکې په خپلو ژمنو او دهغه وخت په خبرو عمل وکړي، دوی خو زندانونه ډک، کلی بمبار، خلک مهاجر او کورنی بی سرپرسته کړې. د وطن نوم یې وشرماو وطن یې خرڅ کړ.

په ښارونو او کلیو کې خلک غوسه وو. کلیوالي او لرې پرتو سیمو کې حکومتی پوځ او روسی عسکرو له وسله والو مجاهدینو سره جګړه کوله، حکومتي مامورینو مخالفین زندانو ته اچول، په ټول وطن همدا ورځ وه. دشپې به راډیو ګانو راپوروونه خپرول. جګړې زور اخیست، خو خبرې یواځې د راډیوګانو تر څپو او د سفیرانو تر دفترنو رسېدلې. صادق ته وریاد شول چې یوه ورځ یې (د افغانستان

د معاصر تاريخ) استاد څخه دسړې جګړې د مفهوم او افغانستان کې د تمرکز په لامل پوښتنه کړې وه. استاد ديپارتمنت کې يواځې ناست و، څه يې ليکل صادق اجازه واخيسته او مخامخ ورته کيناست. د تاريخ استاد پاڼې يوې خواته کړې او صادق ته يې د دې پوښتنې ځواب ورکړ:

افغانستان خپلواکې هغه وخت ترلاسه کړه چې لومړۍ نړيواله جګړه نوې پای ته رسېدلې وه. افغانستان پکې ناپيلی و. دوهمه نړېواله جګړه کې هم لويې جرګې پرېکړه وکړه چې افغانستان دې ناپيلی وي. دا ډېره معقوله پرېکړه وه. کله چې ۱۹۴۵م.کال کې نړيوال جنګ پای ته ورسېد، د امريکې په مشرۍ غربي نړۍ د شوروی او ټولو سوسياليستی هيوادو په وړاندې کلک سياسی- نظامي دريځ ونيو. په يووالی سره يې د ناټو نظامی پيمان رامنځته کړ. شوروی اتحاد هم وارسا پيمان جوړ او سوسياليستی هېوادونه پکې غړي شول. له همدې وخته دوه لوی کمپونه يو دبل په وړاندې ودرېدل. افغانستان ډېر حساس جيوپوليتيک موقعيت کې و، خو له نظامی پلوه ناپيلی پاتې شو. اته کاله يې هڅې وکړې چې د امريکې د متحده ايالاتو اقتصادي مرستې ترلاسه کړي، دا څکه چې دجاپان پرمختګ کې د امريکې د مرستو اغيززيات و او ټوله اروپا هم د امريکې په مرسته او د مارشال د بيارغاونې د پلان له مخې ببرته آباده او د نړيوال جنګ وراني په آبادی بدله شوه. افغانستان اته کاله د امريکې ځواب ته په تمه شو چې اقتصادی مرستې وکړي. په نهم کال د متحده ايالاتو ولسمشر ايزنهاور د اسيا جنوب ته سفر وکړ دا ۱۹۵۴م. کال و.

استاد شمېرلې او د نيټو له مخې توضيحات ورکول، صادق غوږ نيولی و، استاد دوام ورکړ:

د دې سفر په ترخ کې ايزنهاور کابل کې حکومتي چارواکوسره وکتل، تر يو ساعت ليدنو وروسته يې الوتکه ببرته له کابل څخه اسلام اباد ته والوته، له هوا څخه يې د ډيورند کرښه او د غرونو پرله پسې

لړی وليدې. غرونه وچ او پيچومي يې هولناک وو. دا وخت امريکې ويتنام کې ماته خوړلې وه او جنوبی ويتنام څخه امريکايی عسکر په بدوضعيت وتښتېدل. شمالی او جنوبی ويتنام سره يوشول او ويتنام د سوسياليتسی کمپ غړی شو، امريکې سيمه کې د پښې ابښودو لپاره د انګليس په لاس جوړشوی مصنوعی استبلشمنت غوره کړ، د سفر موخه يې د شوروي د مخالف په توګه د همدې استبلشمنت کتل و، خو د يوساعت لپاره کابل کې هم کوز شو. دغه سفر او سيمه کې د ده ستراتيژيست سفير ورته غوږ کې وڅڅول چې دلته که شورويان ښکيل شي، د ويتنام کسات اخيستی وبوله! هغه مهال چې د افغانستان پلاوی امريکې ته دمرستې اخيستو او د اړيکو د زياتولو لپاره تللی و، د متحده ايالاتو حکومت رټ رد ځواب ورکړی و، پلاوی زړه توری راستون شو. افغانستان اړ شو چې د هند، چکوسلواکيا او شوروی اتحاد په مرستو ډډه ولګوي. کله چې بل ځل په ۱۹۷۴م. کې کيسنجر کابل ته راغی، افغانستان کې دشوروی اتحاد په مرسته تر شپيتو زياتې انکشافی پروژې په مخ روانې وې، خو د دغو پيچومو او سختوغرونو بل پلو همدومره امريکايی پروژې روانې وې.

دا وخت استاد خپل اړخ ته ابښودل شويو مجلو ته ګوته ونيوه او صادق ته يې وويل: ما په دغو مجلو کې په دې اړه درې مقالې ليکلې دي، کتابتون کې شته کوم وخت يې وګورئ، بيا يې دوام ورکړ:

امريکې په لوی لاس افغانستان شوروی ته نږدې کړ. له تورخم هاخوا تېول (انترنشنل بيډفورډ) او دا خوا تېول ( ګاز) او (زيل) چلېدل. له همدې ځايه دوه جوت او ژور توپيرونه را پيل شول. د دغو توپيرونو پايله لويديځ ته په زړه پورې وه. له تورخم دې خوا شوروی سره جګړه ونښته، دا د لويديځ لوی آرمان و او دجګړې اور ته يې خاشاک اچول پيل اودا دی د اور لمبې يې غرغړاندې کړی. ها خوا د امريکې مرستې وار په وار پراخه شوې. د جنګ تنور تود شو. له هغه راهيسې تود جنګ زموږ په زمکه دی، خو سوړ جنګ هماغه

د ناټواو وارسا دی. د سفيرانو او ايزنهاور اتکل ريښتيا شو، دا دی اوس يې ګورو چې شوروی د افغانستان لومه کې ونښت او ولس د جنګونو په سره تبۍ ناست دی. د وطن له آبادی لوګي خيژي، هديرې پراخيږي او زندانونه ډک شول. د کار او ابادی متې د راکټ لينچرونو، ټانکونو، دهشکو، کلاشينکوفونو او بمونو کارولو ته دت شوې دي. د افغانانو په وينو د ويتنام دکسات اخيستو وخت را رسيدلی دی. د سفيرانو اټکل سم وخوت. په يوه پيچلی لويه لوبه او د سره پوځ په راتګ کې د افغان ساده، ميړنی، خو وروسته ساتل شوی ولس دل شو.

صادق د استاد تشريح ته غوږ نيولی و.

دا وخت يې د معاصرې نړۍ د تاريخ يوه بله سخره غوټه هم لږ پرانيسته:

- ځوانان دې نه هيروي چې ۱۹۶۰م.کال راهيسي د امريکې د (Development ,Diplomacy ,Defence :Ds۳ ) سياست اوس هم دوام لري، په وړاندې يې روسيې د پورلتاريايی انترناسيوناليزم ترنوم لاندې سياست غوره کړی دی.

استاد د صادق خبرې ته ځير و. استاد په دې پوهېد چې د ناولې سړې جګړې تر ټولو زيات بد اغيز په ځوانانو دی. صادق دې خبرې ته خواشينی و. استاد ورته دا هم وويل:

افغان مجاهدينو د پلرونو او نيکونو زنګ وهلې تورې او کرچونه، شلخي او دانپور ټوپکونه را واخيستل، په هره تړه او کمره کې يې سنګرونه ونيول. نوي حاکم ګوند ګوري چې ولس ورڅخه کرکه کوي او دوی ته يې د لاسپوڅي نوم ورکړی دی، خو په وطن دلګيدلي اور لوګيو يې سترګې ړندې کړي دي، جنګ پردی دی، تباهی يې زموږ ده.

صادق د تاريخ د استاد له خبرو څخه په دې پوه شو چې په نړۍ کې د جکسونيزم او لېننزم د سياسی، اقتصادي او استعماري تضاد زور

له افغانستانه خيژي. دلويې لوبې( G.G/Great Game) يوه بله کړۍ نښلول شوې ده. د معاصر تاريخ استاد ريښتيا وايی: يوځل بيا افغانستان د هندوستان په لاره کې هماغه جيوپوليتيک ارزښت لري، چې د سکندر له وخته بيا د ګوډ تيمور او بيا د انګريز د ښکيلاک او د برتش دختيځ کمپنۍ وخت کې يې درلود. د پوليتکل بيرو په هغه محرمه غونډه کې چې افغانستان ته د سره پوځ د ليږلو په اړه شوې وه، د ګروميکو خبره ريښتيا شوه چې ويلی يې و:( ...، خو د افغانستان غرونه هماغه غرونه دي...).

د شوروی پوځ هغو غرونو کې ښکيل و چې له ويرې يې د ګروميکو په سرو ويښتان نيغ کېدل او دجکسونيزم ستراتيژيستانو له هوا څخه ليدلی وو.

صادق له استاد څخه اجازه وغوښته او له ديپارتمنت څخه راووت، خو يو لوی لوست يې زده کړی و:

د شوروی د يرغل په وړاندې د هغو نيکونو او پلرونو لمسيان او زامن جنګيږي چې پنځوس کاله مخکې يې انګليس سره جګړه کړې وه او اوس يې عمرونه اويا يا اتيا کلوته رسيدلي دي. هغو پلرونو چې له انګريز سره يې په مخامخ خونړۍ مبارز کې درېيمه جګړه ګټلې وه، دا دی اوس خپلو زلميو زامنو ته د غزا د سنګرونو لاره او وياړونه ورښيي. سره له دې چې اوس يې د سترګو نظرکم، ملاوې کړوپې او ږيرې سپينې وې، خو وطنی او ملی جذبات يې لا هغسې تاوده وو.

د صادق حافظې ته د معاصر تاريخ لوستونه ورياد شول: نيکونه مو هغه غازيان وو چې د امين الله خان، ملامشک عالم، سردارجانخان، زمانخان، ميربچه کوهدامني، د چکنور ملاصاحب او نورو نوميالیو سره په يوه سنګر کې د بابا فرانک- کلايو او برنس له پاتې شوی لښکر سره جنګيدلي وو. دوی په ډېره آسانۍ خپل زامن او نوی کهول د خپلواکۍ ګټلو سپيڅلي جهاد ته چمتو کولای شي.

صادق د استاد له خبرولوی لوست زده کړ:
د آسيا په زړه کې يو بل توپان را پاڅېدلی دی. جيو پوليتيک ډُکترين او د سرې جګړې د لويې لوبې طراحان راپنځيدلي دي. بوډا مخمور برژنف او اندروپوف ډير ژر په خپله تېروتنه پوه شول، نو سفير پوزانف يې وراته او له دندې يې لرې او ستالينی سزا يې ورکړه. برژنف د مارکس هغه خبره نه وه لوستې چې د خواريکښو، صادقو او استعماري ضد فکر لرونکو افغانانو د صفتونو په اړه يې ليکلی وه. مارکس ښکاره ليکلی و: افغانستان په ختيځ کې حساس موقعيت لري، خلک يې پوونده او بزګر، خو کلک جنګيالي او په خپل دود، دين او خاوره ولاړ خلک دي.
برژنف د خپل ختيځ پيژندنې پوهانو سره هم مشوره نه وه کړې او نه يې دنامتو ساينسپوه او اګرونوميست واويلوف هغه خبره لوستی وه چې د افغانانو د پاک زړه، خو پياوړو مټو او زړورتيا په اړه يې کړی وه. برژنف د سخاروف او الکسی کاسيګين په اندازه بصيرت نه درلود.دغه مخمور د قدرت په نشه کې ډوب د سخاروف سپارښتونه هم هېر کړی وو او لا د خپل وزير ګروميکو خبره يې بابيزه وګڼله. په لوی لاس يې خپل پوځيان د افغانانو د توري ګوزارونو لاندې پرې باسل. دا وخت نو پوليتکل بيرو څخه سياسی لار ورکه او يواځې په جنګ فکر کوي. پوليتکل بيرو افغانستان کې دهغه حکومت د ټينګولو او ملاتړ په سوچ کې ده چې پيښور او شاوخوا سيموکې ميشت مجاهدينو د هغه په وړاندې وسلې پورته کړې دي او د ډيورند د غاړو لوړو غرونو او پيچومو څخه يې په افغانی حکومت بريدونه پيل کړي دي.
د استاد تشريح سمه وه؛ سړه جګړه روانه او د پوليتکل بيرو او مسکو سياسي رقيبانو له لندن او واشنګټن څخه کابل او انګلو- پاک ته خپل تر ټولو ځيرک روزل شوي استازی راليږلي دي او په لندن کې روزل شويو جنټلمينانو سره چې د اسلام اباد په چوکيو ناست دي، غوږ په

غوږ دي. صادق دا خبره بيخي سمه وبلله چې دحقوقو پوهنځى( د حقوقو او سياسى علومو) پوهنځي دى. پروفيسور ديپلوماسى او كنسلى حقوق راوښودل او دتاريخ استاد موږ ته تاريخ رازده كړ چې سترګې مو پرانيستل شي.
صادق د چرتونو له ګرداو راووت. كټل يې چې حاجى صاحب لاهم بى بى سي. ته غوږ دى. دا وخت بى. بى. سي. د خپلو خبرونو په پاى كې وويل چې شوروى پوځ دافغانستان جګړه كې ښكېل شوى.
حاجى صاحب راډيو يوې خواته كړه، د ماخُستن د لمانځه په نيت پاڅېد، تر نيموشپو به يې نفلونه او دُعا ګانې كولې. خپل زوى ته يې وويل:
د منورينو فكر او لارښوونې، د مجاهدينو توره، زموږ بوډاګانو دُعا او الهى نصرت به افغانستان وژغوري. صادق به د پلار د دې خبرو په حكمت فكر كاو. د صادق غوږو كې تر ډيره دخپل استاد خبرو انګازې كولې. ټول سياسى درسونه او تاريخ كې تېرې پېښې يې را په زړه كړې. لويه لوبه پيچلې شوه. د لوبې ګټلو ته نوي دفترونه جوړيدل او د سره پوځ ښكيل كولو ته د لومې غوټې لا سخره شوې وې: انګلو- پاک كې د سپيشيل برانچ اوGHQ سمبالښت پيل شو، زبيګنيف بريژنسكي جيمى كارتر ته د ويتنام د كسات زيرى وركړ، قطبى خرس په تلک كې ښښتى و، خو د كارتر زړه ته نه لوېده چې د سور پوځ پوز به افغانستان كې په خاورو موښل كيږي. د "ولفوويتز" د ډُكترينو عملي پړاو رارسېدلى و. برژنسكى خپله تر لنډيكوتله راغى او د كره بين ټوپک قاتلانه ميل يې دافغانستان لوري ته سيخ او نښه يې وترله. صادق همدا نن كله چې له مظاهرى بيرته پوهنتون ته راستون شو، د كابل اخبارو كې د برژنسكى پليد عكسونه وليدل چې د افغانستان لورى ته يې ټوپک په نښه كړى و.
كله چې صادق راډيو ته وكتل زړه ته يې ورغله چې د خبرياﻻنو ډلې په ميچنى كې لكه د شنو غومبسو په شان بونېږې او زغيږې. د شپې

به يې بى. بى. سي. او نورو راډيو ګانو ته خبرونه لیږي. د صادق غوږو کې د نن ورځې د مظاهرې او د پلوشې غږ و. پلوشې د شوروی پوځ غانده، او د وطن او خپلواکي ننګه يې کوله. بازګل پورې د هلکانو د خندا او ټوکو انځور يې سترګو ته راغی. دسيفوی بوغمه ټيټ قد او پړسيدلی مخ ورياد شو چې هلکانو ورپورې خندل.
اړخ ته يې توربخُنه راډيو لاهم ايښې وه، له راډيو يې کرکه وشوه. د سر کوپړۍ کې يې لا هم د جګړو او د سفيرانو د پيل شوی لوبې خبرونو انګازې کولې. شاوخوا تياره خوره وه، شپه نيمايی ته نږدې کيده، له کړکۍ څخه د يونيم څراغ رڼا ښکاريده، صادق بالښت ته ډډه وهلې وه، خوب يې الوتی و. د ه کتل چې حاجی صاحب په ناتوانه او کړوپه ملا د الله پاک دربار ته په خضوع ولاړ او په خشوع سره يې هر سجده کې دوه رڼې اوښکې په مصلې لکه رانه غمې لوېدل.
***
له لنډيکوتل تر جمروډ او بيا تر کبابيانو او له هغه ځايه تر پرس کلبونو دخبرياﻻنو ډلې په منډو- رامنډو وې. پېښور بدل شوی و. په جم روډ د پيکپ، لنډاور او ډبل ډاتسنو موټرو رش جوړ شوی و. د سفيرانو تور موټر لکه لړمان او غونډل ښکته- پورته ځغلېدل. له لنډيکوتل تر کبابيانو او صدر بازار پورې فضا بدله شوې وه.
دوه ورځې وروسته کله چې برژنسکي له بنډل بنډل عکسونو سره بيرته ستون شو، د پنتاګُن جنراﻻنو له جيمي کارتر سره پيکونه جنګول او خوشحاله وو. همدا وخت د شوروی د څلوييښتم لمبر پوځ قوماندان دخپلو عسکرو تابوتونه په هغو الوتکو کې ليږدول، چې د شپې به يې وسلې او زغره وال وسايط د کابل، بګرام او شنډنډ هوايی ډګرونو کې کوزول، خو د برژنسکي او پنتاګُن د جنراﻻنو نشه يوه بل خبر والوځوله او ټول يې هک- حيران کړل:
فرانسپرس آژانس هم لکه بی بی سی خوله پرانيستې وه: د فرانسې له ښايسته، ښنې (chaea-Le-Neauphle) ويلا څخه تر تور

کوڅو لاندې پيچلی د سپينو جامو لرونکی اخوند تهران کې مقهور رضاشاه پسې چارتر شوې الوتکه کې ورغی او ويې پرځاو. د رضاشاه فاراماسيونی نظام لکه د نيزه وړي په شان هر لوري ته لاسونه اچول، خو چا لاس نه ورکاو. د ايران د ځلويښتو کالو شهنشاه په ګُمنامی کې له ستړګو پنا شو. ډېر ژر جيو- پُلتيک ډُکترين د يوه (شين کمربند) په فکر کې شول. سينټو دړې – وړې شوی و، بايد له تُرکيې، بغداد تر پينډۍ پورې يو بل کمربند جوړ شي چې د شوروی لاسونه وتړي او پښې يې د سرېښو ډنډ کې ونښلي. بيجنګ د دې کمربند کلک ملاتړ وکړ، نقشه ښه پرځای او پخه کېښودل شوه. دې خواته نظامی ډُکترين سنجول شوی وو او د ديپلوماسی دستګاه او ميډيا ورته لاره هواروله، آبلې خوا ته سور پوځ د چړو او د برجورو کلاوو سره لاس او ګرېوان و او له ډېرينو سنګرونو څخه د سلو کلو د زنګ وهلو ټوپکو تر پرله پسې ګوزارونو لاندې راغلی و.

## (۱۱)

تر ځوانانو د بوډاګانو زړونه لا زيات تنګ وو. جګړې زور اخيستی و. حاجی صاحب ډېره موده وروسته په نادرپښتون واټ کې د خپل پخوانی آشنا او باوري ملګري حاجی صالح خواته ورغی. حاجی صالح د ده افغانانو محمدزيو سره خيښي لرله. پاچا ته مخلص او د تصوف حلقو کې به يې ګډون کاو. حضرتانو ته يې اخلاص درلود. حاجی صالح نادرپښتون واټ کې يو درې پوړيز اپارتمان او لاندی پوړ کې يې يو حمام درلود. د اپارتمان پورته پوړونو کې سوداګريز دفترونه وو. د جرمنی د زيمنس د کمپنۍ سوداګرو زياترو زيمنس راديو، برقی اتوګان، پکې او نور وسايل واردول، له دې ځايه به د ښار مغازوته ليږل کېدل. حاجی صالح ته د اپارتمان د کوټو، دفترونو او حمام څخه هره مياشت ډېره زياته ګټه په لاس

ورتله، خو په دې کمه موده کې په لکړه شوی و، ملا يې کږوپه او دخبرو په مهال به يې غږ داسې ريږدېد، چې ځينی وخت به يې يوه خبره دوه ځله کوله. دواړو سپينږيرو حاجی صاحبانو خپل منځ کې لومړی د نوی نظام او شوروی پوځ ښه بد- رد وويل، د افغانستان د سرلوړی او د ځوانانو د ايمانداری لپاره يې دُعا وکړه. دواړو سپينږيرو د ميوند واټ د مسګری خليفه صاحب د خانقا په تړل کېدو او د کلای جواد د حضرتانو له وطنه وتلو باندې خپګان وښود او يوبل سره يې زړونه تش کړل. وروسته يې په رېږدېدلو لاسونو يو بل سره خدای پاماني وکړه، لکه همدا يې چې په دې دُنيا يو بل سره وروستي ليدل وي. کله چې حاجی صاحب روان شو، نو حاجی صالح يې ترځنډه د خپلو تسپو د دانو له غږ سره د امسا کړپا اورېده چې د نادرپښتون واټ د پلي لارې نوی سمنټ باندی يې لګيدو سره سم غږ راته. حاجی صاحب د پُلخشتي د جومات لوري ته د جادې په پای کې د حاجی حيات د ميوې پلورلو او "حيات الكتريک" په لوري لړزېدلي ګامونه اوچتول. اوس هغه وختونه تېر وو چې دوی به يا د ګذرګاه د مدرسې دستاربندي ته غوښتل کېدل، کله به هم په ګډه د بېدل عُرس او کله به هم د پايمنار د مولوی صاحب حضور ته ورتلل. د مسګري د خليپه صاحب د ذکر او ورد حلقې هم نه وې پاتې.

حاجی صاحب اوس ډېر له کوره نه وت، پنځه وخته جومات ته هم نه ته، يواځې د جُمعی د ورځو لمانځه ته به ته، نور لمونځونه يې کور کې ادا کول. يوه ورځ يې په ارمانجن غږ له بده روزګاره په ګيلې سره صادق ته وويل:

- زويه، هرڅه بدل شول. لا لمر پخوانی رڼا او تودوخه نه لري. په مرچو کې تريخوالی او په شکره کې خوږوالی نه دی پاتې. له هغې ورځې چې پاچاهي ونړېده او د پاچا نوم له خطبې ولوېد، برکتونه والوتل. پاچا د خدای سيوری و. بې ښکرو لنډپاري سرتمبه ولي او مغرور سردار يو بل سره په ضد او کينه کې ولس د پاچا له

سیوري بې برخې کړ، اوس نو په ولس د ناخوالو بله څپه راغله. کلی ښه دی د چا لاس نهوررسیږي. د نیکونو په کلا او باغچو کې د سړي غم غلط وي. دلته خو نور زموږ زړه تنګ او د دمې کولو څه نه دي پاتې. له اغابادار سره شراکت پای ته رسوم. کلي کې یوه شیبه دسیند غاړې ته وتل اویوه شیبه کروندو باندې ګرځېدل مې د زړه صندوقچه پراخوي، کنه زاره به مې وچوي. ښار کې په تا او په خورکی دې وېریږم. کله دې چې وروستۍ آزموینه ورکړه، په هغه سبا کډه باروو، کلي ته ځو د پلرونو او نیکونو اروا به مې ښاده شي. کله کله خو به یې زیارت ته ورځم .
دا یواځې حاجی صاحب نه، ټولو مشرانود سپکاوي او زړه تنګي احساس کاو او زړونه یې تنګ وو. صادق پوهېد چې نور نو ښار او په هغه کې د زغره والو ګاډو غږ پلار ته قفس ګرځیدلی دی. حاجی صاحب تل د پخوانیو وختونو ارمان کاو. صادق ځان ته ډاډ ورکاو چې ګوندې کلي کې یې خپګان کم شي.
دصادق فراغت ته ډېر لږ ورځې پاتې وې، نو په دې فکر کې شو چې کور کوم ډاډمن چا ته په کرا ورکړي، ځکه ټول سامان کلي ته نه وړل کیږي. دا یواځې حاجی صاحب نه، په ښار کې ډېر مشران او سپین ږیري زړه تنګی او ګواښ سره مخامخ وو. د شاهي ملی شورا کې د چهاردهي دخلکو وکیل او د حاجی صاحب پخوانی اشنا امان الله اعدام شو، زوی یې بشیراحمد اماني چې ده خپل وراره بللی و، آلمان ته مهاجر شو، بل وکیل پُرملی په کور کې پټ و، خواجه نعیم د خپل یو وراره په ضمانت را خوشي شو، که نه لس کاله بند یې ختلی و... صادق پوهېد چې د پلار اشنایان یې یو هم نه لیدل کیږي، نو په دې لټه کې و چې د کور په دروازه د کرایه ورکولو یو اعلان ونښلوي، خو دې غمجن او ملا ماتوونکي اعلان ډېر غټ زړه غوښت. لاس یې پاڼې او قلم ته نه ورته. بله لار نه وه، په ریږدېدلو ګوتو یې پاڼه ولیکله او هغه ورځ هم راورسېدله چې ده د ځلورم کال

د وروستي سمستر وروستۍ آزموینه ورکړه، دا هغه ورځ وه چې حاجي صاحب ورته شیبې شمېرلې. په دغه ورځ صادق د پوهنځي د اداري له اعلان سره سم خپل دوه عکسونه تدریسي مدیریت ته چمتو کړي وو. صادق پوه و چې همدا یې پوهنتون ته د راتګ وروستۍ ورځ ده. دې سره سم د څلور کاله مخکې د لوست لومړۍ او ډېره خوشحاله ورځ ورپه یاد شوه: په هغه ورځ لمر ډېر ښایسته، ځلانده او خوندوره تودوخه لرله، مشران ډېر مهربان، همزولي لکه وروڼه خواږه او ریښتیني وو، پلوشه یې لومړی ځل ولیده، ټول نابلده وو، چا خپل ټولګی نشو موندلای. پلوشه لکه ترهېدلې هوسۍ دهلیز کې په بیړه روانه وه، د هر ټولګی په دروازه یې نمرې کتلې: ۱٤۱, ۱٤۲, ۱٤٤... بیا به د لومړي ټولګی ټول زده کوونکي د مهالویش دړې لاندې ودرېدل او دخپل ټولګي نمره، د مضمون او استاد نوم به یې لټاوه... خندا ورغله، نابلدي وه. علی او قدوس یې وروسته وپېژندل، د بازګل په لیدو یې فکر ونه کړ چې هغه به هم درس ته راغلی وي، ... وریاد شول چې بهر ونو کې د مرغانو نغمې څومره ښکلې او خوږې وې. هغه وخت هیچا سره د چاودنو، ټوپک، زندان، دشپې ګرځېدوبندیز او نور غمونه نه وو. دې سره وریاد شول چې د پوهنتون په دوهم کال د وطن نظام بدل شو، په درېیم کال یې د موسسې کارونه ساړه او حاجی صاحب نور موسسې ته نه ولاړ. د امریکې سفیر له نوي ښاروتښتول شو او ووژل شو، د موسسې چارې ټولې اغابادار ته وسپارل شوې. عبدالباقی نور له کندهار رانغی او تورجان له وطنه ووت چمن او بیا شالکوټ ته ولاړ... د سیمنا پرده او د تیرو څلورو کلونو فلم یې مخې ته و. ور یاد شول چې د پوهنتون مظاهرو او د استادانو مهاجر کېدو د درسونو خوند پیکه کړ او دا دی نن چې فارغ شو خپل کور به پرېږدي او کلي ته به کډه کوي. پخواني ارمانونه اوبو یوړل. ده ته قدوس وریاد شو چې د فلمونو کیسې یې کولې، خو ناڅاپي له سترګو غیب شو. د

ټولګي تر ټولو خواريکښ، خو غريب، ګوښه او عاجز ډنګرکی ټولګيوال، عبدالوکيل ورياد شو چې دريېم ټولګي کې يې پوهنځی پرېښود او د صاحب منصبي مستعجل کورس ته ولاړ، هلته يې شپږ مياشتې عسکری درس ولوست او بيا يې د مخابرې کورس ولوست، کيدای شي اوس يې د مخابرې درسونه هم پای ته رسولي وي؟ عبدالوکيل ډېر وفادار ملګری و، د انډيوالانو د ليدو لپاره څو ځله عسکری دريشی کې پوهنځي ته راغلی و او د ټولو خبر يې اخيستی و. پلوشې او نورو ټولګيوالو افسوس کاو چې هغه حقوق پرېښودل او صاحب منصب شو... صادق په همدې سوچونو کې تدريسي مديرت ته ننه شو. خپل دوه عکسونه يې له جيب څخه را وکښل چې د تدريسی مُديريت څانګې ته يې وسپاري. د پوهنځي ادارې له فارغ شويو محصلانو دوه دوه عکسونه غوښتي وو چې د کار او ټولينزو چارو ادارې فورم کې ولګول شي. په دغو فورمو فارغان بيلابيلو ادارو کې د مقررۍ لپاره ورپېژندل کېدل. دا وخت ډېر نوي ادارات جوړ شوي وو چې د زيات شمير ځوانانو کار ته يې اړتياوه. نوي حکومت ډېرې نوې ادارې جوړې کړې وې، لا يې جوړولې: کوپراتيفونه، دسواد زده کړې مرکزونه او ښوونځي، شوراګانې، نوې ولسوالۍ او نوې بانکي څانګې، مجلې او اخبارونه، د پوليسو او اردو زياتول...دې ټولو کې ځوانانو ته اړتيا وه. عکسونه يې يو ځل بيا وکتل، خو زړه کې يې وګرځېدل چې کلي ته په کډه کولو سره نشي کولای د حکومت ادارو کې کار وکړي. عکسونه يې د مُدير مخې ته کېښودل، هلته يې څو نور ټولګيوال هم وو، خو قدوس او عبدالوکيل نه وو. د باقر، څُمارې، سمون، علی او تاج عکسونه په ميز ايښي وو، دفراغت فورمې يې ډکې کړې وې او لږ مخکې وتلي وو، ورېښمينه، اباسين او سمندر لګيا وو فورمو کې يې پېژندګلوي ليکله. صادق هم عکسونه کېښودل او فورمه کې يې وليکل: نوم- محمد صادق، د پلار نوم – حاجی عبدالخالق، تذکره۴۴۷۱۹۷ج

۵ص:۵۸۳-۱۱۷، . کابل. دفراغت څانګه ، دفراغت کال.... ټول یې ولیکل.
په میز یې د خُماری عکس ته وکتل، دهغې د غومبوري هغه ټپ نه ښکارېد چې هغه به یې له امله ځوربېده، خو په دې نه پوهېده چې ښکلا یې وربانديې لازیاته شوې وه! دا وخت مُدیر لاس وروغځاو:
- صادقه څه چُرت کې یې ؟ راوړه فورمه دې لاسلیک او راته وسپاره، اونۍ وروسته به له خیره مُدیر یې!

صادق ټکان وخوړ، له خیالونو را بهر شو. داسې یې انګېرله چې له شرمه یې رنګ الوتی دی، خو ویې خندل او ډکه شوې فورمه یې مُدیر ته ورکړه. صادق خپله عجیبه دُنیا لرله؛ په ویښه یې خوبونه لیدل او په خوبونو کې یې تاریخونه لیدل! کله به چې د خیالونو اوخاطرو په باغچو ورګډ شو، د هرې ګلبوټې او ونې ښاخونو کې یې رنګارنګ کلان او شاوخوا یې شنه، سپین او ژېړ شاپرکان لیدل.
څلور کاله مخکې دوی داسې انګېرله چې د فراغت په ورځ به څومره خوښ وي، خو دا دی اوس ورته ښکاره شوه چې په دې ورځ په زړونو د خپګان داسې څپه راځي لکه خواږه وروڼه او خوېندې چې یوبل څخه جلا کیږي، یا لکه څوک چې له خپل کورڅخه وځي.
دا شیبه د صادق زړه مزبوته و درزېد. فورم او عکسونه یې د مېز پر سر کېښودل، له مدیرصاحب، وریښمینې، اباسین او سمندر سره یې خدای پاماني وکړه، د خُماری، تاج، علی او باقر عکسونو ته یې وروستی ځل وکتل او ووت.
صادق دوو کې حیران و. سوچونو پسې سوچونو په سر اخیستی و اود چُرتونو ګرداوونه یو بل پسې راتاوېدل او صادق یې سربداله کړی و:
له یوې خوا پلار وایي چې کډه کلي ته باروو، کور کرایه ورکوو، له بلې خوا عبدالباری او د موسسې ملګري ورته په تمه دي چې صادق له فراغت وروسته بېرته د موسسې دفتر ته راځي، کله به یې ښار کې د یوې دارالوکالې د پرانیستو ارمان په زړه وګرځېد او کله به

يي وغوښتل چې د کارموندني د فورمې له مخې يوه رسمي اداره کې دنده ولري، خو شپې- ورځې داسې نه وې چې هرڅه د ده په خوښه اووسي. دا وخت د ټولګي نور ملګري هم خواره واره شوي وو. که د وطن حالات سم وای، قدوس به له وطنه نه وت او عبدالوکيل به پوهنځی له دريېم ټولګي نه پرېښود او پلوشې خو سم د آزموينې له پای ته رسېدو او د عکسونو د اعلان په ليدو ټولو ته برآلا ويلي وو چې د دې حکومت يوه اداره کې هم کار نه کوم، لا به يې د راپرځولو لپاره جهاد کوم. په دې خبره يې لږ ځان ته ډاډ ورکړ. د ځان د لا زيات ډاډ لپاره يې د عبدالوکيل په حال زړه بد شو. هغه خوار باندې ډېره بده ورځ راغلې وه:

کله چې عبدالوکيل دريېم ټولګي ته ورسېد او د نوي حکومت مخالفين وسله وال شوي وو، کلي کې يې پلار د سواد زده کړې کورس کې نوم ليکلی و، ارمان يې و چې سواد زده کړي او کلي کې نورو ته هم سواد وروښيي. د وکيل مشر ورور د بزګری کوپراتيف غړی شو، دتوړی زوی يې د نوي حکومت په دفاع کې وسله اخيستې وه او د تعاوني صندوق مشر شوی و، خو يوه شپه د حکومت مخالفين په کلي راغلل د عبدالوکيل ورور يې د دالان مخه کې وويشت، پلار يې د غوا اخور کې پټ شوی و چې له مرګه وژغورل شو، څومره يې چې مور او خويندو په هغه شپه شور، ژړا او فريادونه وکړل، ګاونډيان يو هم له ويرې مرستې ته نه وو ورغلي. په دغه شپه وسله والو مخالفينو د عبدالوکيل بوډۍ مور ګواښلې وه چې هغه بل بيدينه مکتبي زوی دی چېرته دی؟ هغې خوارې په ژړا ورته عذرونه کړي وو. ايله د سهار له لمانځه وروسته د کلي د جومات ملاصاحب خلک د ده د ورور جنازې ته بللي وو. عبدالوکيل وروسته خبر شوی و چې څنګه يې پلار د ځوانيمرګ زوی دجنازې سرته ناست و، په سر يې خاروې بادولې. خلکو دلاساينه ورکوله او جنازه يې د هديرې په لورې پورته کړې وه. کله چې کليوال د جنازې له کټ سره د کلا له

دروازې وتلي وو، د وکيل مور  او خويندو يې په چيغو چيغو پسې ژړل. دکلي ښځو دوی سره اوښکې تويولې او دوی  ته يې دصبر سپاربنت کاو.
اوس چې صادق د عبدالوکيل حال کوت، نو ځان ورته نيکرغه ښکاره شو، زړه يې لړ را ټول شو. ده داسې انګيرله چې ډېر نور خلک تر ده هم په بده ورځ دي. عبدالوکيل ده ته د مشر وړور د ويشتل کېدو کيسه کړې وه، هغه ويل: دا لومړنۍ بې اتفاقي او بد خبر و چې کلي کې پيښ شو. وکيل په هغه شپه ليليه کې و، که کور کې وای اوس به ژوندی نه و. کله چې يو کليوال ده ته خبر راوړ او کلي ته ولاړ، نو په مشر ورور يې خاورې اړول شوې وې او پلار په يو- دوو ورځو کې د مشر ځوانيمرګ ځوی په ماتم په ملا کړوپ شوی و او د مور سترګې له اوښکو او سلګيو سرې اووښتې وې، د خويندو زبون وهل شوی و، غوا هغه کليوال بيولې وه چې دوی يې دا څو کاله پوروړې وو. عبدالوکيل چې هر خوا کتل، وير او ماتم و. له همدې ورځې وروسته  عبدالوکيل خپله مور، پلار او دوه خويندې ښار ته راوستل، پوهنځی يې پرېښود اود دندې او د حکومت د ملاتړ په خاطر يې عسکري مسلک ته ودانګل. دا د عبدالوکيل مجبوري وه، نو داچې صادق هم کلي ته ځي دا هم يوه مجبوری ده، نو زړه يې ښه کړ او تقدير ته تسليم شو.
 په ټول وطن حالات داسې راغلل چې نيم يو خوا او نيم نور بل خوا شول. لوی مصيبت پيښ و: هغه ملت چې په ډېرو سختو شپو- ورځو، سړو- تودو کې يو موټی و، اوس د ټوټه کېدو په لوري روان و. د جکسونيزم او لينينيزم سړه جګړه، د کلايو او تزار د لمسيانوحرص، د برژنف ليونتوب او د مريلاند اونبراسکا دپروژو ترمنځ سياليو افغانستان کې بابيړی وکړ. له يوې خوا د شوروی لوی قدرت، بلې خوا ته د (اپريشن سايکلون) د جګړې عمليات. د پنځه سوه ميليارد ډالرو په بيه دلويو ځواکونو جګړه د افغان په خاوره پيل او افغانان

پکې دل کيږي. د يوه سر لوړي، خپلواک وطن او د سپين- سپيڅلي ولس ښکلي چمن باندی اور بل شو... صادق همداسې د چرتونو ګرداوونو کې سربداله و. دا وخت د فرانسي د "نول ابسراتور" خپروني ليکنه ورياده شوه چې د برژنسکي له خولې يې ليکلی دي: شوروی هم بايد يو ويتنام ولري!

خو صادق دې ته خپه و چې زمکه هغه سوځي چې اور وربانديې بل وي.



(۱۲)

پسرلی و، کروندې شنې او تازه ښکاریدې. غنمو یو ځپک قد کړی و. دشوتلو پټیو کې سپل سپل مرغی کیناستې او الوتې، د کلي د کورونو په سر پورې یوه نیمه توتکی الوته، مازیګر ته لاوخت پاتې و چې یوه لاری موټر د کلي په کچه او کږه- وږه لاره سترې- ستومانه او په جیټکو او تیندکونو سره د کلي په لوري راروانه وه. یو ځل یې د مخې ښیښه د مازیګر لمر ته وځلیږي او بیا یې کیڼ اړخ څخه ګڼ لوګی هواته پورته او دغرهار غږ یې آن تر کلي را ورسیږي. دا وخت کلیوال د مازیګر لمانځه ته روان وو، چې د حاجی عبدالخالق تروزرزي او د تره زامن چې هر یو یې دکلي په پنځو کې شمېرل کېدل، د جومات په چوتره لاری ته ځیر شول، یو بل ته یې وویل:

- سترګې مو روښانه، ترورزی له خیره راورسېد.

له دې سره یو ځای یې ځوانو زامنو ته غږکړ چې د لاری موټر مخې ته ورشي او د سامانو په کوزولو او تر کلا پورې یې راوړلو کې مرسته وکړي.

دوی دلته سهار راهیسې د حاجی صاحب د کډې راوړلو ته په تمه وو، خو د کچه لارو د خرابوالی له امله ایله مازیګرراورسېدل. لاری د کلي منځ کې هغه لوی میدان کې ودرېده چې دوی ورته درمندځای ویل. د درمندو په وخت کې به کلیوالو دلته څپر ګرځاو او درمندونه به یې مېدول، د کلي پاده وان به پاده همدې میدانی کې غونډوله او د ځړځای په لوري به یې بیوله، که به کوم واده و، نو ورا به هم دلته ټولېده او اتڼ به ګډ و. د مني په ورځو کې به چې د کروندو کارونه کم شول، نو د کلي هلکانو به توپ ډنډې پکې کولې، کله به چې دوی لوبه پیل کړه خاورې او دوړې به هواته پورته شوې. درمند ځای ټول شګه او سپیره پوټی و، سره له دې چې میدان کثیر الاستفاده و، خو دوه نومونه یې لرل: درمندځای او بل پاده ځای، خو مهمه دا وه چې د ټول کلي عامه ملکیت او د یووالی سمبول و. سترې او

ستومانه لارۍ موټر د ميدان هغه اړخ ته ودرېده چې د ملک ستانکزی کلا ته لنډ و.
د حاجی صاحب د تره زامن او لمسيان چې ځيني يې د صادق همزولي او ځيني يو يا دوه کاله ورڅخه کشران دي، را ورسېدل. له موټر څخه لومړی د صادق مورجانه، بيا خورکۍ چې لويو ټيکريو کې نغاړلې وې را کوزې شوې او په بيړه دکلا په دروازه ننوتې. وروسته حاجی صاحب او آخره کې صادق را کوز شول. د تره زامن او لمسيان وړاندې ورغلل، د حاجی صاحب لاسونه يې ښکل کړل او صادق سره يې په غيږ روغبړ وکړ. ټول خوشحاله وو. ځوانانو له موټر څخه کالي او سامان راکوز او کلا ته يې ورسول، په لږ شېبه کې ترڅو په جومات کې جمع درېدله، لارۍ تشه او دوباره يې غرهار شو، ګڼ لوګي ورڅخه هواته پورته او بيرته د کلي له بريد ووته او په راغلي لار ولاړه.
حاجی صاحب هم د لمانځه لپاره له ترورزيانو او د تره له زامنو سره جومات ته ننوت. صادق دننه د بابا په لويه کلا کې دهغو دوو کوټو په سمبالولو بوخت شو چې وروسته تر دې دوی پکې ميشت کېدل. کلا ډېره لويه وه؛ څو کتاره کوټې، بل کونج کې کادان اوغوجلې، دميلمنو حُجره، دې بلې خواته د اوړي دالان او تر مخې يې چوتره، د چوترې مخې ته د ګلابوبوټي چې ګلان يې نوي غوړېدلي وو. کلا لوړه سراچه اودوه برجونه هم لرل. د کلا اړخ ته د توت ګڼې لويې ونې او ورسره د اوړي ډېره وه. په ډېره باندې د لويو لويو او هسکو چنارونو ښاخونه خواره وو. دا د نامتو ملک ستانکزي کلا وه. ملک ستانکزی د حاجی صاحب والد د صادق بابا، د خپل وخت دسيمې نامتو مخور و. له کلي څخه کوز يې په جريبونو زمکې لرلې چې له منځه يې لويه ويااله بهېده او د زمکو کوز بريد د سيند تر غاړو پورې رسېد. له کلا څخه په لږ واټن کې لوی باغ و چې د هرې ميوې ونې پکې وې. دې وروستيو کلونو کې حاجی صاحب اجدادي جايداد دخپل

تره له زامنو سره ترکه کړی و، هر یو ته لس یا دولس جریبه ځمکه رسېدلې وه، خو کلا او باغ شریک و. څوکاله مخکې حاجی صاحب ښارته ولاړ او له اغابادار سره موسسه کې شریک شو، صادق ښار کې لوی شو، ښوونځی یې ولوست او پوهنتون یې پای ته ورساو ورسره د پلار په وکالت، موسسه کې په کار بوخت و، چې په وطن انقلاب راغی.
د کلي او کروندو د منظرو په لیدو سره صادق ته وریاد شول چې د پوهنتون په دوره کې یې یو سیمنیار ( دځمکو مالکیت او د جایدادونو عُرفي وېش) تر سرلیک لاندې و، هغه وخت لارښود استاد د ده سیمینارفوق العاده په زړه پورې ارزیابی کړی و. صادق د کلي له ماحول سره له پخوا مینه لرله، له کوچنیوالي څخه له حاجی صاحب سره د رخصتیو په مهال کلي ته راته. دکلیوالو له دود- دستور سره بلد اوټول مشران کلیوال او خپل همزولي یې پېژندل. د ده په یاد و چې له کلونو کلونو تراوسه کلیوال بېوزله وو، همزولو یې کڼاوې او ځپلی په سختي موندلای شوې، زیاتره به پښې ابله وو، مشرانو به یواځې په مړي یا ژوندي او اختورونوکې خپلې ساتلی پڼې پښوکولې او کوم څادر یا لونګی به یې چې لرل اغوستل به یې. دوی د بزګري چارې پښې ابله تر سره کولې. کلي کې چا کورتۍ او بوټان نه پېژندل، سواد نه و او یوهم په ساعت او ګړۍ نه پوهېدل. ټول کلي کې دوو کورونو راډیو لرله، نورو لا د راډیو غږ نه و اورېدلی. له ښوونځي خو بیخي په وېره کې وو، اورېدلي یې و چې مکتبیان بېدینه دي. په دې وروستیو دوو کلونو کې له سیند پورې غاړه یو ښوونځی جوړ شوی وچې د کلي یو څو ماشومان ورتلل. نوي حکومت ښوونځي ته د ټولو ماشومانو د تللو حکم کړی و. له دې سره یو ځای علاقدار صاحب د یوه کوپراتیف او د مکتب او سوادزده کړې د کورس امر کړی و. دې خبرو کلیوال وېرولي وو. کلیوالو ته د علاقدار په دې دوو حکمونو سره د نوي حکومت کُفر بیخي ثبوت شو. دوی اورېدلي

او منلې وه چې مکتبيان بېدينه دي، خو دې کوپراتيف ته تر مکتب هم په غوسه شول. دوی کوپراتيف نه پېژاند او سواد ورته لوی جنجال ښکارېد .
صادق به دکليوالو په دې حال ډېرخپه شو. په دې ورځ چې دوی کلي ته راورسېدل د مازيګر له لمانځه وروسته تر ماښام ټول کلی خبرشو چې د ملک ستانکزی د مشر زوی کډه له ښار څخه کلي ته راغله. ماښام ټول نارينه کليوال د ملک ستانکزي د کلا لويې حُجرې ته را ټول شول او ښځينه ګاونډياني د کلا دننه د حاجی صاحب دميرمنې سترې مشي ته ورغلې. لاټينونه ولګول شول، د دالان له تنور څخه د تودې ډوډۍ او د لاندي د غوښې بوی ټول انګړ کې خپور و. د حاجی صاحب د کډې د راتلو له امله دوه کټوې د لاندي وچه ساتل شوې غوښه پخه شوې وه. ټول يو ځای د نوي پسرلي، نوي کال او ميلمنو په راتګ خوشحاله وو. دسترخان وغوړېد او لوښي کتار شول.
حاجی صاحب د تره د زامنو کيسو ته غوږ نيولی و. وروسته تر ډوډۍ چای راغی او پيالې کېښودل شوې. د کور کشري هلکي ګوړه او وچ توت راوړل. حاجی صاحب له يوې خوا خوشحاله و چې د پلار- نيکه په درنه او برکتي کلا کې د تره زامنو سره ناست او د لوی خدای(ج) نعمت او رحمت دی چې لا هم د نيکه نغری تود دی، خو له بلې خوا خپه و چې په ښار کې کور او د موسسې کاروبار پاتې او ښار ورڅخه پردی شو. هلته شوروی پوځ راغلی، ده د کلونو کلونو دوستان پرېښودل او کلي ته د خپلوانو خواته راغی، نو په لويه حُجره کې يې په خپګان سره ناستو خپلوانو او کليوالو ته وويل:
• خدای دی رحم وکړي، په وطن سور کافر راغی، ښار کې شورويان په سرکونو کرځي، د مسلمانانو عقيدې، رواجونو او خاورې ته ګواښ پيښ شوی دی. داخلی وطن پلورو خپل بادران راغوښتي ځان ورباندې ساتي، د نيکونو هسکه شمله يې راته په

زمکه وویشته. د الله په توکل او د هغه د محبوب پیغمبر په برکت اود چاریار کبار د نومونو په عظمت د دې سرې بلا دفع کول فرض شوي دي. دخاورې ساتنه راباندې پور دی...

حُجره کې ناست کسان ټول اندېښنه کې وو او په درناوي سره یې د حاجی صاحب خبرو ته غوږ نیولی و. دا وخت مشر تروررزي په یو لاس مخې ته ایښې ټُفداني ورلنډه کړه، بل لاس یې حجاب اوله نسوارو یې ځان خبرو کولو ته چمتو کړ. ټُفدانی یې بېرته کېښوده، په ډاډمن غږ یې وویل:

حاجی صاحب، چُرت مه خرابوه، د دې غیرتي ولس لاسونه په نکریزو نه دي، تیرې به په نس پورې وتړي، د نیکونو زنګ وهلې تورې ته به لاس کړي، د لعین لینن بچوړي به له مسکوه هم ورواړوي. بیا یې د تږغر په کرښه ګوته کېښوده، ویې ویل:

- ایندقه ځای دې ښه وي !

په خپل ځای نور هم نیغ شو، څپېړه یې په زمکه ووهله: درب، درب، درب!

- قسم دی چې ووړ او زوړ سر ورکوي. وطن مو ناموس دی، ساتو یې. په ایمان درته وایم دا سپېره ولس زه پېژنم، دا زړور قوم دغیرت په میدان د سرومال قربانی ورکوي.

حاجی صاحب وویل:

جزاک الله. د لوی خدای (ج) توفیق به راسره وي.

دا وخت حُجره کې تر ټولو کشر زلمي د چایو پیالي ډکولې، د ټولومخې ته یې ګوره او وچ توت اېښودل.

بل تروررزي غږ کړ:

- حاجی صاحب، موږ چاکلیت او پتاسې نه لرو، تور توتان تر تاسو کوربان. ټولو وخندل.

صادق ټول خارل او خوشحاله و چې موده وروسته کلي ته راغلی دی. دې پسې بیا مشر تروررزي د پټي او د ښارویو خبره راواخیسته:

• حاجی صاحب، هغه ژيړ غويی چې تېر اوړی دې ليدلې و، هغه مو په کسابانو واړاو، ديکان ويل نور نو کولبه نشي کولای، لټ شوی. ټګ کساب راځخه په نيمه بيه واخيست، خو بلا پسې ترې بيغمه شوم. دواړه غواوې لنګې دي. نورو پټيو کې موغنم کرلي، يو-دوه مو بوره پريښي چې پالېز پکې وکرو. بوس مو کادانې ته کړل، خو څو ترنګړه لا پاتې وو چې ژمی راغی، هسې واورې او باران خراب کړل، بلا پسې،هغه چې راوړي مو وو، ټول ژمی څارويو ته بس شول ، آچې پاتی دي کليوالو ته به يې ورکړم چې باموته وربانديې اخېر کړي. توره غوا لغتي وهي شيدې نه پرېږدي...

مشر ترورزي د خوشحالی او برکت خبرې کولې، خو که به يوه نيمه ستونزه مخې ته راغله، د هغې ملامتی يې په ( ديکان) ور اچوله. حاجي صاحب دچای پياله مخې ته ورلنده کړه، تسپې يې له ښي لاس څخه کيڼ لاس ته کړې، د اعتراض په بڼه يې وويل:

• نه! غويی دې بايده ده حلال کړی وای او کليوالو ته دې خيرات کړی وای. ملک ستانکزي کله هم څاروي نه دي پلورلي. دا لويه غوجل ګوری؟ پاده به ګرځېده، که به کوم څاروی د کار نه و، حلال به يې کړ او برخه برخه به يې په کورونو وويش. دبوسو خو بيخې يادول نه دي په کار.

حاجي صاحب ګوتو کې تسپې اړولې او شمېرلې شميرلې خبرې يې کولې، ټول غوږ وو:

• ابا دخيراتي باغ خواته بالکل ورکتل نه، لله الحمد اوس هم يواځې د موسسې دشراکت برخه پيسې چې را وکاږم يو پاده مال، جريبونه نوره زمکه او دوه- درې موټر کيږي. که دې ماسره مشوره کړی وای، مابه درته ويلي وای چې خيرات يې کړه او د جوړه کولبې او سخوندرو پيسې مې درته رالېږلې.

دا وخت يې اوار په هوا کې ښی لاس د نيمې دايرې په توګه وځرخاو لکه چې غواړي د ټولې کلا فضا راقبضه کړی،ويې ويل:

- ګورئ ! ابا دې پاک الله وبخښي، په سيمه کې يې نوم درلود. دملک ستانکزي کلا نامتو وه. يواځې په سخاوت کې نه، دکلي- کور، مړي- ژوندي، د جومات او هديرې، د داوو-دنګلو، جرګو-مرکو، دحکومت د ماسل او ماليانو ټول حساب يې په غاړه اخيستی و. ما شراکت پيل کړی و، داهلک به يو- يونيم کلن و، الاازرت ابا په خپله خوله ښارته وغوښت د سناتور اعزاز يې ورکړ، خو شورا لا ناسته نه وه، اباناروغ شو. الله پاک دې جنت ورته نصيب کړي،او دا هم درته ووايم چې دغسې جنازه، لوی خيرات او هغه مخلوق چې راغلی و، بله جنازه کې مې دومره مخلوق ونه ليد. دې ځوانانو ته وايم.

دا وخت يې اول صادق ته او بيا په حُجره کې ټولو ته وکتل لږ شيبه غلی شو:

- نصيحت يې بولئ که وصيت يې بولئ. د ملک ستانکزي د عزت نوم به ساتئ. ښاروي ښنکه په کساب خرڅوئ ؟! لوی لاس ولرئ. خدای پاک جايداد راکړی، داعزت چې لرو دا وساتئ. د پاک رب شکر کوم لوی نوم لرو. ښار کې مې جومات کې هغه قالين اواره کړې چې قصرستور کې نشته، دملاامام ډوډی او جومات ته قرآن مجيدونه ټول مې د ابا په اروا په غاړه اخيستي دي. لله الحمد عزت لرو. څو ځله راغلي ياست. ليدل مو چې دترافيک آمر، کربلايی صاحب، دحاکم زوی ؟؟ دا وخت يې په ذهن زور راوست خو خبر ورڅخه هيره شوه، مخ يې صادق ته واړاو:

دا دمغازی خواته ګاونډی مو اوس څه کاره ده؟

آغا هغه والی و، اوس معين مقرر شوی.

- آ ، نو دا ټول زموږ د کوڅې نامدار او غټان و چې تاسې به له کلي څخه راغلئ، ستاسو يې څومره قدر کاو. دا د ابا برکت دی چې له کلي تر ښار پورې عزت لرو، نو ټولو ته وايم چې دا عزت چې الله را نصيب کړی، دا وساتئ.

تفداني د الکین رڼا ته ځلېده او حُجره کې د ناستو کسانو سیوري د کوټې په دیوال لویدلي وو، د چا سیوری غټ، د چا کوږ، د چا سم اود چا دومره لوی چې نیم دیوال یې نیولی و. حاجی صاحب وویل:
- توره غوا هم خیرات کړئ، چې ورسره په عذاب یاست ساتل یې نه دي په کار، زه به ښار کې یوه زراعتی غوا وپیرم او کلي ته به یې راوړم.
ترورزي چې لږ د ملامتي احساس کړی و، د خبرې د بدلولو په نیامت وویل:
- حاجی صیب اوس خو مې له ملاصاحبه تاویز ورته اخیستی ګوندې سمه شي، خو خوسۍ یې زبردسته ذاتي ده. دا وخت د کلا دروازه بېدرېغه کلکه کلکه وټکېده. ټول هک حیران شول. له حُجرې څخه د صادق ځوان تره زوی او تر ټولو کشر زلمی چې د حجرې دروازې ته لنډ ناست و، پاڅېد چې دروازې ته ورشي. هغه لا ګام نه و پورته کړی چې دروازه بیا وټکېده. دا ځل یې بیره وکړه. کله یې چې د کلا دروازه پرانیسته په تیاره کې یې درې تنه ولیدل چې مولونه یې وهلي وو. د یوه ټوپک په اوږه و او دوه نور تش لاسونه وو. ټوپک والا په ګواښ سره وویل:
• څوک درکره راغلي دي؟
حاجی صاحب دی، هغه مې د پلار د تره زوی دی، له ښاره کډې سره راغلی دی.
• ورته ووایه راووځه ! کاپره، مولحده، له ښاره راغلی یې؟!
د غه د ( کاپره مولحده) ټکی یې په اوچت غږ په ډیرې غوسی سره ووایه.
دا وخت حُجره کې مشر ترورزي چې بالښت ته یې ډډه وهلې وه او د چایو پیاله یې لاس کې وه، داخبرې واورېدې، دستي را نیغ شو پیاله یې کېښوده ، څادر یې له اږو یو خوا او تفداني یې له مخې لرې کړه، په غوسه پاڅېد. ورسره نور هم راپاڅېدل، بل ترورزي الکین

هم را واخیست او د کلا دورازي ته راغلل. کله چې مشر تروزی را ووت الکین یې واخیست او د یوه مول لرونکی مخ ته یې ورپورته کړ چې ویې پېژني، خو هغه توند شو. دا وخت مشر تروزي وپېژندل ورځخه ویې پوښتل:

- والکه محمداګی یې؟

وسله وال غلی و، بدې بدې یې کتل. مشر تروزی بیرته الکین کشر ورور ته ورکړ، وسله وال ته په غوسه شو:

- ورکه شه سپین سترګیه! دا دې څه وویل؟ اوس به دې دا اوږه کې ځوړند ټوپک په ...در ومنډ...م .!!

وسله وال غلی شو، و ویرېد، خواته یې هغه بل مول لرونکي وویل:
اکا موږ مجاهیدین یو، له ښار څخه څوک درکره راغلي دي؟
ده ورته ځواب ورکړ:
د تره زوی مې دی، حاجی صاحب عبدالخالق. له خپلې کورنۍ سره کډن له ښاره راغلی نور نو په کلي کې خپلې پلرنۍ کلا کې دیره کیږي، وایه خبره څه ده؟ او دا ړومبی دې څه وویل؟! ته پوهیږی چې چېرته ولاړ یې؟! دا د ملک ستانکزی کلا ده د پوز پرخچې به دی والوځوم!
وسله وال یو دوه ګامه شاته ولاړ، خو هغه دریم مول لرونکي ورو وویل:

- نه مشره، خپه کیږه مه، وای زوی یې پاکولته یی دی؟ زموږ هغه سره کار دی. بل مول لرونکی یې غبرګه کړه: وای شپاړسم پاس دی.

مشر تره په هغه هم وربرېچ وهل:
ورکه شه ! لکه چې چرس دې مغزو ته ختلي دي؟ د راغلي سور سیلاو مخه چې پاکولته یی ونه نیسي، ماوتا غوندې ډرتن یې نشي نیولای. چې پاکولته یی لار درونښیي ته خو الپ ته ډانګ وایی، ... ځئ چې په کومه راغلي یاست بیرته ځئ.

په تیاره کې بیا د وسله وال غږ واورېدل شو:

- مخسد موږ هرڅه څارو او له هرڅه خبرېږو، ښار ته تګ-راتګ بند کړئ. موږ ته خبر راورسېد چې ناپېژاندي درکره راغلي. که چا کمونیست او مولحد ته ځای ورکړ ګیله دی له ځانه کوي.

مشر تروړزي بیا کنځله ورته وکړه او ورپسې روان شو، خو کشر تروړزي ونیو:

نه لالا، خیر خیر. شپه ده لانجه به نه کوو. مشر تروړزی نرم شو، خو وسله والو مول لرونکو پسې یې غږ کړ:

- چې بیا په دې خوا رانشئ!

ټول د کلا له دروازې څخه حُجرې ته راستانه شول او الکین یې هم راوړ، کشري هلک د کلا دروازه بېرته تمبه کړه. ښځو کوټه کې الکین مړ کړی و، ټولې ویرېدلې وې. مشر تروړزی د هغوی د ډاډ په خاطر د کړکۍ خواته ورغی ورته ویې ویل: بېغمه اوسئ، هیڅ خبره نشته، یودوه چرسیان راغلی وو، ځواب می ورکړ.

دوی چې حُجرې ته را دننه شول، الکین یې هم راوړ کوټه کې بیرته د الکین رڼا خوره شوه، حاجی صاحب او صادق حیران ناست وو. دوی د مول لرونکو ځینی خبرې حُجره کې اورېدلې وې. نو حاجی صاحب مشر تروړزي څخه وپوښتل:

- دا څوک دي او څه یې ویل؟

حاجی صاحب دا یو څو لوټیره ګان دي، له پخوا خلک ورڅخه تنګ وو، اوس یې وسلې موندلې، چیرته کوم تنظیمي په شا ټپولي چرس وڅښوي او نور نو په کلیو سم وي چا ته ګواښ کوي، چانه ډوډۍ غواړي، چانه پیسې غواړي. جهاد او مجاهد یو نوم شو، هر لډر دا نوم په ځان ایښی!!

حاجی صاحب وویل: ورته ویلی به دې و چې همدا فاکولته پاس له دُنیا او ملل متحد سره خبرې کولای شی، د دوی سترګې بینا دي،

ورته وايه تاسو غونډي چرسيان به د جهاد نوم بد کړي، نور به مو کومه ګټه ونه رسيږي. مشر تروړزی وويل:

- هو بالکل حاجی صاحب. زه په صادق جان وياړم. همدوی چې په سوچ او پوهه وطن او عقيده ونه ژغوري، دا داړه ماران پرته له غلا او چرسو او بنګو نور کمال نه لري، دا هره شپه راديوګانو کې همدا منورين دي چی د وطن او جهاد غږ يې نړۍ ته ورساو. دا بيعقل راغلی وايی پاکولته يی پاس درکره راغلی؟ هو شکر وياړم چی د ملک ستانکزی لمسيان لکه ستوري ځليږي.

د ميلمنو خوشحالي په خپګان بدله شوې وه، خو بل تروړزي حاجی صاحب ته ډاډ ورکړ:

لا لا د ډلي مشر ته په غوسه و، خوما د ډلې هغه بل ته وويل که په پسته ژبه مو خبره کړی وای، تاسې به مو حُجرې ته راوستی وای، خو تاسې له ګودر مخکې ځپلی له پښو وکښلې، ورته لاحول مې کړل، کنه هر يو يې پېژنم، ټول عمرونه يې غلاوې کړي، يو يې هم د سم سړی زوی نه دی.

حاجی صاحب په ګيله من غږ وويل: کمونيستان می زمکه او پټی را خخه اخلي، کور مي ښار کې پاتې شو، د زوی د کلونو خواری مې په اوبو لاهو شوې، لور مي له سبق پاتې شوه او يو دوه چرسيان مُلحد راته وايی. دا وخت مشر تروړزي وويل:

دا د خدای فضل و چې ابا هوښياري کړې وه زمکه يې ترکه کړې وه، کنه پرمان شماره شش وهفت او بل بل کې يې له ديرش جريبه زياته نه پرېښوده.

حاجی صاحب وويل:

- لاړل، د يوه په خوله بالبنت کېښودل شو، بل يې په زهرو مړ کړ، لا نور به ګورو. فرمانونه يې اوبو يووړل، خو خبره دا ده چې ولس لاس له پښو خطانه کړي.

# (۱۳)

له کلي څخه لږ پورته د غونډيو لمنې شنې ښکارېدې. د سنځلې د ګل ښايسته وږم خپورو، کليوالو نجونوشنه او سره ټيکري په سر، د شوتلو پټيو او د پولو اړخونو کې سابه کول، د سيند اوبو شور کاو او هغه ونې يې ښوروليې چې تر نيمايی يې ډوبې کړې وې.
صادق له ناچارۍ، خو په خوشحالۍ کلي ته راغلی و. دکلي منظره او هوا ښايسته وه. د نيکه کلا ورته پرتمينه ښکارېده او همزولو او کليوالو سره دومره خوشحاله و، لکه څومره چې ټولګې کې ټولګيوالو، توريستي موسسه کې بهرنيو توريستانو، هيپيانو او د دفتر ملګرو سره خوشحاله و. صادق ته ثابته شوه چې هر ماحول ته چې په مينه او هيله وکتل شي، ښکلا لري او ليدونکي ته خوشحالي وربخښي. د ژوند هره شېبه يوه نوې تجربه او د راتلونکې لپاره خاطره ده. دلته کلي کې هينداريې لږدي، خو هر کليوال چې درسره مخامخ کيږي، نو دهغه څيره، يوه رېښتيانی هينداره ده. دلته کلي کې سړی روان سيند او شنوپانو سره عادت کيږي او د نوي ښار د کاغذي ګلانو په ځای هرقدم کې ريښتيني تازه ګلان مخې ته درځي، د ټلويزيون د يوشانته موسيقی پرځای د مرغانو تراني او د ونو او بوټو له منځه د وږمې سمفوني په سلګونه راګونه لري اود نړی ترټولو ښکلې سمفوني ده. دلته کلي کې هربوټی د نوي ښار د مغازو ترعطرو خوشبويه دی او د نوي لمدې شوې خاورې او شوتلې د ګل بوی ښارونو کې نشته. دلته پراخه شنه ورشو کې ترڅو نظر کار کوي، ښکلا ده، د يو يو څاروي خواته شيدوپی، کزلاخ او ښاروګانی دي چې دسترګو زوم کې يې رنګونه يوبل کې ځليږي. کلي کې يوه شيبه هم څوک يواځې نه وي، څوک دې له اړخه بی سلام او بې کلام نه تيريږي، دلته ټوله آشنايي يواځې (های!) او (بای!) نه ده، دلته زړونه سره نږدې دي، هريو درسره روغبړ او خبرې کوي. کليوال

دبابا نوم په درناوي يادوي. کلي کې څوک د نورو وطنو فرشونه نه لري، دوی په خپل لاس تغر، پوزی او لمڅی جوړوي، دوی بسکويت نه پيري، خپل سوکړک او سابه، پوخه او خېدک لري، روژه ماتي کې د نورو ملکو خُرما نه لري، خپل پيرکي پخوي. په خپلو پښوولاړدي او متل يې دی: (خپله لاسه ګُله لاسه). دلته کلي کې هرڅه ښه وو، خو کليوالو ته نوې ستونزه دا وه چې دوه- درې شپو کې به يوځل حکومتي پوځونه او دوه- درې شپو کې يو ځل د حکومت په وړاندې پاڅېدلي مجاهدين راتلل.

***

له حاجی صاحب څخه موسسه او د پروان مينې کور پاتې شو، په کلي کې بزګرانوسره د کښت او کروندو په سمبالولو بوخت و. دکلي د جومات د ملاامام کور ډېر لری و، هغه پنځه وخته د جمع لمانځه ته نشو راتلای، يواځې د جُمعې د ورځې لمانځه او د ماسپښين لمانځه ته راته، نو کليوالو حاجی صاحب څخه وغوښتل چې د درې وخته نورو لمونځونو امامت وکړي. حاجی صاحب منلې وه. له دې پرته، حاجی صاحب سهار سهاردکلي ماشومانو ته د سيپارې او قرآن عظيم الشان ښودل هم په غاړه واخيستل. وروسته له هغه تر غرمې په کروندو ګرځي او مازيګر د باغ مالياري کوي، دا ځکه چې باغوان د ميوه لرونکو ونو په سرشته ډير نه پوهيږي. وروسته د ماخُستن تر لمانځه خپله کوچنی راډيو اوري. راډيوګانو کې دغو شپو کې ډير خواشينوونکي خبرونه دي: ښارونو کې نيول او بندي کول، کليو کې د لويو لارو، روغتونو اوښوونځيو بندېدل، بمباري او د کوروونو لټولو د خلکو ژوندتريخ کړ. بی.بی.سي. راډيو کې هره شپه يا پيرصاحب، يا مولوي صاحب يا ديخوانی صدراعظم مرسيتال مرکې کوي، دا هريو حاجی صاحب پيژندل. کله چې حاجی صاحب د دوی خبرې اوري، د هر يوه خيرې مخې ته ورته دريږي او تېر وختونه وريادوي، حاجی صاحب ته ښار کې خپل کور او د موسسې شريک

وریادیږي. اندېښنه یې هغه وخت زیاته شوه چې کابل ښار کې له پرونۍ ګډ- وډي خبر شو. دا یواځې کابل ښار نه و، تېره میاشت هرات کې بلوا او پاڅون شوی و. عسکري فرقې د حکومت په وړاندې وسله پورته کړې وه، ډېرې وینې بهېدلې وې، جلال اباد او لوګر کې هم مجاهدینو د خلکي انقلاب په وړاندې پاڅون کړی و. په ډېرو سیمو کې د حکومت مامورینو شکمن مخالفین بیولي او بندیان کړي وو، ډېرو سیمو کې دحکومت مخالفانو یو شمیر ځوان کلیوال چې مکتبي او لوڅ سرونه یې وو، د روسانو د پلویتوب په تور چانماري کړي وو. کلیو کې ښوونځې ټول تړل او سوځول شوي وو، وسله وال په شپه کې د حکومت مامورینو پسې ځارو وو، دمعلم قتل ورته لوی ثواب ښکارېد. وسله والو مخالفینو ته ویل شوي وو هرچا چې په قیر سړک قدم ایښی وي او هرڅوک چې (د برق ګروپ) لاندې کیناستلی وي، قتل یې روا دی. حاجی صاحب تنظیمی جهالت او بیا تر ټولو زیات نوي حکومت ته په غوسه دی او د پاچا د بېرته راتګ دعاوې کوي، مشر تروړزی هم حکومت ته سپکې سپورې وایي، تر حکومت هم بدتر وسله والو ډلو ته په غوسه دی، چې دشپې دشپې راځي او په کلیوالو چرګان اوښورو‌ا حواله کوي.
کشر تروړزی زړور او تُرد سړی دی، سپینې خبرې کوي. کله چې خبر شي چې حکومتي الوتکو کلي بمباري کړي دي یا وسله والو پلونه الوځولي، په غوسه شي او ښېرا وکړي چې خدایه دا دواړه خواوې تبا او یو سم سړی په تخت کینوې، خو صادق دهیچا تر مخې په سیاست خبرې نه کوي، ځان یې غلی نیولی دی. د ده نه هیریږي چې د دوی د راتګ په اوله شپه وسله والو د ده پوښتنه کړې وه. کلي کې یې ځان تر ټولو همزولو بېسوادو کې شمېرلی دی. له هغه راهیسې یې چې د( پاکولته یي) ټکی له وسله والو واورېد، بیا نو له هغه راهیسې احتیاط کوي. کله چې د کشر تروړزي ښېرا واوري، ده ته لوبه پیچلې ښکاره شي، چې (د یوه سم سړي په تخت کیناستو)

سره به هواره نه شي. صادق ته د شپې دشپې د راډيوګانو خبرونه ټول د اجيتاسيون پلټفارم ښکاري چې د خلکو ماغزه مينځي. اوس چې د يو ښايسته پسرلي په يو سهار له کوره راوتی او په پولو ګرځي، نو د تورو شپو له منځه، د تاريخ له پاڼو او د ښکېلاک له مکر او دوکې څخه يوه يوه لکه خوب کې ليدلې تته پاڼه ورياده شي، سترګې يې وبريښوي او ببرته ورکه شي. کله کله لکه پسرلنۍ توره وريځ کې چې د بريښنا اوتالندې نرۍ ليکه اوځريکه وځليږي، د ده ذهن ته د باباقرانک او کلايو راتګ ورياد شي چې بنګال او کرناتک کلا يې لوټ کړی او ټول هندوستان( د سروزرو مرغی) نيسي، بيا يې هرڅه ذهن څخه ورک او هېر شي، بيا يو خوب ورياد شي: کمپني له بمبئي نيولې تر پنجاب د هندوانو، سيکانو او مرهټه وو عقيده ښه پخه تحليل کړې وه، د ګرونانک نوم او د رنجيت په سربانديږ ترلی ململ او اوږدې ږيرې څخه يې د سحر او جادو وسيله جوړه کړې وه. خبره يې دهغه دسپيځلتيا دومره بريد ته رسولې چې نور نو پنجابيانو د ګرونانک لمانځنه نه، بلکې د رنحيت لمانځنه کوله. اصلی مداري کلايو و. خلک يې منتر کړل. کلايو د اروپا د کليسا د واکمني اغيز ليدلی و. په خيتځ کې ګرونانک بله (کليسا) وه. اوږده ږيره، سره قُشقه، په سر باندې ترلی ململ، غاړه کې د مريو پروت امېل ولسونه مدهوشه کوي او هغو ګاڼو او سوغات بيا رنجيت مدهوشه کړی وچې کلايو ورته راوړي وو.

رنجيت پنځوس جوړې ډول ډول جامې لرلې چې هرې يوې يې جلاجلا نومونه لرل، نور هوس يې هم سر کې و. د رنجيت په ګاڼو لسګونه صندوقونه ډک وو، خو خلکو سپوره ډوډۍ نه لرله. د رنجيت به چې پايزيب لرونکو نڅاګرو ته لږ رغبت کم شو، لسګونه طبيبان ورته حاضرېدل، خو ولس کې وږو او زږو د خپلې ناروغۍ درملنې ته د غوا ميتيازې ښبلې. کلايو له دې کيسو خبر و او ځان سره يې ويل: "مه يې کوه همداسې ښه دي "!

کله چې کلايو د سفير په جامه کې رنجيت ته ګاڼې سوغات کړې، نو د رنجيت حرص نورهم د (کوه نور) الماس ته زيات شو. کوه نور شاه زمان اويا شاه شجاع سره و. کلايو د رنجيت په حرص پوه شو، نو په شا يې وټپاو چې د شازمان په وړاندې ياغی شي او شاشجاع دوکه کړي. اخر به کوه نور الماس د لندن د ملکې تاج ته ورسيږي او دلته به لاهم خلک د غوا ميتيازو باندې مخ مينځي.
صادق د تاريخ په پاڼو کې ډوب اوورک و: کمپنۍ د قطبي خرس سره د زورآزمايلو او په نړۍ باندې د باداري خيالونه لرل، خو دا خيالونه دې اول د تزار له سره وايستل شي. داوخت صادق ته د پروفيسور خبره ورياد شوه: "....بريتانيا يوځل د پنجاب په رنجيت سنګهـ د انګلو- پاک نقشه عملي کړه او بيا يې فلسطين کې د انګلو- صهيونيزم نقشه طرح او د نړۍ له بيلابيلو ځنډو يې يهود وروستل... "
کله چې صادق ته د پروفيسور دا خبره ورياده شوه، نو سم له دې سره يې پام شو چې نن د ايران لاس د عراق ګريوان ته اچول شوی، د کويټ دتيلو په ځاګانو اورونه بل شوي، پنوچټ دخپل ولس وينی وبهولې...
صادق په کلي کې په پولو قدم وهي، خو سر کې يې د تاريخ درسونو انګازې پيل کړې او د کلي هغه ښکلاوې چې شيبه مخکې ورته خوشحاله و، ورځخه هيرې شوې. په مغزو کې يې د يو درونډ ګُرز غږ اوري او د ککرۍ په ګومبذو کې يې انګازې کوي: د Clavidاو Sam Uncle نقشه يواځې د کمپنۍ په جوړلو پای ته ونه رسيږه. بريتانيا هغه اختاپوت و چې يوه پښه يې اتازوني، بله آسترليا او بله يې دا دی آسيا کې خښه کړې او ګرينويچ يې ( دزمان مبدا) ګرځولې. دغه اختاپوت خپله ژبه شيطان ته وسپارله او دغه مکار ښټيار د ښټارګۍ له توکرۍ په سرو زرو سينګار شوي ښامارته شپيلۍ په شونډو ايښې او انتر- منتر يې چالان دی. آسيا کې د ښټارګۍ انتر-

منتر ډېري مودې پورې روان و، په افغانستان کې يې امان الله ته لومې کېښودې، پير کرمشاه، ديويد او نور يې وپنځول، هربرت ساموئيل يې وپېرساو، په ۱۹۱۷م. کال د انګليس صدراعظم(جيمزبلفور) د بلفور په اعلاميې سره صهيونيست رژيم جوړ کړ، د فلسطين په پاکه خاوره او د مسلمه اُمت د لومړنی قبلې پر سپېڅلي وربوی کې يې (اسرائيل) ته د ژوند سا ور پو کړه. بېيارګی لا پرانيستې ده او يوه مار پسې بل راوځي. په ۱۹۴۷م. کې د انګلو- پاک د جوړېدو چارې پای ته ورسېدې او د(سايکس- پيکوت- سازنوف) د تړون په لاسليک کېدو سره يې د آسيا جنوب او منځنی ختيځ دخپل نوي ښېکلاک په زنځير وتاړه. له ساکسونی ښکېلاک سره په سيالي کې نن د تزار لمسي د سرلوړي افغانستان د نيولو خوب ليدلی دی. دا خوب دې ريښتيا مه شه. افغانانو تر روس پياوړي ځواکونه دړې- وړې کړي دي. له چنګيز تر هلاکو، ګوډ تيمور او بيا تر مکناټن. د سور پوځ سور ستوری به همدلته خاورې ايرې شي... د صادق سترګې د سپند ترغاړو او له هغه پورې غاړه دغره په هسکو ونښتې. ده ته د ملالې، اکبرخان، پلوشې او ايوب خان په شان څېرې مخې ته ودرېدې. پلوشه ورته د آزادۍ د لښکر مخکې ښکاره شوه چې د خپلواکی رپانده جنډې يې هسکه نيولې او د ننګيالو د لښکر مخکې درومې.

تېپ تېپ شو، د صادق تر مخې لړ وړاندې غرنۍ کوترې والوتې، هسکې شوې، ازاده او ښکلې پراخه فضا کې يې وزرونه تېپول او د پسرلني ښکلي شنه آسمان لمن کې نورې هم هسکې شوې. صادق د سوچونو له ګرداو راووت. تاريخ يې پرېښود، ګنګس و، خپه و، حيران و. ده داسې انګېرله چې شپاړس کاله زده کړې يې وکړې آخر کې يې نوم(شپاړس پاس) شو چې د يوې تورې شپې تيارو کې، د سرلوړي نيکه په هسکه کلا کې ورته په سپکاوي سره حواله شو. نن د تاريخ هغو درسونو د کروندو په کړو- وړو او نريو پولو راګير

کړی چې شپه- ورځ  يې لوستي او اورېدلي او اوس يې غږونه دتاريخ له پيچومو ورته را غبرګيږي.
د کوترو الوتی سيل له سترګو پنا شو، کله يې چې  په وروستي ځل د غونډۍ له اړخه هغو پسي کتل، ټولی بل اړخ ته تاو، سپينې سپينې  وځلېدې او د غونډۍ شاته شوې.
غرمه نږدې وه. د لښتي په غاړه د ويلني بوټي شنه و، د سنځلو د ونو د ګل وږم راته، کلي کې د غرمې اورونه بل شوي وو او له يو نيم بام ښخه  لوګي پورته کېدل. صادق د غنمو وروستي پټي ته وکتل چې  يوه نيمه لويشت را هسک شوي بوټي د پسرلي پستې وږمې ورو ورو ښورول، له ګڼو  وښوپوښلې پوله باندې د کور خواته روان شو.
کور کې خورکۍ د تودې ډوډۍ شکور کوټې ته دننه کړ. د حاجی صاحب سابه ډېر خوښ وو، مور تازه شوتله پخه کړې وه. نن بزګرنورمحمد د دوی کورته يوه کټوه مستې راوړې وې.
کليوال بېوزله ، خو مېلمه پال وو. بزګر نورمحمد  ايکې همدا يوه غوا لرله، ژمی ورته لنګه  شوې وه. کلي کې متل دی چې “ د غريب سړي غوا په ځله کې لنګيږي” . په بزګرنور محمد هم همدا ورځ راغلې وه. د ژمي سړه هوا کې يې د لنګې غوا خوسی خپلو ماشومانو سره کوټه کې ساتلی و، هيله يې همدې خوسکي ته وه، خو د يوې  اونۍ و چې مړ شو. غوا شيدې نه پرېښودې، له مړه خوسي يې څرمن ورته وکښله له بوسو يې ډکه کړه، دا (ډډی) به يې دغوا مخې ته ايښود او بيا به غوا ايله شيدې پرېښودې. د برات اکا غوا وچه پاتې وه، هغه به ويل، بلا پسې خوسی دې مړ وای، خو مخسد چې غوا لنګه وای. بل کليوال شين ګل له ټولو بيوزله و. پلار يې څو کاله مخکې سين وړی و. په نهه کلنۍ کې يتيم شوی و. کله يې چې د پلار مړی اوبو کې وموندل شو، په سترګو او پوزه کې يې خړه ناسته وه.
مولوی صاحب ويل پاک شهيد دی، نو له لمدو جامو سره يې خښ

کړی و. دغو ورځو کې يې مور ناروغه وه، د حلال شوي ښاروي لمده څرمن يې ور اغوستې وه، ګوندې تبه يې وشکيږي او پيريان به يې وتښتي، خو ناروغي يې نوره هم زياته شوې وه. شين ګل له ملاصاحب څخه تاويز ورته راوړی و، خو روغه نشوه...
صادق د هر کليوال کيسې ته جلاجلا په سوچ کې و. کله يې چې د مستو کټو وليده مورته يې وويل:
موريې؛ دوی خواران بېوزله دي، ورته ووايه چې مور ته هيڅ شی نه دي په کار. دا وخت حاجی صاحب صادق ته مخ واړاو:
- هو زويه، زياتره کليوال بېوزله دي. يو شمېر يې پوله- پټی هم نه لري، په پرديو پولو ايله يو پنډ واښه بود کړي، بيا يې غوا يوه لپه شيدې وکړي. دلته د نوي ښار د شيرفروشی پريمانه شيدې او روټ نشته، دا خلک نه نانوايي لري او نه شامپو پېژني. ساده غريبانه ژوند يې دی، هر سړی په ځان بسيا دی. تاته په کار ده چې د ښار خويونه پريږدې، د دوی ناچيزه سوغات په ډېرخه ومنه. ولس کې ځانته ځای پيدا کړه. صادق په ادب سره ځواب ورکړ:
- همداسې کوم، آغا، زه دلته ډېر خوشحاله يم، خو دوی ته مې زړه سوځي. حاجی صاحب ورته وخندل:
تر ټولو ښه زړه سوی، دوی ته خدمت، دوی سره مرسته او دوی ته ښه مشوره ده.
صادق دا خبرې د زړه په غوږو اورېدې او د کلي په ستونزو يې ځان پوه کړ. کلی له بازار او علاقداری څخه لرې و، سړک، ښوونځی، روغتون، درمل او طبيب يو هم نه وو. اونی کې يوځل د کلي نايي هر کورته راځي، د چا سر خرييي، دچا ږيره اوسنت وربرابروي، د چا چې په لاس يا پښه دانه وي، هغه ورته سوری او بېرته يې تړي. ټول سامان يې د ويښتانو بياتی، ږمنځ او د غاښو د ايستلو يو انبور دی. دماشومانو د سنتی لپاره يو ښه تيره چاکو هم لري. نايی داسې طبيب دی چې د ناروغ په ملا نشتر ووهي او يوه

لپه وینه ورخخه وکاږي، د سپیني چین، امپول او درملو څه ورسره نشته. صادق به دې ته هم حیران و. عجیب حکمت خو دا و چې د کوچنیوالی له شري او ګوزڼ څخه د ژوندي پاتې کسانود هر یو ژوند له نوي کلو پورته او په کرونده کې به یې په نیغه ملا کولبې کولې ! دوی کوک، فانتا او سګرټ نه پېژني. د کلي ژوند او د خلکو ورځني کارونه صادق ته نوې بوختیا وه. د ماشومانو خوسی، توپ ډنډه او ډانګ اوډۍ ورته نوی مضمون او د سپینږیرو کیسو ته به حیران و. ده دلته اوس (کلیوالي سوسیولوژي) لوستله او کلی ورته نوی پوهنتون و. ډېرو سپینږیرو به ورته نکل کاو چې څنګه په کوچنیوالي کې د کویي او شري له مرګانی تبې ژوندي راوتي دي، خو ډېر همزولي یې مړه شوي دي. د نورو د کیسو تر څنګ صادق ته د سهارګل آکا مرکې او کیسې ډېرې خواشنیوونکې وې:

سهارګل آکا زوی نه درلود، کلونه مخکې یې میرمن په یوه سپکه تبه مړه شوې وه. سهارګل آکا به ویل؛ کډه مې ځوانه- جهانه وه، ماسپښین ورباندې تبه راغله، د ماښام له لمانځه وروسته یې سا ورکړه. صادق چې څومره سوچ وکړ د داسې کومې مرګانۍ تبې نوم یې نه و اورېدلی. د پوهنتون په کلونو کې یې د ژیړي، نري رنځ، ملاریا او نورو تبو نومونه اورېدلي وو، خو دا یوه هم داسې تبه اوناروغي نه وه چې څوک په نیمه ورځ کې ووژني. بیا به سهارګل آکا بله کیسه را پیل کړه.

سهار ګل آکا ټول ټال یونیم جریب زمکه، یو کولبه یي غویی او یو خر درلود. غویی به یې د کولبې او درمندونو په وخت یوبل بزګر سره چی هغه به هم یو غویی درلود، اشر کړ. سهارګل اکا صادق ته ویل : سږ مې نیت دی پالیز وکرم. سهارګل اکا ته د پالیز د چرو د جوړولو دروند کار ورتر غاړې و.

په بله ورځ ځاښت مهال صادق د کروندو خواته ووت چې ګوري سهارګل آکا په ځادر ملا تړلې او چرې جوړوي، ترخو په پوله ورتاو

شو، دا وخت آکا د دمې کولو لپاره د پولې اړخ ته کیناست، پستې شنې کبلې ته یې ډېره ووهله. د سترګو په ترازو یې د چرو هسک و ټیټ " آوترازو" کول چې صادق ور ورسېد:
ستړی مه شې آکا!
- وراره په خیر راغلی، خدای دې په ځوانی برکت که. چې تا وینم، ځوانیمرګ همزولی مې رایاد شي. هغه به ژمی غره ته راسره یوځای بوتو او خس تولولو ته راسره ته. ډېر خوږ ملګری مې و، خدای دې وبخښي.
ولې وفات شو؟
- وراره ګُله، د مني ورځې وې، موږ جوار رېبل کلي کې هها شوه چې ولیکی لیوني سپي و داړه. ده سره یې غوا او کوتی هم په لاره روان وو. لیوني سپي کوتی هم داړلی و. لیوني سپي د کوتي په غاړه غاښونه ډیر سخت خښ کړي وو. کوتی لس ورځې وروسته لیونی شو، کله به یې په نورو ځارویو ورمنډه کړه، کله به یې ځرخک خوړ ګډیمادوس به یې کاو. د ورکولو او وژلو چاره یې نه وه، آخر یې آ دسین پله ته وربرابر کړ. دا وخت اکا د پولې له اړخه را هسک شو، نیغ کیناست، د لاس په اشاره یې د سین د پله برید ته ګوته ونیوه، لکه هغه ورځ چې ورپاده شوي وي ویې ویل: دقه پله باندې چې د پله نیمایي ته ورسېد، غړاامب کوتی یې دسیند منځ ته ور ټېله کړ. کوتی هسې هم لیونی و، لامبو او وتل ترې هېر و، یو دوه واره یې د اوبو له منځه غوړونه او لکۍ را ښکاره شول، نور نو اوبو یووړ. له دې سره یې مخ صادق ته واړاو او ویې خندل. سم له خندا سره یې خوله کې پاتې درې چینجي وهلي غاښونه ښکاره شول.
ولې څنګه شو ؟
-ولیکی یې سرسري داړلی و، میاشت وروسته یې د لیونتوب نښې ښکاره شوې، پوستکي لاندې یې د لیوني سپي زهر وکتېدل، له اوبو

به ډارېد، چې د اوبو جام به يې ور وړاندې کړ، ليونی سپی به يې پکې وليد له ډاګه ډاګه به ولګېد.
نه، اکا ناروغ سپی اوبو کې نه ويني، ستونی او ټول وجود يې درد کوي نه څه خوړلای شي او نه څه ښېلای شي.
-اييتا جار. دغسې څه کانه وه نو، د خوراک څه به دې چې ور ښکاره کړل يووار به يې چيغه کړه. يوځل يې منډه کړه په خپل کوچني وروز يې خوله ولګوله، ټوله ورځ به يې کريغې وهلې آخر يې کټ کې پرې باسه لاسونه اوپښې يې ور وتړل، په زيارتو يې وګرځاو. ځلوېښت ورځې نه وې پوره، اجل يې راغی کټ کې هماغسې تړلی مړ شو.
وی، اکا ژر به يې روغتون ته رسولی وای چې واکسين يې شوی وای.
-هی وراره، هغه وخت روغتون چيرې و؟! اوس هم دلته چيرې ډاکتر نشته، دوه ورځې مخکې مې چې دا چرې کښلې مابنام تبه راباندې راغله سخت ناساز شوم ماويل چيرې که کوم طبيب مبيب وای اويو سيبازول يې را کړی وای، خو خدای ښه کړم. اوس مې تبه شکېدلې. له دې سره يې هغه ميده خاوره دپټې په لورې وشيندله چې لاس کې يې سرويېلې وه. دا وخت يې سترګې د پيروټې په پانو ولګېدې چې نوې له خاورو را ټوکېدلې وې. په غوسه يې موټی ترې چاپير کړ له بېخه يې وکښلې او هيسته يې وغورځولې، تندی يې تريو کړ:
-وراره دغه لانتي ځوز او پيروټه هر کال هر پسل کې راشنه شي، نيم بوټې راته خراب کړي. بد بوټی ورکېدن هم نه لري. دې خبرې سره ودرېد، بل اړخ ته بل پټی يې صادق ته وښود:
-وراره دې شوتلګره کې جوار کرم.
هو ، اکا شوتله پسې جوار ښه راځي.
-اييتا جار شم.
سهارګل اکا سترې او پټي ته خپه و. صادق ورته وويل:

اکا ته مه خپه کيږه، اوس د هررنځ دواياني شته. هغه پخواني مرضونه هم ورک دي او دغه د ګنده بوټو د ورکولو لارې- چارې هم بدل شوي دي.
سهار ګل آکا د ناهيلۍ اسويلى وکيښ، لاسونه يې د خاورو له ګرد څخه وڅنډل ويې ويل:
-مکتبيه، د زړه سره، د حاجى صيب ځو! خداى خبر، لاړ اوغانستان دوه بغرئ شو. نيم کې مولهيدين او نيم نور دا د دين پتنګانو لاس ته ورغى، ولاکه د ژوند تمه وي. زه به ښه کابل ته لاړ شم؟ او ته وايې هلته به نوي غاښونه کيدم؟! لاړه و راغله ، دنيا دوه بغرئ شوه. دا وخت د پولې پر سر ودرېد، څادر يې له ملا پرانيست، بېرته يې ښه کلک وتاړه او د چرو په جوړولو بوخت شو. صادق چې د پولې په سر په دوه پښو ناست و، پاڅېد، د سيند دغاړې خواته روان شو. سيند کې لکه د هرې ورځې په شان د اوبو شور و او اوبو کې ترنيمايي پورې د ډوبو ونو ښاخونه ښورېدل. صادق ته د دې منظرې په ليدو د وطن حالات سترګو ته ودرېدل او د سهارګل آکا خبرو يې غوږو کې انګازې وکړې:
- اوغانستان دوه بغرئ شو... مکتبيه د زړه سره د حاجى صاحب ځو، نور نو لاړه او راغله... افغانستان دوه بغرئ شو...
له دې سره يو ځاى ټولګيوال ورياد شول، تاج، بازګل، خمارى، پلوشه، عبدالوکيل،سمندر، ناصر... ده داسې انګېرله چې پلوشه به اوس د ډله نجونو ترمخې ولاړه وي، له کتابو، کتابچو او قلمونو ډک څرمين دستکول به يې اوږه کې وي، دلاس په مړوند به يې طلايي ګړئ ځليږي، اوږده ويښتان به يې ترملا رسيږي او يويو ځل به پيکي ته ټکان ورکوي، له سترګو او تندي به يې يوې خواته کوي، بيا به لاس هوا کې خوځوي نجونو ته به وايى:
- مړه دې وي شورويان، ژوندى دې وي زموږ خپلواک ولس !

دا وخت یې دوه ښنګړي دلاس له بندونو څخه د مټ خواته راښوییږي او په منځوي ګوته یې غمی لرونکی ګوتمی وځلیږي، بیا په اوچت غږ وایي:

- موږ ښکېلاک نه منو، موږ شوروی پوځیانو ته وایو چې زموږ له پاکې خاورې ووځئ !

صادق ته هغه ډېره نیکمرغه ښکاره شوه، دا ځکه چې څوک ورته (پاکولته یي) نه وایي، مول لرونکو وسله والو سره نده مخامخ...
له دې سوچونو سره صادق دسیند له غاړې را تېرشو. بازګل او دهغه خړه لویه کورتی او څپلی وریادې شوې. زړه یې په دې خبره خوشحاله شو چې ډېر ښه کار وشو چې آخر نه آخر بازګل هم فارغ شو. هغه شېبه وریاده شوه چې د بازګل عکسونه د فراغت د سند لپاره دتدریسي مُدیریت په میز باندې د مدیرصاحب مخې ته ایښي وو او بیا قدوس وریاد شو چې له ملکونو پنا شو او عبدالوکیل چې له فراغت مخکې د ضابطی مستعجل کورس ته ولاړ او اوس به د صاحب منصبي رتبه کې دنده لري. هغه خوار په بیوزلي او مسافري پوهنتون لوست، ښه تکړه و، په سپېرو شونډو، چاودلو پوندو او خیراتی جامو کې یې ځان تر درېیم تولګي ورساو، که دپلوشې مرسته ورسره نه وای یو سمستر یې هم نشو لوستلای، خو په وروستي کال یې کلي کې وسله والو ځوان ورور ورمړ کړ، پلار یې خدای وساته، په هغه سبا یې کورنی اړه شوه چې له کلي ښارته کډه شي، له بدې ورځې یې پوهنتون پرېښود او صاحب منصب شو، نو سهارګل آکا خو بیخی ریښتیا وایی. ولس نیم یو خوا نیم بل خوا!! پلوشه د حکومت په وړاندې پاڅېدلي او عبدالوکیل د حکومت په ننګه عسکری یونیفورم غاړې ته واچاو، د بازګل ورخ لا نه ده مالومه. دا وخت یې دبازګل ځیره مخې ته ودرېده چې د یوه پروا هم نه کوي، خپلې خړې ارتې کورتی او څپلیو سره شواړ شواړ ګامونه اوچتوي، یوه سترګه یې رپیږی، ویریږي چې کومه نجلی یې د سترګې رپېدا ونه ویني که

نه په بلا به واوړي، خو هلکانو باندي زړور دی ټول په ټوکو خندوي... هر سړی خپله يې لار او خپله يې خوښه. دا وخت نو دسيند له غاړې رالرې شوی و، څو ګامه پاتې و چې د خپل نيکه ملک ستانکزی لويې کلا ته ورسيږي. د پوهنتون او ټولګيوالو په رايادېدو سره يې پرېکړه وکړه چې سبا- بل سبا خامخا يوځل ښارته ولاړ شي. په همدې سوچ کې يې ګام د کلا په درشل کېښود. له انګړ څخه د اصيل ګلاب خوږ بوی د کلا د دروازې په لوري راته. د غرمې تود لمر د ګلانو د پاڼو وږم زيات کړی و.



## (۱۴)

په هغه ورځ د غرمي د ډوډۍ په مهال پلار صادق ته وويل چې يو ځل ښارته ولاړ شي، د کور او ګاونډيانو خبر واخلي. موسسه کې به اغابادار هم وګوري.
کلي موټر نه درلود. هسې په کال نيم به کومه چکله لارۍ په کږه-وږه کچه لار راغله. دکلي ماشومان به ورځخه وېرېدل، ځينی به بامو ته وختل او ورکتل به يې. ښځې به له انګړ کوټې ته ننوتې د موټر غرهارته به غوږ وې، ترخوبه موټر بېرته نه و تللی نه به راوتلې. ښوونځی او ډاکټر خو بيخي چانه پېژندل. له کلي څخه بازار او علاقداري لرې وه. کله به چې علاقدارۍ او د بازار خواته د چا کار پيدا شو، يا به په پښو تلل يا به يې خر ځان سره کړ او له هغې خوا به يې سودا هم وربانديې را بار کړه. علاقداري بيا لږ ښه وه، څو هټۍ، يوه قصابي، يو د ډاکټر کتنځی، ښوونځی او د ښار په لوري غځيدلی سړک يې درلود. له علاقدارۍ وروسته ښار ته يو (پنجالی) بس سهار سهار روانېد، اته يا نهه بجې به ښار ته ورسېد او بيا به مازيګر څلور بجې بېرته علاقدارۍ ته راته. له رارسېدو مخکې به يې د پټرولی ماشين بوی او غږ د لارې د دوو خواوو کورونو ته ورسېد او لاخره به د دوړو يوه لړه هواته ورپسې پورته وه.
صادق د حاجی صاحب په لارښوونه سهاروخته په خړه چې چرګانو اذانونه کول، پاڅېد او له يوه تروږزي سره د علاقدارۍ په لوري روان شو. ترڅو پوره رڼا کېده، علاقداري ته ورسېدل. صادق زاړه

پنجالی موټر ته وخوت او تروررزی بېرته کلي ته ستون شو. زياتره کليوال د موټر دبام په سر کيناستو ته خوشحاله کېدل، نو له خپلو غوټيو او پنډونو سره به پاس ختل، خو لاندې به يواځې بوډاکان، ماشومان او ښځې په چوکيو کيناستل. کليوالو سره يو يا دوه چرګان، يوکټو مستې، کُرت، وچه شوتله، توت يا بل څه و چې پلورلو يا ښار کې يې خپلوانو ته وړل، يا به يونيم ناروغ د درملنې لپاره ښار ته روان و. صادق سره هيڅ هم نه و، هغه يواځې د خپل کور او د موسسې د ملګرو په فکر کې و. کله چې دوی کلي ته راکډه کېدل، نورې کوټې يې د کرايه ورکولو لپاره وزګارې پرېښودې، خو په يوه کوټه کې يې خپل د پوهنتون کتابونه، جامې، دکورنۍ د عکسونو البُم، د ږيرې خرپيلو ماشين، د بوټانو رنګ او بُرس او داسې نور شيان چې کلي کې يې جواز نه وو، يوه جلا کوټه کې خوندي او ور يې کولپ کړی و.
د علاقدارۍ زوړ بس مخکې تر لمرخاته د ښار په لوري روان شو. ده ټول هغه ځايونه، د غونډيو اړخونه، ونې او کرونديې ځارلې چې په کوچنيوالی يې ليدلې وې. صادق څو ځله حاجی صاحب سره د ميلمستيا او کلي کې د مړې- ژوندي په خاطرراغلی و. د لارې ترخنګ له اوبو ډکه ويالة، د ونو کتارونه، د راز راز مرغانو او سارايی کوترو سېلونه چې له يو ځای به الوتل او بل ځای به کيناستل، ښکاره کېدل. لږ شيبه کې بس له کچه سړک څخه پوخ سړک ته ورسېد او د ښار بريد را څرګند شو. دا وخت لمر راختلی و. په همدې ځای کې د پولسو يوه نوې تاڼه جوړه شوې وه چې پخوا نه وه. دوو پوليسو بس ودراو او دننه يې وکتل. خلک يې يويو له سترګو تېرکړل، کليوال ويريدلي وو. پوليسو جنګلي ته وکتل او د تګ اجازه يې ورکړه. صادق پخوا داسې څه نه و ليدلي. لمر را هسک شوی و چې ښار ته ورسېدل. د ښار په ځينو څلورلارو کې امنيتي عسکر ولاړ وو، ده ته دا منظره نوې وه. صادق له رسېدو سره سم مخامخ د خپل

کور په لوري روان شو. ښاري ملی بسونه او د پروان مينې په لوری بريښنايی بسونه لکه د پخوا په شان له خلکو ډک روان وو. د صادق بيره وه چې همدا نن بېرته کلي ته ستون شي. ښار کې ګڼه ګونه وه، له هرې خوا د راډيوګانو، دلاس پلورونکو، موټرواو تازه ميوه اوسبوپلورونکو غږونه اورېدل کېدل. بريښنايي بس ته وخوت، يوې پېغلې ډريورې بريښنايی بس ګړندی چلاو، صادق ډير ژر خپلې سيمی او کوڅې ته ورسېد. ځان ته يې کټل چې ډېر بدل شوی و. د پوهنتون د سپين کميس او پتلون په ځای يې واسکټ په ځان او څادر يې په اوږه و، بوټان يې سپېره او ږيره يې رسېدلې وه، خو بابېزه يې وګڼله، ځکه چې نه پوهنتون ته روان و او نه موسسې ته اوس له کلي څخه يو راغلی کليوال و. په همدې سوچونو کې دخپل کور مخې ته ورسېد. د کرايه ورکولو اعلان نه و، په برنډه کې د ماشومانو مينځل شوی جامې لمر ته اچول شوې وې، پوه شو چې ګاونډي د دوی کور چاته په کرايه ورکړی دی. خوشحاله شو. سم له رسېدوسره يې د خپل کور دروازه د يوه پردي په شان وټکوله. دا شيبه ورته سخته وه. دروازه پرانيستل شوه. يو پوخ عُمر لرونکی چې کندوزي سره خولۍ يې په سر وه راووت. ستړی مشی يې ورسره وکړه. صادق ځان ورو‌پېژاند. دواړه کورته ننوتل او د مېلمنو کوټه کې کيناستل. د پوخ عمر لرونکی نا آشنا چې اوس د دوی کورکې اوسي، خوشحاله ښکارېد، صادق ته يې وويل:

• موږ درې ورځې کيږي راغلي ياستو، ستاسو پخواني ګاونډي سره مو دمياشتې په يونيم زر کرايه ومنله. د بريښنا او اوبو لګښت به جلا حسابوو، ګاونډي مو د ټولو کوټو کلياني راکړی، خو يوه کوټه بنده ده. دلته شاوخوا ټول ستا اود حاجی صاحب ستاينه کوي، خدای وکړي يوه ورځ حاجی صاحب هم ووينم. ټول ګاونډيان ستاسي په تګ خپه دي.

صادق غوږ نیولی و، خو بغلاني کاکا د جګړو له امله اندېښمن و. کندز او ټول بغلان کې جګړه پیل شوې وه. فابریکې درېدلې وې او لارې به زیاتره وخت بندې وې . دا وخت د کوټې دروازه وټکېده. بغلانی کاکا پاڅېد د دروازې له هغې خوا یې پتنوس کې ایښودلی چاینک او پیالې راواخیستې او د چاي په اچولو شو. صادق یې پیاله او چاینک له لاسه ونیول او هڅه یې وکړه چې خپله ځانته پیاله ډکه کړي، خو کاکا وار ورنه کړ. صادق د کاکا تکلیف ته خپه شو ویې ویل:

- اکا ولې مو ځان په عذاب کړ. زه یوه شیبه ستاسو د خبر اخیستو او پوښتنې په خاطر راغلی یم او آغا مې ویل چې تاسو ته یې سلام ورسوم. بغلاني کاکا ډېر مهربانه و، ویې خندل صادق ته یې وویل:
- مېلمه نه یې خپل کور دی دی، خو چای مجلس تودوي!

یوځل بیا یې وخندل او کیسه یې وغځوله:

- زه له بغلانه راغلی یم. زوی مې عسکري صاحب منصب دی، کابل ته راتبدیل شو، نو ځکه ټوله کورنۍ دلته راغلو. کندز،سمنګان او بغلان کې حالات خراب دي، خلک وایي ډېر ژر به خدای نخواسته سخته جګړه پیل شي...

د بغلاني کاکا زړه ډک و. د بغلان کیسې یې کولې. داسې ښکارېده چې بغلان پسې خپه شوی دی. صادق د بغلاني کاکا خبرو ته غوږ نیولی و، خو د خپل کور دیوالو او کړکیو ته یې کتل، د ټول ژوند خاطرات یې له سترګو تېرېدل. وروسته له لږ شیبې یې د پوخ عمر لرونکي ناآشنا بغلاني کاکا ته وویل:

- که ستا اجازه وي، زه به دغه کوټه چې کولپ ده، یو ځل وګورم، هلته مې څه په کار دي او نور نو درڅخه رخصت اخلم، بیرته کلي ته ځم.

بغلانی کاکا دستي ورته وویل:

- ولې نه، خپل کور مودی، موږ په کرایه ناست ګاونډي خلک یاستو.

صادق هغې کوټې ته ننوت چې هلته یې کتابونه، تلویزیون، د پوهنتون جامې، دریرې ماشین، دغابښو کریم، ځوډوله شامپو، کلونیا او هغه څه ایښي وو چې کلي کې په کار نه وو. صادق دغو ټولو ته خپه و، خو ځان سره یې کلي ته نشو وړلای. یو قلم او یوه سپینه کتابچه یې راپورته کړه او له کوټې راووت، ورپې بېرته بند او له بغلانی کاکا سره یې خدای پاماني وکړه. دا یې هم ورته وویل چې موږ به کله کله میاشت دوو کې یو ځل راځو، خبر به مو اخلو. بغلاني کاکا ورته وویل: هرکله راشئ. بل ځل چې راغلئ ان شاالله زوی به مې هم کور کې وي، هغه به هم وپېژني او خدای وکړي دا ځل حاجي صاحب درسره راشي. خپل کور مودی، موږ به د هرې میاشتې په پای کې د کرایې پیسې نغدې درته ساتلې وي.

-نه اکا پیسې کوم شی نه دي. د حاجي صاحب د لکهاوو پانګه او حسابونه موسسه کې بند پاتی دي، پروا یې نه لري. مهمه دا ده چې په کور پام وکړئ. د پوخ عمر لرونکی کاکا ورغبرګه کړه:

- په سترګو ان شاالله .

صادق راووت، کوڅه کې یې ډېر ښکته- پورته وکتل چې همزولي او آشنایان ووینې، خو بیره یې وه څوک یې نشو لیدلای، کوڅه او خپل کور لږ ورته هېر شوی ښکاره شو، په خپه او ارمانجن زړه روان شو، ځان سره یې وویل:

تر مازیګره ډېر وخت دی، هسې هم د علاقداری موټر څلور بجې ځي، نو د سمندر کورته به ورشم هغه به ووینم. خو دسمندر دوی کور ډېر لرې و، بیا یې وسنجوله چې لږ به د مخابرې کنډک ته ورشم، عبدالوکیل به وګورم. هغه اوس درېیم بریدمن منصبدار دی. همدا پریکړه یې خوښه شوه. د ښاري بسونو تمځای ته ولاړ. بربښنایي ملی بس راورسېد، یوې پېغلې ډربورې تورې چشمې

سترګو ته اچولی وې دجلو شاته ناسته وه. مخکې دروازه کې دښوونځیو نجوني وختلې او وروستې دروازه کې صادق بس ته پورته شو. غرمې ته لا وخت پاتې و چې د مخابرې کندک ته ورسېد. د قراول د مخې انضباطانو ته یې وویل چې عبدالوکیل مې په کار دی. هغوی یو تن دننه واستاو او صادق څو ګامه هاخوا په اېښودل شویو چوکیو کیناست.
لږ شیبه کې عبدالوکیل راووت. هغه اوس ډېر بدل شوی و. ښکلې عسکري دریشي یې په غاړه او پلیټونه یې په اوږه ځلېدل. یو محراب اومنبر لرونکی نښان یې په خولۍ له ورایه ښکاره کېد. اوس یې هغه زاړه خیراتی بوټان نه وو، له عسکری موزو سره یې ګیټس کلک تړلي وو. د صادق په لیدو له لرې په خندا شو، په خوشحالۍ وړاندې راغی. دواړو یو بل ته غېږ ورکړه. وروسته تر یو کال یې یوبل لیدلی و، دواړه یو بل پسې خپه شوي وو. ښه ځنډ یې یو بل سره تود روغبړ وکړ.لکه دوه ورونه چې وروسته تر ډېرې مودې یوبل وموميي. دواړه کیناستل. د چوکۍ یوې خواته د اکاسي ونې وې چې غونچه غونچه سپین ګلان یې غوړیدلي وو، لږ هاخوا د سورګلاب بوټي وو. وکیل د صادق د ژوند له وروسیتو پېښو نه و خبر، نو صادق کلي ته د کډې کولو ورته وویل، وکیل ورته غوږ نیولی و:

• ښار کې مو کور په کرایه ورکړ، موسسې سره مې خدای پاماني وکړه، خو حساب مو لاورسره پاتې دی، کور کې مو یو بغلانی په کرایه ناست دی، زوی یې ستا په شان صاحب منصب دی. نن بیرته کلي ته ځم. هلته کلیوالي ژوند دی. خلک زښت زیات بیوزله دي. ښوونځی نشته، کلنیک او پوخ سړک نه لري، برېښنا او تلویزیون او ګاز بیخی نه پیژني. هره شپه دوسله والو وېره راباندې تیرېږي. د وسله والې ډلې مشر د ښارپه خلکو شکمن او د ښاریانو وژل ثواب اوجهاد بولي، خو پلار مې کلي کې ښه خوشحاله دی، وایي ښه شو چې د ملحدینو او روسانو له ولکې راووتو.

د صادق په دې خبرو سره عبدالوکیل ژور سوچ کې ډوب او ډېر خواشینی شو. صادق ته یې وویل:
-زموږ قسمت هم داسې شو چې له کلي ښار ته راغلو. چاره نه وه، موږ بیوزله خلک وو، پوله- پټی مو نه و، له پلرونو- نیکونو بزګران وو. کله چې دوه کاله د مخه انقلاب وشو، په کلي کې بزګري کوپراتیف او تعاوني صندوق جوړ شو، ما لاهغه وخت پوهنتون نه و پریښی، ورور مې کلیوالو بزګرانو سره د مرستې په خاطر د تعاوني صندوق مشر شو، په دوهمه شپه وسله وال کورته راغلل زما ورور یې وویشت. ما هم پوهنتون درېیم ټولګي کې پرېښود، له کلي راووتو دا دی اوس مې د مخابرې کورس پای ته ورساو او درېیم بریدمن رتبه لرم. حکومت وطن او خلکو ته د خدمت لوړه راخخه اخیستې ده.
صادق ورځخه وپوښتل:
دلته مو ژوند څنګه دی؟
-ډېرښه یاستو، بل کوچنی ورور او خور مې ښوونځي ته ځي، پلار او مورکۍ مې کورکې دي. کرایي کور مو نیولی، خو مور مې شپه – ورځ شهید ورور پسې ژاړي، پلار مې هم غمجن دی، خو څه وکو ژوند دی، سړې- تودې لري نو. زما تنخوا بیخي راته بس ده، کور وربانديې چلیږي، کوچنی ورور او خور مې بل چاته اړ ندي، خپله ورته د مکتب نوې جامې، قلمونه بکسونه او کتابچې رانیسم او دوی ته یې سپارم چې تعلیم وکړي. بله اونۍ د ثور انقلاب دوهمه کالیزه ده، په دې ویاړ ماته د دوهم بریدمن رتبه راکوي.
له دې سره یې په څېره کې د غرور او خوشحالۍ نښې ښکاره شوې. د خولۍ پیک یې لږ پورته کړ، له جیب څخه یې د پېژندنې کارت راوکیښ صادق ته یې ښکاره کړ او ورته ویې ویل:
-کنډک کې مې د مخابرې تخنیکی درسونه پای ته ورسول. ډېر درسونه زموږ خپل وطنی صاحب منصبان راښیي، خو د کاتی واتي(

(Welkie-Talkie) او (زاس) تخنيک درس له ميخايلوف څخه زده کوو. هغه د شوروی د پوځ صاحب منصب او زبردست لايق دی. په دوهم نړيوال جنګ کې د شوروی د پوځ دبري کيسې کوي. مسلک يې مخابره دی، خو رادار کې يې هم خدمت کړی دی. زموږ د غونډ قوماندان د تخار دی، رتبه يې ډګرمن دی، مصر کې يې پوځي زده کړې کړي دي.

صادق په حسرت او افسوس ورته وويل:

-لعنت دي زموږ او تاسو په دې بد روزګار شي، اوس به زه هم موسسه کې بوخت وم، ته به هم د حقوقو فارغ او چېرته به قاضی، حاکم يا علاقدار وې، يا به دې خپله دارلوکاله چلوله، خو بدې ورځې موږ له ښاره وايستلو او په تا يې عسکری دريشی واغوسته او د روسانو درسونو ته کيناستې.

عبدالوکيل ورته زړه تش او ځواب يې ورکړ:

- اوس خو خدای رابانډې راوستې ده، له پېښې تېښته نشته. چاره نه وه. يو- دوو کمعقلو په ناچيزه خبره د مُلحد او کافر نوم راباندې کېښود، ورور يې راته شهيد کړ. د سر سيب ته کولو په خاطر مو عسکري دريشي واغوسته، بله لار نه وه. وروره ته هم په خپله خوښه کلي ته نه يې تللی.

همداسې ده.

صادق دا شېبه داسې انګېرله چې دا په ټول، ژوند کې د عبدالوکيل لويه او لومړنۍ خوشحالي ده، خو دهغه د خبرتيا په خاطر يې ورته وويل:

وروره، د دُنيا له حاله خبر يئ؟ يورنګه خلکو وسلې پورته کړي دي، دا حکومت را پرځوي. عبدالوکيل سمدلاسه ورغبرګه کړه:

- ميخايلوف کيسه کوي چې د اکتوبر د انقلاب په وړاندې هم باسمچيان پاڅېدل، خو ډېر ژر کراري شوه. ګوندې دلته هم کراري راشي، د خلکو ژوند لړ ښه اود وطن د جوړولو کارونه ګړندي شي.

ميخايلوف وايي د اکتوبر له انقلاب مخکي زموږ خلک ډېر خواراوزار او دتزار ظلم لاندې وو، تاجکستان، ازبکستان او ترکمنستان ډېر وروسته پاتې وو، له انقلاب وروسته پوځ پياوړى شو، ښارونه اباد، ټولو جمهوريتونو برېښنا، سړک، اورګاډى، تيلفون، روغتونونه او فابريکې وموندلې، اوس هر جمهوريت ښه کرهنه او کارخانې لري او سپوږمۍ ته وختو. کله چې د ميخايلوف خبرې اورو، موږ ته هم تمه پيدا شي چې ګوندې په موږ به هم رڼا راشي او له لوږې، ناروغيو او تورتم به ووځو.

د عبدالوکيل د خبرو په اورېدو صادق داسې و انګېرله چې نور نو وطن خړ سيلاو په سر واخيست. هر وطنوال د ماتې بېړۍ په يوه تخته ناست، څرګنده نده چې رااالوتى توپان به څه راپېښ کړي. اوس خو ښار سورکاپر او کلي غوسه ناک او ياغي شوي دي. سهارګل آکا ريښتيا ويل؛ " لاړ اوغانستان دوه پړکه شو".

صادق عبدالوکيل څخه وپوښتل: موږ د حکومت له ساحې بهر ياستو، هلته ټول تبليغات د مخالفينو په ګټه روان دي. دلته ښار کې خلک څه وايي؟

هغه ورته وويل: ټول پوهيږي چې افغانستان ديوې ناولې لوبې ډګر شو. لوى هيوادونه خپله جګړه له خپلې خاورې بهر په مخ بيايي . منځنى ختيځ دى، عراق دى، افغانستان دى... لويديځ تنظيمونو ته د شوروى دعسکرو پېغوروركوي، جيبونه يې ورډک او په وسلو يې سمبالوي، هغوى ننګوي چې جګړه نوره هم توده شي، مکتبونه سوځوي، روغتون نه پرېږدي، د برېښنا او رڼايى دښمنان دي. وطن يې خلکو ته سور اور کړ. وطن کې چې څه د مدنيت او ترقي نښې دي، دا ټولې ورباندې له منځه وړي.

پوره ځنډ دواړو ځوانانو سترګې په زمکه ګنډلې وې د وطن اوخپلې راتلونکې په اړه ځُرت کې وو. برخليک څرګند نه و، دوى داسې

انګېرله چې ځواني، خوشحالي او آرمانونه يې لکه د کاغذ د هغې پاڼې په شان سوځي چې اورلګيت ورته لګول شوی وي.



# (۱۵)

مازيګر نږدې و چې صادق له ښارڅخه زوړ پنجالي بس کې علاقدارۍ ته ستون شو. دمازيګر لمونځونه شوي وو چې دعلاقدارۍ بازارسره له موټر څخه کوز شو. کتابچه او قلم ورسره وو، وېره کې و چې که وسله وال په مخه ورشي او ورڅخه ويې وينې، ژوندی يې نه پرېږدي. قلم يې لاندې پټ جيب ته کړ او کتابچه يې څادر کې ونغاړله. کله يې چې د خپل کلي په لور ګام اوچت کړ، ګوري چې حاجی صاحب په زهير ځان د ده مخې ته راغلی و چې تر کلي پورې يې ورسوي. صادق د پلار په ليدو ډېر خپه شو، ورته ويې ويل:

-آغا، ولې دې ځان دومره په عذاب کړ، زه خپله راتلم، يا به ترورزی راغلی و. خو پلار ورته وويل:

نه زويه، حالات سم نه دي .

دواړه د کلي په لور رهي شول. حاجی صاحب دا شيبه د مازيګر لمونځ کړی و، تسپې يې لاس کې وې. شونډې يې ورو ورو خوځېدې، تسبيحات او په مبارک نبی(ص) يې درودونه ويل، پلار به هر وخت وروسته د مازيګر له لمانځه څخه د ماښام ترلمانځه تکی خبره نه کوله. ويل به يې دا مهال دريابونه هم چُپ روان وي. خاموش په لاره ته، صادق ورسره ورو ورو ګامونه اوچتول او چرتونوکې ډوب او زهير پلار ته خپه و. حاجی صاحب ريښتيا ويل. دغو ورځو کې به چې څوک له ښارونو څخه کليو ته راتلل، وسله والو به درول، پوښتنې- ګروېږنې به يې ورڅخه کولې. ښارته تلونکي خلک به پوليسو درول او څارل. د سهارګل اکا خبره سمه وه: (... لاړ اوغانستان دوه بغرۍ شو...!)

صادق چې سياست لوستی و، د دې ساده کليوال دخبرې په ژوره مانا پوه او دغې بدمرغۍ ته خواشينی و. هغه ته يو ځل بيا د پوهنځي کتابونه او د پروفيسور لکچرونه ورياد شول. هغه د سهارګل اکا په

خبره سوچ کاو. نه يواځې افغانستان، آن دا چې ټوله نړۍ په سړه جګړه کې ګير وه. د تاريخ د استاد خبر سمه وه؛ دوه لويو نظامی بلاکونو يو بل ته پخه ايښي وه، په دې منځ کې واړه او خوار ملکونه ترپښو لاندې کېدل. وطن مو د لويې لوبې قرباني ده. صادق چرتونو کې ډوب و، نه پوهېد چې کوم ليدلی خوب بيا ورپه يادېږي؟
کلايو؟
د ختيځ هند کمپنی،
که سوداګر بابا فرانک؟
د ګريټ برټش د ختيځ کمپنی ميراثخورو په سيمه کې انګلو- پاک جوړ کړ، د نبراسکا پروژه پيل شوه، انکل سام د تزار له ميراثخورو سره په لويه لوبه( G.G) کې افغانستان state buffer کې وشمارل شو. دا دی اوس نو دا وطن له بفرستيت ووت، نو خامخا به نيم يوخوا نيم به بل خوا کيږي، لويه لوبه بل پړاو ته تللې ده. پروفيسور استازي ډېر ښه تعريفول: استازي د خپل هيواد او هيوادوالو ګټې ساتي ! د استازيو لوبه تبا کوونکې ده. د دوی ټول اخلاق د خپلو ګټو ساتل دي. دا وخت بيا دټولګي ټول ملګری يويو ورياد شول: تاج، زرلښته، قدوس، بازګل، باقر، عبدالوکيل، پلوشه، خُماره، ... تقديرقدوس له سمندرونو او غرونو آپلو واړاو، عبدالوکيل عسکری دريشی واغوسته، بازګل دکلي ژوند ته مخه کړه او بېرته خپله کرونده کې بوخت شو، پلوشې د ټينګار سنګرکلک نيولی او په ښکاره د حکومت په وړاندې ولاړه ده او دی خپله دشک په نړۍ پوله ولاړ، يو خوا بل خوا ټالۍ وهي موسسه او کارونه پاتې شول، هم به پوليس ورځخه پوښتنې ګروېږنې کوی او هم به کلي کې د وسله والو تر شک لاندې وي؟!
دا وخت حاجی صاحب ټولې دعاګانې کړې وې اوتسپې يې جيب ته کړې، د دعا لاسونه يې په مخ راکښل او صادق ته يې وويل:

لاره کې څه خبره خو نه وه، په خیر راغلی؟ صادق ورته په خبرسره د ببرته را ګرځېدو وویل. حاجی صاحب لږ زهیر و، ورو ورو یې قدمونه اوچتول. صادق ته یې وویل چې کیدای شی ایله ماښام تېر کورته ورسیږو.

ځای ځای لاره د ځوزانو له منځه تیرېږي، ځینو ځایو کې شګلنې پستې خاورې او ځینو ځایو کې د ویالې په غاړه غځېدلې وه. په تګ تګ کې صادق د کور او د ګاونډیانو ډاډ ورکړ. حاجی صاحب ورڅخه وپوښتل چې اغابادر یی ولید؟ ده ورته وویل چې دا ځل ونشو، بل ځل به یې خامخا وګورم. د ماښام تیاره خورېده ګڼو ونو او د ماښام تیارې د ویالی اوبو ته تور رنګ ورکړی و، مرغۍ له کروندو شنو ونو ته را ټولیدې. شاوخوا کوم کلی او جومات نه و. حاجی صاحب له جیب څخه زنځیر لرونکی ساعت را وکیښ په ځیر او خواریو یی وکوت، د ماښام د لمانځه وخت نږدې و. د ویالې په غاړه یې څادر هوار کړ او دواړو د ماښام لمونځ وکړ. وروسته تر لمانځه یې پاتې لارپسې واخیسته او له لری د کلی کورونه را ښکاره شول، خو لاهم یو څو لوړې ژورې، او کږه وږه لار پاتې وه. په تګ تګ کې صادق بیا خپله خبره تکرار کړه:

- آغا کور سلامت و. ښه خلک پکې ناست دي. ماته حرامخور نه ښکاري، د کرایې ډاډ یې راکړ. په کړکیو او دروازو پام ساتي. په کولپ کړی کوټه کې سامان امانت و. پلار ورڅخه وپوښتل : دا څوک دي؟

- یو په عمر پوخ سړی و، له بغلانه د جنګونو له زوره کابل ته راغلی، ګاونډي ورسره د کرا قرارداد لاسلیک کړی و پانه یې ماته وښوده. د ده د کورنی نور غړي مې ونه لیدل، خو ویل یې چې زوی مې پوځ کې صاحب منصب دی. د ماشومانو غږ- زوږ یې له دوهم پوړ څخه د میلمنو خونې ته راته. حاجی صاحب په اندېښنې سره وویل:

ښه خدای دې په ښادئ کړي، د کرا پروا يې نه لرم، خو چې خلک ښه خلک وي او ګاونډيان ورڅخه خپه نشي، بيا به موږ ته ښېرا کوي.
صادق پلار ته وويل:

- بغلانی کاکا ښه سړی و، خدای دې دوی هلته او موږ دلته خوشاله لري.

دا وخت کليوال بزګران يومونه او يو يو پنډ شوتله په اوږه، له کروندو څخه خپلو کوروونو ته راتلل. ديو نيم کور د بامونو له پاسه لا هم د مازيګرني تناره لوګي ښکارېدل، پيغلو نجونو د بامبوټيو له اړخه د ماشومانو مينځل شوې جامې ټولولې او درويځی يې بندولې. د اسمان لمن کې د ماښام يو يو ستوری ځلېدل او شفق بشپړ سوررنګ درلود، د ماښام خړه رڼا کې د لارې دوو خواووته غنم ښکارېدل چې قد يې کړی و، د تازه شوتلې او سنځلو د ګل بوی خپور و، له دې وروسته لاره د ويالې له غاړې جلا او د کلی د کوروونو په لوري کږه شوې ده. دوی د ماښام په خړه کې کلي ته ورسېدل. حاجی صاحب ستړی شوی و، ده کله هم تصورنشو کولای چې د ملک ستانکزي سرلوړي زامن به يووخت دومره لالهاند شي. دا وخت د کلي له جومات څخه بوډا ګان يو يو راوتل او د کڼاوو ترک- تروک غږ يې اورېدل کېد، له ځينو کورونو د لنګوغواګانو د رمباړو غږ راته چې د کور ميرمن د شيدو لوشلو کټو سره ورشي او دوی خپلو تنکيو خوسيانو ته شيدې ورکړي. مرغی د ديوالو په سوريو ننوتې او سپيان د بامو سر ته ختل او د لارې اړخ ته نږدې، د بامونو په ژی يې لکۍ منجوله کولې او د خپلې پهرې دنده يې پيلوله. د ورځې تودوخې خپل ځای د پسرلي لږ څه يخې شپې ته پرېښود.

(۱۶)

پاسنیانو خو ماره وکړه، خدای دي خبر پېښوي !
دا خبره نن سهار له لمانځه وروسته کله چې ملاصاحب دُعا وکړه توخایراکا(طاهراکا) د یو اعلان په توګه کلیوالو ته واورله او تر غرمې پورې ټول کلي کې خپره شوه. کیسه په علاقدارۍ کې د یوه بس موټر او دوو هټیو سوځول او د علاقدارۍ په ودانۍ باندې دبرید کولو وه. پرون شپه درې تنو د حکومت مخالفووسله والو دشپې په تیاره کې په علاقدارۍ برید کړی و، خو عسکرو په برید کوونکو مخالفینو ځوابیه ډزې کړې وې او مخالفین په شا شوي وو. دوی دوو هټیو او یو هغه بس ته اور واچاو چې محمدجان ماما نوې راوستی و. پخوا ټوله علاقدارۍ کې هماغه یو زوړ پنجالي بس موټر و چې سهار سهار به ته او مازیګر به بېرته راته. هغه به تل ډېر ډک و.
توخایراکا د محمدجان ماما له خواریو خبر و چې په څومره خواریو یې یوځو روپۍ سپما کړې وې او په لیلام کې یې په څه شوق دا موټر اخیستی و. وروسته تر لمانځه دوه کلیوال غلي خواته ورنږدې شول چې ټوله کیسه واوري. توخایر اکا دوی ته په خپګان کیسه پیل کړه:
ورکوه یې جایکی سنګس ده پای لنګس. محمدجان ماما ته خپه یم، هغه خواریوه اونۍ مخکې د جنګلک د بادۍ جوړولو د کارخانې د موټرو لیلام څخه خبر شو، هلته یې په لیلام کې یو بس پېرودلی و. دابس موټر پخوا یوه (ګاز) لارۍ وه چې څو کلونه یې قوای کار کې کار کړی و. د ډېر کار له امله یې د بادۍ ډېرې ماتې شوې وې، نو جنګلک فابریکې کې ورباندې د سرویس موټربادۍ جوړه شوې وه.
کلیوال حیران شول، توخایراکا څخه یې وپوښتل:
دا جنګلک چې دومره کمال لري او زوړ موټر بېرته نوی کوي، کابل کې ده؟
-هو کنه، له کاره لوېدلی موټر او پرخچه پرخچه ترکتور درته له سره نوې نزی جوړوي. سپاره، زنځیرونه، یوم، کُلنګ، خاښۍ او نورسامانونه خو څه کوی چې څومره ښه یې جوړوي! زه سرای

پيرکه مشر(فرقه مشر) کې رنګمال وم، هلته به چې چا جنګلک کې له سره جوړ شوی بس راوست، نو موږ به ورته ښه رنګ وروغن او له ګلانو ډک کړ. جنګلک کارخاني ته هم يودوه ځل ورغلی يم. زبردست مستريان پکې کار کوي. په کال کې يو ځل د فوايد عامې او قوای کار زړې شوې "زيل" او "ګاز" لاری جنګلک فابريکې ته سپارل کيږي، هلته وربانديې د بس موټرو باډی جوړه، بيا دا بسونه د سورليو د لېږد لپاره ليلاميږي. ځوک يې چې وس او شوک لري، ليلام ته ورشي او ښاري او ولايتی لينونو کې يې چلوي، لکه زموږ محمدجان ماما، خو نصيب يې نشو. ځينو به وروسته تر پېرودلو باغ عليمردان کې د پرکه مشر سرای ته راوستل، له سره به موشوقی رنګ اوروغن ورکړ، يو څو د ډريورانو د شوک بيتونه به مو وربانديې وليکل:
درحقيقت مالک هرشی خداست – اين امانت چند روز نزدماست
به سفررفتنت مبارک باد – به سلامت روي و باز آيي
راځه راپسي دسترګو توره - چې ګېر لګوم راپسې ګوره
ماشاالله
سفر بيخطر
له چا چې بخت مرور شي، يا مسافر يا ډريورشي.
محمدجان ماما هم په ډېر شوق دا بس راوستلی و او خلک هم ورته ډېر خوشحاله وو. دغه بس يې دوه ورځې د فرقه مشر سرای کې درولې و چې چت بانديې يې ګلان رسم شي، بيا يې د مخې د ښيښې شاوخوا پلاستيکی ګلان کتار کړل. د مخې پمپر ته يې زنځيرونه ځوړند کړل او په وچويلی يې ورته وليکل: ياالله - يامحمد. د دې بس ښه دومره بدله شوې وه چې هيچا نه پيژاند چې دا پخوا د قوای کار دخاورو او قير چلولو لاری وه. دا بس اوس د نويو قادری۳۰۲بسونو څخه هم ښکلی ښکاريد. دا يوه اونی وه چې خلک په شوق پکې ښار ته تلل- راتلل، خو پرون شپه د اور خوراک شو.

ورکوه يې د محمدجان ماما دعمر خواری او شوک برباد شو. پاسنيانو د حکومت په ټس کې ورته وسوځاو.
کلي کې هيچا ته پته نه وه چې دا ( پاسنيان) څوک دي؟ خو شپيته کاله مخکې صدراعظم مادهاشم خان د کلي د غونډيو بل اړخ ته له سلطاني زمکو څخه خدای بلا ورشو او کرنيزې زمکې چې څو پایکاله کېده، محمدزي شاغاسي ته ورکړه. شاغاسي چا نه و ليدلی، خو نوم يې ډېر مشهور و. شاغاسي دغه څو کوره له کوم بل ځای څخه راوستلي وو، په خپلوزمکو يې ديره کړل، ده ته يې دهقاني کوله. دوی دوه- درې کلونو کې دشاغاسی پرزمکو څو کورونه جوړ کړل، بيا يې يو لوی باغ کيناو اوس له هغه راهيسې همالته مېشت دي او کونې يې وزيږول ډېر شول، لوی کلی شو. د دوی جامو، موزو، خوليو او د دهقانی اسبابونو له کليوالو سره توپير درلود. پڼې او کڼاوې يې بيخی نه پېژندلې، موزې اوبوټان يې لرل چې له لرې به ځلېدل او کليوال به ورته حيران وو. پټکي او واسکټونه يې هم نه وو، د څرمن خولی او رخچيني يې وې چې عجبه سپکې او ښايسته وې، لرونه يې غټ غټ او خاښی يې وسپنيزې وې چې کليوالوته يې دلرلو ارمان ورته.
کليوال د هغوی سيمې او بريد ته نږدې نه ورتلل، هغوی هم دې خواته نه راتلل. دوه چست او غټ آسونه، څو غوايان او غواوې يې لرلې. خلکو يوبل ته ويل چې غواوې يې زرياتی دي! ورو ورو د کلي ډم ورسره بلد شو. له څو کلونو را دې خوا د کلي ډم لومړنی کليوال و چې د پاسنيانو کوروته يې تګ- راتګ پيل کړی و، د هغوی سنتي سراوبريت خربيل يې په غاړه اخيستی و. له دې سره د کلي د ډم ډوډې په غوړو کې لمده شوې وه او پاسنيانو به دغلې ترڅنګ له خپل باغ څخه ميوې، رومی او تازه پياز او ژمي کې د لاندي وچه غوښه هم ورکوله. ډم له پاسنيانو ډېر خوشحاله و. يوه ورځ چې ملا صاحب توخايراکا سره ناست و، د کلي ډم ورته د پاسنيانو د ډکو

کندوانو، شيدو، مستو او ميوو صفتونه وکړل، ملا صاحب ورته وويل:

- اخ خليپه که امامت ته يې ملا په کارو، ما خبر کړه.

د کلي نايی ورته وويل:

دوی لا تراوسه خپلو کورنو سره جومات نه دی جوړکړی، لمونځونه په يوه چوتره باندې يا يې کور کې کوي، خو زبردست سخي خلک دي.

دا وخت توخاير آکا خبرې ته ورولوېد د زيري په ښه يې ملاصاحب ته وويل: نن سبا جومات جوړوي. دا وخت د کلي ملا صاحب خوشحاله شو، توخاير اکا ته يې دُعاوې وکړې:

- ماشاالله، جزاکم الله. اجرونه او برکتونه يې نصيب شه ! ورځم، خامخا به ورځم الحمدلله الذی بنعمة تتم الصالحات. او تالره ای توخايره جزاک الله خيراً.

د شاغاسي زمکو او د پاسنيانو ژوند ته کليوال هک- حيران وو. کله به چې کليوال کلي ته نږدې دغونډيو سر ته وختل، آپلو به د پاسنيانو کورونه او د شاغاسي پراخه پرېمانه زمکې او کروندې ښکارېدې. يووخت آوازه شوه چې شاغاسی يوه پاسني ته راډيو راليږلې ده، هغه به غږوله. ځينو کليوالو د پاسنيانو د راډيو غږ هم اورېدلی و، تولو هوس کاو چې که کومه ورځ راډيو ووينې. بله ورځ آوازه شوه چې شاغاسي د پاسنيو تر کلي او خپلو جايدادونو پورې سړک جوړوي او خپله والګا راولي. پههه ! دا نو بله خوشحالی وه، کليوالو ډېر هوس کاو چې (والګا) ووينې.

د اوړي په يوه غرمه کې خلکو يو نااشنا غرهار غږ واورېد، ځينو وانګېرله چې دا به د والګا غږ وي، نو ځو هلکان په منډو منډو دغونډۍ سرته وختل، خو دا غږ د چورلکو و چې وخته له سيمې پنا شوې وې. تر دې وخته پورې دې سيمې ته نږدې چورلکې نه وې راغلې. دا لومړی ځل و چې په علاقدارۍ باندې تر بريد وروسته

چورلکې په سیمه ګرځیدې اوخلک ورته حیران وو. یوه دوره یې دپاسنیانو په کلي هم وکړه او بېرته تللې وې، کلیوالو یې غږ واورېد خو ویې نه لیدلی.
د شاغاسی او مادهاشم خان په امر د دوی دا دهقانان تر ځلوېښتو کلونو چا ونه پېژندل، یواځې د کلي ډم ورته او چې بېرته به کلي ته راغی، د هغوی صفتونه به یې کول. د هغوی زمکی او کورونه علاقدارۍ ته لږ ورلنډ وو. د کلیوالو لاره د شاغاسی د پیکالونو زمکو له څنګه د علاقدارۍ خواته غځېدلې وه. دې خلکو ته د کلي څو سپین ږیرو د ( پاسنیان) نوم ورکړی و، خو د کلی ځوانان او ماشومان نه پوهېدل چې ولی یې پاسنیان بولې؟
ورو ورو ځینو کلیوالو له پاسنیانو سره راشه- درشه پیل کړه او د هغوی ځوانان هم کله نا کله په آسونو د کلي خواته راتلل. یو ځل یې له کلیوالو څو څاروي اوبل ځل یې څو چرګان په پیسو وپېرودل. هغه وخت ډېرو کلیوالو پیسې نه پېژندلې. د تګ- راتګ په زیاتېدو کلیوال پوه شول چې د پاسنیانو چاته نیت بد نه دی او ګوزاره ورسره کېدای شي. کلیوال پوه شول چې دوی موده وروسته ځان ته خامخا جومات او دیرې- حُجرې هم جوړوي او کله یې چې کوښي نورهم وپنځیږي، نو ولس سره به یې راشه- درشه هم پراخه شي. ورو ورو د هغوی کلي ته د (شاغاسی کلا) نوم ورکړل شو. دغه نوم د کلي د ډم په خوله مشهورشو.
څو ورځې وروسته چې کله به ډم کورپه کور ګرځېد او د هلکانو وښتان به یې جوړول یا به یې چېرته د ویالې ترغاړې او د ونو سیورې لاندې د چا سنت او ږیره برابرول، نو ویل به یې شاغاسي کلایانو جومات جوړ کړ، اوس یو خادم ورته په کار دی. بله ورځ یې د منې تاوده لمر ته د لښک سراو څټ خرېیه، دوه- درې کلیوالو دیوال ته ډډه وهلې وه، برات وپوښتل:

• خلیپه، ژمی وزګار یم. زړه مې دی ورشم دجومات خادم به شم، خو نه پوهیږم چې څه ډول خلک دي، په مزدوري ورکولو کې غالېچن نه وی!؟

خلیپه د لټک له سره چاړه پورته کړه کار یې ودراو، په ډاډ یې ورته وویل:

ډېر ایماندار خلک دي سترګې یې وږې نه دي، زما زوی ورغی کار یې ورسره پیل کړ، نور زه نه ورځم. زوی مې ډېرزیات ورڅخه خوشحاله دی.

خلیپه بېرته په یو زنګون شو، چاړه یې په احتیاط د لټک نیم خرېیل شوي سرته برابره کړه. داوخت برات ورته برګ شو:

• ګوره کنه خلیپه دې کې دې هم چل دی. زوی دې خلیپه توب په موږ زده کړ او چې د کار شو شغاسی کلا ته دې واستاو، ته نور له ښنو لویدلی یې، د ډول وهلو په مهال دې ښنې ریږدي، چې په سر او ږیره چاړه خوځوې هم لاس دې ریږدي، کومه ورځ به د ماشوم سنتی کولو کې کوم ماشوم ژوبل کړې. ته به هلته تللې وې، زوی به دې دلته د ولس کار کاو.

د دې خبرې په اورېدو د خلیپه ماغزه وتورېدل چاړه وښوییده د لټک سر ټپي شو، ژر یې له څرمین بکس د نیل ټوټه را کښله او په ټپ یې کېښوده. دلټک آخ آخ غږ پورته شو، خو ځان یې کلک کړ. خلیپه بیا بکس ته لاس کړ یوګوټه پومبه یې راوایستله او د لټک د سر په ټپ یې کېښوده. د سر خرېیلو چاړه یې یوه شیبه اړخ ته کېښوده، برات ته یې وویل:

• برګ برګ مه کیږه، موږ ته کمسل وایاست خو کمسله خبر تا وکړه. زموږ کار د سلمان پیغمبر دی، غلطي نه کوو. کلونه مې د ولس کار په اخلاص کړی دی، اوس هم لګیا یم سهار او مازیګرد کلي کوز او بر سرته مندې وهم. د شاغاسي کلا لرې ده، هلته چې

په پښو چُست نه اوسي، تګ نه کیږي. زوی مي زلمی دی. زموږ کار خو د ثواب کار دی، ګوره خبر دي غلطه وکړه !
لټک سر تیټ نیولی و او خپلو نیموخړپیل شویو وښتانو ته یي کتل، د سر ټپ یي سوی کاو، خلیپه شیطان لاحول کړ، له برات یي مخ راواړاو بېرته یي خپل کار پیل کړ. کله یي چي د لټک سر ورپاک کړ دهغه وښتان یي یو اړخ ته وشنډل او برات ته یي بیا وویل:

- قسم راباندې حق نه لری چي د شاغاسي کلا خلک دومره ایمانداره، سخي او په اتفاق خلک دي چي دا زموږ کلی یي ګرد ته نه رسیږي. که زه هم ورشم هم یوتوټه زمکه راکوي، هم کور.

برات و وېرېد چي کلی بې خلیپه نشي، ژر یي پښیماني وښوده:
ګوره خلیپه هسي مي خبره وکړه، موږ تا کله پرېږدو چي ولاړ شي. دا ولس درپه غاړه دی خپه کیږه مه.
***

کابل کي د حکومت له بدلون دوه نیم کاله وروسته، کله چي د مني وروستۍ ورځي راورسېدې، سنځلي پخي شوې او د توتو پاڼې رژېدې، کلي کي آوازه شوه چي په خپله شاغاسی د خپلو جایدادونو ټول واک پاسنیانو ته سپارلی او خپله له وطنه ووت. خلک حیران شول. خلک تر دي هم ظریف اوعبدالرحمن ته حیران وو، دا ځکه چي د دوی د لسو کلونو دعوا په یوه ورځ هواره شوه. ظریف اوعبدالرحمن دوه وروڼه وو. کله چي د دوی پلار مړ شو، خپلو منځو کي یي زمکه او یوه وړه غوندي باغچه ترکه کړه، خو ډېر ژر یو بل سره د ونو په سر وران شول. هغه پټي چي عبدالرحمن ته رسېدلی و، په پوله یي کتار وني وې، دوه پکي توت وو. د باغچي هغه نیمه برخه چي عبدالرحمن ته رسېدلي وه، د ابراهیم خاني توت پیوند وني پکي وې، خو د ظریف خواته یواځي یو شنډ توت و. د ونو په سر د دوی دعوا تر علاقداري او بیا تر حکومتي ورسېده. هره ورځ به محکمې او دعوا ته تلل، د دواړو زمکه ګرو او پورنو کي تر ستوني

ډوب شول، غواوي يې وپلورلې، داسي ورځ را ورسېده چې کور کې يې يوه چرګه هم پاتې نه وه، خو لس کاله يې شول چې دعوا حل او پای نه درلود. کله چې حکومت بدل شو، علاقداری ولسوالي شوه، نوي ولسوال دواړو ورونو ته د کلی له غونډۍ آبل اړخ ته پنځه پنځه جريبه آوي زمکه ورکړه او دعوا يې په رسمی توګه پای ته ورسوله. ايله ظريف او عبدالرحمن په کور شول او د دواړو په سترګو رڼا شوه. تېرو لسو کلونو کې د دواړو ږيرې سپينې شوې وې. دوی به يواځې د ژمي شپو ورځو کې کور کې وو، نور ټول کال يې حکومتی ته منډې وهلې. د کال لس مياشتې به دوی محکمه په محکمه ګرځېدل. دا دی دې وروستيو کې د حکومت بدلون او د ظريف او عبدالرحمن د دعوا پای کلي کې هغه طلسم مات کړ چې ګواکې په پاچاهي د چا زور نه رسيږي. دا هم ورته معجزه ښکارېده چې محکمه دې د لسو کلو دعوا يوه ورځ کې ختمه او دواړو اړخونو ته لا پنځه پنځه جريبه زمکه هم ورکړي! دا هم ورته معجزه ښکاره شوه چې هغه علاقداري او ولسوالي چې خلک به يې له ديوالو وېرېدل، اوس د يو څو مول لرونکو له خوا تر بريد لاندې راځي او آن حکومتي ماسلان يې په شپه کې ور وويشتل. دا هماغه ماسل و چې څو کاله مخکې به يې تش لاس يوه ډله هغه کليوال علاقداری ته بيول چې ماليه به يې نه وه ورکړې.

نن لا يوه بله نوې او حيرانوونکې خبره دا وه چې شاغاسي له وطنه ووت او بزګرانو يې په ولسوالی بريد کړی دی. خدای دې خير کړي، مار لنډی شو، خو مړ نشو. کليوال اندېښنه کې شول چې دې اورګډيو خو اور بل کړ. سبا به حکومت د پاسنيانو په ځای موږ ته سزا راکړي، د وچو له زوره لامده سوځي. پاسنيانو خو ماره وکړه، خدای دې خېر پېښنوي !

دا خبره نن سهار له لمانځه وروسته کله چې ملاصاحب دُعا وکړه توخاير اکا د يو اعلان په توګه کليوالو ته واورله او تر غرمې پورې

ټول کلي کې خپره شوه. کيسه په ولسوالۍ کې د يوه بس موټر او دوو هټيو سوځول او د علاقدارۍ په ودانۍ باندې دبريد کولو وه . ولسوالۍ ته لا اوس هم ډيرو خلکو علاقدارۍ ويله. کليوال اندېښنه کې وو چې خدای دې خير پېښوي.



## (۱۷)

له هغه راهيسې چې لومړی ځل يوه شپه پخوانۍ علاقدارۍ چې اوس ولسوالي ورته وايي، تر بريد لاندې راغله او يو نوی بس او دوه هټۍ و سوځېدې، يو کال تېر شو. تېر يوه کال کې ډېرو سيمو کې د حکومت د مخالفينو شمېر زيات شوی و او په حکومتي ځايونو بريدونه نور هم زيات شوي وو. کلي کې د خلکو وېره وه چې د دوو خواوو

ترمنځ دوی تر پښو لاندې نشي. اوس په کلي کې درې- څلورو کورونو راډيو لرله، دوی به سره راټول شول او د پروني شپې خبرونه به يې يو بل ته اورول. د علاقدارۍ نوم په ولسوالۍ بدل شوی و، عسکر يې ورته زيات کړي وو او دوه لوړ د پخو خښتو برجونه يې ورته جوړ کړي دي. دا لومړی ځل دی چې خلک دلته د پخو خښتو ديوالونه او برجونه ګوري. د عسکرو پخواني سرپوښ ټوپک په پاپشه ماشيندارو بدل شوي دي، لا يونيم کلاشينکوف هم ترسترګو کيږي. خلک وايي کلشينکوف په يوه سا دېرش ګولۍ ولي! خلک چې عسکرو سره کلاشينکوف ويني، نو داسې انګيري چې حکومت د پلچرخي بنديان او جوماتو کې لمونځ کوونکي خلک خامخا په همدې وسله چانماري کوي او بيا يې ډله ډله خاورو لاندې کوي، خو شوروي عسکر بيا تر دې هم بتره وسله لري چې بشپړ کلي ورانوي. د خلکو وېره هغه وخت له دغو وسلو زياته شوه چې ستار اکا له ښاره راستون شوی و او خلکو ته يې کيسه کوله:

- ای بوسلمانو، دا کوټې سنګي سرک نده؟ په دې راسم وم چې د الکين ښيينه او د شوتلي تخم واخلم، دا وخت جومات کې جمه شوې وه، بسلمانان راوتل چې وروسي اسکر ځان د جومات مخې ته ورساو چې دا کله کوپ يې ضربه کړ ديرش تنه مظلوم بسلمانان يې يو ځای وويشتل.

خلکو توبې اېستلې او دې ناتار ته خواشيني شول. د ستار اکا هرې کيسې به خلکو ته وېره پيدا کوله. يوه ورځ يې کليوالو ته ويل:

- ورونو حکومت هرهغه سړی نيسي چې سپينه لونګۍ او ږيره يې وي او سيده يې ماسکو ته ليږي. هلته صابون ورڅخه جوړوي. کابل کې خلکو د يو صابون له منځه يو کاغذ ومومند چې پکې ليکلي و چې روسانو موږ له اوغانستانه راوستلي ياستو، تول په لوږه او تنده کې ياستو، هر ورځ راڅخه سل سل تنه وژي او صابون ورڅخه

جوړوي. د تاسي دې غاړه بنده وي چې ترڅو جهاد شروع نه کړئ او ترڅو مجاهدينو سره يوځای نشئ ژوند درباندې حرام دی.
کليوال د ستار اکا خبرو وپړولي وو. کلي ته هم له کابل اوهم له ولسوالۍ بيلابيل خبرونه راتلل. په ولسوالۍ باندې بريدونه زيات شوي وو، خو تر ټولو سخته جګړه همدا تېره شپه وه. په دې جګړه کې درې عسکر ووېشتل شول او يو تن مجاهد ټپي شو. ټپي مجاهد يې ملګرو کلي ته رسولی و. خلکو دغه مجاهد ته شاباس وايه او دا ټکی به يې هم ورسره کړ: د زمري بچيه غازي شوې. نورو به دعاکوله چې خدای دې روغ کړي.
کلي ته پرله پسې نوي خبرونه راتلل. صادق ته دا کيسې هومره هيښوونکې وې لکه څومره چې ورته څلور کاله مخکې د سفير ادولف ډابس وژل کېدل حيرانوونکي و. هره ورځ به کليوالو يو بل ته ورو ورو ويل:

- د خلي اور درمند ته ځي،
- دا د پټي سره دی، پټی وروسته سورور دی.

بيا به يې غلي غلي شاوخوا وکتل او د بی. بي. سي. د پرون شپې اوريدلي خبرونه به يې يوبل ته ويل او يو نيم به دا هم ورسره کړه:

- نور نو د ټينګې نه دی ، لمن به يې آخر ورټوله شي. وای کابل کې مکتبيان په کلام شريف خيژوي، چې کوم يو انکار وکړي، ديستي يې ولي. أبله ورځ يې دپوليخيشتی جومات دروازې هم وتړلې او ملا امام يې ماسکو ته بوت.

له دې ټولو کيسو داسې ښکاريده چې خلکو د شوروی عسکرو له راتګ څخه کرکه کوله. د دې کيسو په اوريدو او دغې ورځې ته په کتو سره صادق اوس و پوهيد چې هغه وخت د پروفيسور انديښنې بيخي په ځای وې. د صادق سر په دې هم خلاص شو چې قدوس ولې له وطنه پښې سپکې کړی او په دې هم پوه شو

چې پلوشې د مظلومو خلکو د غمونو لپاره ځان سپر کړی و او د شوروی عسکرو په وړاندې يې په مېړانه غږ اوچت کړی و.
د ورځو په تېرېدو سره ولس پرله پسې د شوروی پوځ د راتګ په وړاندې خپل ډله ډله ځوانان سنګرونو ته لېږل. اوس په هره سيمه کې د جګړو د زور اخيستو نښې ښکارېدې. ډېرو سيمو کې سوځېدلي ټانګونه او نړېدلي ديوالونه ښکارېدل.
کلي ته د صادق د راتګ ځلور کاله وشول، په دې ځلورو کلونو کې يوځل کابل ته تللی او خپل کور يې ليدلی، نو زړه کې وګرځېدل چې يوځل بيا ښار ته ولاړ شي، د موسسې ملګري وګوري، د شيراقا هټۍ کې يوځل بيا يوه پياله شيدې او نيم روټ فرمايش ورکړي، بغلانی کاکا به هم وګوري او د خپلو کتابو خبر به هم واخلي... خو چې ځومره يې سنجوله، د تګ امکان نه و. ښار کې ټول هغه د عسکری عُمر لرونکي ځوانان نيسي چې د مکلفيت دوره يې نه وي تيره کړې.
هره ورځ په حکومتي ځايونو بريد کيږي. حکومت له کلي څخه ښار ته تللي باندې او مجاهد له ښار څخه کلي ته راغلي باندې شکونه کوي، نو غوره يې وبلله چې زړه صبر کړي او ښار ته له تګ ډډه وکړي.
ښار کې د چاودنو وېره وه او دلته په کليو کې دا ځلور کاله کيږي چې حکومتي ځواکونه يو ناڅاپه له يوې خوا راشي له هرچا پوښتنې کوي، کورونه پلټي ... يو ځل بيا د سهارګل اکا خبره ورياده شوه:
...لاړ او غانستان دوه پرکه شو...
صادق ته په دې ساده خبره کې د نړۍ د سړې جګړې تاو- تريخوالی ښکاره کېد چې لوګي يې له افغانستان څخه پورته کېدل. دافغانستان د معاصرتاريخ د استاد اود سهارګل آکا خبرو يو مفهوم درلود: سړه جګړه او لويه لوبه! او بيا ورته د عبدالوکيل خبره ورياده شوه :رېښتيا ده، لوی هيوادونه خپله جګړه له خپلو هېوادو بهر په نورو سيمو کې په مخ بيايي .

لوبه ډېره پيچلې شوې وه.

## (۱۸)

له هغې ورځې چې د شاغاسي کلا ته حکومتي قوا راغله او د پاسنيانو دوه چېټ زلميان او يوه بوډۍ ښځه ووژل شول او درې تنه نوي زلمکيان يې عسکرو بوتلل، دوه کاله تيرېږي. شاغاسي کلا ته قوا هغه وخت راغله چې د کابل په جاده کې د خاد مامورينو يو پاسنى له (ګرانيت) بم سره ونيو. د دغه پاسني له جيب څخه امنيتي مامورانو د خلکي حکومت د درې جريبه زمکې سور سند هم موندلى و چې ده ته د انقلابي شورا په حکم ورکړل شوې و. د دې سند په منځ کې يو ټوټه کاغذ و چې په خپله شاغاسي په خپل قلم دوى ته د جهاد لارښوونه کړې وه. له پاسني سره د دې کاغذ په موندلو سره په هغه سبا قوا راغله، خو شاغاسي کلاته لا نه وه رارسېدلې چې له دې کلا ورباندې مرګانى ډزې وشوې. په لږ شيبه کې درې پلې عسکر ولګېدل، خو کله چې بيرديم زرهداروته رامخته شول او د پولو او پټيو له منځه ټانکونه مخ په کلا راغلل، مجاهدين په شا شول. همدې وخت کې د دوى دوه تنه او يوه بوډۍ ادي ولګېدل. عسکرو کلا تلاشي کړه د پاخه عمر نارينه او ښځينه وو ته يې څه ونه ويل، خو درې نوى زلمکيان يې ځان سره بوتلل او قوا بېرته ستنه شوه. له هغه وروسته شاغاسي کلا کې يواځې پنځه تنه بوډاګان، يو څوښځينه او ماشومان پاتې وو. ډېر ژر پاتې کسانو کلا پرېښوده او دهغو ونو له منځه په هغې لاره ووتل چې دوى څو کاله مخکې دا ونې کينولې وې او دا کږه وږه لار يې جوړه کړې وه. دبوډې پښو زور نه اخيست چې له خپل کوراو کلا ولاړه شي، نو ځکه به هر څو ګامه وروسته کيناسته او په خاورو به يې منګولې ډکې او په سر به يې باد کړې،

خو لمسيانوبه له لاسه ونيوله اوځان سره به يې روانه کړه. هغوی ټول پېښور ته مهاجر شول.
په نورو کليو کې هم ځينو کسانو وسله اخيستې وه او جوماتو کې به هره ورځ ملحدينو پسې تبليغ روان و. خلکو يو بل ته ويل: کابل کې چې د چا نوم شکور و، اوس يې کمونيستی تسکره کی شکورروف او د چا چې محمد و، محمدوف او د چا چی ستار و ستاروف کړي يې دي. ټول نومونه بدلوي او خلک له بوسلماني اړوي چې څوک انکار وکړي او کمونيستی تسکره وانخلي جی په جی يې وژني....
د شاغاسي له کلا د پاسنيانو کډه کولو ته خلک خپه وو. کليوال پوهېدل چې نن يا سبا به په دوی هم هغه ورځ راځي چې په شاغاسی کلا راغله. له لرې- نږدې سيمو خبرونه راتلل چې کلي تشيږي او کډې مخ په پېښور، کوهاټ او کوټې باردي. له کلي څخه به يواځې بوډا ګان، ماشومان او ښځينه ښار او ولسوالۍ ته تلل، ځوانان نشو تلای. يوه ورځ صادق خبرشو چې توخاير کاکا ښارته ځي. ورغی او عبدالوکيل ته يې د يوه ليک د وروړلو هيله ورڅخه وکړه، توخاير کاکا يې غوښتنه ومنله. صادق عبدالوکيل ته ليکلي و:
" زما د خوږو ورځو آشنا او ټولګيوال ګران دوهم بريدمن عبدالوکيل سلامونه مې ومنه. زه له خپلې کورنۍ سره کلي کې دېره يم. دا ډېروخت ښار ته نه يم راغلی، کنه خامخا مې ستا خبر اخيست. بی وفا مې مه بوله. حالات ډېر خراب اوتاوجن دي. زموږ کور کابل کې پاتې دی، دلته کلي کې ټوله ورځ په پولو وزګار ګرځم، چُرتونه وهم. له ډېر لرې خبر شوم چې بازګل هم کلي کې دی، له نورو ټولګيوالو نه يم خبر، فکر کوم بېلابېلو ادارو کې به په کارو بوخت شوي وي. زموږ له کلي لږ پورته يو کلی چې شاغاسی کلا يې بلله له خلکو تشه او ټول مهاجر شول، ځوانانو يې دحکومت په وړاندې وسله اخيستې او دشپې دشپې په حکومتی ځآيونو بريدونه کوي. ښارڅخه نه يم خبر. لږ د ښار او ټول وطن د حالاتو او راتلونکې په

اړه راته ولیکه څه وکړم او څه کولای شم؟ که دی اندیوالان لیدل زما سلام ورته وایه، نور دې په خدای(ج) سپارم. زما د دغه کلیوال په لاس ځواب را ولیږه.
۱۲/۴/۱۳۶۶
په هغه سبا توخایرکاکا ښار ته ولاړ. لارې ډیرې سختې وې، مجاهدو ځوک ښارته نه پریښودل، له ښارڅخه راتلونکې یې پلټل او ځورول. موټر په آسانه نه موندل کېدل، خو چاره نه وه. روغ- رنځور او له ښار څخه د ځینو اړتیاوو پوره کول دمخې کارونه وو. توخایر اکا خوار په سپینه ږیره او کړوپه ملا د یو- دوو ساعتونو لاره په څلورو ساعتو کې وهلې وه، غرمه ښار ته رسېدلی و. خپله سودا، ټک وپوک یې چې په کار و، هغه یې برابر کړي وو، هلته یې مرکزي کلنیک کې ځان هم په ډاکتر کتلی و. ډاکتر ورته څو ګولۍ او یو بوتل شربت ورکړی و، غرمه یې د عبدالوکیل دوی عسکري قطعه موندلې وه او ښه توده قروانه یې ورسره خوړلې وه. د راتګ په مهال یې له عبدالوکیل څخه لیک هم رااخیستی و، د ماسپښین لمونځ یې د جادې د پای په جومات کې کړی و، نور نو د کلي په لوري را روان شوی و. کله چې راورسېد په هماغه تیاره ماښام صادق د لارې په سر ورته ناست و. له رارسېدو سره سم یې دهغه پنډوکی ورسره رااواخیست او تر کوره یې ورسره راوړ. توخایر اکا د ماښام تیاره کې د واسکټ له جیب څخه کاټ کړی کاغذ ورکړ. صادق شکر وکړ چې خدای پاک رحم کړی چې اکا ته وسله وال په مخ ندي ورغلي او لیک یې ورڅخه نه دی موندلی، کورته راغی. په بیړه یې د شپې له ډوډۍ مخکې د الکین رڼا ته د دویم برید من عبدالوکیل لیک پرانیست:
بسم الله الرحمن الرحیم. دعاو سلام ډیر خوږ وررور محمد صادق جانه. زما متقابل سلامونه او احترامات ومنه. ستا کلیوال ستا لیک راوړ، ډیر خوشحاله شوم. تل مې په زړه راګرځې. ځیني ټولګیوال ښار کې ګورم، کارونو کې مقرر او خوشحاله دي، خو یو شمیر نورو

ځخه نه يم خبر. کابل کې حالات ورځ په ورځ خرابيږي. د شوروی پوځ له هيواده وځي، همدا اوس هم له ډېرو ولاياتو را وتلي دي. يواځې کابل کې شته چې ډېر ژر به ټول خپل هېوادته ستانه شي. ميخايلوف هم موږ سره خدای پامانی وکړه. د مخابرې د کنډک قوماندان د ګلو ګيډۍ ورکړه رخصت يې کړ. زه اوس راديويي مخابره، زاس او کاتی واتی کې پوره رسېدلی يم. مخابره کې ترما بل تکړه ځوک په ټوله اردو کې نشته، اوس يې راته د لومړي بريدمن رتبه منظور کړې ده. په کابل هره ورځ راکټونه راځي. هره ورځ مړي او ټپيان دي چې امبولانسو کې ليږدول کيږي. د ټپيانو درملنه نوره د ډاکترانو له وس وتلي ده. خلک له ښاره په تېښته دي، کله چې مجاهدين دبرېښنا پايې والوځوي دښار ډېرې برخې تياره شي، د يو ښوونځی د اوبو زيرمه کې مجاهدينو سمي مواد اچولي وو زده کوونکي يې مسموم کړي دي. هر ځل چې د حکومت مخالفين راکټونه ولي، ډېر خلک وينو کې ولمبيږي. حيران ياستو. پېښورته مهاجر کېدل، له باران پاڅېدل او ناوې لاندې کيناستل دي. زه هره ورځ مخابره کې د پنجابي جنرالانو خبرې اورم چې د افغانستان تباهي ته يې ځومره په دښمني ملا تړلې ده. اوس کابل کې ډېر بدلون راغلی. دسولې خبرې روانې دي، پاچا به بېرته راشي، پلار مې پاچا ته ډېره هيله لري. اوس بندي کول او سزاګانې هم نشته، ډېر مخالفين له زندان خوشې شول. کابل کې سباوون، اخبار هفته، عدالت او ډېرې نورې مجلې او آزاد اخبارونه راوتي چې جګړه غندي، مخالفين او دولت نقد او د اصلاح لارې ښيي. ملګرو ملتونو د افغانستان د جګړې د پای او د نوي موقت حکومت د جوړولوژمنه کړې ده. پلوشې ځخه تل خبريږم، د حکومت ضد سنګر يې نيولی، ډېرځله ورځم ګورم يې. په ما ډېر حق لري، ما دهغې د مرستو له برکته درې کاله سبق وواېه. احسان يې نه هېروم. تېره اونۍ مې ښار کې وليده جوړه وه، ويل يې ورېښمينې واده کړی او علی چيرته لوی رييس مقرر دی.

نورو ډیرو ټولګیوالو څخه نه یم خبر. زموږ دوه تنه استادان تېره اونۍ کوټې ته او یوتن المان ته مهاجر شول. دوی پېښور ته د مهاجر کېدو زړه ونه کړ، ځکه چې هلته تنظیمیانو دوه نوي مهاجر شوی د پوهنتون استادان ووژل، خو کوټه او لویدیځ هېوادو کې خطر نشته. بازګل هم له وطنه وتلی. د پلوشې پلار وفات شو، خپله له مور او خورکۍ سره تېره اونۍ آلمان ته مهاجره شوه. دټولو ښارونو حالات خراب او محاصره کې دي. اعتبار نشته که له کابله یې خوست یا کندهار یا اسمار ته ولیږلم، بیا نو د ژوند تمه نشته. ټوله جګړه همدغو دریو ځایو کې ده، چې حکومتي ځواکونه ډېر تلفات پکې لري. که مې ونه لیدې بخشش کوه. حاجی صاحب ته زما احترامات ورسوه. اوس دې په مخه ښه.
لومړی بریدمن عبدالوکیل
۱۳/۴/۱۳۶۶
صادق د لیک په لوستلو لږ خوشحاله، خوډېر زیات خپه شو. د وطن حالات ورته ډېر کړکیچن ښکاره شول. د سولې تمه نه وه، نه حکومت د ټینګې دی، نه مخالفین داسې آسانه په کابل ننوتی شي، خووطن به نور هم کنډواله او د مسلمانانو وینې به وبهیږي. خدای دې نه کوي چې د دښمن دا خبرې ریښتیا شي چې: جنګ، جنګ، ترورروستي افغانه جنګ ! او کابل باید وسوځي.
صادق د سوچونو او اندېښنو ټالۍ وهلې، د کوټې دیوال ته یې ډېره وهلې وه چې دا وخت مور او کوچنۍ خور لوښې راوړل او پلار سره د شپې ډوډۍ ته کیناستل. صادق د عبدالوکیل لیک په اندېښنې سره خوندي ځای کېښود چې کوم مجاهد یې ورسره ونه ویني. د لوښو او ډوډۍ خوا کې ایښي الکین تته رڼا کوله. وروسته تر ډوډۍ حاجی صاحب خپله راډیو راواخیسته او بی. بی. سی. یې پکې لټوله. حاجی صاحب به هره شپه د ماخُستن له لمانځه مخکې بی بی سی راډیو اوریدله. صادق ته هیله پیدا شوې وه که چیرې د حکومت

دسولې او روغې پروګرام کامياب شي، بېرته به ښار ته ولاړ شي موسسه کې به کار کوي. حاجی صاحب هم هيله لرله ګونډې که پاچا بېرته راشي، خو په دې شپه راډيو د دوی دواړو تمه وشلوله؛ راډيو ويل: د کابل حکومت غواړي د ملی روغې جوړې ترنوم لاندې دخپلې ماتې لپاره يوه د اوړو پزه جوړه کړي، مجاهدينو اعلان وکړ چې موږ به په زور کابل فتح کوو. موږ زرګونه روسی عسکر ووژل او لسګونه زره مو ټيپان او ډېرمو ژوندي ونيول، شوروی سورپوځ مو مات او وشاړه، پاتې شوني خو يې ډېر آسانه ماتولای شو. دوی سره سوله د جهاد بدنامی ده...

دې پسې راډيو د مجاهدينو د يو قوماندان مرکه راواخيسته:

... يږ زده- زونګه له تلک ځخه ځان ويوست. د مظلومو افغانانو دُعا د الله پاک دربار ته منظوره شوه، ګروموف له غوسي په ډک زړه له حيرتان بندره واوښت، اوس د شوروی عسکر په خپلومشرانو په غوسه دي. هغه سور پوځ چې نړی ورځخه وېره لرله، دلته په ګونډو شو. مجاهدين به کابل فتح او اسلامي نظام به جوړ کړي.

حاجي صاحب چې د قومندانانو دا خبرې اورېدې، د پخواني پاچا د راتګ تمه يې له منځه تله. د تنظيمونو مشرانو د پاچا راتګ نه مانه. حاجی صاحب ته د روسانو وتل لويه خوشحالي وه، خو د پاچا نه راتګ ورته لوی خپګان و.

بی بی سی به د هرې هغې سيمې خبرونه او مرکې خپرولې چې روسان ورځخه وتلي وو، دسيمې خلک به خوشحاله وو. هره شپه به داغږ واورېدل شو: دا لندن دی! ورپسې به خامخا د يو رهبر مرکه وه. "ليزدوسيت" او "م. جليل" د سختو جګړو راپوړونه چمتو کول. په دغه شپه چې صادق ته د وکيل ليک را رسېدلی و، "ګوهرالرحمن" په دې لنډه خبره د حاجی صاحب تمه بيخي وشلوله چې ويې ويل:

... خدای خبر که دا سندا په خیر وختی شي. په دې وروستیو کې اکوام متحده د اسلام اباد ماشالایی ملامتوي او پاچا خو هسې هم مښوکه وزرلاندې منډلي، غلی دی...
حاجی صاحب په دې خبره ډېر خپه شو، خو ورپسې یې د یو قوماندان دا خبره واورېدله:
... د راتلونکی کوچني اختر لمونځ به مجاهدین پُلخشتي جومات کې کوي...
په دې خبره باندې حاجی صاحب زښت زیات خوشحاله او مخکنی خپګان یې هېرشو. دا د بی بی سی کمال و چې په یوه سترګه یې ژړل په بله یې خندل. یوځل بیا د ګوهرالرحمن غږ واورېدل شو:
... حاجی کیمپ او جلاله کیمپ کې په اتوار او بیا په زیارت ورځ اته کسان مهاجر د خوارځواکی او پشه کال د تبي اوسختي ګرمی له وجی هلاک دي. سره له دې چې له اکوام متحده په تېر جون کې اته کروړه او ټول کال کې پینځه اُربه لازیات پیسې ورغلی، خو کیمپونو کې د مهاجرو ورځ بده دا...
حاجی صاحب بیا خپه او اندېښنه کې شو، راډیو یې بنده کړه او د ماخوستن د لمانځه په نیت پاڅېد.

## (١٩)

په هغه سبا مازیګر د میاګل اکا د کلا مخې ته پرله پسې ډزې وشوې. خلک و ویرېدل، ټول ښک- برګ شول. ځینو انګېرله چې قوا راغله، ځینو فکر کاو چې د مجاهدینو دوه ګروپونه بیا یوبل ته اړم شوي دي، ځینو انګېرله چې د چا کور کې به زوی شوی وي! ښو تنه کلیوال په ډېر احتیاط د ډزو د غږ خواته ورغلل، که ګوري چې د میاګل اکا د کور مخې ته یوه د اتو- نهو کسانو ډله ولاړه ده، درې

تنو سره يې ماشيندار وو، څو تنو نورو مولونه وهلي وو، نور يې نه پېژندل کېدل. دوی خوشحاله ښکارېدل، خو لږ هاخوا میاګل اکا دخپل خړکي کور د ټیټکي سپیره دیوال خوا ته ناست، لونګۍ يې ول ول په زمکه پرته، خو خولۍ يې په سروه، سترګي يې اوښلني او سرې ښکاریدې. خلک وړاندې ورغلل میاګل بیا راپاڅېد د یو تن وسله وال پښنو ته ور ټیټ شو:

- مه کوئ، مه مې بې عزته کوئ، د خدای لیاز وکئ. مه مې شرموئ لږ پښتو او مسلماني.

دا وخت یوتن وسله وال د څټ له خوا له واسکټ ونیوپورته يې کړ، ښه پوره ټکان يې ورکړ، په غوسه او پټکي يې ورته وويل:

- اکا مبارک دې شه !

خو هغه بیا عذرو او زارۍ شروع کړې.

له زاريو سره یوځای د میادګل اکا اوږې او پښې رېږدېدې چې بل وسله وال شا ته ټیله کړ:

- ورځه په کور دې ننوځه! خو میاګل بیا پر زمکه کیناست او خاورې يې په سر باد کړی: وا مسلمانو تبا شوم.

د ډلې بل تن چې خړ پکول يې په سر و، ورته وويل: مرګ دې راغلی، پاڅه قلم د ازل په ورځ وهل شوی، ماوتا څه نشو کولای. لور دې د قوماندان صاحب شوه. مورږ به ژر واده ته تیار شو.

د میاګل اکا له زړه لمبه پورته شوه، غوښتل يې څه ووايي، خو سلګیو ونیو. له شرمه يې کلیوالو ته نه کتل.

میاګل اکا یو خوار کلیوال و. ټول ژوند يې دوه جریبه زمکه او یو ټیټکی دختو سپیره کورچي دوه کوټې يې لرلې، یوه غوا او دوه وزې وې. زوی يې نه و، ایک یوه لوريې وه چې فاطمه نومېده، په کلي کې په پاتخمۍ مشهوره وه، خو مور او پلاربه له نازه (پاتو) ورته غږ کاو. د پاتخمي د ښایست کیسې هرځای کېدې. هغه نوې د پیغلتوب عُمر ته رسېدلې وه. پلار له کورڅخه د وتلو او ګودر ته له تګ، بام

ته له ختلو او کورکې په لوړ غږ له خبرو کولو او خندلو منع کړې وه. پاتو ته د کور دننه ټول کارونه ورپه غاړه وو. د مور او پلار لاس وربانديې سپک او دواړو ته زښته زياته ګرانه وه. کليوال د مياګل اکا له بدې ورځې او د وسله والو له خوښئ وپوهېدل چې دغو کسانو د ټوپکو په ډزو پاتخمئ په خپل نوم کړه.

کليوالو دا ډله پخوا هم ليدلې وه. دوى به ډېر ځله په ولسوالي باندې له عملياتو مخکې او وروسته د دې کلي په جومات کې شپې تېرولې او د ورځې به په کوم بل لوري تلل. خلکو ويل چې يو- دوه ځله يې د شاغاسي کلا له مجاهدينو سره ښه ډزولي وو. کليوالو د شاغاسي کلا مجاهدينو ته درناوى کاو، هغوى په چارکار نه درلود، ځو ځله يې په ولسوالئ عمليات کړي وو، خوچاته يې زيان نه و رسولې. صادق او حاجى صاحب ته د شاغاسي کلا مجاهدين د پيرصاحب او اعليحضرت مُخلص خلک ښکارېدل. هغوى پټ نه ګرځېدل، جوماتو کې يې شپې نه تېرولې او مولونه يې نه تړل. خو دغه ډله دشپې جوماتو ته ځي، په خلکو چرګ او ښوروا حواله کوي او سترګې يې دخلکو ناموس او مال ته نيولې دي. صادق ته شک پيدا شو چې کلي ته د دوى د راتګ په اول ماښام همدا ډله راغلې وه او په ده باندې يې پاکولته يى او شپاړسم پاس نوم ايښى و. د مشر تروريزي دې کور ودان وي چې رټ او کلک ځواب يې ورکړى و او په ځټ يې د ملک ستانکزي د کلا له مخې ځغلولي وو. خلکو دا هم ويل چې دا ډله د شغاسي کلا له مجاهدينو پټه ګرځي. په هغه ورځ چې د شاغاسي کلا ټول کورونه مهاجر شول، دوى ورغلي وو هر تش کوريې ځوځلي پلټلى و.

وطن کې داسې کيسې ډېرې وې. له هرې سيمې رازراز خبرونه راتلل. دشپې د شپې به راډيوګانو له خلکو لار ورکه کړه. هر کلي، هر ښار او هر ولايت خپلې کيسې او پيښې لرلې. کليوالو ته تر ټولو لوى غم د (قوې) راتګ و. کله به چې (قوه) په کليو راغله، وچ او

لامده يې ګډ سيځل. ټانکونو به پولې، لښتي او کروندې ويجاړې او کولبه کولبه کړې. کله چې په ړومبي ځل قوا راښکاره شي، لومړی له لرې څخه کلی په توپونو او ماشيندارو ولي، ښيښې، کړکۍ او دروازې ماتې شي، چې شاوخوا څاوري ووينې نه غوا ګوري، نه خر نه غويی، ټول له يوه سره ولي. بيا په کورونو ننوځي کليوالو ته ګواښونه کوي صندوقونه ماتوي، کندوان، تنور، غوجل، کادان او ټول ځايونه لټوي، کور ګډوډ کړي. تراوسه درې ځله قوه راغلې ده، خو دغه د اتو- نهو کسانو ډله هره اونۍ دوه- درې شپې دې کلي ته راځي. کلی د ژرندې د دوو تيږو ترمنځ اوړه دی. دا مول لړونکی ډوډۍ له کورو غواړي او دا دی نن يې د مياګل اکا کور په غم کېناو.

د ډلي مشر اوږدې څنې او ګڼه ږيره لري، خلک وايي وهابي دی. کور يې هريپورکمپ کې دی، هلته ښځه او بچيان لري. له تېر يو کال راهيسې جهاد ته راځي، په هر کلي چې ورپېښ شي، هلته يې په جومات کې شپې تيروي، خواړه له کورونو غواړي. د خپل ګروپ غړي يې په تمه کړي دي چې نن يا سبا ولسوالۍ وهي او ولجه او غنيمت به يې په دوی باندې وويشي او د مُلحدينو ښځې او لورګانې به ورته وينځې کړي،خو تر اوسه لا بريالی شوی نه دی.

يو کليوال د مياګل اکا لنګوټی را ټول کړ، مياګل اکا ته يې ورکړ چې بيرته يې وتړي، خو هغه مازې تخرګ لاندې کړ. کليوالو ډلې او د ډلي مشرته کتل چې يو ځل بيا د مياګل اکا سلګۍ واورېدل شوې. مخ يې له شرمه له کليوالو پټ کړی و، يوځل بيا د څنور پښو ته ورټيټ شو:

- لورمې وړه ده، بل اولاد نه لرم...

خو د ډلي قوماندان په پښه ديکه کړ. د ګروپ بل غړي په بيړه راوړاندې شو، مياګل اکا يې له څنګلي ونيو، را پورته يې کړ:

اجل خو به دې نه وي راغلی؟ ګوره دا ديرش مرمۍ لري! له دې سره يې ماشيندار ورته وښوراو. دډلې بل غړي ورته وويل:

- سبا نُقل ويشو، خبره خلاصه ده!

همدا يې وروستۍ خبره وه او روان شول له کلي ووتل. د کليوالو په وس څه نه و پوره. سره له دې چې لوړ مازيګر و، خو په آسمان کې ګڼې تورې وريځې کلی د ماښام په شان تياره کړی و. کليوال د مازيګر د لمانځه په نيت د جومات په لوري روان شول، هريوه سر کښته اچولی و، ټول خواشيني وو، لکه د هر يوه په کور او عزت چې تيری شوی وي. مياګل اکا له شرمه جومات ته رانغی. دا په ژوند کې د ده لومړۍ ورځ وه چې جومات کې نه و. وروسته تر لمانځه سيداګل نورو ته مخ واړاو:

- ګورئ سپيتانه نه منو. د شاغاسي کلا مُجاهدين به چېرې کوم مرکز لري، ورځو چې وموګټي. هغوی ستانه خلک وو، هسې موږ نه وو پيژندلي، د رانه خلک وو.

مشر ترورزي غږ کړ:

هغوی سرداران وو، د آلازرت خلک دي. ګورئ ټوله هستي يې پرېښوده، نوي اباد کړي کورونه،آسونه ولاړپسلونه، نوی په ثمر رسېدلی باغ او يو پاده مال يې د جهاد لپاره داو کړ، لاړل. شورويانو سره په نره ډغرې وهي. د چا يو مړی ډوډي، خور- لور ته يې سترګې نه دي. وطن او خاوره يې ناموس وباله. ګورئ به يې سر ورځخه قربانوي. که دا د نن مازيګرد پېښې پيغور راپاتې شو، ولاچې شوروی به نه وي او تبنتېدلی به وي، خودا د نن د پېښې دپيغور له امله به مو لمسيان او کړوسيان کوزګوري وي.

يو بل کليوال له لومړي صف څخه مخ ورته راواړاو:

- شيخ پريده، پټه خوله دې بهتري ده. وس دې نه رسيږي. وهابيان لکه چې ندي درمالوم؟ شاغاسيانو د همدوی له لاسه کلی اووطن پرېښود. شاغاسيانو روسانو سره په نره مخامخ جګړه کوله،

خو دي ډلي به له شا په شاغاسیانوګوزار کاو. دا ډله هم مُلحدینو سره لار لري او هم یې د مجاهد په نوم درز او غپ جوړ کړی. اوس کار له کاره تېر شو.

هر سړی یوه خبره کوله:

- ډزي وشوي آوازه خوره شوه،
- میاګل ته بې پتي واوښته، لاس مو تیږي لاندې شو،
- خامه خوله ماشومه نجلۍ سره تنور ته ولوېده!
- ګورو به چي څه کیږی ؟!
- میاګل خوار یې بې کسه ولید، تو لانت دې په دې جهات شه ....!

جومات کې خبرې ډېرې شوې. هرچا یو څه ویل. هریو له بل سره په خبرو شو. یوبل سره خبرو ټول جومات ونیو، تیاره زیاته شوه. کلیوال یو یو راووتل. بهر توره تیاره وه، د میاګل اکا په کور ماتم و. لکه چې پاتخمی دغم په ورځ پیدا او ژوند یې نور هم غمونو ور زهر کړ. دهغې مور دا وخت د انګر په مخ خاورې په سربادولې او کورنځی یې کولې:

لور مې په بن نه ورکوم. هغه لا ډېره وړوکې ده، لورمې یوه کټره ده... واخدایه د زړه ټوټه مې نه پرېږدم چې لوټېره ګان یې راڅخه له تورو غرو واړوي...

دهغې ژړا او فریادونو د آسمان زړه نرۍ کړ څاڅکې څاڅکې باران پیل شو.

فاطمې کوټه کې په سروسترګو ژړل، هغې له خدایه د مرګ هیله کوله. د مور او پلار په وس هیڅ هم نه و پوره، هغې خپل ارمانونه دخپل ګوګل هدېره کې خښول، کوټه ورته قبر شوه.

فاطمې سم له ماښامه سر په بالښت کېښود او د خپل زړه درد یې له بالښت سره شریک کړ، نیم بالښت یې له اوښکو لوند و. د هغې

عرض او داد دکوټي سپيره ديوال، بالښت او د ټيکري پيڅکه وه، نه يې غوښتل د خپلي مور اوښکي هم ووينی.
د تېرو شپږو کلونو جنګونو جنت وطن دوزخ او هر کوريې په وير اخته کړ. بوډاګانو او سپين سرو په پټه خوله ډېر غمونه وزغمل، ځوانانو سر په وطن کېښود او پيغلي خپلو آرمانو سره اورته ولوېدې، کلي کنډر، باغونه شاړ او کروندې سپېرې شوې.

## (۲۰)

دمياګل اکا په کور باندې ماتم د ټول کلي ماتم او د هر کور سرکوزي وه. دکلي ځيني کورونه مهاجرشوي وو، د ماشينداړو د ډزو له امله د کلاوو ديوالونه سوري سوري ښکارېدل، خو بيا هم د ژوند ارابه ګرځېده، لاره ورکه او له پيښي تېښته نه وه. کوچنی اختر هم تېر شو. نه چا هګۍ وويشولي او نه د ماشومانو لمنې چا له نينو، دجوارو پولۍ او پتاسو ور ډکي کړې او نه تودې تودې اخترمبارکی ګاني وې. چا نوي جامي نه لرلي، خو طبيعت يوڅه مهربانه و، غنم پاخه او لو شوي وو. درمندونه واخيستل شول او کندوان ډک شول. توت هم پاخه وو. چرګانو به هر سهار په آذانو خلک راويښول او چرګو انګړونو کي کرکرې وهلې. کله به چې سپيره او غم ځپلي کليوال د

سهار له لمانځه کورونو ته ستانه شول، نو خپل يومونه او لرونه به يې واخيستل او د پټيو خواته به تلل. هرچا د خپلو اوبو وار ته کتل او وترې کېدې. د جوارو د کښت وخت و، غويان د پټيو په کولبه کولو ستړي وو. خو له دې وړوکي کلي بهر، په نړۍ کې سياسي سيالۍ روانې وې. مائوييزم يو خوا، ستالينيزم يې بل خوا ډنګوي، وهابيانو مسلمانان له خوړ ګوتې نيولي، جکسونيزم د نبراسکا ډېروژې په پيل کولو سره (دنړۍ نوی نظم ) نغارې غږوي. ليبراليزم د(new global order ) نعرې پيل کړي دي. د ليبرال ديموکراسي زړي زرغون شول او د پرولتري انترناسيوناليزم کنګل د(ګلاز نوز) او (پروستاريکا) په تودوخه ويلې شو. لويه لوبه( G.G) لکه د افعی مار په شان بيا پوستکی بدلوي. د دې ټولو لمبې او تاو د پاتخمۍ د کلی په شان له کوچنيو او سپېرو کورونو پورته کيږي. څومره چې سره جګړه زور اخلي او لويه لوبه توديږي، هومره دلته کلي کنډواله، کروندې شاړې او د ويالو ورخونه او دپټيو پولې د ټانګونو په چاينونو ويجاړيږي. ښارونه په ميزاييلو ريزمريز شول، ښوونځي د اور خوراک شول. په کليو کې له هرو لسو کورونو دوه يا درې پاتې دي. داسې ښکاري چې د جوارو د فصل په رسېدو سره به ډېر نور کورونه هم کډه بار کړي.

وړوکي کلي ته لنډ، لړ بر د ملک ستانکزي کلا ده. د کلي او کلا ترمنځ ګڼې ونې دي، ورسره يوه د توتو باغچه ده چې ملک ستانکزي د ټول کلي لپاره پريښې، خلکو ورباندې "خيراتی باغچه" نوم ايښی. نن سهار حاجي صاحب ته له وطنه د وتلو چُرت ورلوېدلی دی. هغه ته د (آلاازرت) دوران او د ملک ستانکزي د پرتميني کلا د برم وختونه رياديږي، د صادق او لورکی اندېښنه کې ډوب دی. پيسې ورسره شته، که له وطنه ووځي، ګوندي ګوزران يې ورباندې وشي. بغلاني له ښار څخه د کور کرايه هم راليږلې ده...

آخر يې ځان سره پرېکړه وکړه چې له هغو کراکښانو سره خبرې وکړي چې دمهاجرت په نیامت د مهاجر کېدونکوخلکو کډې لیږدوي. ده اورېدلي و چې د پېښور برید پورې د یوه خره کرایه درې- درې نیم زره افغانۍ او د کچرې کرایه پنځه زره ده. کډې او سامان، اجانې او خپله حاجی صاحب په درې خرو رسېدلای شي. صادق به ورسره په پښو مزل کوي، لورکۍ به کله په پښو او کله مور کله پلار سره په خره باندې مزل کوي. له نور تېک- پوک سره به برابر دولس زره افغانۍ ولګیږي. د حاجی صاحب په حساب همدا اوس د کندوخاني تیاره ګوټ کې اېښودل شوي وسپنیز بکس کې شاوخوا همدومره پیسې شته، خو د سفر د موچڼو تر پښو کولو مخکې باید له کلي پورته د غونډیو په اړخ کې له دوه کوره کوچیانو څخه د لارې پوښتنه وشي او تول کنډوونه او ګودرونه ښه په ښه شي. هغوی سره به سلا او مشوره هم وکړي.
حاجی صاحب سهار وخته چې لا کوچیانو رمه څړ ځای ته نه وه روانه کړې، د کیږدیو خواته ورغی. دحاجی صاحب په یاد و چې ډېر کلونه پخوا به کلي ته نږدې، د دغو غونډیو لمنو کې د کوچیانو لسګونه کیږدۍ پلنې وې او د وریو او سپرلیو بغ وبوغ به کلی خوځاو، خو اوس ایله درې کوره چې ژوندۍ شتمني يې تر ناژوندۍ او ناژوندۍ يې تر ژوندۍ کمه ده، دلته هسې د بیوزلی شپې- ورځې سبا کوي. کیږدیو ته لا ورنږدې شوی نه و، چې یو خړ غټ سپي راودانګل. دسپي لکۍ او غوږونه غوڅ او بد خوږوري و. سپي په غوسه او ګواښ د حاجی صاحب خواته را منډې کړې او غیږد، چې دا وخت کوچی د کیږدۍ له اړخه وربانډې غږونه وکړل:
کوری، کوری ! تا په ...
بیا يې په بیړه ځان تر حاجی صاحب پورې را ورساو، پوښتنه يې ورڅخه وکړه:

- ځوک يې چې په دې خړه را روان يې اوس به تړانګې وړانګې پروت وي، تاسي ديشينو مرداره کړه.

حاجی صاحب ته خندا ورغله، ځان سره يې وويل:
توبه يا پاکه ربه، روسان له يوې خوا، تنظيمونه له بلې خوا او دا خدای خوار کړی کوچی له بلې خوا؛ ټول راباندې غوسه دي!
لږ پښه نيولی شو ويې خندل. دا وخت کوچی له يوه ډانګ سره را ورسېد. حاجی صاحب ورته کړه:
- ريښتيا وايې، ټول په غضب اخته او له ټولو واړپار خطا دی، ورکوه يې راځه چې لږ خبرې وکړو.
کيږدۍ ته په ورنږدې کېدو هيبتناک سپی يوځل بيا په غوسه وغورېد،خو کوچي بيا ورباندې غږکړ:
- کورې! خوله کې دې...

د سپی نيت حاجی صاحب ته ښه نه و، خو د خپل خاوند په لحاظ غلی شو. دوی دواړه په خبرو شول. حاجی صاحب پوه شو چې کوچي سره ډېر احتياط په کار دی، له خولې ډېر وران دی چې څه يې په ژبه راځي صرفه نه کوي. دا وخت رڼا خپره شوې وه او ميږو څرځای ته بيړه لرله. کوچی او حاجی صاحب د کيږدۍ له مراندو لږ هاخوا له شګو ځخه جوړه شوې چوتره باندې کيناستل. حاجی صاحب ورځخه وپوښتل:
پيښور يا ميرامشا او دې نورو سيمو ته د اووښتو لارې به راوښيې؟
-ولی نه، لکه چې کلی پريږدې؟
هو ولا څه وکو، داسور کوپر نه ګورې؟ دتلو لار راوښيه.
-ښاا نو، دا د اندړو خره والا به دې کډه درسره بار کړي، دلته د وردګو او ميدان خلک او کابليان ټول داسې له اوبازک اوړي بيا په ګومران او آبپران تيريږي او هيسته د دښتک له اړخه ازرې ته وځی.
ډېر نورخلک بر، ښه بااار، هلته پورته د خوست دتورو اوبو له

لاري ځي، توري اوبه دي ليدلی؟ بله لار په پيواړ اووښتي، هغه ډيره لرې ده. د کم شينکي لار دې ليدلی؟

نه ولاکه په هغو خواوو کله هم تللی يم.

-ښاا نو تاسې لکه جايبند پسونه !

حاجی صاحب لږ وخندل. اوس نو کوچي ته اړ و، چاره نه وه. دا پېغوريې لکه د زهرو ګوټ تېر کړ. کوچی له ګونډو په پلتيو شو، ډانګ يې خواته وغځاو:

-ښاا نو، که هسې ځي له ژورې اوميرانشا به اوړی. په هغه لاره يابوګان د مهاجرو کډې اړوي.

دا وخت کوچی مېرمنې په توره تبۍ پوخ کړی جواری او په لرګين ښانک کې تودې شيدې راوړی، د دوی مخې ته يې کېښودې.

- که په پکتيا او پاړه چنار اوړې بيا هنګو ته ځې هم لاره شته، که داسې په سپينه شګه ځې، خو لاره کې مينونه دي، خدای دې مه پې برابروه د سری پرخچې الوزوي. د ازرې لاره آسانه ده، خو د ورځې جوړه جوړه برګی سات په سات دوري وربانديې وهي. دا برګی دسپي لور د ملخ په شان سترګې لري، وربوز بانديې يې اوږد تور نېښ لري، په دې نيښ بانديې څوس وهي، لکۍ پورته او سر يې مخ مځکې ته وي، ګرهاری يې وي. بنيادم، مېږه، کډه، اوښ خو څه کوی او هر شی وينې، لا خزنده يې چې وليده په بم يې ولي، دوړې پورته شي مځکه شين اور واخلي، دا تيږې او غټ کمرونه ريزمريز کړي. خدای دې نه دربانديې برابروي. که د مجاهدو کومه ښه ډله وه څه مرسته به درسره وکړي، خو که کوم خونکار بدورږي د سپی بچی کوميدان يې و، نو خدای دې ترې ساته. دشپې بيا دا لانتي بنګۍ دي، هغه نو بيا په خووم آسمان کې تيريږي، بنګاا يې وي. په توره شپه کې درز شي، يو بم واچوي په مځکه لسګونه بمونه ترې جوړ شي، نيم غر ښورروي. ورکوه يې ډېر کوچيان يې له رمو او اوښانو سره او ډېر ماجر يې له کډو او يابوګانو سره ريزمريز، غرک او تبا

کړل. په ویشتل شوی ځای کې بیا نه مړی او نه ژوندی موندل کیږي، یا به دې پښو لاندې مین ګړز وهي، ورکیکه خوله یې...
دحاجی صاحب اوقات تریخ شو، کوچي د لارې ښودل پریښي و، د قیامت ورځ یې بیانوله. دا وخت یې د حاجی صاحب د چرتونو لړۍ ورروشلوله:

- وخوره، څه رنې رنې ورته ګورې. غنمینه نه لرو، تاسې دیشین په جواري کبر کوئ. زموږ په وس همدا ده تر تا کوربان.

حاجی صاحب ورته مازې وخندل او د جوارې کپ یې خولې ته کړ.
کوچي شیدو کې جواری ووړ کړی و او په موتې یې غټې غټې مړی ورڅخه اخیستې، شخوند وهلو سره یې وویل:

- له څڅوبي کندو څخه واوړئ. آسانه ده. ګوره؛ له ازرې کوهاټ، درې ادمخېل، باړې او هرځای ته تلای شئ، له څڅوبي پېښور ته لنډه لار ده، خو د پکتیا لاره یوشواخون دی. برګی نه وربانديې ګرځي، پوستې هم نشته، خو له سیدخیل،آلماری، مته چینې، واخی او بیا چارلی به دې نپس ووځي...

کوچي له ګوتو د ژېړجواري توتې او په ګوتو یې رابهېدلې شیدې وڅټلې، حاجی صاحب ته یې وویل:
وخوره !
حاجی صاحب د کیږدی له پیڅوړ د کوچي ماشومان لیدل چې را ولتېدل او هغې بلې کیږدۍ څخه رمه څړ ته په روانېدو وه، نو را پاڅېد، خدای پاماني یې وکړه. ورسره سم خړ غټ سپي بیا ورته برګ شو، وغورید، کوچي ډانګ ورته پورته کړ:
کورې تاپه پوچو غوږو یې...
حاجی صاحب له سپي څخه په اندېښنه شاشا ته په کتو بېرته د کور په خوا راغی، خو کله یې چې ولیدل چې کوچی رمه د څړ په خوا

روانوي او سپي يې هم لرې کيږي، نو ډاډه شو. ترڅو کورته راورسېږ د سهارني نوي راختلي لمر وړانګې په ديوالو پريوتې.

# (۲۱)

په ناصرباغ کمپ کې مهاجرو ښکته- پورته منډې وهلې. دوه سپين ډاتسن او يولنډروور چې د ملګرو ملتونو بيرغونه يې د مخې په پمپر رپېدل، را ورسېدل. ورپسې دربو لويو "هينو" لاريو کې غوړي او دال وو چې نويو راغلو مهاجرو ته يې وېشل. دغو ورځو کې مهاجرو له کمانډرۍ څخه راشن پاسونه اخيستل او سپينې خيمې يې لګولې. يونيم کور چې مخکې راغلی و، يوه نيمه د ختو کوټه يا کوچنۍ کچه حويلۍ او کورګي جوړ کړي وو چې ټيټ ټيټ ديوالونه يې لرل. يو مهاجر لا دوه ابليټيس نيالګي هم کېنولي وو.
داسې ښکارېده چې کمپ نور هم پراخيږي او نوي خلک را روان دي. د نويو راغليو مهاجرو په پرتله د پخوانيو (قدراواعتبار) زيات و. نويو راغليو ته يې (سکربيست) ويل. تر ډېره پورې نوي مهاجر نه پوهېدل چې دوی ته ولې د پېغور او سپکاوي په توګه سکربيست وايي؟
د ناصرباغ کمپ لويديځ ته له لويې دښتې د ګرمي له زوره تپ خوت، د کمپ بلې خواته د اوبو لويه ويالہ وه. د مهاجرو ماشومانو ګرمي له زوره له جامو سره ځانونه يکې اچول او لمبل يې. ښځينه او کوچني ماشومان سپينو خيمولاندې د ګرمي له زوره ناطاقته وو.
لږ چې د لمر سره تبۍ د آسمان له نيمايي واووښته او د غرونو څوکو ته نږدې شوه، حاجی صاحب څوتنه راټول کړل او خبرې يې ورته کولې:

- ورونو کمپ ورځ په ورځ لوی او پراخ شو. پخوانی جومات له موږ څخه لرې او کو چنی دی، راځئ يو بل جومات جوړ کړو،

پروا نه کوي لومړیو ورځوکې به یواځې یوه چوتره وي، یو محراب به ورته جوړ کړم، تاسې له کورڅخه یویو د کار زلمی راستوئ خښتې، لرګي اوسمنټ زه برابروم، مازې کار به ځوانان راسره کوي. وروسته چې چت پټ شو کړکۍ هم ورته کینوم.
د کمپ مهاجرو په خوشحالۍ ومنله. کله چې روان شول، د هر یوه ځادر شکیدلی، څپلۍ زړې او رنګونه یې د ګرمی له زوره تور اووښتي وو. صادق څخه لاړ ورکه وه. هغه د عزت ژوند دلته نه و. حاجي صاحب سره پیسې وې، خو د نورو مهاجرو ژوند ډېر خراب و. اونۍ کې یو پیپ (ډالډا) غوړي، یوه اندازه دال. کله هم یو نیم شتمن خیرات راوړي او په خلکو باندې پخه ډوډۍ وویشي. هغو خلکو چې وطن کې یې سرلوړی ژوند درلود او هیڅاته یې لاس نه و نیولی، اوس دلته یو پیپ ډالډا غوړیو او پنځه کیلو دال ته په تمه دي. دشپې له خوا د میاشو له لاسه خوب نه کیږي، سم له ماښامه له هرې خوا لړمان او غونډلان راخوشی وي، په هره خوا ځغلي. د سهار له رڼا سره سم؛ ځینې مهاجر( بورد) ته روان وي چې کوم کار او غریبي وکړي، ځینی کمشنرۍ ته ځي چې ریشن کارت نوی کړي، نوربیا د وطن یادونه تازه کوي او یوبل ته ډاډ ورکوي. د یو نیم کور ځوان زوی چې جهاد ته تللی، ورته په تمه دي چې کورته راشي. ماشومان پښې ابله خاورو او دوړو کې هاخوا دیخوا منډې وهي، خو صادق نه لړمانو،میاشو او ګرمي ته خپه دی او نه د مهاجرو خیموته. هغه دې ته خپه دی چې خدای خبر که دغو ماشومانو کې بل میرویس او احمد شاه درانی یا پروفیسور او یا بله پلوشه او ملاله وروزل شي. دوی به په خیرات لوی او په خیرات اموخته وي، تعلیم، ښوونځی، د وطن تاریخ او پرتم، عزت او کرامت به نه پیژني او دا ټول به ورته بی مانا شیان وي.
نن سهار چې لمر یو څپک را هسک شو، صادق د هغه لوی میداني خواته ورغی چې د( UNHCR) دوه لویې خیمې هلته درول شوې

وي. لړ هاخوا د سره صليب دنړيوالي کميټي خيمه وه. د دواړو ترمخې مهاجر کتار ولاړ وو. لړ شېبه وروسته دري سپين ډاټسن موټر راغلل، له هر يو څخه دوه يا دري تنه راکوز شول. له دغه دوېم موټر څخه د يو زلمي مامور سترګې په صادق ولګېدې. هغه توري چشمې په سترګو کړې وې، پاکې جامې او په شامپومينځل شوي ځلنده وېښتان يې وو، صادق ته هم اشنا او خوږ غوندې ښکاره شو. دا تورې چشمې والا ځوان مخکې تر دې چې د مهاجرو د کمپ دفتر ته ننوځي، ښه نيولی شو،چشمې يې له سترګو لرې کړې د صادق خواته راغی. صادق سمدستي وپېژاند؛ وړاندې ورغی، هغه رحيم بيګ و. دواړو يو بل سره کلک روغبړ وکړ. صادق ته ورياد شول کله چې دی د پوهنتون لومړي ټولګي کې و، رحيم بيګ درېيم کې و. په دې حساب سره رحيم بيګ دري کاله له صادق څخه مخکې له پوهنتون وتلی و. کله چې بيګ څلورم ټولګي ته رسېدلی و، د دوی درسي ټولګي خوا په خوا او يوبل به يې د پوهنځی دهليز کې ليدل. دا دی اوس له هغه راهيسې اووه- اته کاله تېرېږي.

رحيم بيګ د سمنګان د ايبک و، خو له هغې ورځې چې له پوهنتون څخه فارغ شوی و، بيا همدا نن پورې صادق چيرې نه و ليدلی، نو خکه يې ښه تود روغبړ ورسره وکړ. بيګ صادق ځان سره لاس نيولی د ناصرباغ د مهاجرو د کمپ دفتر ته بوت. د دفتر مامورينو هر يوه آنتن لرونکي تيلفونونه لرل. دا تيلفونونه وروسته بيا نور هم پرمخ ولاړل او خلکو ورته (ستلايت تيلفون)وايه، خومبايل لا چا نه پېژاند. د کمپ عامو مهاجرود سره صليب او کمشنري د مامورينو دغو تيلفونو ته (مخابره) ويله. کله به چې رسمي وخت شو او د دفتر د کار وخت به شو، دغو مامورينو به ځانګړي کارتونه غاړه کې واچول دفتري کارونه به يې پيل کړل. مهاجرو ته دغه مامورين د نړۍ پرمخ ترټولو نيکمرغه بشريت ښکارېد. دغو مامورينو ته مهاجرو په بېلابيلو نومونو غږ کاو:

- کمیسارصاحب
-کمانډرصاحب
-افسرصاحب
-مامورصاحب
درې لومړۍ ډلې هغه کلیوال مهاجر و چې د مهاجرت چاپېریال کی یې ډېر وخت تېر کړی و، خو وروسیتو مهاجرو چې زیاتره د افغانستان له ښارونو راغلي او (سکربیستیان) وو، دغه وروستې نوم غوره باله. د دوی پېښوري ډریورانو به بیا کله یواځې (جی صیب) او کله منجر او ځینو به ورته ډیپتي افسرصیب ویل(!) مهاجر به ډریورانو ته حیران وو، چې څومره خبرې یې زده دي، آن یوه نیمه انګلیسي ورسره ګډه وي!
د ملګروملتونو د بېلابېلو سازمانو افغان کار کوونکي هغه تعلیم لرونکي افغانان وو چې افغانستان کې د نوي حکومت په راتګ له هېواده وتلي او پېښورته مهاجر شوي، ځینې یې دفترونو کې مقرر او د افغان مهاجرو چارې پرمخ بیایي. پېښوریان ورته ( د اکوام متحده کابلي افسران) وایی. په دې افسرانو کې یو رحیم بیګ و.
کله چې صادق له بیګ سره دفتر ته ننوت، د دفتر هوا په زړه پورې وه، هلته برېښنایی پکی و. د دفتر چت ښه اوچت او هوا پکې چلېده. یو څومیزونه او چوکۍ ایښې وې. سم له کېناستو سره بیګ ملازم ته غږ کړ:

- یوه قهوه زما دوست ته برابر وکه، خا مزیدار !

جی صیب، په منده.
لږ شیبه وروسته د دفتر پېښوري ملازم دوه کاغذی ګیلاسوکې ټینګه توررنګه قهوه راوړه، یو یې دبیګ مخې ته کېښود، بل یې د صادق مخې ته:
خان صیب دا دی.

هلته یې افغان مهاجرو ته خان صیب ویل. صادق ډېر څه نوي لیدل او په عجیبو نویو کیسو باندې خبرشوچې کله یې هم افغانستان کې نه وې اورېدلې. صادق همدا نن د بیګ له کیسو په دې پوه شو چې نویو مهاجروته ځکه سکربیست وایی چې دوی د کابل دحکومت د مخالفینو د دغو نویو او ډیرو ویجاړوونکومیزایلو د ویشتل کیدو له وېرې له وطنه راووتل، که دا زورور میزائیل نه وای، دې مُلحدینو یوه هم هجرت نه کاو. په پخوانیو مهاجرو د سکر بیست نوم ډېر ښه لګېد، خونوي مهاجر ورته حیران وو.
رحیم بیګ پېښور کې پښتو زده کړې وه او د انګلیسی په زده کولو یې هم پیل کړی و. د کمانډری د نورو ټولو مامورینو انګلیسی زده وه. بیګ صادق ته نور معلومات هم ورکول:

- صادق جان، زه قبلاً حاجی کمپ کې مقرروم، دېر سمنګانیان هلته وو، خو زما انګلیش کم زده و هلته یی په انګلیش کې لایق کس وروست، زه دلته تبدیل شوم چې نور مرګلی پوره انګلیش زده لرې. خوژیانی کیمپ د دغه کانال په کنار پورته واقع دی...

صادق چې بیګ ته کتل له اوو- اتو کالو مخکې راهیسې ډېر بدل شوی و. رنګ یې سپین او په تن پیاوړی شوی و. پېښور کې دا وخت یوبل ته (ورور) ویل د ورځې خبره وه، د بیګ هم (رور) ویل عادت اوجامې، بوټان او ډب- ډوپ یې ډېر برابر و، نو صادق ورته د وروستیو پېښو بیان شروع کړ:
سم چې زما وروستۍ آزموینه پای ته ورسېده، زموږ کورنۍ زما د پلار حاجی صاحب په خوښه له ښار څخه کلي ته او بیا له کلي دلته را مهاجره شوه. د ښار کور مو بغلانی کاکاته په کرا ورکړ. موږ څلور کاله په کلي کې تېر کړل. کلي کې مو د پلرونو- نیکونو جایدادونه دي. ژوند مو ډېر ښه او نیکه مو بارسوخه مشر او ملک تېر شوی. کلي کې مو هرڅه لرل، باغ، پټي، مالداري او ډک کندوان، خو هره ورځ به چې د روسانو قوا راغله څوک به یې وویشتل، څوک

به یې ځان سره بیول. ویالې، پولې، پټې تول ویجاړ او شاوخوا کلي تش شول، زموږ د کلي د غونډۍ شاته شاغاسي کلا کې یو کور هم پاتې نشو، زموږ خپل کلي کې یواځې سهارګل اکا، طاهراکا او میاګل ماما پاتې دي. هغوی خواران ډېر نیستمن او بوډاګان دي. زما د پلار مشرتروورزی د جایداد دسرپرستي په خاطر پاتې شو، موږ راغلو په لاره کې موډېر تکلیفونه وګالل، زه پلی را روان وم، پښې مې تراوسه تناکې دي. دشپې به مو مزل کاو، پلار او مور مې زهیر دي، خره مو کرایه کړي وو. یوځه لاره دې خواته په کچرو راغلو، بیا د قبایلی خلکو پیکپ موټرمو کرایه کړ تر جي. ټي. روډ یې راوستلو.
-تناکې سه شی دی؟
آبله، چې پښه ټپي شي.
-وای سومنه سخت سفر! خدای اجر درکي خا،
اغا مې حاجی صاحب چې یوه ورځ به یې له خیره ووینې، بیاهم خوشحاله و چې راورسېدو. نو بیګ وروره شواخون موټېرکړ. رحیم بیګ بیا په زړه سوي ورته وویل:
- خدای اجر درکي خا بیا سینګه وشو؟
کراکښانو په چا رای نه واهه نه یې دچا ستوماني ته کتل، بېدرېغه یې خره ځغلول. موږ په زمکه له ماین او له هوا د الوتکو له بمونو ویرېدو. یو ځای کې د یو ګروپ قوماندان ودرولو. ډېر غوسه ناک سړی و، بیخی بدماش بدرمنیر و، خو حاجی صاحب ورته نصیحت وکړ ورته ویې ویل چې د مجاهدو نوم مه بدوه، نو خدای وساتلو، یو ځای کې زموږ له رارسېدو لږ مخکې بمباري شوې وه. څه پیسې چې راسره وې، ټولې ولاړې. حاجی صاحب خپل مشرتروورزي ته خبر واستاو چې یوڅه نورې پیسې راولیږي. ان شاالله مشر تروورزی به د چا په لاس پیسې راولیږي.
دا وخت بیګ د قهوې پیاله تشه کړې وه، خو صادق مازې څکه کړی وه. صادق چې قهوې ته کتل ځان سره یې سوچ کاو؛ څوک چې د

شيراغا د هټۍ په شيدو عادت وي، دا قهوه به ونه څښي، خو د بيګ په خاطر يې يو دوه غوړپه وڅښله.
له دفتر څخه بهر د مهاجرو شورماشور و. د دفتر نورو مامورينو يا رشن کارتونه ورکول يا يې دمرستې توکي ويشل. د کمشنرۍ د خيمو مخې ته لوی ميداني ته درې نورې لارۍ راورسېدې. له هغو سره يوځای درې ډاټسن موټر هم ودرېدل. يوه شيبه د خاورو دوړې هواته پورته شوې، راټول شوي مهاجر يې له سترګو پنا کړل. دا وخت بيګ پاڅېد او صادق ته يې وويل:

- زه اوس په لست کولو مصروف کيژم. زموږ موټران راورسېد. بيا ضرور حتمی ما اوګوره.

له دې سره سم يې يو وړوکی ادرس کارت صادق ته ورکړ اوورته ويې ويل چې سبا مازيګر سلور بجې په چناررود کې د دوی دفتر ته ورشي.
کارت باندې د ملګرو ملتونو د سازمان لوګو وه، ورلاندې ليکلي وو:
**Rahim Big**
Registeration Manager) Camp (......... :
*Chinar road ,St. 5 :Golden Bulding*
Office ۰٤ :
کارت د کلک کاغذ و، شنه او سپينه برخه يې ځلېده. بل مخ يې سپين او تش و. له کارت څخه دهغه عطر بوې خوت، چې بيګ په جامو وهلي وو.
په هغه سبا صادق د ډېرو ځايو نومونه زده کړي وو: رحمان روډ، ارباب روډ، رينګ روډ، شاهين ټاون، آبدره، جهانګيراباد، چناررود، ګلاجی... په دې هر (روډ) کې يو يا دوه د مهاجرو دفترونه وو. د رحيم بيګ په وينا همدومره دفترونه کوټه، کوهاټ،داسې تر لورلايی، هنګو، ...کې دي. اسلام اباد کې خوبيخی زيات دي او د تنظيمونو دفترونه تر دې هم زيات دي. رحيم بيګ دا هم ورته وويل:

- په دغه کارت زموږ د دفتر ادرس دی، سبا سلور بجې منتظر یوم.

رور، حاجی صاحب د عزت او آبرو شخص دی، کیمپ کې ورته مناسب نه دی. ته هم په انګلیش ترما زیات پوهیږی خارجی ګانو سره دی کارونه کلي دلته دفترونه تاته ضرورت لري دبل معاش ورکوي. اول همدا زموږ دفتر کې راشه. له کمپ داخل د شار ته ورشئ یو کور کرایه وکئ.

## (۲۲)

صادق مازیګر څلور بجې چنار روډ کې د بیک دفتر ډېر اسانه وموند. د ننوتلو وخت کې یو توررنګه پنډ شلم ملازم چې له خلقیانو بدتر غټ غټ بریت یې لرل او خولی یې یو اړخ ته کړه وه، له ده څخه پوښتنه وکړه چې چاسره یې کاردی. ده ورته د رحیم بیګ نوم واخیست او هغه پرونی کارت یې وربښکاره کړ. ملازم کړکی کې ایښي تیلفون کې خبرې وکړې. بیا یې د صادق له اوږو نیولې ترملا، زنګنو او بوټانو پورې لاسونه وتپول او دپښورریانوپه ژبه (تالاشی یې واغېسته). دهغه له تورو ملیشه جامو د هغو بنګړیوالو جټانو بوی خوت چې کابل کې به یې د مرکزي کلنیک خواسره د رنګارنګ بنګړیو توبرې پرانیستې وې او بنګړي به یې خرڅول، خو بویونه به یې ترڅو قدمه وړاندی خواوره وو.
صادق د لومړي ځل لپاره (تلاشی) واورېده او په مانا یې پوه شو. یعنې پلټل. په ټول ژوند کې دا لومړی ځل و چې صادق دا ډول پلټل او لټول لیدل. هرڅه چې و، ویې زغمل او ننوت. د دفتر انګړ بنه شین او ډول ډول ګلان پکې وو. د خبرتیاوو په دړه او ویترینو کې ټولې لیکنې په انګلیسي ژبه وې. د دفتر دیوالو د سرد خاورې په شان ژیړ رنګ درلود. صادق پوه شو چې همدا هغه طلایي(!) بلډنګ

دی چې په کارت ليکلي دي. حيران و، بوی د جټانو او بنګړيوالو، رنګ د سردخاورې يا د(غ...) او نوم طلايي بلډنګ! ترڅو له انګړ څخه د دفتر په کوټه ورننوت، رحيم بيګ راووت. په غيږ يې روغبړ ورسره وکړ او په دفتر کې په يو کوچ کيناستل. هوا توده وه. بيک پوښتنه وکړه:

- رور دفتر دې آسانه پيدا وکل؟

هو له کمپ څخه بورډ ته راغلم، لکه چې نښه دې ويلې وه يوبس کې چې صدر صدر، خيبربازار ناري يې وهلې، کيناستم. له نښې سره سم تمځای کې کوز او دا دی په ټاکلي وخت راورسېدم.

- مخسد سرګردان ونه شوی اوسې!

نه ستونزه نه وه، پېښور تر کابل ډېر لوی نه دی.

- وو ريشتيا وايی، زه چې سمنګان سخه اول دفعه کابل ته راغلی وم اول يو سمستر کې ايله بلد شوم، خو دلته په پشاور کې يو هفته په تول پشاور بلد شوم. موژ چې اول دفعه پشاورته راغلو دومره هم نه و لکه اوس. جم کې هغه بازار ته اوس چې کارخانو وايی يو کم تعداد لس يا دولس دوکان وو، بيا تر اسلاميه کالج يو چيری يو نيم دوکان و خلک په دري تايره بايسکل سپرېدل، کوم يو بس نه و. هغه وخت افغان مهاجر دير لژ و.ورو ورو کال بعد مهاجرت زياد شو، پشاور بيخی بدل شو په يو کال جی. تی. رود پراخ شو، بسونه زيات شو د موسسو دفترونه جول شو، د بانکونو شعبی زياد شو پُستبکس او پُست افيسونه جول دا اخبارونه شروع شو،تول د مهاجر په خاطر او دمهاجر په برکت. په کم وخت پشاور د پاجيرو د هينو موټرونو شارشو. اوس نن سبا د کمپيوتر خبرې کيژي. دا دی د حيات آباد شارجور شو مخکې دشت بيابان و. باغ ناران او خيبرپارک کې کابلی، پنجابی او پشاوري انجلکيان ګدود روان وي. له مهاجرو سره د کمک په خاطرتر ميليون دالر زيات راځي. د فوج هغه زول د انګليس د وخت سرپوش توپک عصری ماشيندار بدل شو. دا خو

لاپرېږده نن سبا اتومی قوت شو. د زياتو مملکتو سفيران د مهاجر کمپونه ګوري او بيشمار ژورناليستان را روان دي...
بيګ عجيبه کيسه شروع کړې وه. دا د صادق لپاره نوي معلومات و.خبروته يې ور ولوېد:
-دا خو د پېښور او پېښوريانو کيسه شوه، د افغان مهاجرو راته وايه.
- صادق رور، زياتر مهاجر دير فقير دي، بعضو ته لا ريشن کارډ هم ندي رسيدلي. د بيچاره مهاجر حق غتو غتو خلقو تلف وکل، مشر پلارونه سور ګرمی کې مريض شوی، ځوان زوی جبهه کې جهاد کوي، بعضی مهاجر د امريکا متحده ايالاتو يا اروپا او استرليا ته لال.
د صادق غوږونه وپرېدل. دسر کوپړی کې يې بنګس شو او فکر يې بهر ملکونو ته ولاړ، خو ژر ورپه ياد شول چې حاجی صاحب له بهر ملکونو کرکه لري. که نه ډېروخته د خپلې موسسې دکار او خارجي تجارت په پاسپورت هر ملک ته تلای شو. حاجی صاحب باندې لا مخکې د چمن، ملتان او پېښور نومونه ښه لګېدل، ډېرو آشنايانو يې د همدې ښارونو تجارت کاو. دوستو خېل کوچيان يې آشنايان وو، هر اوړی به چې راغلل دپېښور او ملتان نکلونه به يې کول، د شيرين جان اغا جبارخېل د کورنۍ جريبونه زمکې سوات کې وې. اوړی به يا کابل يا سوات کې و او ژمی به د ننګرهار سرخرود کې وو. د پل خشتی جومات سره زرلښت مارکيټ او زرداد لوی سرايونه دهغو افغان سوداګرووو چې د پېښور تجارت يې کاو. دا ټول يو هډه، يوه وينه، يوه ژبه او يوه شريکه پانګه وه. حاجی صاحب ته دوستو خېل کوچيانو څو ځله د شراکت او مضاربت خبره کړې وه، هغوی به د کراچۍ، ملتان او پېښور کيسې کولې، خو حاجی صاحب له اغابادار سره په شرکت خوشحاله و.

صادق ژر د بهر ملکونو سودا او خیال له سره لرې کړ، همدې پېښور کې د یو کار په سوچ کې شو، نو بیګ څخه یې د کارسلا- مشوره وغوښته. بیګ ورته ځواب ورکړ:

- رور، تاسې معزز خلک یاست. حاجي صاحب ته د خپل والد صاحب په شان احترام کوم. ماچې پرون کمپ کې ستاسې حال ولید خفه شوم. دعزت خلک یاست. په همدې خاطر مې دفتر ته بلنه درکله. ستا انګلش تر ما دیر شه دی زه دا پنځه کال پشاور کې پشتو زده کلی، خو انګلش پوره زده نشو. په همدې خاطر زه حاجي کمپ نه دلته تبدیل شوم. ته به دلته موږ سره مقرر شې، موږ ضرورت لرو ماته به لږلږ انګلش هم زده وکې. اوس ماخام لند دی سبا پورې به د دفتر د هر نوی نوی جاب لست وګورم تاته شه جاب وګورم اپلای به وکې.

صادق له کړکۍ بهر وکتل هوا تیاره وه تور کارغان د ونو له یو ښاخ بل ته الوتل. ده ته هغه کیسه وریاده شوه چې خلکو به ویل کارغه د ژمی په وارو کې کابل ته راځي او د اوړي ګرمي کې پېښور ته ځي!

له کړکیو روښانه ځراغونه ښکارېدل. ده ته کابل وریاد شو. دا څلور کاله چې دوی له ښار څخه کلي ته راغلي وو، بیا یې بریښنا او د ښار ځراغونه نه وو لیدلي، زړه یې وښویېد، نه پوهېد چې اوس به په وطن څه حال وي. په زړه یې د غمونو ځپه راغله، وطن ګران وي نه هیریږي. دا وخت بیګ پاځېد ځان یې وتلو ته چمتو کړ. دواړه له دفتره ووتل. د دروازې مخې ته ډریور ولاړ و، بیګ صادق ته مخ واړاو:

- زما کور تهکال کې دی، زه هلته کوزیږم، زما موټر به تا تر بورد ورسوي.

دواړه ډاټسن موټر ته پورته شول. بیګ مخکې سیټ کې او صادق وروسته کیناست.

# (۲۳)

دوه مياشتي کېدې چې صادق کمشنري کې مقرر و. اوس دوی د مهاجرو له کمپ څخه راوتلي او جهانګير اباد کې يې کور کرايه کړی و. سهار سهار به دفتر ته راته او مازيګر به د دفتر موټر کې کورته ته. کارونه ډېر نه و. هسې يو نيم مهاجرکارت، د مرسته شويو توکو لست جوړول او يا هم يونيم د مرکزی دفتر خبرتيايي او مشورتي ميټنګ کې ګډون.
ځيني وخت به شمشتو کمپ، بډه بېرې، جلاله اوحاجی کمپ ته تلل اود چارو کوارډنېشن به يې کاو. ډېره بده ورځ به هغه وه چې دوی به سپيشيل برانچ ته وغوښتل شول. دغو شعباتو ټاکلې پته نه لرله. کله يو ځای کله بل ځای. د افغان مهاجرو د کمپونو مامورينو ته به يې تيلفون کې خبر ورکړ او کوم هال ته به يې ورټول کړل. هلته به يو تک تور پنډ د ارتو سپږمو او خلطه خلطه سترګو لرونکی افسر لوړ ځای کې ناست و، خواته به يې يو (خاصه دار) له ټوپک سره ولاړ و. د افغان مهاجرو افغان مامورين به يې په انګليسی ژبه مخاطب کړل:
- که دا ځل يو سپيره مهاجر د ښار سړکونو کې وليدل شو، مړی- ژوندی به يې ورک کړم. ستاسې لپاره بريدونه ټاکل شوي. ښارونو ته تګ- راتګ نشئ کولای. دلته په ښار کې د نړی معتبرو هيوادو ديپلوماتان او سفيران کرځي چې تاسې مهاجر ووينې، په هغو زموږ د خلکو ګومان کوي او دا زموږ د هېواد حيثيت ته تاوان دی.

بله دا چې حشیش مشیش په جیبونو کې ګرځوئ. بازار کې د کار کولو اجازه نه لرئ...
په پای کې به یې هر افغان مامورته یویو لیک ورکړ. دلیک په سر به د انګلیسی په کپیټال ټکو غټ لیکلی و: اخطاریه!
بله ورځ د هریپور د کمپ موظف افغان مامور چې کله د غونډې په پای کې له هال څخه راووت، ټول نور افغان مامورین یې راټول او دهغو ترمخې یې ورته سپارل شوی لیک څیرې کړ، په غوسه یې وویل:
-پنجابیه! زه افسوس کوم چې په موږ بده ورځ راغلې او نن ته موږ په هسې بهانه فشار لاندې نیسې. پېښور کې پېښوریانو موږ سره خپله ډوډۍ نیمه کړې ده، په خوشحالی یې موږ ته کاروبار برابر کړی او ښه په وروری خوشحاله چلیږو، هیڅ مهاجر حشیش مشیش نه پېژني او نه یې ګرځوي. خپه یم چې تنظیمي مشران تاسوته انصار ورونه وایي. یواځې دسرحد ورونه انصار دي، تاسې پنجاب والا زموږ سپکاوی کوئ تاسې انصارنه یاست. موږ د شوروی په وړاندې جهاد کوو، سنګر کې مو هره ورځ ځوانان شهیدان کیږي. زما جهاد ستا دفاع ده. پوهیږی که نه!؟ زه چې دلته یم د ملګروملتونو په مرسته دلته اوسیږم او پلرنی وطن مې دی. نن غازی ایوبخان دلته او غازی عجب خان اپریدی بلخ کې دفن دي، دا مې د نیکو خاوره ده، خو څه وکړم چې ورځ راباندې بده او تنګه راغلې. تورلینګیه پنجابیه ځان پوه کړه نن چې ته اټومی قدرت شوی، نن چې ستا بانکونه، ډاک، هوایي ډګرونه، ګیسټ هاوسونه او اخبارونه چلیږي او هره ورځ میلیون میلیون ډالر ګټه درته رسیږي، دا ټول زما د ځوانانو د څاڅکي څاڅکي وینې بیه ده. موږحشیش نه پېژنو ترتا زه ښه مسلمان یم، ولاکه دې نور یوه مټینګ ته راشم او ولاکه دې خبره واورم. له دې سره یې د څیرې کړی لیک ټوټې په زمکه وغورځولې او پښه یې ورباندې کېښوده.

دا ځوان يو پکتياوال و چې د ملګرو ملتونو دکمشنری د دفتر له خوا هريپور کمپ کې موظف و. هغه په ډېر غرور د غونډې له ځايه ووت، خپل سپين ډاټسن موټر کې کيناست او په مخامخ سړک ګړندی له سترګو پنا شو. وروسته له دې ورځې ټولو افغان مامورينو پرېکړه وکړه چې د سپيشيل برانچ دفتر په رسيمت نه پيژنو، زموږ ټول کار به د ملګرو ملتونو دفترونو، سره صليب او د ستونزې پر مهال د پېښور د پوليسو ادارې سره وي. وروسته تر دې پرېکړې ټول افغان مامورين يويو خپلو موټرو کی خپلو دفترونو ته روان شول.
د افغان مامورينو دنده کې دوی ته ويل شوی و چې: دوی به کمپونو کې د دفتري نورو ورځنيو کارونو ترڅنګ د مهاجرو د راجستر او د ملګرو ملتونو دفتر ته د راپوروونو جوړول ترسره او ځينی وخت د مرستو ويش او د خپلې ساحې د کمپ ليدنه کوي.
وروسته تر دې ورځې بيګ او صادق هم سپيشيل برانچ ته له تګ بېغمه وو. په دفتر کې سره له دې چې رحيم بيګ د صادق په پرتله ( سينورمينجر) و، خو له دې امله چې صادق په انګليسي پوره پوهېد، له بلې خوا د يوه پوهنځي محصلان وو او لس کاله مخکې يې پوهنتون کې يو بل پيژندل، نو د آمر او مامور خبره يې ترمنځ نه وه، بلکې دوه ملګري او انديوالان وو. وزګار وخت کې به د دفتر برنډه کې کېناستل، بيګ به سياسی بحثونه کول.
بيګ ټول جهادی تنظيمونه (اخواني) بلل، افغان ملت ګوند يي(نشنلستان) بلل او نړۍ يې په شرق، غرب، اودرېيمه برخو باندې وېشله. درېيمه نړی يې ډېره يادوله. هر خبره به يې په درېيمي نړۍ راوڅرخوله، آخر کې به يې ويل: درېيمه نړۍ جغرافيه نه ده، دا ولسونه او خلک دي! صادق به ورته حيران و، څه يې نه ويل، خو انديښنه يې هغه وخت زياته شوه چې دبيګ د ميز پرسر به تل يو پنډ کتاب ايښی و چې وربانديې ليکل شوي وو: ( کپيټال/ سرمايه) . د کتاب د پاڼو منځ منځ کې کوچني کوچني کاغذونه د نښو په ډول ايښي

وو. داسې ښکارېده چې بيګ دغه کتاب ځوځو ځله لوستی(؟). په بحثونو کی به يې د ستالين، چيګورا، کاسترو او مائو نومونه يادول. بيګ به د خپلو مطالعاتو فيلسوفانه پايله داسې بيانوله:
(د لويديځ هژموني او د تور امپرياليزم نړيوال نظم چې له اتلسمې پيړی، را روان شوی، سور امپرياليزم يې نشي ماتولی، خو درېيمه نړی به يې دا هژمونيزم مات کړي!...)
صادق په شک کې شو چې اته کاله مخکې په نوي ښار کې د سفير ادولف ډابس په تښتولو کې هرومرو د همدوی لاس و، چې د حکومت له زندان څخه يې د خپل يو ګوندي ملګري د خلاصون غوښتنه کوله، خو برمته کوونکي ټول د هوټل په ۱۱۷مه کوټه کې ووژل شول.
صادق ته عجيبه وه چې د سفير او سفيرانو کيسې هره ورځ مخې ته ورته راځي!! داسې ورته ښکاره شوه چې سفيران لکه سرې غومبسې چې په چا باندې ورټولې شي. دا دی اوس سفيران د افغانستان په شاوخوا بونيږي. دا دسفيرانو ناولې کيسه د چنګيزله سفير نيولې بيا د ګريټ برټش او بيا د امريکی او شوروی تر سفيرانو او دا دی تر نن پورې روانه ده او آن د سپيشيل برنچ مامور يې دوی ته ور يادوي.
بيګ په تېرو شپږو کلونو کې د مهاجرينو او د مهاجرت د چاپېريال په اړه ډېر څه ليدلی وو، هغه له ډېروپېښو خبر و. نن چې وزګار شو، د غرمې له ډوډۍ وروسته د دفتر برنډې ته ووت، صادق ته يې هم غږ وکړ. صادق دا وخت د ماسپښين لمونځ کړی و، راغی ورسره کيناست. بيګ د دفتر ملازم ته غږ کړ:
-بايی څه شوې؟
دا يم آډر کوه جي!
- دوه قهوه را جوړ کوه.
په جلتی جوړوم جي صيب .

ملازم د پخلنځي په لوري چټک ګامونه واخيستل. بيګ د ډان اخبار له مخې يوې خواته کړ،صادق ته يې مخ واړاو:
هوارت هارټ اسلام آباد کې د ( ISI) مشر جنرال اختر سره کار پيل کړ. دا سفيرصاحب د برتش د بهرنيو استخباراتو مامور دی چی MI6 يې بولي دوی دلته سپيشيل برنچونه جوړ کړي دي. د شوروی د ماتولو لپاره CIA، ISI، MI6 او د سعودي استخباراتو لاسونه يو کړي دي. جنرال اختر همدا تېره اونی د شهزاده تُرکي الفيصل او شهزاده الفهد ميلمه و. جنرال اختر او يوسف ټولو ته ډاډ ورکړی چې کابل به سوځي، جنګ به تر وروستي افغان روان وي، شوروی د افغانستان د غرونو تلک کې بد رقم ښتی دی...
بيګ له يوه سره ټول رټل؛ د کابل حکومت، تنظيمونه، امريکا، عرب او انګليس يې ټول سره دروشته کول. د ده په ژبه تل "درېيمه نړۍ" وه، ويل به يې:
درېيمه نړۍ يواځې جنوب خواته يوه سيمه نه ده، دا ځېل شوي او ښکيل شوي خلک دي. دلته کلتوري انقلاب ته اړتيا ده. مائوتسه دونګ په فرهنګی انقلاب سره د نوي ژوند لاره ښودلې ده...
په دې خبرو سره يې يو ځل بيا صادق ته پوهنتون کې د شپړو کلونو مخکې هغه اله- ګوله ورياده شوه چې محصلانو ټولګي پرېښودل او بهر ووتل. په هغه شپه شپې پاڼې وېشل شوې وې او د خاد مامورنيو په دې تور څو تنه محصلان ونيول. په شپې پاڼو کې يې ليکلی و: ... سوسيال امپرياليزم له غربي امپرياليزم څخه بدتردی. شوروی روزيونيستانو د سوسياليزم او بشري عدالت داعيه منحرفه کړه. سور ښامار او تور ښامار د درېمې نړۍ ګډ دښمنان دي...
کله چې کابل حکومت ملي روغه جوړه اعلان کړه، بيا شپې پاڼې ووېشل شوی پکې ليکلی يې و؛ تورښامار ته توره په کار ده، نه روغه جوړه!

دا دی اوس یو ځل بیا د دریېمي نړۍ خبرې د بیګ له خولې اورې.
صادق دغو ټولو خبرو او نومونو ستومانه کړی و. ملازم یې مخې ته دقهوې پیاله کېښوده. بیګ د صادق په ستومانې پوه او غلی شو.
صادق د خبرې د بدلولو لپاره انګېر کې د شنه چمن اوکشمالي ګلانو صفت پیل کړ.
له هغې ورځې چې صادق د مهاجرو دفتر کې کار موندلی و، خوشحاله و، خوبیګ ورته بله سودا واچوله:

- رور! ډېر سمال او احتیاط کوه، دلته تنظیمونه هغو کسانو پسې هم دي چې افغانستان کې یې سبق ویلی او یا یې حکومت کې کار کلی وي.

بیا به یې د استاد شګېوال، پروفیسورمجروح، چنیزایی، الفت، معلم ذاکر، ډاکتر لودین، سرورخان احمدزی... د وژل کېدو وویل.
صادق بیا ځُرت کې شو، خو د شنه چمن او کشمالی د صفتونو خبره یې بدله نه کړه. بیګ ټولو پسې خبرې کولې، نه یې د کابل حکومت مانه، او نه تنظیم او نه اعلیحضرت. اوس یې نو یوه بله کیسه راواخیسته:

- له افغانستانه دوه د اینجنیری محصلان پېښاور ته را مهاجر شول. هغوی هلته افغانستان کې استخباراتو نیولي و یویو کال بند یې تېر کلی و، چې را خوشې شو دلته راغلل. سم له رسېدو سره تنظیمیانو ونیول او ورته ویل یې چې تاسو خامخا په قران ختلي او پخې لاندې مو کلی چې راایله شوی، کنه کابل حکومت بندیان ترهغو نه خوشې کوي چې قرآن باندی لغت ونه کلی، نو دواله یې روزروشن چانماری کلل.

خو صادق د ده په دې کیسه ځُرت خراب نه کړ، ځان ته یې ډاډ ورکړ چې هیڅ داسې څه نشته چې کوم تنظیم په ده باندې تور ولګولای شي.

دوى به د دفتري ورځني کار او سياسى خبرو ترخنګ، د قهوې او دوتيتى خښلو په مهال اخبارونه کتل. اوس د صادق په مرسته د بيګ انګليسى ډېره ښه شوى وه.
دفتر ته راز راز اخبارونه، د امريکې دسفارت د اطلاعات بولتن، د ملګروملتونو د اړونده دفترونوبروشرونه، اود سره صليب پا مفليتونه راتلل. بيګ به له رارسېدو سره سم لومړى د" جنګ" اخبار او بيا مشرق اخبار راپورته او ژرژر به يې ومروړل او باطله ټوکرۍ ته به يې وغورځول، خو په انګريزي ژبه د "ډانDAWN " اخبار به يې ټول کوت. صادق د بيک ټولو کارو او خبرو ته هک حيران و، چې کورته به راغى حاجى صاحب ته به يې د ورځنيو پيښو نکلونه کول، حاجى صاحب به دُعا کوله چې الهى افغانانو ته اتفاق نصيب کړې او کفار له زوال او شرم سره مخامخ کړې.

## (۲۴)

پيښور کې هوا ښه شوې وه، ګرمي نه وه. په هر کمپ کې مهاجرو د روسانو د وروستي کاروان د وتلو زيري يوبل ته ورکول. د هرچا په ژبه همدا يوه خبره وه: له وطنه شوروى پوځ ووت. پرون يې وروستى کتار له آمودرياب واوښت...
د دې خبرونو په اورېدو صادق هم ډېر خوښ شو. يوه ورځ يې رحيم بيګ ځخه وپوښتل:
- ماته داسې ښکاري چې سوله به راشي، ستا څنګه خوښه ده، وطن ته دبېرته تګ تابيا ونه کړو؟
بيګ بې له ځنډه په تعجب ځواب ورکړ:
- سومنه ساده يې، وه صادق اوشکوه. دا سومنه خوشباور يې؟! جنګ خو اوس شرو شوکنه! دا اوس نوى امريکا F-16 او ستينګر را ارسال کل. مخکى د پاک فوج جيت F-۱٤ او فرانسوى ميراژ و.

دا يو هم سم جيت نه و. فرانسه اسلحه سازي کی ناکام دی، فرانسه سياسی فرهنګ کې اول نمبر دی او حقوقی نظام يې موفق دی. ياديږي دې چې زموږ او تاسو نيم استادان فرانسه کې تحصيلات وکلی و. دا ميراژ داسی طياره ولکه موږ چی ماشتوب کی کاغذي ورق جيت جور وکړ چی شيووو پرواز به مو ورکل داسې به لال لال لال بېرته به زما پخې سره را ولوېد ههههه. F-4هم د کار نه و بيخی زول و. اوس امريکا F-16او ستنګر ورکل او د افغانستان د قواوو سره يې برابر وکل. دلته ماسره يو خبر دی پُټ کلی می دی چا له کويتی د راوا دفتر سخه را ليژلی ما لژ ولوست دستينګر راکت عکس هم لري، خطرناک سلاح دی. د افغانستان يو طياره به پاتې نشي، ته خو په انګليش بيخي پوهيژی، دا اولوله.
دا وخت يی ميز ته لاس کړ د يوې کتابچې له منځه يې د يو اخبار پرې شوې پاڼه راواخيسته، صادق ته يې ورکړه، هغې کې په انګليسی ژبه يو راپور ليکلی و:
(... دشوروی عسکرو تر وتووروسته د امريکا متحده ايالاتو مجاهدينو ته ستينګر توغندي اوپاک هوايي فوج ته F-16 الوتکې راوليږلي. کيدای شي دا دوه ډوله نوې وسلې د کابل د حکومت کار يو طرفه اوپه جنګ کې افغانستان ته بشپړه ماتې ورکړي. سنا د CIAد دغه نوي راکټ د ليږلو پريکړه په يوالی تصويب کړه او دادی اوس رارسيدلي دي. د دې نوې وسلې تخنيکی نومFEM92 دی چې يو نيم سل داني يې تنظيمی قوماندانانو او د القاعده جګړه مارو ته وسپارل شوې. دا د افغانستان د اردو Mig-21 شکاری جت او نورو الوتکوپه مقابل کې ډيره اغيزمنه وسله او د دغو الوتکو تبا کوونکي راکتونه دي چې تر ۴۰۰۰متره واټن پورې الوتکو پسې ځغلي. د دې وسلې ځانګړتيا داده چې لوګی او حرارت تعقيبوي، نو کله چې د الوتکې په لوري وويشتل شي، د الوتکې د انجن حرارت او لوګي ته ځان رسوي او د الوتکې انجن ته انفجار ورکوي. سرعت

يې تر الوتکې زيات، په يوساعت کې ۱۲۰۰کيلومتره دی. کله چې تنظيمي مشرانو رونالدريګن سره وکتل، هغه ژباړونکي چې هلته ترجمانی کوله پرزدنت او CIA ته مشوره ورکړه چی دا راکټونه بايد القاعده او مجاهدينو ته ورکړو. اوس دا وسله رارسېدلي ده د بريګيديرمحمد يوسف په لاس القاعده او تنظيمونو ته وسپارل شوه او تعليمات يې هم ورکړل شول. شرط دا دی چې يودانه يې هم بايد د افغانستان لاس ته ورنشي، آن دا چې تش پوچک او خول يې هم بايد بېرته را ورسول شي او بريګيدير محمديوسف ته دې تسليم شی...)
دې خبر او د دې وسلو عکسونو صادق بيا دچُرتونو په ګرداو ورلاهوکړ. د اخبار دغې غوڅې شوې پاڼې څخه ووېرېد، کرکه يې وشوه، بېرته يې بيګ ته ورکړه. د صادق ړومبنی ټوله خوشحالي داسې ترۍ تم شوه لکه بربښنا چې يو ځل وځلېږي او دستي بېرته وريځو کې ډوبه شي. بيګ چې د ده دا وېره او دا حال وليد په کړس کړس يې وخندل.
***
د شوروی د عسکرو د بېرته وتلو خبرونه کمپ په کمپ خپرېدل او مهاجرو ته نوې هيلې پيدا شوې او خوشحالي يې کوله. وطن ته د ستنېدو هيلې ژوندۍ شوې وې، خو جګړه لا روانه وه. کابل کې حکومت د ملی روغی او سولې نارې وهلې، خو د تنظيمونومشرانو غوښتل وروسته د شوروی پوځ له وتلو د کابل حکومت په زور له واکه وغورځوي. د افغانستان په اړه پروپاګندې اود بی. بی. سی. خبرونه کم شوي وو، خو جګړې لازيات زور اخيستی و. لاهم له سنګرونو څخه هم د حکومتی عسکرواو هم د مجاهدينو جنازې د دوی کورونوته تلې. د حکومت د پوځيانو او ويشتل شويو مامورينو، ښوونکو، ډاکترانو او انجنيرانو جنازې همالته افغانستان کې او د مجاهدينو ځينې جنازې د هيواد دننه د دوی خپلو پلرنيو هديرو کې او

ځيني د مهاجرت چاپيرېال ته راوړل کېدي. دلته هر کمپ خپله هديره لرله.
د کچه ګړی هديره له کمپ څخه لرې، له ځو وچو خوړونو ورهاخوا وه. له کمپ څخه د يو ځو قبرونوتوغونه له ډېر لرې ښکارېدل. د هرپيورکمپ هديره اود ځينو نورو کمپونو د مهاجرو هديرې د سيمي دخلکو له هديرو سره يوځای وې. د ناصرباغ د کمپ هديره کمپ ته ډېره نږدې وه. کله به چې صادق او رحيم بيګ د دفتر سپين ډاټسن موټر کې د بورد له ګڼې- ګوښې د ناصرباغ په لوري راتاو شول، لږ شېبه کې به د پوليس کالوني بلاکونه ښکاره شول، ورپسې به د سوري پله سيمه او بيا به مياخان ګړی څخه په تېرېدو يو ځو هټۍ راورسېدې، همدلته د ويالې په پله باندې هغې بلې غاړې ته لار تللې وه. ځو ګامه وړاندې يو- دوه ونې ښکارېدې چې همدا د مهاجرو د هديرې بريد و. دوی به چې کمپ کې د کمشنرۍ دفتر ته رسېدل نو هديره به له ورايه ښکارېده. له وطنه د شوروی د پوځ له وتلو سره سره به هره ورځ دوه- درې جنازې دغې هديرې ته راوړل کېدې. يوه ورځ صادق بيګ ته وويل:
-دمهاجرو هر کورته ډېره لږ مرسته ورکول کيږي، په تېره بيا هغه کور چې د وطن لپاره يې شهيد ورکړی، بايد د زيات کمک مستحق وګڼل شي. راتلونکي ميټينګ کې به له نورو منجرانو او کوردناتورانو سره يو ځای دا وړانديز ولرو.
بيګ پرته له دې چې ډېر لږ پام وکړي، دا وړانديز او د زړه سوي خبره يې د تل په شان بابېزه تېره کړه، صادق ته يې وويل:
-رور ورځ تېروه، شولې ته بخو پرديته بکو. حالات زما وستا په خوښه نه دي، واک پردی دی.
صادق به هيڅکله بيګ سره خبره نه تاووله، خو دهغه کبر او په کمپونو کې يې له مهاجرو سره چلند نه خوښېد.

په وطن لاهم سور اور بل و. هره ورځ ټپیان او د شهیدانو جنازې را رواني وې. له شېرپاو، الفوزان نیولی تر سره صلیب او د عربانود هلال احمر ټولو روغتونوته ټپیان راوړل کېدل. په کمپونو کې ماشومان او سپین سرې میندې د ناروغیو، ګرمي، میاشو، غونډلانو او تندې له لاسه ځورېدل، ټول د خپل کلي- کور په ارمان او وطن ته د ستنېدوپه هیله وو، خو بیګ به دفتر کې د قهوې یا دودپتي پیاله مخې ته ایښې وه د سیاسی ګوندونو او ایدیالوژیو پرتلنه، غندنه او ستاینه به یې کوله او اوس لا خپلې انګلیسي ته غره و، چې تر پخوا یې ښه زده شوې وه. صادق به چې ورته کتل، نوشک به یې راغی چې؛ ( ښاغلی بیک صاحب د مانیا mania په ناروغۍ اخته او ځان ورته ښه غټ پیل ښکاري).

بیګ ته به یې د زړه سوي او یو څه به یې د سپکاوي خندا وکړه او ځان ته به یې ډاډ ورکړ:

-بیګ خوار ګرومونه لري، په نرګسیت اخته کسانو ته ځانونه ښایسته ښکاري، خو په مانیا اخته بیا له ځان څخه دومره خوښ وي چې له ځان پورته بل څوک نه مني. دا ډول خلک د وطن او وطنوالو په حال ځان نه پوهوي، له دوی څخه تمه نده په کار.

صادق د بیګ په حال ښه پوه شوی و، خو انډیوالي وه تونده خبره یې نه ورسره کوله. بیګ پوهنتون لوستی ځوان و، د افغانستان پېښې، تاریخ، دوستان او دښمنان ورته معلوم و، خو د وطنوالو په اړه یې احساس سوړ و. کله کله به یې چې مجلس ښه تود شو، عجیبې کیسې یې کولې. یوه ورځ یې د څلورو کلونو مخکې د خپل مهاجرت کیسه راواخیسته:

- رور، کله چې زه اول راغلم، دغه د بالي(باړې) علاقه تماماً بدماشو، قاچاقبرو، خونیانو او چارصدوبیستو علاقه وه، اوس د افغان مهاجرو په پیسو پکې سکولونه، هسپتالونه، سرکونه شه شه محلونه جول شو. د آدمخېل دره کې تول اسلحه، حشیش او بلابترکاروبارو،

اوس پکې خلک صابون، عطر او شامپو وپیژندل. دغلته ارباب رود، رینګ رود او نور رودونه جوړ شو اوس ګیستهوسونه دی، قاشق وپنجه وپیژند. هغه دال جامګی ختم شو... او بیا به یې ښه ډېر وخندل.

صادق ته به چې وطن وریاد شو، زړه به یې اور واخیست. کور، ملګري، موسسه او د بازګل تږکې به وریادې شوې، د عبدالوکیل هغه خبر به وریاده شوه چې ویلی یې و: باران څخه پاڅېدل او ناوې لاندې کیناستل د هوښیار کار نه دی.

په دې وخت کې یې یوځل بیا بیګ ته وویل:

- ته پکې څه وایی؟ د شوروی پوځونه ووتل، حاجی صاحب وایی اعلیحضرت محمد ظاهر شاه راځي، کابل د ملی روغې او سولې په چیغو ځان سترې کړ، بېرته وطن ته ستانه نه شو؟

بیګ به بیا له ډاګه ولګېد:

- اوش کوه سی داسی غلط ونه کې دجنګ زور خو اوس دی کنه، موږ خو دلتی ګورو کنه ستینګر اوس راغلل ته به اوس جنګ اُوګورې!

سوله به ونشی؟

- هرڅه چې خام وي، پوخ به وشي، خو بنیادم چې خام شو بیا نه پوخ کیږي. د کابل رژیم نوم نور بد وشوی، اوس خلک ورباندې باورونکي. د کابل له رادیوګانو نیولې تر سفیر جانوویچ، برنجلوک، پوزانوف بل او بل اوف اوپوف پورې تول ځانونه ستلی کلل، خو فایده نه کوي.

صادق ومنله، د بیګ د خبرو په ملاتړ یې وویل:

هو، په خلکو یې چپه میچنې وکرځولې، اوس چې هرڅه وایې خلکو ته دوکه ښکارې، نه یې مني.

- چپه مچنی سه شی دی؟

ظلم، ناروا. انګلیسی دې زده شوه، خو خپلې ژبې دې هېرې شوې !

- نه دغسی خدای مه کوه. اوس دلته د مهاجرو لس کالونه پوره وشو. د مهاجر ماشومان دلته ځوان شو،زياترو جايداد واخيستل، پښتو د تولو زده وشو.

دا خبره يې صادق ومنله او ورزياته يې کړه:

اوس نو داسې لومه کې بند شوی ياستو چې لږ دې د وتلو نيت وکړ، د ژوند څکه به لا ونه کړې!

- لومه سه شی دی؟

دام، تلک.

- ههمه، بيا پوه شوم. اوس دا وطن هم زموژ د پلارو دی له پشاور او اتک داسې باجور، سوات، هاخوا تل، کوهات، چمن، پشين بولان، ديره جات او نور تول زموژ خاورې دي. زه په دا تول ګرځيدلی يم، تولو کی ملل متحد دفترونه شته د افغان مهاجر دپاره.

صادق دا ځل کوښښ وکړ چې اسانه خپل مطلب ورته ووايی:

- فکر کوم وطن کې نور دملي فکر نوم بد شو، د ترقی آرمانونه خاورو لاندې شول. دومره ورټل شولو چې څوک موماز‌ې له پوزې ونيسي سا مو خيژي. څوک د راتلونکی اټکل نشي کولای...

صادق دا خبرې له خپګانه وکړې، خو بيګ بيا سياست او غتوغټو خبرو ته ولاړ:

- په توله ډُنيا حالات په بل لوري شول، (کپيتال) لا د پوهنتونو د پي. اچ. ډي د دورې نصاب کې شامل او د فيلسوفانو د ميز د سر کتاب دی، خو نوی نړيوال نظام او ليبراليزم د امپرياليزم پړانګ ته د پسه پوستکی ورواغوست. شوروی رهبری د سوسياليزم لاره غلطه کله. آزادي غوشتونکی او عدالت پسند بشريت دوی نه بخشي. اوس دربيمه نلی دخپلو مشکلاتو د حل لاره خپله ځانته مومي...

صادق بيا د تل په شان ورته بې حوصله شو، غوسه ورغله ځان سره يې وويل: يو فيلسوف خو ته يې چې ستا پرميز هم دا کتاب ايښی ، ناروغه اوقي! خو غوسه يې لاحول کړه. سترګې يې دبيګ مخې ته

د ميز په سر ايښي پنډ کتاب ته واوښتې چې لکه د هرې ورځې په شان يې د پاڼو منځ منځ کې ټوټه ټوټه کاغذونه ايښي وو.
صادق خپه و، زړه يې تنګ شو. وخت يې وکوت. د مازيګر د لمانځه وخت او د رخصتى شيبې لنډې وې. پاڅېد لمونځ يې وکړ.وروسته تر لمانځه يې بيره وه چې بيګ ډريور ته غږ وکړي او له دفتره ووځي، نن د بيګ خبرو بيخي ستومانه کړی و، خو د دې لپاره چې بيګ يې په ستوماني پوه نشي او خپلې خواشينۍ ته پلمه پيدا کړي، بيګ ته يې وويل:
ريښتيا درته ووايم اغا مې دلته ډير خپه دی، هره ورځ د اعليحضرت د راتلو په تمه دی، مور او خورکۍ مې لکه کپس کې بندې مرغۍ په تنګ دي. هره ورځ د کابل کور يادوي او ځوريږي، ته پکې څه وايې؟ که سړی د سمندر غاړو ته ورشي، کم مهاجر ولاړل؟
• رور اعليحضرت مه يادوه، ځلويښت کاله فراماسيونی حکومت! چې و سه يې وکلل؟ او د سمندر د آخوا شوق مه کوه، صدای دول از دور خوش ده. که لالې نور نو له وطنه لازيات لرې کيژې. اوس چې دومره خفه ياست او د وطن لرېوالی شکايت کوی، هلته به سه کوی؟ ستا نيم فکر کې د بريدمن عبدالوکيل خبرې ګرځي، نيم د اعليحضرت خبرې. همدا ځای شه دی که پوره وطن ندی، نيم وطن خو دی!
صادق باندې يې دا خبرې هم بدې ولګېدې، خو څه يې کړي وای. پخوانۍ او نوې انډيوالي ده. دا وخت دفترونه له سياسی خبرو ډک وو. سپيشيل برانچ خپل پلانونه لرل، سفيرانو جلا آجندا په مخ بيوله، ليډرانو يوبل ته لينګتې ورته کړې وې، د کرنيل بابر شاګردان؛ يوسف، اختر، اميرترار، قاضی او حميد ګ. به GHQ کې نوي پلانونه جوړول او نوې نوې خبرې يې خپرولې. د مهاجرو فرياد تر اسمان رسېدلی و. کمپونو کې د يتيمانو، کونډو او له کار او تعليم

ځخه دپاتي ځوانانو پوښتنه چا نه کوله، ټولې خبرې سنګر ته دتللو، وسله اخيستو، سرګروپانو ته د نويو ځوانانو د ورحواله کولو وې، نورڅه نه وو. هغه مهاجر چې ژوند يې لړ ښه و، په بهرنۍ ژبه پوهيدل او سترګې يې پرانيستې وې، ووتل تر اروپا، استرليا او امريکا ورسېدل...
دې ټولو خبرو د صادق دسر ګومبذه کې ګونګه هياهو او انګازې جوړې کړې وې. بيګ پاڅېد د دفتر څراغ يې مړکړ، يوه دوسيه يې تخرګ لاندې کړه، ملازم ته يې غږ وکړ چې ډريور راوغواړي. صادق هم پاڅېد.

## (۲۵)

په کابل کې د ۱۳۶۷ل. کال د چنګاښ مياشت او پېښور کې د اګست مياشت وه. دلته د پشه کال موسم پيل او ورځ دوو کې به باران وشو، خو کابل کې موسم وچ او هوا توده وه. په دې کال د خلق ديموکراتيک ګوند واک ته د رسېدو او په وطن کې د ناخوالو او خونړيو جنګونو لس کاله پوره شوي وو. له افغانستان څخه د شوروی عسکرو په وتلو سره د افغانستان د دولت د مخالفينو او د هغوی د ملاتړو په زړونو کې د کابل د نيولو هيلې زياتې شوې وې. اسلام اباد کې سفير پيتر تامسن اخبارو الاوو ته د بري د ترلاسه کولو خبرې کولې، په جلال آباد باندې دبريد پلان جوړ شوی و. د افغانستان په ګاونډ کې نظامی او استخباراتي کړيو پټپيلې وه چې د شوروی عسکرو تر وتلو وروسته بايد تنظيمونه افغانستان کې دننه يو مهم ولايت ونيسي چې هغه به جلال آباد وي. پلان پټ او ډېر په مهارت جوړ شو.
افغانستان ته د شوروی پوځونو په راتګ سره د عوامو او کليوالو خلکو ترڅنګ؛ ډير ماهر مسلکی متخصصين، ليکوال، نظاميان او

طبيبان هم له وطنه مهاجر او پېښور کې مېشت شوي وو. په دغو مهاجرو کې ځينې د افغان اردو صاحبمنصبان وو. نظامي او استخباراتي ادارو د کرنيل اسد او کرنيل جينجوا تر لارښووني لاندې پاکستان کې مېشت افغان جګړن( ر.و) ته دنده وسپارله چې خپلو جنګيالو سره ځان سروبی ته ورسوي او جنګي عمليات به د نغلو د اوبو له بند څخه پيل کيږي.
په جلال آباد باندې بريد اود يوه ډېر ويجاړوونکی جنګ طرح په دقت او پخه سنجول شوې وه. دا ډول طرحې يواځې د جنګونو ډېر ماهر ډُکترين جوړولای شي. د کرنيلانو په يوه ډېره محرمه او سري ناسته کې پرېکړه شوې وه چې يو جنګي ماهر ګروپ به د افغانستان د پوځ د غافل کولو لپاره دتګاو او نغلو دسيمو له لوړو- ژورو په استفادې دنغلو بند ته ځي او هغه به نړوي. دا به د لس کلن جنګ په دوران کې تر ټولولويه کارنامه وي. د نغلو د اوبو د بند په نړېدو سره له يوې خوا يولوی ډيم او د برېښنا فابريکه بشپړه له منځه ځي، کابل به توره شپه شي، له بلې خوا به د دومره ډېرو اوبو په راتګ سروبي بند هم ونړيږی او ورسره به تر جلا اباده ټول سرک او لاره له کاره ولويږي. د دې کار ګټه به دا وي چې د افغانستان پوځ به خپل مورال بايلي، د کابل خلک به وويريږي، بې شرط او ټينګاربه تسليم شي او پوځ به ونشی کولای چې د جلال اباد دفاع ته مرسته راوليږي. په دې ډول سره د جلال آباد په فتح کولو سره د ټول افغانستان دفتح کولو لار پرانيستل کيږي. له دې پلان څخه يواځې جګړن ر.و. خبر و، نوره ډله چې ده سره ليږل کېده، يو هم نه و خبر. ټول پلان دوو کرنيلانو سره و چې دوی سره نغلوته تلل.
جګړن (ر.و) ته د نغلو د نړولوله پلان سره يوځای زرګونه لوی او واړه پوسترونه چاپ شول چې د يوه تور غټ سوک ترڅنګ په سوررنګ ليکلي و (فتح مبارک). سوک مخامخ د ليدونکو لوري ته و.

د برید نقشه دسرطان د میاشتې نیمایی کې جګړن ر.و. ته وسپارل شوه. ورسره ځو موټر، د کچرو دخوراکې خرچه، د لارې بهیر کې د تېلو او خوراک لګښت، څو ډوله وسلې او د چاودلو لپاره انفلاقې توکې او قوي ډینامیت ورکړل شول. په جنګې ډله کې مالي هیئت چې د پیسو د لګښت واک یې درلود هم وټاکل شو.

په ډېر مهارت ټاکل شوی جنګی ګروپ لومړی له پینډۍ پېښور، بیا چارسدې او په کړ.و- وړ.و لارو روان شو. د لارې نقشه یواځې یو تن کرنیل سره وه. په نقشه کې له شالمار، تورخم، نواپاس اود باجوړ تر برید ټولې لارې په نښه شوې وې، خو وخت لږ و، دوی په لنډه لار روان شول. نورې لارې غالباً د اغفال په خاطر په نښه شوې وې.

جګړن ر.و. دسرطان د میاشتې د ګرمي او اوږد مزل له امله ستمېد، هغه اوس ښه پنډ او دروند دی. ګروپ له دوه شپو او یوې ورځې وروسته څه په پیکپ، څه په کچرو او څه پلې تر بادپیش، له هغه ځایه د تیزین له اړخه د نغلو بند ته ورلنډ شول. له دوی څخه مخکې څلور تنو پېشقراول وسله والو مانور کاو. دغه څلور تنه به پنځه پنځه کیلو متره وړاندې تلل او بیا به ورپسې جګړن له خپل ګروپ سره ځان وررساو. سفر سخت او له خطرډک و. دوی به د شپې د افغانستان د دولت د هوایی ځواک له ګزمې وېره کې و. له بګرام او کابل څخه الوتکې په همدې سیمه د جلال آباد هوایي ډګر ته تلې راتلې. یوځل د افغانستان د هوایي ځواک دوه (سوخوی) چې له بګرام څخه را پورته شوې وې، لومړی د تګاو په برید تیټې او بیرته د ګندمک سیمه کې د آسمان لوړو ته پورته او له سترګو پنا شوې. د الوتکو ویروونکي غږ دوی ریږدولي وو، کرنیل ته شک پیدا شو چې د دوی نقشې څخه هوایی پوځ خبر شوی، خو کله چې الوتکې له سترګو پنا شوې ټولو شُکر وایست چې له مرګ بچ شوي وو.

له کله چې د شوروی د پوځ وتل پيل شول، د کابل د حکومت مخالفينو "ستينګر" ډېر قيمتي ميزائيل ترلاسه کړي وو، خو د دوی ګروپ سره دا مزائيل نه و، د دوی تر ټولو غټ او دروند بار چاوديدونکي ډيناميټ او د دوی خپل چينايی کلشينکوفونه وو. دا وخت د تنظيمونو د مشرانو امنيت ته هم ډېر پام وشو. له ټولو تنظيمونو د لوی تنظيم مشر به چې کله له شمشتو کمپ څخه د ډيورند غاړو ته روان شو، هوا کې به (آواکس) امريکايی الوتکو سيکورټۍ کاو. په دې سيمه کې به د آواکس الوتکې يوساعت پروازه (CIA) او د امريکې امنيتی ادارو ته څو لکه ډالر تمام شو. دتنظيمی مشر په څېره درې نور هم جوړ شوي وو او کورته يې امنيتي کمره لګېدلي وه. د سټينګر په راتګ جګړه ډېره سخته شوې وه، د دې وسلې په وړاندې دحکومت دفاعی قواوو هم "سکاډ "او "لونا " توغندي جګړې ته دننه کړل. دا وخت وېره يواځې "برګۍ" او "بنګۍ" نه وه، سکاډ تر ټولو زوروره وسله وه. ځوانانو ته دعسکري دوره له يوه او دوو کلونو درې کلونو ته اوږده شوې وه، مجاهدينو به لويو لارو کې اکمالاتی کتارونه ويشتل او عسکري قطعات يې د مهماتو له کمښت او د آذوقې قحط سره مخامخ کول. د ښکاري ميګ الوتکو ګزمې زياتې شوې وې. د ميګ۲۱ جيت غږ به د سړي زړه بوټ ايست. په دې بده ورځ د جګړن ر.و ګروپ ته يوه مهمه دنده سپارل شوې وه، د هغه په ګروپ کې يو بازګل و. د ګروپ نورو غړو راز راز وسلې، محافظتی وسايل او نظامي تعليم درلود، خو بازګل له يوه قلم او د مالي حساب يوې کتابچې سره لومړی ځل دجګړې ډګر ته روان و.

بازګل کله هم وسله نه لرله. له هغې ورځې چې نويو سکربيست ميزايلو افغانستان کې د خلکو ژوند ورتريخ کړ، نو بازګل هم له خپلې مور، وړوکي ورور او خور سره مهاجر او بده بيرې ته نږدې خپلو خپلوانو سره مېشت شو. يو ماما يې د موټرو مستري و او دسهار او بېګا يو مړی ډوډۍ يې لرله، خو بازګل ته کار او روزګار نه و.

يوه ورځ په کمپ کې د بازګل موردوه ښځې وليدې، ورته شناخته ښکاره شوې. په حافظه يې زور راوست وریاد شول چې يوه نازبرو د لال مامد مېرمن او بله شينکۍ د ستار اکا نږور ده. دوی څو کاله مخکې را مهاجر شوي وو. ډېره خوشحاله شوه خپلې دوه کليوالې يې څو کاله وروسته وموندلې. وړاندې ورغله ستړې مشې يې ورسره وکړه. هغوی د بازګل مور و نه پېژندله، دا ځکه چې اوس يې د سر په وېښتانو کې ډېر سپين لګېدلی وو، آخر يې يو بل وپېژندل او د کلي او کليوالو د مهاجرت او د کمپ د ګوزران کيسې يې سره وکړې. په دې کې د بازګل مور د دغو ښځو له کيسو خبره شوه چې د ګل رسول خان زوی (حاجی د. خان) په مهاجرو او مجاهدينو کې لوی سړی دی او تر ده مشر يې (ع. ج) چېرته کوم بل ملک ته تللی. د بازګل مورکۍ ته تمه پيدا شوه چې ګوندې د ګل رسول خان زوی به بازګل ته کوم کار او غريبي درک کړي. دوه- درې ورځې وروسته يې هغه وموند، اوس ډېر بدل شوی و؛ لويه ږيره يې پرېښې وه چې يويو سپين ډکي پکې ښکارېدل، ښه غټ پکول، واسکټ او تر واسکټ لاندې د تومانچې د ګوليو ځرمينه کتاروزمه چې ځربنده ښکارېده. ځان يې وروپېژاند او د بازګل خبره يې ورته وکړه. حاجی.د. دخپل مرکز نښه ورکړه او بازګل يې هغه ځای ته وغوښت. څو ورځې وروسته بازګل کبابيانو ته نږدې د تنظيمونو يو مرکز کې له ح. د. سره وکتل. هغه ورته وويل چې دوه ورځې وروسته د مجاهدينو يو ګروپ افغانستان ته ځي، ته به ورسره ولاړ شې. ته سواد او قلم لرې، هغوی د خرچې او حسابونو لپاره يو کس ته اړتيا لري. کله چې بېرته راستون شوې، غټه تنخا به درکړې. د بازګل د ډاډ لپاره يې دا هم ورته وويل چې بېغمه شه دې ګروپ کې به زه هم درسره يم. په دې ورځو کې قوماندانانو ځوانان هڅول چې د دوی ګروپونو سره يوځای شي. بازګل له حاجی.د. سره ومنله چې افغانستان ته ورسره واوړي.

بازګل د وسلي چلولو سږى نه و، خو د لګښتونو د لست او د حساب لیکلو کار ته جوړ و. کله چې وروسته تر دوه شپو او دریو ورځو مزل، د دربیمي ورځې په ماښام نغلو ته ورلنډشو، نو د پښو تناکي يې وچاودې، د ګوډې پښي درد يې هم زيات شو. دچاودو سوي او د مزل ستوماني يې اوقات ورتريخ کړى و، زړه يې و له نيمي لارې بېرته ستون شي، خو دتنخا په هيله له ګروپ څخه جلا نشو. په دې تمه و چي يو- دوه ورځو کې به بېرته ستون او هلته به يو څه پیسي ترلاسه کړي، خو خبر نه و چي په داسي لومه کې نښتى و، که د تيښتي لږ شک وربانديې شوى واى، سزا يې درنه وه. چاره نه وه ، اوس د جګړې ليکو ته ورګډ شوى و. ځلورو خواوو ته يې پکول او مول لرونکي وسله وال روان وو. ح.د د ګروپ مالى آمر به کله کله يو نيم حساب ورته وايه او ده به په هغې کتابچه کې ليکل چې ورسره وه. په کتابچه يې غټ ليکلى و: (مربوط بازګل مى باشد). کټ مټ هغسې لکه په پوهنځى کې يې چې په هره کتابچه ليکل او هلکانو او نجونو به د ده دغو ليکنو ته پټ پټ خندل. د کتابچې په ټولو پاڼو مالى آمر د پاڼو شمېرې ليکلې وې او د هرې پاڼې په کونج مُهر لګېدلى و. په ګروپ کې بل چا کتابچه او قلم نه لرل.
په دې ورځو کې د افغانستان د دفاع وزارت د کشف قطعات د جلال آباد شاوخوا، تر سروبي او ګندمک پورې د وسله والو له نويو تحرُکاتو او اسلام اباد کې د انګلیس، عربو او امریکې د سفيرانو د پرله پسي مجلسونو څخه خبرېدل. دوى ته په جلال آباد باندې د پراخه برید شک اوس په يقين بدل شوى و. د اوپراسیون رياست او د لوى درستيز دفتر ته پرله پسي نوي نوي راپوررونه رارسېدل. د دفاع وزارت(لومړى درجه احضارات) اعلان کړي وو. لومړى بريدمن عبدالوکيل د مخابرې له غونډ څخه د مهمې او ځانګړې دندې په خاطر د دفاع وزارت تر ټولو مهم دريځ ته خدمتي شوى و.

د وطن د دفاع شورا په امرد دفاع وزارت کي د اوپراسيون رياست د ټولو دفاعی عملياتو لپاره ګومارل شوی و. اوپراسيون څلورويشت ساعته نوکريوال درلود اومخابره يې مهمه برخه وه چې د هيواد ټولې سيمې يې پوښلې.
له پيښې تېښته نه وه. قسمت او تقدير عجيبې کاني کوي! د پوهنتون د دورې دوه خوارِه ملګري يو د جګړې يو لوري ته، بل هغه بل لوري ته راغلي وو. د کليوالي کونډې زوی بازګل چې يوه سترګه يې رپېده، خړه لويه کورتۍ به يې په ځان او پتلون به يې له نامه هم پورته ټرلی و، اوس له وسله وال ګروپ او مالی آمر صاحب سره د نغلو د بند الوځولو ته روان دی. بلې خواته د بيوزلّه بزګر زوی چې د يو قلم او کتابچې د پيرېدلو وس يې نه و او ورور يې کلي کې دشپې په ماشيندار ويشتل شوی و، د دفاع وزارت د اوپراسيون رياست کې د (زاس)مخابرې څلرويشت ساعته نوکريوال دی. ټولګيوال يوبل څخه خبر نه دي. تقدير يوه بله لوبه هم شروع کړې؛ يو لوري ته جګړن ر.و. د نغلو د بند د نړولو لپاره ډايناميټ را بار کړي دي چې په جلال آباد يرغل بريالی شي، بلې خواته يې ترورزی جنرال ا. مايار د دفاع وزارت کې د وطن د دفاع سنګر کې ناست دی او پرله پسې لومړي بريدمن عبدالوکيل څخه د مخابرې راپوړونه غواړي.
جنرال مايار ته د اوپراسيون د فوق العاده دايرکتيف له مخې هدايت شوی چې هر نيم ساعت کې يوځل د وطن د دفاع شورا ته راپور ورکړي او د وطن د دفاع شورا هر ماښام د پوځ اعلی سرقوماندان ته راپور وړاندې کوي. جنرال د کشف د رياست مرستيال محمدشريف خان سره پرله پسې اړيکه کې دی. بلې خوا ته کرنيل اسد او جينجوا نغلوته د ليرل شوي ګروپ دعملياتو پايلې ته په تمه دي.
جګړن ر.و. په داسې شيبو کې چې لمر د کابل د غرونو څوکو ته ورننږدې کېد، خپل افراد راټول کړل چې د نغلو د الوځولو نقشه

ورسره شريکه کړي. دا وخت ځانګړي مخابرې د اوپراسيون نوکريوال ته څو پرله پسې شفرونه واستول. دا شفرونه د کشف هغه راپوروونه وو چې نغلو ته نږدې يې د وسله والو د راټولېدو خبر ورکاو. هغوی شفر کې د پنجابي اتباعو د شتوالي خبره هم مخابره کړه او د اوپراسيون رياست ته يې څرګنده کړه چې ممکن دوه کرنيلان ورسره وي. همدغه وروستي ټکي د جنرال مايار غوسه وپاروله، رنګ يې له غوسې سور شو. هغه هسې هم دا دوه شپې خوب نه و کړی، دغوسې او بېخوبي له زوره يې سترګې سرې اووښتي وې، هماغه شېبه يې عسکري خولۍ له سره ايسته کړې وه او د لږ شېبې دمه کولو په موخه يې په لرګين ميز ايښې وه، خو د شفر په کتلو سره په بيره نېغ پاڅېد، خولۍ يې په سر کړه او د ګېټسو له کلکوالي يې ځان ډاډه کړ، مخابره کې يې د کشف سرتېرو ته قومانده ورکړه:

- اتل- زړور.

زړور- اتل اورم !

- کواردنات غواړو.

زز ځزځززز زز

- اتل زړور... مۍ او وريجې مو درلېږلې... پياز چمتو دي، څومره غوړي په کار دي؟

زز ځزځز ززز...

زړور- اتل . هرڅه شته، مالګه هم شته، خو ډېر ژر اورلګيت په کار دی !

- ډاډ درکوم.

جنرال لاسونه سره وسروييل. دکشف استول شوی کواردينات يې ښه کره کړ. نقشې ته ودرېد، لږ شيبه يې دهوا حالاتو او د وخت اټکل وکړ. د دفتر د کړکيو يوې خواته زمبورک غر او د غره له لمنې کوز له ريشخورو نيولې د چهلستون تر بريده شنې ونې او ګڼ ولس.

بلې خواته له بلې کړکۍ څخه د کمپنۍ، خواجه مسافر او له هغه پورته د پغمان ښکلې درې څخه اوچت د هندوکش لړۍ ! وطن خوږدی، ګران دی. دمازیګر لمر د تاج بیګ د ماڼۍ سیوری تر لری رسولی و. د لاسونو په رغویو یې سترګې وموښلې:
که کوماندو استوم، تر اوسه لا رڼا ده، دیسانت کېدل یې خطرلري، خو که تیاره شوه بیا نو ډېره ناوخته او د نږول شوي بند اوبه به د وربښمو تنګي کې په غرغږو رواني وي. نه به سړک پاتې وي او نه به د سروبی بازار. که بګرام ته قومانده ورکوم، کېدای شی پیلوټان مو دستنګر د ګواښ له امله له لوړې ارتفاع بمونه وغورځوي او هدف کې به تېروتنه وکړي. کوردنات ښيي چې دښمن د يوې لوړې غونډۍ اړخ کې په خپله نقشه بوخت دی. کواردنات وایي سیمه کې یو موټر هم ولاړ دی(؟!). د غونډیو اړخونو کې د الوتکو عملیات غالباً بریالي نه وي. که د وطن د دفاع شورا څخه هدایت غواړم وخت تیریږي، فرصت نشته.
دا وروستی ټکی یې په زوره ووایه، بله کوټه کې د مخابرې ترځنګ لومړی بریدمن عبدالوکیل او د دهلیز په پای کې پهره دار کاظم جان سرتېري هم واورېد : فرصت نشته!
جنرال د کړکۍ خواکې ولاړ و، په دیوال د افغانستان لویه ژیربخُنه نقشه ځړېدلې وه، خوا ته یې ملي درې رنګه بیرغ، لږ دې خواته د نوکریوالی لست، د تیلفونو شمیرې ... سترګې یې ببرته په نقشه متمرکزې شوې، یو ناڅاپه کینې ګرځ شو، غږ یې کړ:
- لومړی بریدمن وکیل، تیار سئ !

لومړی برید من نیغ ودرېد او د عسکری بوټانو پوندې یې سره ولګولی:
چمتو یم.
- د لونا د کنډک قوماندان سره خبرې کوم.

صیب، اطاعت کیږي!

لومړي بريدمن يوځل بيا دعسکري بوټانو پوندې په کړس سره ووهلې او په بيړه په زاس دستګاه بوخت شو:

ززز...

پغمان- پهلوان، پغمان- پهلوان.

جنرال قرغه کې د لونا مفرزې ته کوردنات ورکړ. له هغې خوا بېرته د کوردنات د موندلو اوپه نښه کولو ډاډ ورکړ شو:

- دوه ضربې.. اورا!

د اور له قومندی سره سم، د لونا دوه توغندي په هوا شول. وروسته ترې شنه لمبه والوته، شاوخوا دوړې هوا ته پورته شوې او دوه توغندي د سترګو په رپ کې مخ په ختيځ دساپيو له غرونو واوښتل، ورپسې يوه نرۍ ليکه لوګي وو چې ورو ورو له سترګو پنا کېدل.

د اوپراسيون د رياست د نوکريوالي دفتر کې جنرال انديښنو پسې اخيستی. کوټه کې لر- بر ګرځي، په بله خونه کې د مخابرې لومړی بريدمن مخابره څاري او بهر د دروازې خوله کې يو سرتيری کاظم جان پهره دی...

انتظار له مازيګر واوښت. د ماښام تياره خوره شوه او شاوخوا څخه د ماښام د لمانځه د اذانو غږ راته. پهره دار سرتيری کاظم جان خپله وسله مخې ته کېښنو ده، له عسکري بوټانو سره مخ په قبله ودرېد نيت يې وکړ. د مخابرې له دستګاه سره وکيل د ماښام لمانځه ته ودرېد. کراره کراري ده. د وطن د دفاع فرض او د لمانځه فرض.

د ماښام تياره نوره هم را ټيټه شوه، د ښار لوري ته اود آسمايي په سر د تلويزيون د آنتنونو څراغونه ځلېدل. جنرال ډاډه شو چې تر اوسه لا نغلو ته زيان نه دی رسېدلی، خو دا چې د لونا دوه ضربې پرته دوطن د دفاع د شورا له هدايت څخه ويشتل شوي، لويه عسکري سرغړونه او سخته سزا لري. جنرال وېره او انديښنه کې شو؛ ده په خپل سر د (اور) قومنده ورکړې وه. ده کوم اضطراري صلاحيت هم نه درلود. دی ښه پوهېد چې وضعيت اکتيف دفاعي دی، نه

یرغلیز. د دفاع وزارت یوه میاشت مخکې د زرهدار یو کنډک خوست ته استولی نور ټول قطعات وضع الجیش دي، نو په دې وضعیت کې بیره تر پوښتنې لاندی راتلای شي.
د اوپراسیون ریاست د دفاع وزارت تر امر لاندې او د دفاع وزیر د وطن د دفاع د شورا یو غړی دی. جنرال د اوپراسیون د نوکریوالي کوټه کې ګرد ګرځېد، زمکې ځای نه ورکاو. درې ساعته وروسته چې ماخُستن شو، کشف له سیمې څخه راپور ورکړ:

- چ چ چ . ززز ... اتل، زړور

د مخالفینو ګروپ کې دوه پنجابي افسران ژوندي وتښتېدل، د ګروپ درې افغان غړي ټپیان او یو څو نور روغ- رمټ له سیمې ووتل، خو په سیمه کې د شپې په تروږمۍ کې یو دوه تور غوندې څه شی ښکاري، څرګنده نه ده چې دا به څه وي؟ کیدای شی کوم مړی یا د بد حالت ټپي وي، دوی معمولاً چې وس یې نه وي غیر مهم ټپیان له سیمې نه باسي.
جنرال امر وکړ:

- که ډاډه یاست چې کوم ټپي دی ډېر ژر یې د سروبي د بازار روغتون ته ورسوئ. د زاس اړیکه پرې شوه.

نیم ساعت وروسته د کشف دغه راپور د وطن د دفاع شورا غړو، دملی دفاع او د کورنیو چارو وزیرانو ته ورسېد. هدایت ورکړل شو چې د سروبي د پولیسو قطعه به له یو امبولانس او ګاز۶۶ موټر سره په همدې شپه کې د لونا د لګېدو محل ته ورشي، د نغلو د غونډیو او دبرېښنا د مزیو د ساتنې د اردو دولسمه پوسته به د امنیت د ښه ټینګولو لپاره یو بیردیم او څلور سرتیري ورسره کړي.
د شپې دولس بجې د سروبی له بازارڅخه امبولانس له ۶۶ګاز او له یوه جیپ سره د اردو دولسمې پوستې ته ورسېدل. په خریطه باندې کوردنات و موندل شو او لاره یې وسنجول شوه. د هدف د محل شفرونه وټاکل شول او د مرکز له مخابرې سره شریک شول. یو

بيرديم مخکې، امبولانس ورپسې او ګاز۶۶ لاخره پسې وخوځېدل. د سهار رڼا نوی څرک وهلی و چې ځای ومونډل شو. موټر ودرېدل، سرتيري پلي وړاندې ورغلل. چې ګوري يو تن په وينو لژند او په دوړو کې پټ پروت دی، لږ هاخوا يوه بوجی يا دجوال په شان لويه غوټه پرته وه. د سوځيدلي ټوکر او بوټو بوی لاهم تر سوږمو کېږد. کله چې سرتيري ور ورسېدل، مرکز ته يې شفر مخابره کړچې سيمه کې يو تن ټپي نه بلکې، بې وسلې افغان او ورسره يوڅه سامان پروت دی، مړی نه پيژندل کيږي، موږ داسې اټکل کوو چې د نږدې کليو به وي(؟). هدايت غواړو. له هغې خوا هدايت راغی: امبولانس کې دې تر ټولو نږدې کلي ته يووړل شي، دا چې دښمن ځان سره نه دی وړی، نو کيدای شی د سيمی اوسيدونکی وي. د ولس اود سيمې د امام په مرسته دې وپيژندل شي اود هغوی په مشوره دې د جنازې او تدفين ترتيبات ونيول شي. کوم څه چې د دښمن له ګروپ څخه پاتې دي، د استحکام سرتيري دې بی خطره کړي او ودې ليدل شي چې څه دي، ټول شواهد مرکز ته راپور ورکړئ.

- اطاعت کيږی.

د پوليسو د قطعي آمر وړاندې ورغی، پر زمکه پروت جسد خو ځايه سخت ټپي او د جامو ځينې برخې يې سوځېدلې وې، مخ يې په خاورو او شګو سپېره و. امبولانس ته يې اشاره وکړه، امبولانس په لوړو-ژورو کې وړاندې راغی. دوه سرتېرو له امبولانس څخه تذکره راکوزه کړه او مړی يې تذکره کې کېښود، لږ هاخوا يوه په خاورو سپېره کتابچه پرته وه، تر نيمايی شګو لاندې وه. پوښ يې له منځه تللی و. د پوليسو آمر د شواهدو په لړ کې هغه هم راپورته او راپور کې يې ثبت کړه. په کتابچه کې په لومړي مخ کې بسم الله الرحمن الرحيم او د دوهم مخ بره خوا کې ليکل شوی و: برج سرطان ۱۳۶۷-آمريت مالی جبهه مجاهدين محاذ. بقلم بازګل مجاهد.

وریپسي د کلدارو د لګښت یو ځو یادښتونه وو چې له ځینو هټیو او هوټلونو څخه د خوراکي توکو اندازه او بیا دتیلو لګښت او د بیې اندازه وه. د بازارونو محلات له پیندئ څخه پیل او وروستی یادښت د چارسدې کوم هوټل و. په بله پاڼه کې ځو قلمه لګښتونه جمع شوي وو چې ټول ۸۵۶۶کلدارې شوی وو. د پولیسو آمر ته د اوږدې لارې په ترڅ کې د اخیستل شویو خوراکي توکو د حسابونو د لیکونکي نوم څرګند شو. دپولیسو د آمر زړه وسوځېد، نو ویې ویل چې دا جګړه مار نه دی، کوم بیچاره بې وسلې وطنوال دی چې شهید شو. هغه ډاډه شو چې کیدای شي همدغه شهید د کتابچې د حسابونو لیکونکی وي، خو دا چې د جنګې ګروپ وسله وال غړی نه و، پریښی یې دی او ځان سره یې نه دی وړی. دا وخت نو ټولو سرتېرو د شهید په سترګه ورته کتل. د پولیسو آمر د نورو شواهدو د ثبت په خاطر دشهید جیبونه وپلټل، خو تذکره یا بل څه یې ونه موندل. د بیردیم ماشین چالان و. د پولیسو آمر شاوخوا ځو قدمونه وګرځېد چې ګوندې څه نور شواهد ومومي. د پرونیو توغندیو د لګیدو نښې وې، د زمکې لویه برخه یې ځیرلې وه، نور څه نه و، بېرته را وګرځېد، پولیسو ته یې غږ کړ:

- یوه ستوی لیک، تیارسئ !

پو لیس په یو کتار نیغ و درېدل او لاسونه یې دوو خواوو ته ځان پورې نښتي ونیول، بیا یې امر صادر کړ:

- ارام سئ !

پولیسو لاسونه سست کړل او مخامخ یې خپل آمر ته کتل. آمر دوی څخه وپوښتل:

- ځوک سیمه کې بلد دي، یا آشنا او دوستان لري؟

یو پولیس له کتار څخه یو ګام را مخکې شو، عسکری تعظیم یې وکړ:

صيب سيمه را ته لږ څه معلومه ده، خو ځوک پيژنم نه. دلته لنډ يو کوچنی کلی دی (سروانيان) ورته وايي. خواته يې چينه کلی، پورته انجيران، او بيا انګور دره ده، بيا ډاک کلا راځي. بيا کلای خواجه او ياسين خېل دي. لوی کلی اکاخېل دی چې له دې ځآيه ډېر لری دی، بيا د تګاو بازار دی، هيسته نور الاسای او نجراو شروع کيږي.

سرتيری بيا کيڼ پلو را ورځرخېد، لاس يې هوا کې وخوځاو:

او دا خوا جګدلک دی. بېرته يې مخ لمرخاته خوا ته وګرځاو:

هووغه تيزين دی.

لمر ځرک واهه او رڼا پوره خوره شوه. د غونډيو له اړخه د سپاندې د بوټو، جاروبوټي او د ترخو د بوټوبوی راته. آمر په شګو کې مونډلي کتابچه يو پوليس ته ورکړه، د تذکرې خواته يې اشاره وکړه او ويې ويل:

- جنازه بايد په ډېر اتيات امبولانس ته پورته کړو او همدې نږدې کلي ته يې يوسو، هرومرو د همدې نږدې سيمې دی. ګوندې خلک يې وپيژني، ولس سره به يې جنازه وکړو او بېرته به قرارګا ته ځو.

پوليسو امبولانس ته تذکره پورته کړه. آمر د بيرديم خواته ورغی او د اردو د پوستې سرتيري يې هم په خبره پوه کړل. بېرته د امبولانس خواته راغی اود امبولانس ډريور ته يې د حرکت امر وکړ. ټول د (سروانيانو) د کلي په لوري روان شول. د بيرديم د مرتباتو مخابره چي قرارګاه ته خبر ورکړ. هدايت راغی چې جنازه دې له ولس سره په مشوره خاورو ته وسپارل شي. په سيمه کې دې نور د دښمن څخه پاتې آثار او شواهد وکتل شي.

لاره ډېره خرابه وه. بيرديم، امبولانس او ګاز۶۶ په کرلېچړنو په سختۍ تاوېدل، ورپسې د خاورو دوړه هواته پورته کېده. دا وخت لمر ښه پوره را هسک شوی و. له شاوخوا دښتو او د غونډيو له لمنو

داسې توده هوا رالګېده لکه د غرمې تنور چې بل شوی وي. غرمه نږدې وه چې لومړی د چینه کلي ته او بیا سروانیانو ته ورسېدل.
د کلي ختین کورونه د انارو باغونو ته نږدې وو. دا وخت انار دغټ چارماغ په اندازه شوي، خو پخېدو ته یې دوه- درې میاشتې پاتې دي. له کلي لږ پورته یو جومات و چې تر خوا یې پراخه چوتره وه. په چوتره دوه پوزې هوار وو. د کورونو مخې او باغونو ته تللیو نریو لارو کې یو نیم کلیوال ښکاره کېد. ټول موټر په یو کتار د کلي لومړني کور سره ودرېدل. غرمه نږدې وه. دا وخت یویو کلیوال د انارو له باغونو او کروندو څخه کورونو ته راتلل، د چا بېل په اوږه و، چا یو پنډ د پولو ریبل شوي واښه په شا کړي وو او چا هم خپل یو یا دوه څاروي رامخته کړي وو.
غرمې ته لږ وخت پاتې و. د پولیسو آمریوه سرتیري ته وویل چې کلیوال خبر کړي. لږ شیبه کې څو کلیوال په بیړه او الوتې ښه راورسېدل، ژر ژر یې امبولانس کې مړی وکوت، خو هیچا هم ونه پېژاند. خبره یې د کلي امام ته حواله کړه. کلیوال پوهېدل چې زیاتره د مجاهدو وسله وال د ډېرو لرې سیمو وي او د کابل شاوخواته یې تګ د بادپښ او تیزین له لارو وي. څو کلیوالو په منده یو کټ، ببلونه او کلنګ راوړل د قبر په ایستلو لګیا شول.
دا وخت ملا امام را ورسېد. هغه ډېر خواشینی ښکارېد. کله یې چې جنازه ولیده، دستي د دوو پښو په سر کیناست، د لاسونو څنګلې یې په زنګنو ولګولې او غبرګ لاسونه یې د دعا په دود پورته ونیول، ترڅو یې اعوذو بالله من الشیطان الرجیم- بسم الله الرحمن الرحیم ویل، جنازې سره راغلي سرتیري، د پولیسو آمر او کلیوال ژر ژر غلي غلي کیناستل. ملا صاحب تلاوت پای ته ورساو دعا یې وکړه:
وروڼو پاک شهید دی، زلمی دی. نوراني څېره یې ده. فردوس جنت یې نصیب شه. مسلمانانو؛ بې کسه دی، شهید همدلته د خپل کلي هدېره کې خاوروته سپارو، خاوره امانت نه خیانت کوي. ټوله زمکه

د الله(ج) زمکه ده. هيڅ مومن لاوارث ندی، همدا مور د ده خپلوان او ديني ورونه ياستو، که يې متعلقين او اقارب راغلل، دحکومت حاجت نشته، که يې خپل شهيد ووړ مور ورسره موافق يو، راباندې حق لري،الله پاک دې وبخښي. شهادت يې قبول. خپلوانو او متعلقينو ته يې عظيم اجر او جميل صبرغواړو، څه چې قضاوتقديرمقرر ګرځولي ورته تسليم ياستو.
شهيد يې له تذکرې کټ کې کېښود، جنازه وشوه. خلکو کټ د قبر په خوا په اوږو کړ. کله چې جنازه هديرې ته ورل کېده، ډېره درنه وه، لکه چې د بازګل زړه کې يوه نړۍ ارمانونه وو او هغه يې له دغو ټولو آرمانو سره هغې هديرې ته يووړ چې شاوخوا يې دتيږو باره او يو اړخ کې يې دوه ډيرې پخوانۍ د ګز کرې ونې وې. له هديرې څخه کوز د غونډې ټوله لمن او بيا د انارو شنه باغونه او کروندې له ورايه ښکارېدې. د هديرې لويديځ ته د تګاب او سروبي کچه سړک غځېدلی و. کله چې کليوالو په قبرخاورې واړولې، دعا وشوه دپوليسو آمر يو کليوال ته وويل:

- دا مور ونه پيژاند، خو دغه يوه کتابچه هلته پرته وه، زما په غالب ګومان چې نوم يې بازګل و، ځکه چې د کتابچې په پوښ ليکل شوی و.

کليوال په خپګان او غوسه ورته کتل. يوبل کليوال ورته وويل: ښه صيبه که کوم ورثه او خپلوان يې راغلل، مور به يې نوم او دجامو او واسکټ نښې ورته ووايو. هرومرو د مجاهيدينو د اړخ دی، مجاهيدين د ورځې نه ګرځي، خو دشپې ځينی وخت کلي ته رابرابرېږي. که مور څخه يې بازخاست وکړ، مور به ورته ووايو. ستاسو دي کور اباد.
د افغانانو غم دروند او ټول يې يوشان ژړول. په تېره بيا د دواړو خواوو ماتم په ولس باندې و. د بمونو او مزاييلو پور همدې ځوانانو پرې کاو.

په بازګل خاورې واړول شوې. یوکلیوال هغه تش کټ په اوږه کړ چې لږ مخکې یې د جنازې د وړلو لپاره راوړی و، څو تنونورو بیلچې او کولنګ واخیستل او کورونو ته روان شول.

# (۲۶)

د ۱۳۶۷ل. کال د چنګابښ د میاشتې پای او د اګست له نیمایی سره برابره وه. پینډۍ کې د GHQ دفتر کې د لویو افسرانو پټه غونډه وه. په غونډه کې د ننغلود بند د نړولو دنقشې په ناکامي خبرې کېدې او (ج.ح.ګ.) وروستۍ ارزونه کوله. د اوس لپاره په جلال آباد د یرغل پلان د همدې نقشې د ناکامۍ له امله نا معلوم وخت ته پرېښودل شو. د نغلو د پېښې یو مهم ټپي د هغه د پښې د درملنې لپاره امریکې متحده ایالاتوته واستول شو، نور دوه همدلته روغتون ته لیږدول شوي او مخ په جوړېدودي. په لندن کې د انګلو- پاک لپاره روزل شوی جنټلمینانو وپتېیله چې په ګرمي کې په جلال اباد برید به ښه پایله ونه لري، نو غوره ده چې د ژمي وروستیو، د مارچ د میاشتې شاوخوا ته وځنډول شي.
د پېښور پرس کلبونو کې د خبریالانو غوج ماغوج وو. څو سفیران په یوه ورځ کې مرکې ته راغلي وو. په دې ورځو کې د امریکې سفیر(رابرټ اوکلي) په اسلام آباد کې په خپل دفتر کې دومره نه وبوخت لکه څومره چې پېښور کې سترې- ستومانه و. له سهار تر غرمې به په منډو- ترړو و، وروسته تر غرمې به یې تحلیلونه پینتاګون او سي.آی. ای ته استول. د ده لویه سودا دا وه چې داسې ورځ رانشي چې د افغانستان په شان یو وړوکی(!) هیواد د امریکې د ولسمشرانو د کاندید کېدو د مناظرې یوه برخه اود امریکې د پرتم

د ځوږ لامل شي. اخبارونه د سفير اوكلي په مركو او عكسونو ډک وو. د صادق او بیګ دفتر ته پرېمانه اخبارونه راتلل او د سفير دغو عكسونو او مركوصادق ته د سفير ډابس د وژل كېدو پيښه او بيا په ټولګي كې د سفير او سفارت لوستونه او دې سره يوځاى د چنګېز د سفير ټكه وريادوله. د سوداګرو تر نوم لاندې د (كلايو Ciive) كيسې سر وربانديې ګرځاو. دې پوښتنې ورته ځواب نه درلود چې دا سفيران به كله د ده له وطنه لاس اخلي؟ چې دا پوښتنه به يې له رحيم بيګ سره شريكه كړه، هغه د تل په شان په تمسخُر او دماغ ورته ويل: ملت دې چې وږى اوويده وي، خلک دې مکتب سره دښمني پالي او چاروا‌كي دې د نورو د غلامى كړى غوږ كې ګرځوي، د ښې ورځې تمه مه لره، همدا درپيمه نړى ده. وږي خلک دپرديو حُكم لاندې وي. سفيران مه ملامتوه. سفيران دخپلو هيوادو او د خپلو اتباعو ګټې ساتي ګټې! دا ماو تا يوو چې نه خپلې ګټې پېژنو او نه يې ساتلاى شو!

په دې ډول ځواب اورېدو او خبرو به صادق له خپلې پوښتنې او دزړه خوالي څخه پښېمانه شو.

(ر.اوكلي) د يوه ماهر ستراتيژيست دنده لرله. له افغانستان څخه شوروى پوځونه وتلي وو، خو اوكلي يواځې په نظامي او ديپلوماتيكي پوهې باندې فكر نه كاو، هغه سره د اقتصاد او د انرژي د بحران د دوران اندېښنه وه، هغه د سيمې تاريخ، جغرافيه، مذهب او په بشپړ ډول ختيځ پېژندنې ته ملا تړلې وه. هغه دا موندلې وه چې د بري لاره يواځې نظامى بريدونه نه دي، بايد د ديپلوماسى، دينى اومذهبي عامل او تاريخى تجربو څخه هم كار واخلي. ر.اوكلي په سيمه كې د برتش او د برتش د ختيځ كمپنى لوستونه ورپياد كړل. اوكلي زده كړي و چې شهزاده امان الله څومره په اسانۍ وشړل شو. هغه د بين النهرين د زېرمو او د عربو د تېلو د ترلاسه كولو لپاره د عربي لارنس(T.F.Lawrence) خاطرات او بيا په ۱۹۲۶م. كال كې په لندن كې د(Wisdom of Pillars Seven) خبره ورپه ياد كړه.

عربی لارنس هماغه څه کول چې هغه بل لارنس د امان الله په مهال افغانستان کې کړي وو.عربی لارنس (د عقل اووه څلي) کې ليکلي وو:
... ما خلک کوډو، پېريانو، پيرانو، درواغو، خوب ليدلو او تاوويزونو باندې دوکه کول، پرته له دې چې آن يو برتانوی ووژل شي، ځان مې د جزيرة العرب پربېمانه تېلو او د بين النهرين پربېمانه جوارو، وريجو او غوړيو راخپلولو ته ورساو. ترکيه کې مو په اتاتُرک زور ونه رسېد، خو افغان ځوان شهزاده مو له وطنه لرې کړ. زما آمر جنرال وينګيټ زه ځکه وستايلم چې عرب مې د غفلت په خوب ويده وساتل....
اوکلي وروسته تر (جونز) څخه لارنس ته د درناوي سر ټيټاو. دی  بايد د بريژنسکی په پاملرنه او مهرباني له پرزدنت ريګان څخه هومره ستاينه ترلاسه کړي لکه عربي لارنس چې ستايل شوی و. خو د اوکلي دا خيالونه ريښتيا نه شول. هغه ډېره ګړندۍ منډه اخيستې وه. منډه نه چې بيخی هوا وه، ترهغو چې هوا کې له خپلو نړدې ملګرو سره د امونو په کريټ کې ايښودل شوي بم سره وچاود. دا وخت زوړ برژنېف هم خپلې تيزې منډې او هواته ختلو په زمکه ويشتی و او سور پوځ مړ ښټ له آمو اووښتی و. سفيرپوزانوف هم د مرګ په بستر پروت و.
صادق ځان سره ويل:
توبه دې سفيرانو د وطنونو او قيمتي زېرمو د ترلاسه کولو او د ملتونو د ويده ساتلو، شاته راکشولو اوښکېل ساتلوکې خپل ټول زور اوبه کړی دی...
په همدې سوچونو کې د رخصتی وخت شو. هغه نور د بيګ له خبرو او پيغورونو هم ستومانه و، نو بيګ ته په تمه نه شو، له دفتره يواځې ووت.

په هغه سبا بياهم د پرس کلبونو په ستيژ باندې د اوږد ميز شاته يوکتار شيخان،رهبران،عربان او کرنيلان ناست وو. دوی ته مخامخ لاندې په تالار کې په سلو چوکيو باندې سل تنه خبريالان ناست وو، قاضي صاحب نوې قره قل خولۍ په سر او د واسکټ تنۍ يې تړلې وې، د(دفاع سرزمين پاک) ستاينه يې پيل کړه. يوبل ورپسې د الحاد او کمونيزم د ماتولو د ضرورت خبرې وکړې. د خبريالانو د کمرو د فلشونو رڼاګانې له هرې خوا پرقېدې او عکسونه اخيستل کېدل. په بله ورځ ډان، جنګ، مشرق او نورو ټولو اخبارو کې د لوی افسر خبره راغلې وه. هغه دعوا کړې وه چې وطن يې اټومي قوت دی او په آسانۍ سره بهارت مات، کابل مسلمان، کشمير ازاد او ډېر ژر به د بنګال غچ له جلال آباده واخلي.
په دفترونو کې به بيګ او د بيګ په شان نورو مامورينو د افغان مهاجرو غوړ غوړ راپورونه وليکل او کماندرۍ ته به يې واستول. هر راپور کې به د جهاد سنګرونو ته دتلليو ځوانانو او د پرېمانه مرستو خبره خامخا وه. نور به يې دوتپتي يا قهوه مخې ته ايښې وه (DAWNډان) اخبار به يې کوت. اوس د رحيم بيګ انګليسي ډېره ښه وه او ويل به يې نور نو پرفکټ يم. کله به چې د اخبارونو ګېډۍ راغله ده به يواځې ډان راواخيست، نور به يې هيسته باطله ټوکرۍ ته وارتېيل. صادق به ورته حيران و.
د مهاجرو لپاره د مرستو دفترونه اوس د سياسی بحثونو ځايونه وو، خو صادق به هڅه کوله چې بيګ سره زيات بحث ونه کړي. بيګ اعلحضرت، خلقيان، تنظيمونه، لويديځ او شوروی ټول غندل، خو صادق به په دې هيله و چې يوځل بيا اعلحضرت وطن ته راشي او د حاجی صاحب يواځينی ارمان پوره شي. ده ته د پلار خوشحالي خپله خوشحالي وه.
ځومره چې د شوروی پوځونو له وتلوڅخه ورځې تېرېدې، وطن ته د مهاجرو د ستنېدو تلوسه زياتېده. کمپونو کې ميليونونه افغانان د

ګرمي، ناروغي او بېوزلي په کړاوونو کې ګير پاتې وو. لاهم هره ورځ د مجاهدينو جنازې راتلې او ډېر نور همالته وطن کې خښېدل، نه يوازې د مجاهدينو جنازې، بلکې د افغانستان د پوځ د سرتېرو، د ښوونځيو دښوونکو، طبيبانو، حکومتی مامورينو او دپروژو د اينجنيرانو جنازې هم زياتې شوې وې. صادق به په دې انديښنه کې و چې وطن کې هر ځاځکی بهېدلې وينه، د يوې خونړۍ اوږدې سياسي لوبې او د ملی زعامت او جمعي تعقُل او يووالی دنشتوالي له امله ده. کله به يې چې دا خبره بيګ ته کوله، هغه به سر وخوځاو:

- هو، همدا درېيمه نړۍ ده کنه.

بيګ بيا هم د هر وخت په شان ټول غندل. د مهاجرو لپاره دفترونو کې نور کار نه و، مامورين به ورځ کې يوځل کمپ ته تلل، زياتره به ورسره د سپيشيل برانچ يو افسر هم و. د سپيشيل برنچ د افسرانو دماغ تر بيګ هم زيات وچ و چې د صادق زړه يې ورتنګ کړی و.

# (۲۷)

اوکلي، قاضي، شيخان، رهبران او کرنيلان سره راټول شوي دي. مهمه غونډه لري. پېنځه سوه خبريالان يې راغوښتي چې ډېر ژر د افغانستان د آزادولو خبرونه نشر کړي. هغه تړلي لاری لاری کارتنونه بيا رابرسېره شول چې په لويو پوسټرونو يو تور سوک رسم شوی او ورسره په سره رنګ ليکلي: (فتح مبارک). دا ټول پوسټرونه له تېرو اوو مياشتو راهيسې په تمه دي چې کله به افغانستان ته وړل کيږي. دا دی د نغلو د بند دنړولو د نقشې له ناکامي راهيسې اووه مياشتې وځي. ج.حميد ګ. او اوکلي غوږ په غوږ شول او اعلان يې وکړچې غونډه محرمه او د تړليو دروازو تر شا ده، خبريالان بېرته رخصت کړئ!

د پرس کلب دچوکيو ګړب ګړوب شو، خبريالان پاڅېدل. د مايکونو او د کمرو د دوربينو د بيرته ټړل کيدو ترق- تروق دی. خبريالانو کمرې اوړوته واچولې ووتل.
جی ايچ کيو، MI6, CIA ،ISIاو الفيصل په جلال آباد د يرغل ورځ د کب شپاړسمه چې د مارچ له شپږمې سره برابره وه، وټاکله. دا نېټه حميد په مغروره خندا (OK) کړه. پ. ټامسن او برژنسکي ډېر ډاډمن نه و او الفيصل ښه ډک جيبونه لرې، هغه ته وچ، لامده، کلبی، مقصود ورته توپير نه لرې، څه چې نورو کول مني يې، الفيصل صرف سر او ځُلتار خوځوي او جيب کې يې سپين چکونه راوړي دي.
درې فرقې چې ټول د قبايلو ملکې جامې لرې، ۱۲۰۰کچرې، ۱۷۰پيکپ موټر، ستينګر توغندي، سلګونه RPG دټانک ضدوسله، زرګونه چينايی اومصری کلاشينکوفونه، سلګونه BM-12 مخابرې او۱۵۰۰۰مجاهدين چمتو دي چې يرغل پيل شي. دوه درې ورځو کې به جلال آباد فتح او په بله اونی به کابل ونيول شي، خو لا تراوسه هم پلان ټولو ته برآلا نه دی او قومنده نه ده ورکړل شوې. نن د کب څوارلسمه د مارچ څلورمه ده، بريد ته لاهم دوه ورځې پاتې دي.

***

جلال اباد د افغانستان ختيځ کې د ننګرهار ولايت مرکز او يو ښايسته شين همېشه بهار ښار دی. دغه ښار ډېر لرغونی تاريخ لرې. هډه هغه تاريخی معبد دی چې د يونسکو او نورو انفرادي لرغونپوهانو پام يې ور اړولی دی. د مملې بڼ، د فتح اباد سمڅې، دبيمارانو څلورستوپې،د درونټې ډېرليک، کوکب بڼ، شاهی مانۍ، باغ امير شهيد او نور ځايونه يې نوم لرې. څلورو ميکانيزه کرنيزو فارمونو د ننګرهار ښايست او برکتونه زيات کړې دي. هرفارم سيلو، ښوونځی، مالداری، د ميوو بڼونه، کلنيک، د اوسيدو عصرې کورونه، مغازې، ورکشاپ او نور تاسيسات لرې. له انګريز څخه د

افغانستان داستقلال دبېرته ترلاسه کوونکي پاچا امان الله خان زيارت هم همدې ښار کې دی. هډه د جلال آباد ختيځ ته د غرونو او ټيټو غونډيو منځ کې موقعيت لري. له دې سيمې چې نور هم ختيځ لوري ته ګورې، سپين غر چې تل په واورو پټ دی، د هغه لوړه څوکه سيکارام له ورايه ښکاري. له سيکارام چې د سترګو دوربين په دې بل لوري رابرابر شي، نو د شمشاد هسکه څوکه ښکاري. همدې شمشاد ته لنډ؛ له ډکې او کمکي خيبرڅخه تورخم ته رسيږو. تورخم اوس د فرضي کرښې په سر د انګلو- پاک له جوړېدو راهيسې د بندرپه توګه پېژندل کيږي، له تورخم پورته مخ په ختيځ لوري ميچنۍ اولواړګې او بيا د خيبر تاريخي دره ده. همدا دره د پېښور په لوري لار باسي. د هند دختيځ کمپنۍ ډيره هڅه وکړه چې له بمبئي او کرناتک تر آمو پورې سيمې ونيسي خو له اټک څخه راپورې وتل ورته ګران شول. خان زمانخان، ملاچکنور، غازی ببرک خان څخه نيولې تر ملالې او ايوبخان خپل وطن وساته. سيمې ته د (کلايو) له راتګ وروسته، د ده يو خلف (م.ت.ډيورند) له ګلګېت- چترال، باجوړ نيولې تر مينګورې ترننګرهار، له پکتيا تر چمن د مومندو، شينوارو،، اپريدو، اخکزو، کاکړو، مسيدو او منګلو، وزيرو اوبلوڅانو ترمنځ يوه کرښه وکاږله، نيم يې يوخوا نيم يې بل خوا کړل، خو ولسونه لا هم يوبل سره تګ- راتګ، خپلوي، ګډ اختر اوبرات، غم، ښادي او سوداګري لري. د ټولوژبه، جامه، نرخ او دود- دستور يو دی. کله چې د ډيورند نفس وخوت، په هغه ورځ د رنجيت سنګهـ کهول او اولادونو په پنجاب او لاهور کې څو ودانۍ او سړکونه د هغه په نوم ونومول. له اکسوس تر اندوس پورې د کلايو د اولادونو نقشه عملي نه شوه ټولو يې ارمان د (ګوره وانانو) هديرې ته يوړ. له پېښوره د جلال آباد لويه لاره د خيبر له درې را تيريږي، په لنډيکوتل راووړی اوتورخم ته رارسيږي.

د تړليو دروازو تر شا دپيندى په غونده کې وپتيبيل شوه چې په جلال آباد به د تورخم له لوري بريد کيږي. په زرګونو وسله وال به له غلام خان ډاګ، غازي اباد فارم او کان کترغى څخه د جلال اباد په هوايى ډګر او ثمر خېلو باندې بريد کوي. هوايى ډګر او په ثمر خېلو کې د پوځ يوولسمه فرقه به په يوه ورځ کې نيول کيږي، ورپسې به لومړى لمبر قول اردو او بيا به د ۷۲ ساعتونو په بهير کې جلال آباد فتح کيږي. دې پسې وروسته به مجاهدين مخ په کابل ورځي.
د جګړې او بريد طراحانو دکب د مياشتې نيمايى چې د مارچ لومړۍ اونى سره برابره وه د ناخاپي يرغل لپاره وټاکله. په همدې خاطر پرېکړه د تړلو دروازو تر شا وشوه. پنځه سوه خبرياالانو ته پنځه پنځه سوه کلدارې ورکړل شوې او د غونډې له پيل مخکې له پرس کلب څخه و ايستل شول. دغه نيټه په جلال آباد کې هغه موسم وي چې د نارنجو بڼونه تازه او ګلان يې مخ په غوړېدو او بزګران په کروندو کې بوخت وي. کله چې جلال آباد فتح شي، د کابل ساړه او واورې هم پاى ته رسيږي، نو فتح يې آسانه ده. د دغې اشد محرمي غونډې وروستى برخه په دې وينا پاى ته ورسېده : د آسيا پړانګ به جلال آباد ۷۲ساعتونو کې ونيسي او بيا به په کابل قبضه وشي.
په دې ورځو کې د کابل نوم سهار او بيګا د انګلو- پاک د نظامي افسرانو او ميډيا په خوله و؛

- کابل دې وسوځيږي،
- بهارت اور بنګال کا بدله کابل سى ليا جائي ګا.
- کابل کى فتح کى بعد کشمير کى فتح،
- جنګ، جنګ تر وروستي افغانه جنګ!

# (۲۸)

نن د ۱۳۶۷ل. کال، د حوت شپاړسمه د ۱۹۸۸م. کال د مارچ شپږمه، وخت مازیګر دی. په جلال آباد د برید خبرراغلی دی. د دفاع وزارت د أپراسیون په ریاست کې د لومړی بریدمن عبدالوکیل د خدمتي دورې لس میاشتې شوي دي. تېرو لسو میاشتو کې ډېر لږ خپلې اصلي قطعې او د پخوانیو ملګرو لیدو ته ورغلی دی. ورځ په ورځ نوې او مهمې دندې مخې ته راځي، د نوکریوالي ساعتونه زیات شوي دي. ځینی وخت لسو ورځوکې هم یوځل کورته نشي تلای.

د کابل سوړ مازیګر دی، د (قروغ) غره له لوري سړه سیلۍ راچلیږي د مخ بخرکي الوځوي. شاوخوا تاج بیګ غونډۍ، موزیم، د ریشخور لمنې ټولې په واورو پوښلې دي. لومړی بریدمن په دې تمه دی چې د اوپراسیون رئیس کورته د تګ رخصت ورکړي. دوه ورځې مخکې یې د یوې شپې د رخصت ورکولو ژمنه ورسره کړې وه. کورکې مورجانه په تمه ده چې وکیل راشي او کوژدنې ته یې د نوي کال د راتلو په خوشحالۍ څه سوغات واخلي.

لومړی بریدمن سوچونو په سرواخیست:

مورجانې دوه میاشتې مخکې ورته دسمال راوړ. مور عبدالوکیل جان ته له ښایسته پېغلې (ډیوې) سره د ګډ ژوند د تړون زیری ورکړی و. ډیوه د ښایست او لیاقت لرونکې پېغله وه چې دنجونوپه یوه ښوونځي کې یې د ښوونکې په توګه کار کاو. ډیوه به ډېر ژر د عبدالوکیل کور رڼا کړي. د عبدالوکیل د سترګو له مخې د مورجانې آرمانونه لکه د فلم پرده تیریږي: مورجانه پرله پسې همدا وایي چې سر کې دې یویو سپین ډکې ښکاره شول، نور نو د ژوند ارمان پوره کوم چې د نازولیو لمسیانو خاونده شم، وخت به مې ورسره ښه تیریږي. یوه ښایسته نږور به ولرم چې لاس مې وربانديې سپک وي.

د مشر ځوانیمرګ ورور د کوژدې او واده ارمان دې په زړه راته پاتې دی، هغه نیمه خوا شهید شو...
وکیل مورجاني ته عذرونه کول چې د وطن حالات سم نه دي، په شپوشپو نوکري کیږم، تول پوځ لومړی لمبر احضاراتو کې دی.
خدای مهربان دی د ژنیو خبرې پیل شوي، ډېر ژر به سوله راشي، مرور ورونه به را یُخلا شي، مهاجر به وطن ته راشي، سوله به وي، خوشحالي به وي، بیا به هغه وخت راته کوژده وکړې، خو مور لاد مخه خپله پرېکړه کړې وه، دسمال یې راوړ او وکی وشو. نن چې په جلال آباد دبرید خبر راغی دعبدالوکیل سترګو ته هغه پتنوس ودرېد چې په ګلانو پوښلی قند پکې او په ګنډل شویو دسمالونو پوښل شوی و. یو ځو ګاونډیو او خپلوانوښځو دسمال د دایرې په وهلو تر کوره راوړی و. دې سره سم یې د عسکري جمپر دسینې جیب ته لاس کړ، د وروستی میاشتې معاش یې جېب کې و. که نن ورته رئیس صاحب رخصت ورکړي، پیسې به مورجاني ته ورکړي چې کوژدنې ته یې د نوروز او نوي کال یو سوغات وپیري. ...
دا وخت نوکریوال ځانګړی تیلفون وشرنګېد. لومړي بریدمن عبدالوکیل د سترګو په رپ کې عسکري خولۍ د میز له سره پورته، په سر یې کړه، دتیلفون اړخ ته تیارسئ ودرېد. له هغې خوا امر وشو:
- لومړی بریدمن عبدالوکیل د اوپراسیون ریاست کې د مخابرې د کنډک خدمتي او نوکریوال ته امر کیږي چې تر یو ساعت پورې له مخابرې سره ځان چمتو او د خواجه رواش هوایي ډګر ته ځان ورسوي. ترانسپورتی ۲۱۷ پرواز یوې بیړنۍ دندې ته چمتو دی. ډاډ راکړئ.
پوه شوم. چمتو یم. تر یو ساعت پورې به د خواجه رواش هوایی ډګر ته ځم. اطاعت کیږي.

ماښام نږدې لومړی بریدمن عبدالوکیل د خپلوجامولـه بیک، کلاشینکوف، پرتلهـ طبراق اومخابرې دستګاه سره دخواجه رواش د هوایی ډګرد نظامی الوتنو په دروازه ننوت. د هلیکوپترو شورماشور و. کله به دوه ځرخکې غبرګې پورته شوې، ورپسې به دوه نورې کیناستې. پرته له هلیکوپترو نورې الوتکې ولاړې وې. لږ ځنډ وروسته یوه خړه عسکري- ترانسپورتي الوتکه چې د ماښام تیاره کې تکه توره ښکارېده، چالانه او دځغاستې په لیکه برابره ودرېده. دا هماغه ۲۱۷ پرواز دی چې د دفاع وزارت او د پولیسو د امنیت افسران او سرتیري د جلال آباد هوایي ډګر ته رسوي. د جلال آباد هوایي ډګر کې همدا نن یوه قرارګا جوړه شوې چې ځانګړې مخابرې ته اړتیا لري. د مخابرې فني افسر به د جګړې د جبهاتو له قطعاتو او په مرکز کې به لوی درستیزوالي سره اړیکي لري. د مخابرې ترټولو وړ او تجربه لرونکی لومړی بریدمن دهمدې دندې لپاره توظیف او دا دی په دغه الوتکه کې دغې دندې ته روان دی. همدا وخت دوه ویشت نور افسران او سرتیري هم را ورسېدل. لومړی لوړ رتبه صاحب منصبان الوتکې ته پورته شول. دننه الوتکه کې ځراغونه روښانه وو. په دغو کسانو کې ځینی یې لومړي بریدمن عبدالوکیل پېژندل: جنرال سبحان، جنرال محمد حیدر او جنرال ابن یمین، د مخې چوکیو کې ناست وو. لومړی بریدمن عبدالوکیل عسکري تعظیم وکړ او شاته سیټونوته واوښت، ورپسې نور افسران او سرتیري راغلل او وروستیو سیټونو کې کیناستل. دا وخت الوتکې ځراغونه مړه کړل، دننه الوتکه کې توره- تروږمۍ شوه. الوتکه کې ناست کسان ټول غلي وو او په دې تمه وو چې لږ شیبه کې به الوتکه پورته کیږي، خو ځنډ ډېر ووت. وروسته تر څو ساعتونو چې دشپې یوولس نیمې بجې کېدې، خبرراغی چې د جلال آباد هوایی ډګر کې د الوتکو د کیناستو امکان نشته، د میدان د ځغاستې پر لیکه او هر ګوټ کې هره شیبه توغندي لګیږي. دا د هوایی پوځ تر ټولو کوچنۍ

ترانسپورتی الوتکه وه چې مخکې تر دې به یې بېلابېلو ولایتونو ته سفرونه لرل. نن شپه یې دپرواز د امنیت ډاډ ورنه کړل شو. دشپې یوه نیمه بجه اجازه ورکړل شوه چې جلال اباد ته ولاړه شي. وروسته تر همدې الوتنې د جلال آباد د جګړې تر پای پورې بله هیڅ ملکي او نه عسکری الوتکه دغه ډګر کې کوزه نشوه. هوایي ډګر په بشپړ ډول د توغندیو او راز راز وسلو د بېساري برید لاندې راغلی و.
لومړی بریدمن عبدالوکیل د الوتکې د ښي وزر د یوې دایروي ښیښې سره ناست و، لوړ رتبه افسران مخکې سیټ کې وو. ده خپل ټول وسایل او د جامو کوچنی بیک د الوتکې وروستۍ برخه کې ایښی و. کله چې الوتکه له هوایي ډګر څخه پورته شوه، ټول څراغونه یې مړه کړل. د خواجه رواش، ده سبز او بیا یې د ساپي دغرونو په سر دوه دورې وکړې، دا وخت څلوېښت زره فیټه له زمکې پورته شوې وه چې مخ په جلال آباد سیخه شوه. شاوخوا هوا تیاره او د ښار روښانه څراغونه له سترګو پنا شول. له دایروي ښیښې څخه په سختۍ سره یو نیم ستوری ځلېد، خو د سپوږمۍ تک ژېړ ټیکلی له ختیځ څخه د آسمان نیمایی ته را پورته شوی و. یو- دوه افسرانو یوبل ته وویل:

- چې آسمان کې سپوږمۍ وي، الوتکه په آسانه نه ښکاري، خو کله چې په اړخ شي، د سپوږمۍ رڼا ته ځلیږي، خو زموږ لپاره د سپوږمۍ رڼا ځکه ښه ده چې په میدان کې یو څراغ هم روښانه نه دی. د سپوږمۍ رڼا کې کېدای شی پیلوټ د رنوې کرښه ووینې.

عبدالوکیل د آسمان پراخه اُفق ته ځیر شو او بیا یې ښکته زمکې ته وکتل، دا وخت د کرې- وړې پټارې په شان دیوې سیمې ګڼ څراغونه ځلېدل. لومړی بریدمن عبدالوکیل د جلال آباد خواته بلد نه و. د شا سیټ د یو- دوو کسانو له خبرو پوه شو چې دا د سروبی بازار و. لومړي بریدمن عبدالوکیل ته ورپه یاد شول که اووه میاشتې مخکې نغلو الوځول شوی وای، اوس به نه دا څراغونه او نه به دا کوروونه وای. لږ شیبه کې الوتکه له دې سیمې تېره شوه، ځلانده څراغونه له

سترګو پنا شول. لږ شیبه کې بیا یو تلی څراغونه وځلېدل. یو- دوو خپلو منځو کې ویل اوس د درونتې په سر یاستو. الوتکه کې ناست کسان تول په جلال آباد باندې د برید په فکرکې وو. عبدالوکیل یو ځل بیا له الوتکې دباندې ښه ځیر شو، خو هیڅ شی څرګند نه ښکارېدل، دا ځکه چې دا وخت الوتکه له یو څنګ څخه بل ته اوله بل څخه بل ته اووښته او په یوه وړه دایره کې مخ په کوزیدو وه. تر دې مهاله د الوتکې یو څراغ هم روښانه نه و، سورلیو خپل نفسونه سینو کې دپ او تول غلي وو، یواځې د الوتکې د انجنونو مزبوته غرهار او زنګهار و چې کله کله به بدل غوندې شو. عسکري الوتکې له ملکي الوتکو سره په هرڅه کې توپیر لري. د جګړې ډګر کې ناسته لوی زړه غواړي. الوتکه دوهمه دوره خوړلو کې وه چې له ګردې ښیښې څخه یوه ځغلنده سره رڼا د الوتکې منځ ته راولوېده. چې زمکې ته دې کتل سرې مرمۍ وې چې په متقاطع کرښو یې فضا ته سوررنګ ورکړی و. دا دریېم ځل و چې الوتکه په یوه کوچنۍ دایره کې د هوایی ډګر د رنوې په کرښه راوګرځېده. هڅه یې کوله چې په څلورم دور پر زمکه کیني، په ښې اړخ کړه شوه او لکه شاهین چې په ښکار غوټه وهي، ځان یې د رنوې کرښې او د میدان پلستر ته برابر کړ. هوا تیاره وه، د الوتکې د غږ په اورېدو او ډګر ته په راتیتېدو او احتمالاً د سپوږمۍ رڼا ته یې له ځلېدو سره د سرو مرمیو کتارونه د الوتکې په لوري را سیخ شول. یو ځل بیا یوه پړقنده او ځغلنده رڼا د الوتکې منځ ته راولوېده چې د ناستو کسانو څېرې یې روښانه کړې، له ښیښې څخه د باندې د جلال آباد دښار یوه څنده ښکاره شوه چې یونیم روښانه څراغ پکې ځلېد. یو ځل بیا د الوتکی ترڅنګ د اور دغونداري په شان یوه رڼا تېره شوه، وکیل یې رڼا ته یو سرتیری ولید چې بل اړخ ته ښیښې ته نږدې ناست و او خپله خچې ګوته یې غوږ کې ننه ایستلې وه، زغرده زغرده یې ښوروله او ورسره یې د هماغه اړخ سترګه پټه نیولې وه، خوله او پوزه یې

هم په هغې خوا کاږه وو. رڼا دستي ورکه شوه. له بل لوري بیا سره او شنه رڼا الوتکی ته دننه راولوېده. دا وخت الوتکه د رنوې له پاسه یو څومتره ارتفاغ کې وه. لږ شیبه کې یې یو دروند ټکان وخوړ او پرزمکه کېناسته، د ځغاستې په کرښه ډېره ګړندۍ وړاندې راغله او د ترمینل مخې ته د راتاوېدو په مهال یې د مرمیو رڼآ ته سیوری په دیوال څرګند شو. شاوخوا یوه پړکا وه، یرغل کوونکو دالوتکې دغږ په اورېدو ټولې وسلې هوا ته لمبر کړې وې. کله چې دروازه پرانیستل شوه، پیلوټ له کابین څخه سر راښکاره کړ، په ډېره بیړه او اوچت غږ یې ټولو ته وویل:

- لس دقیقې وخت لرو، په بیړه کوزشئ، زنځیرخپور په منډه بلنداژونو ته ننوځئ !

سم له دې سره لومړي بریدمن عبدالوکیل هم لکه د نورو په شان خپل وسایل په بیړه راواخیستل او وروستی کس و چې په توره تیاره کې راکوز او په منډو شو. ده څرښنده دسترګو له کونجه ولیدل چې الوتکې ته لنډ پنځه- شپږ ټپیان او درې جنازې راوړل شوې وې. د دوی له کوزیدو سره سم سرتیرو ټپیان او جنازې الوتکې ته پورته کړل او لږ شیبه کې الوتکه بېرته د کابل په لوري هسکه شوه.
نن ټوله ورځ چې په جلال آباد باندې برید زور اخیستی و، د ننګرهار عامې روغتیا کې د ټپیانو شمېر ډېر زیات شوی و. هغه ټپیان چې دلته یې درملنه نشوه کېدای کابل ته لیږل کېدل، د نورو ولایتونو د سرتېروجنازې هم لومړی کابل ته او بیا له هغه ځایه یې خپلو هدیرو ته لیږدول کېدې. لومړی بریدمن عبدالوکیل له خپلې مخابرې، وسلې او پرتلې سره یو بلنداژ ته ننوت، چې کټل یې د جامو بیک الوتکه کې ورڅخه پاتې و. لږ شیبه کې یې پام شو چې یو سرتیري د نویو رارسېدلو کسانو منځ کې تیاره بلنداژ کې هاخوا داخوا کتل او د(لومړي بریدمن عبدالوکیل) پوښتنه یې کوله. ډېر ژروکیل ځان ور

وپېژاند او خپل کارت يې ورښکاره کړ. سرتيرى ورته وويل چې قوماندان صاحب د ترمينل څمکتلي ته غوښتى يې!
عبدالوکيل بلد نه و او څمکتلى يې نه و ليدلى، سرتيرى ورسره سامانونه واخيستل له بلنداژه ووتل او په يوه منډه د ترمينل د څمکتلي په لورى ورغلل. په ټوله سيمه د سپوږمى ژېړه او تته رڼا خوره وه، خوميزايل او مرميو په فضا کې پرله پسې سرې کرښې ايستلې چې سترګې يې بربښولې. کله چې عبدالوکيل څمکتلي ته کوز شو، هلته څو تنه افسران د يو ميز شاوخوا راټول وو. پرميز باندې د جګړې خريطه هواره وه، بلې خواته د جلال آباد ملکي نقشه وه، څمکتلي کې رڼا وه، دوه څراغونه روښانه وو. وکيل د افسرانو مخې ته پوندې په کړس سره ووهلې او عسکري تعظيم يې وکړ:

- لومړى بريدمن عبدالوکيل، د مخابرې د دوه پنځوسم غُنډ خدمتى افسر.

يو جنرال چې پوخ عُمر يې و او د سر ويښتان يې مخ په سپينېدو وو، خپله خولۍ په سر کړه، ودرېد او عبدالوکيل ته يې لاس ورکړ، ورته ويې خندل، بيا يې د عسکري قومندې په انداز وويل:

- دمخابرې ټول سيستم عيار او لړ ورروسته د ټولو قرارګاوو او راقمونومعلومات درکوو. ټولو بطريو سره اړيکې ټينګې او کاټى واټي، زاس بيسيم راديويى اړيکو څخه ډاډ راکړه.

عبدالوکيل تعظيم وکړ:

- پوه شوم امر اجرا کيږي.

د نظامي پرسونل منځ کې کاټى- واټي يوه مشهوره شوى اصطلاح وه، مقصد ورځځه( Wakie-Talkie) مخابره وه چې په اردو کې يې وروسته تر زاس او پلما درېيم رول درلود. وکيل ته د يرغل په همدې لومړۍ شپه دا دنده وسپارل شوه چې له قرارګا نيولې تر يوولسمي فرقې، ګارنيزيون، يواتيايم غُنډ، قول اردو او د جګړې د ټولو برخو مخابروي شبکې اودهغو اړيکې، شفرونه او راپورونه

تنظيمول په غاړه واخلي. د وکيل په زړه کې د مور د ليدو او له هغې ښخه د خدای پاماني اخيستو او دُعا غوښتلو او خپلې کوژدنې ليدل يا هغې ته يوليک ليکلو ارمان پاتې شو، دا خو لا څه چې بيک کې يې جامې او د وروستی مياشتې معاش هم الوتکه کی پاتې و، خو تر ټولو مهمه دا وه چې دی اوس جبهه کې و. په وطن بريد شوی، بايد دفاع يې وشي. ده ځان ته داډ ورکاو چې ريښتنی سرتيری سر ورکوی، خو سنګر نه ورکوي.
عبدالوکيل دې ته ځير شو چې د جګړې دقومندې قرارګا کې د جګړې له پيل بيا تر اوسه راپوررونه ثبت شوي دي. د مخابرو شبکو پرله پسې راپوررونه ورکول او د قرارګا قومنده او د مرکز دايرکتيفونه يې جزوتامونو ته لېږل.
د مخابرې د لومړي بريدمن له سترګو ګڼ راپوررونه لکه د تورو ميرېانو د کتارونو په شان تېرېدل:
...دسهار په نهو بجو له ختيځ استقامت ښخه ۱۰۰۴ ښخه تر۴۰۶۵۲-۴ پورې د راکټونو پراخه انداختونه پيل شوي، په ۹:۳۵ لومړی لمبر لوا راپور ورکړ چې له نهو او شلو ښخه د راکټونو ويشتل پيل شول، په ۴۰۶۵۲-۴ کې د مخالفينو پياده وليدل شول.
د پوليسو د پوستې راپور: د بريد کوونکو انداختونه د سرخ ديوال په استقامت وړاندې راځي...
په همدې ورځ له بېلابېلو جزوتامونو په ښلويښتو دقيقو کې يوشپېته راپوررونه ثبت شوي وو. وروستی راپور دا دی:
... اته سوه شاوخوا وسله وال کسان ليدل کيږي. له اراضي ښخه په استفادې وړاندې راځي... بهرنی مليشه اونظاميان وپېژندل شول... د مياګانو د کلي په ۱۵۰۰ متری کې دوه ضربه ( B.M-۱) توپونه ځای په ځای شول. يو شمېر وسله وال تورو جامو اوسپينو پکولونو سره ښکاري، کچرې يې د کلا په چمن کې ګرځي...

عبدالوکيل د راپوررونو د کتوپه ترخ کې، د خريطې په سر د راټولو شويو افسرانو خبرو ته هم پام و، دوی يوبل ته ويل:
د سولې د دښمنانو برید د بهرنیو په سیده ګډون ډېر سنجول شوی، ناڅاپي او له ځو لوريو څخه دی. مخکې به د مخالفينو اکمالات د کچرو په مرسته کېدل، په اوسني بريد کې ډېل ډاټسن، کچرې او لارۍ موټر د کاروانو په بڼه راداخل شوي، اکمالات کوي او بيلابيلو سنګرونو څخه ټيپان له ډګر څخه باسي. حکومتي ځواکونو ته دمصالحې د نوي سياست له مخې د جګړې امر ترهغو صادر نشو ترڅو چې د امنيتی پوستو د سقوط خطر ونه ليدل شو. زموږ کشفی اطلاعاتو څوځله له ډيورند کرښې د رااوښتو په مهال د مخالفينو کتارونه وليدل او راپوررونه يې ورکړل، خو پوځ ته د عملياتو اجازه ورنه کړل شوه، يو اړخيز اوربند وساتل شو، اوس چې بهرنيان ورسره برآلا راروان دي او زموږ هستي او نسيتي بربادوي، بايد اکتيف فعال دفاعي حالت ته ورشو.
يو افسر د خريطې له سره سر پورته کړ، په جدي او غوسه ناکه لهجه يې وويل:
په دې ناڅاپي برید سره، يو اړخيز اوربند پای ته ورسېد. د حکومتي ځواکونو زمکني او هوايي قوتونه فعال شوي دي. له کابل، پکتيا او لوګر څخه ملاتړ کوونکي ځواکونه جلال آباد ته سوق او د اردو يوشمېر قطعات له وضع الجيش حالت څخه سوق الجيش حالت ته چمتو شول.
هغه جزوتامونه چې مرستې ته راورسېدل لومړی د جلال آباد قول اردو ته ورتلل، له هغه ځايه يې موقعيت او په دفاعي کمربند کې يې ځای ورښودل کېد. يوولسمه فرقه چې ثمرخېلو کې وه تر ځېنده ګوزارونو لاندې راغلې وه. ډېرې پوستې سقوط شوې وې او د ښار امنيتی کمربند ډرې- وړې شوی و. د جګړې لومړی کرښه د يوولسمې فرقې تر قراول را رسېدلې وه.

# (۲۹)

د مهاجرو په کمپونو کې افغانانو د الله پاک دربار ته دُعاوې کولې چې مجاهدين بريالي، مُلحدين برباد او د مهاجرو هره کورنۍ بېرته خپل کلي او سيمې ته ستنه شي. مهاجرو د دې سپېڅلې جګړې په پای کې د الله پاک له درباره د لوی ثواب او د پرېمانه غنيمت او ولجو هيله لرله او ميندو هغو ځوانانو ته دُعا کوله چې د وطن د فتح کولو په نيت وتلي دي. د جلال آباد دجګړې د پيل په هماغه اوله ورځ مشرق، ډان او جنګ اخبارونو د جهاد په سنګرونو کې د مجاهدينو د ستر بري او د کفارو د ماتې خبرونه خپاره کړل. اخبارونو ليکلي وو چې د ژنيو له پرېکړو سره سم بايد حکومت مجاهدينو ته حواله شي، کنه پرته له هغه کابل بايد په زور فتح شي. اخبارونو ۷۲ساعتونه د التيماتيوم لپاره ښودلي وو. (ج.ح.ګ) به يوه شيبه د بريد له پرمختګ ځان خبراو، بله شيبه به يې ځان د کابل په ارګ کې د سترمشاور په چوکې ناست تصور کړ. د ده سوچ دا وچې کله جلال اباد فتح شي، اول به دا د غازی اباد، هډې او جمهوريت په نومونو فارمونه له بيخ وکښل شي او د ننګرهار کانال دې وچ شي، کابل کې دې د جوماتونو د سمولو کار قاضی صاحب ته او د موزيمونو، بُتانو، زړوکلاوو، زيارتونواو زړوسمځو کار دی کرنيل بابُر ته وسپارل شی، هغه د بُتانو په چاره ښه پوهيږي. اسلام سرحد نه پېژني نود نوې صوبې پخوانۍ کرنسي دی ناچله شي، اسلامی پيسه به ټول ملک کې چليږي... ژر به له دې سوچونو په جلال آباد د بريد نويو پرمختګونو باندې بوخت شو.

صادق دفتر کې رحيم بيګ ته کتل چې دودپتي چای په دمه دمه څښي اود نورو ورځو برخلاف، نن يې ورروسته تر ډان، جنګ او مشرق هم ولوستل، له خبرې يې ښکارېدل، چې دجلال آباد جنګ ته خپه دی

. نوري ورځې به يې پرته له ډان دا نور ټول اخبارونه ټوکرۍ ته غورځول. مازيګر به ملازم په خوشحالۍ خوشحالۍ له ټولو دفترونو اخبارونه را ټولول. اخبارونو به سهار په خلکو کې ولولې راپارولې، خو مازيګر به د ملازم په هغې پلاستيکي بوجۍ کې پراته وو چې هغه به د کباړ په بيه په هټيوالو پلورل. د اخبارونو له لوستلو وروسته بيګ د جلال آباد د بريد په اړه څه ونه ويل، خو ملازم څخه يې يوه بله پياله چاى وغوښت.
د دفتر ملازم يو وچکى تورنګه ځوان و، يوه خيرنه ريتاړه به يې په سر د پټکي په دود تړلې وه، يوژيړبخن يخن قاق ډوله اوږد کميس او خړ غونډې لُنګ يې وچې ترتورو لينګيو يې رسېده. په پښتو او دري ژبه يې خبرې نه کولې، په اردو به غږېد، تر ويربل کمونيکشن(شفاهى خبرو) په نون ويربل (د اشارو ژبه) کې ډېر تکړه و. چې په اردو به يې څه ويل ورسره به يې د مخ، سترګو، وروځو او لاسو په خوځولو سره رحيم بيګ ښه پوهولاى شو. عجبه دا وه چې پښتو يا دري به دې ويله، په مطلب پوره رسېد. ملازم يو څو ټکي ښه زده کړى وو:
-جى صيب
-آډر کوه،
-خا دادى رالم،
-وشو جى وشو... او يو څو نور او فکر يې کاو چې (همدا پختو جبه دا)!
بل اعلى درجه کمال يې دا و چې دودپتى چاى تيارولو کې بې جوړې و. د دفتر کارکوونکو به هر يو ساعت وروسته د دوټپتى چاى فرمايش ورکاو، خو صادق به هيڅکله له يو غوړپ اضافه نه څښنه، ډکه پياله به يې سړه شوه. صادق چې د شيراقا دهتى په شيدو عادت و، دا چاى ورته ډېر بيخونده و. د ملازم معاش د هغه کابلي آشپز دوه برابره و چې غرمه غرمه به يې د دفتر کارکوونکو ته قابلي پلو

او یا هم ښوروا پخوله. د ژمي ورځو کې به قابلي په شوله بدله شوه. دغه آشپز له لسو بجو تر یوې بجې پخلنځي کې د کار قرارداد کړی و. هغه په کابل کې د ملي بانک د یوې خانګې مدیر و، خو په کابل باندې د سکربیست ګوزارونو مهاجر کړ او اوس تکړه آشپز ورځخه جوړ شوی دی. حیات اباد کی یې د انجنیرمتواضع خصوصی لیسه کې د ښوونکی په توګه هم کار پیل کړی دی، خو اصلی موخه یې دا ده چې آلمان ته ولاړ شي. تر اوسه درې ځلې اسلام اباد ته د فدرال آلمان سفارت ته د انتریو لپاره غوښتل شوی دی، په وروستي ځل یې د ده د اقتصاد د پوهنځی ډیپلوم هم کتلی و او دهغو آلمانی استادانو نومونه یې ورځخه پوښتلي وو چې د پوهنځي دوره کې یې دوی ته تدریس کاو. مدیر ټول ځوابونه ورکړي وو، انتریو ډېره ښه تېره شوې وه. کله چې د اقتصاد پوهنځي کې محصل و، الماني استادانو سره یې اړیکې ښې تودې او په المانی ژبه کې لایق و. دلته پخلنځي کې به کله چې مدیرصاحب پخلی وکړ، نور کار به یې پنجابي ملازم ته پرېښود، نو ځکه به پخلنځي کې چې څه پاتې وو، هغه به هم لکه د اخبارونو په شان دملازم د کباړ بوجۍ ته لوېدل. مدیر صاحب ته ملازم (کوچنی کباړ) ښکارېده، دا ځکه چې لویو کباړیانو له افغانستان څخه فابریکې، موټر، الوتکې، دبرېښنا پایې، کړکی، دورازې او ماشینونه کباړ کول. مدیر صاحب لیدلی و چې جګړه مارو د آلمان په مرسته جوړه شوې د درمل جوړولو(هوخست) فابریکه هم لوټ او ونړوله. کله چې سکربیست راکټونو ډېر زور ونیو، له کابله راووت. کله چې د دوی موټر د پېښور په لوری را روان و، ماهیپر کې یې د المان په مرسته جوړې شوې دبرېښنا فابریکې ته وکتل، فابریکه لاجوړه وه، خوشحاله شوی و. مدیرصاحب ته د المان په مرسته جوړ شوي ټول تاسیسات معلوم وو. جګړه مارو هرڅه لوټل: حکومتی مالونه او فابریکې، کورونه او آن د هندوانو مالونه یې لوټ

او کباړ کول، خو دغه ډنګرکي ملازم به دفتر کې پاتې شوي ګیډۍ ګیډۍ اخبارونه او کاغذونه کباړ کول.
له کله چې صادق مهاجر شوی و دا اول ځل و چې سکربیست، کباړ، تلاشي، سپکړه او راشن یې اوریدلي وو، خو دوو خبرو ته هک-حیران و: یو د پولیسو رشوت اخیستو او د هرمهاجر جیب ته په مړو سترګو کتلو او بل دا کباړ او کباړیانو ته. د دې دوو خبرو غم به یې هغه وخت هېر شو چې میلیونونه ساده او ریښتیني مهاجر به یې لیدل چې په مېړانه بیوزلي او د مهاجرت ستونزې زغمي او خپل ځوانان د خوږ وطن د آزادولو اود خپلې عقیدې د ساتلو لپاره د قرباني ډګر ته استوي او له بلې خوا په منافقت سره د وطن په حق کې خیانت روان دی. دا دوه متباعد حقیقتونه وو چې صادق به شپه- ورځ ورته چُرت واهه. دغو وروځو کې چې په جلال آباد یرغل شوی و، د کباړ بازارونه یوځل بیا ښه په جم وجوش کې وو.
رحیم بیګ هماغسې په دمه دمه له دودپتی چای غوړپونه کوي او د اخبارونو له کتلو وروسته یې د پُستې پاکټونه پرانیستل، صادق پاڅېد د میز په سر پاڼې یې واړولې او بیګ ځخه یې وپوښتل:
- نن کوم کمپ ته د تللو پلان لرو؟
نه بابا، په دې ورځو کې په راشن کې پوره کمی راغلی، پخوا به د پسرلي په راتګ یوه اندازه د دوبي البسه وېشل کېده، نوره هغه هم نشته، نو کمپونو ته ځه کوو، هسې مو ځېرې په مهاجرو بدې لګي .
- دا ولی ؟
وای د ژنیو پرېکړو کې راغلي چې مهاجرو ته به ترهغو مرستې په تپه ودرېږي، تر څو کابل کې نوی اسلامي حکومت جوړ شي. که ریښتیا ووایم دا کومکونه ټول د شوروی پوځ تر وتلو پورې وو، نور نه مهاجر سره کمک شته نه فاجر سره !
صادق خواشینی شو. نن بیګ هم خواشینی و.

له افغانستان څخه د شوروی پوځونو په وتلو، د ميډيا او راډيوګانو خبرونو نوی زور اخيستی و. مهاجر او انصار دواړه خوشحاله وو. بې کوره، ستړي ستومانه او رنځېدلي مهاجر خوښ وو چې خپل وطن- ګل وطن ته به ځي، يو عادل، خپلواک حکومت به جوړ شي، نور به بمونه، برګۍ، بنګۍ، سکربيست، تلاشيانى، بندی کول، پلونه او سړکونه ورانول، د برېښنا پايې الوځول، وژل او راکټونه ودرېږي. سپېره او کنډر کلي به بېرته ورغيږي، ښاړې به ښېرازه، پولې او پلونه به بېرته جوړ، روغتونونه اوښوونځي به بيا پرانيستل شي. په همدې هيله او د ښه زيري د اورېدو په تمه به ماښام ماښام ټول راديوګانو ته ورټول وو:
دا لندن دی، دا د بی بی سی راديو ده.
بی بی سی په څپو څپو د کليو او ښارونو کوڅو او بازارونو خلک ډوب کړي وو او د ټول عالم غوږو کې يې انګازې کولې. اوس نو انګلو- پاک کې د کابل ترڅنګ د کشمير د فتح هيلې هم غوړېدلې وې.

# (۳۰)

د يوولسمې فرقې د قراول نيم سرتيري، ضابطان او خوردضابطان د سنګرونو شاوخوا وينو کې لژند، نيم ټپيان او نور ژوندي نيول شوي وو. ژوندي نيول شوي به د عربو په تيرو چړو حلالېدل او له جيبونو به يې تذکرې او د هويت کارتونه اخيستل کېدل. سرتيري به چانماري کېدل. د فرقې ريزرفي ځواک او توپونه له موضعګانو ووتل. دې بلې خواته، دلته د جنګ د قومندې قرارګا کې مخابرې ته پرله پسې راپوررونه راتلل:
دري شپيتم راپور:
-د دښمن انداخت پرله پسې را باندې زياتيږي.

دغه راپور پسې سمدستي د دغه جزوتام د کواردنات او (اور) شفر ثبت شوی و.
-یوولسمې فرقې سره اړیکه پرې شوه ۱۴:۲
-دسرخ دیوال کنډک اړوند یوه پوسته په شاتګ ته اړه شوې او موضع یې پرېښوده.
-دپولیسو د پوستې ۵۰۰متری کې مخالفین لیدل کیږی...
پنځه شپیتم راپور:
په فتح اباد کې د مخالفینو او دهغو د ملاتړو زرهدار وسایط ځای پرځای شوي، پوره مهمات اومرتبات یې لیدل کیږي... نقطه دې اور لاندې ونیول شي.
نهه شپیتم راپور د قرارګاه قومندان ته د اندېښنې وړ و:
-د یوولسمې فرقې ختیځ لوري ته یوې پوستې د پرله پسې ګوزارونو له امله خپله سیمه پرېښوده وسایط دمخالفینواو د هغو د ملاتړو لاس ته ورغلل.
-مخالفین فرقې ته ننوتل لومړی یې د فرقې روغتون کې تول تپیان وویشتل، ورپسې یې شاوخوا پوستو ته د تسلیم کېدو اعلانونه وکړل.
-یوولسمې فرقې سره بېرته اړیکې جوړې شوې ۳:۴۸ حالات ډېر ترینګړي دي.
دقرارګاه قوماندان BM-21 ته قومانده ورکړه چې په درې هدفونو پنځلس پنځلس مرمی انداخت وکړي. کله چې د BM-21 مرتباتو د چمتووالي ډاډ ورکړ، امر صادر شو:
- اور!
سیمه لوخړو ونیوله. په ۱۰۰۴ راقم کې چې پخوا جزوتام و، لږ شېبه مخکې مخالفین او ملاتړي یې ځای په ځای شوي. هوایی ضربه دې وشي.
-جګتورن (س) د ۹۹غُنډ قوماندان په ۰۱۲/۵۰ کواردنات کې تپي شو.

-په سرخ ديوال کې د درنو وسلو انداخت شدت موندلی( مطالبه اتش قوي).
پينځه اويايم راپور پسې يو هدايت ثبت شوی دی:
-... يوولسمه فرقه دې منتظره قطعه چمتو وساتي اود مدافعې کربښه دې کلکه شي.
له يو اتيايم غُنډ څخه رارسيدلی راپور:
-کاريز کبير، سره کلا او غلام خان ډاګ څخه شديد انداخت دوام لري.
-دقول اردو د ترصد برج له غلام خان ډاګ څخه وويشتل شو.
-په هوايی ډګر انداخت ۲۰:۱۸
- د دری تنوتلفاتو راپور.
د دفاع وزارت اړ شو چې له لوګر، کابل او نورو سيمو ملاتړي ځواکونه د جلال آباد دفاع ته واستوي، لومړنۍ قطعه چې د وربښمين تنګي له لارې د جلال آباد مرستې ته ورسېده، د جنرال غفورخان تر قومندې لاندې وه. غفور خان د افغانستان د اردو يو ډير سابقه دار او د تجربې خاوند صاحب منصب و. په مصر کې يې نظامی زده کړې کړې وې، د دفاع وزارت محاربو او غيرمحاربو قطعاتو کې يې دندې ترسره کړې وې. دوی پسې وروسته د ننګرهارد قول اردو د قوماندان دفتر ته د پنځلسمې زغره والي لوا قوماندان ډګروال عيدګل راورسېد. ده د قول اردو قوماندان جنرال بارکزي ته عسکری تعظيم وکړ:

- ډګروال عيدګل. د پينځلسمې زغروالي لوا قوماندان د اوامرو اجرا ته تيار دی.

له دې سره سم يې سلامي وکړه او آرام سئ ودرېد.
جنرال وروسته هغه ځايونه وروښودل چې بايد هلته موضع ونيسي، نو ورته ويې ويل:

ستاسو قطعات به د قول اردو وضع الجیش ته نه راځي، مارش د جګړې لومړی کربښي ته!

- اطاعت کیږي.

ډګروال عیدګل تعظیم وکړ او شاګرځ شو.
تر دې مهاله اووه دېرشمه لوا، د اینجنیری لسم غُنډ او د بالاحصار څو قطعات راورسېدل. دوی لاهم د قول اردو وضع الجیش کې وو. لږ شېبه وروسته د جنرال غفور خان د قومندې واحد مرکز د جلال اباد هوایی ډګر وټاکه او خپله هم هلته ولاړ. له قول اردو څخه یې ډګروال احسان الله سلام او ډګروال شیرمحمد، جنرال محمدظاهر سوله مل، ډګروال سیداسماعیل پیلوټ چې د هوایي ځواک استازی و، جنرال حسام الدین، جنرال عیسی خان له لسمي فرقې او د توپچی لوی آمر نورالحق حقاني ځان سره بوتلل. په همدې شېبه کې چې دوی د جګړې قرارګا او د قومندې محل دهوایی ډګر ترمینل ته لیږدول، د جګړې وضعیت یې له (صرفاً دفاعي) څخه (اکتیف دفاعي) ته واړاو. کوردناتونه وټاکل شول. د توپچي لپاره خپله جنرال سوله مل لاس په کار شو.

***

د افغانستان د نظامیانو په یاد وه چې د سلواغي ۲۷مه باندې د شوروی پوځونه ووتل او دا ورځ دملی نجات د ورځې په نوم ونمانځل شوه. نمانځنه په دوو لنډو خبرو را خُلاصه شوه:
سرورکوو، سنګر نه ورکوو!
وطن یا کفن.
هوایي ډګر تر سخت برید لاندې و. دترمینل تر مخې د توپچي دبطریې قواندان تورن عبدالهادی شهید شو.
عبدالوکیل ته د ټولو مخابروي مکالماتو او اړیکو واک ورکړل شوی و. هغه له دې دریځ څخه د ټولې جبهې له حالاتو ډېر ښه خبرېد. نن دلته د ده د راتګ لسمه ورځ وه. د جبهې قوماندانې د صادقانه کار

له امله ده ته د (تورن) د رتبې وړانديز وکړ چې دفاع وزارت منظور او له همدې نيتې تورن عبدالوکيل د جبهې د مخابرو ټول تامينات په غاړه واخيستل. په دې لسو ورځو کې چې جلال اباد ته رارسېدلی، يواځې د نيمې ورځې لپاره يې دريشي ايستلې وه او خيرنې ژيړچکې زيردريشی سره د ماسپښين ترلمانځه وروسته د يو ساعت لپاره د ترمينل د برج پيتاوي ته ناست و او د لسو ورځو دمه يې د تاوده پسرلي لمرته تېره کړه. دا يوه ډېره خوندوره تفريح وه، خو ساعت لا پوره نه و چې هوايی ډګر بيا د مخالفينو د توپچي اور لاندې راغی. تورن عبدالوکيل منډه کړه، دريشی يې واغوسته او د مخابرې سيستم يې له خپل ځوان او بی تجربې مرستيال (بريدګي عباس) څخه لاس کې واخيست. له هغه راهيسې چې عبدالوکيل راغلی، بله الوتکه هوايي ډګر کې نده ناسته. جلال آباد ته عسکري او ملکي الوتنې ودرېدې، يواځې د عاجلو اکمالاتو او له دې خوا د جنازو او ټپيانو د ليږد لپاره هليکوپترې تلې راتلې، چې له هوايي ډګر بهر به يې ناسته کوله. له ډګر څخه لږ هاخوا د اکمالاتي ښېز ځنګ ته يوه ځنګلي سيمه کې يو پراخ غونډې چمن و، چې هليکوپتر به پکې کوزېدل. کله چې دا ځای هم تر بريد لاندی راغی نو درونټه يا د دوسرکې خواکې هوارو ځايو کې دهليکوپترو ناسته ممکن وه. دوی به په ټيټه ارتفاع کې افراد کوز او بېرته به هواته پورته شول. دا وخت مخابره کې د خواجه رواش له ډګره پيغام راغی چې يو بيک لس ورځې مخکې ترانسپورتي الوتکه کی پاتې دی، د هغی شپې ټپيانو سره مو ځلورسوه بستريز روغتون ته يووړ، کله چې ټپيان ښه شول، پوښتنه مو وکړه، د دوی نه و، بيا مود دريو شهيدانو کورنيو ته وويل هغوی هم ويل چی بيک زموږ ندی، نو ايا دالته څوک شته چې بيک يې الوتکه کی هېر شوی وي؟ تورن وکيل خوشحاله شو. ډېر ژر يې هغوی ته وويل چې بيک د ده دی او د جامو جيب کی پيسې او يوڅه اسناد دي. لطفاً زما بيک د دفاع وزارت د اپراسيون رياست کی کاظم جان سرتيري

ته ورسوئ، هغه زموږ ګاونډی دی، بیک به زموږ کورته ورسوي.
له هغې خوا ډاډ ورکړل شو. تورن عبدالوکیل دومره خوشحاله شو لکه بیک او جامې یې چې نوی موندلې وي.
د جګړې سرو لمبو، لوموړی درجه احضاراتو او په اکتیف دفاعي حالت کې عبدالوکیل خپلې مورته دوه ځله خپل احوال واستاو. یوځل یې د دفاع وزارت کې د خپل ګاونډي کاظم جان په لاس، خو مور د زوی له روغتیا ډاډمنه نه شوه. بل ځل یې د مخابرې د کورس د دورې ملګري په لاس چې د یوې شپې او یوې ورځې لپاره کابل ته تللی و، لیکلی لیک استولی و. دلیک لیدو د مورجانې زړه ډاډه کړی و. دواړو ورته خبر ورکړ چې دوه ورځې وروسته نوی کال دی او مورجانه به ستا د کوژدنې کورته د نوي کال سوغات وروړي.

# (۳۱)

هوا توده، خونوجنه وه. سفیر پیترتامسن له پېښور ښخه بېرته اسلام آباد ته دستنېدو په لاره کې دی. هغه د اپرېل په دې پسرلنی ورځ کې د الوتکې د سفر په ځای د کلهکار د غونډیو له لارې د موټر سفر غوره وباله. هلته شاوخوا تازه طبیعت دی. مخکې امنیتي موټر، بیا د ده خپل او ورپسې دوه نور. دوو وروستیو موټرو کې یې د پسه د غوښې راز راز کبابونه چې پېښور کې افغاني هوټلونو پاخه کړي وو او دوه کارتنه مشروب، چې د پېښور سرینا هوټل ښخه یې رااخیستي وو، ایښي دي، خو د پسرلنی هوا او تازه طبیعت سره سره یې چُرت ډېر زیات خته و. خبر له ۷۲ ساعتونو ښخه میاشتې ته ورسېده. نن د اپرېل اتمه ده، لا هم جلال آباد مقاومت کوي. دلته هوا د شارلوت یا جورجیا او لانګلي یا بل ځای سره دومره زیات توپیر نه لري، آن دا چې ونې- بوټي ورته د پنټاګون د ودانیو د شاوخوا پارک د ونو-

بوټو منظره وریادوي، خو د جلال اباد د(فتح!؟) دسروبر نه څرګندېدو وارخطا کړی دی.
سفیر پ. ت. د تاریخ مطالعه لري او سیمه پېژني. هغه پوهیږي چې رنجیت سنګهـ په همدې لاره تللی و. د لویې لوبې پیل آسانه و، خو د لوبې ګټل اوس ستونزمن دي. ده ځان سره دا کلمات تکرار کړل:
The great game is winner …,The great game must be won ….
آخوا د بغداد او سنټو پکت دړې- وړې کېدو خبره نوره هم ستونزمنه کړې ده، خو شین کمربند باید ټینګ شي. د عراق، کویټ او ایران د جنګ د پایلوهیلي شته، بوش (د ساراتوپان) څخه لویه هیله لري، هسې هم لګښت بېرته د همدوی له تیلو پوره کیږي. عرب د همدوی د خپلو تېلو په پیسو وهه!
د کلفورنیا( ۱۲۷ B) خونه کې دوه بوډاګان هم د افغانستان په اړه لګیا دي:

- افغانستان باید پرېښودل شي چې واحد ملت شي، ستا نظر څه دی ؟

د نبراسکا او مریلند طرح داده چې باید سره امپراتوری د امپراتوریو هدېره کې خښه شي.

- څه شی ؟

Graveyard of empires

- دې نه مطلب څه شی دی؟

ام مم! دوی ته چې وایی افغانستان د امپراتوریو هدیره ده، سخت په باټو راځي، خو خبر نه دي چې دا دی اوس ورځخه یورنګه د هدیرې امپراتوري جوړیږي. د خوشحالي خبره داده چې د شوروی د لاس نښې پکې څرګندې دي، په ډېرو نورو پېښوباید پرده وغوړول شي.

- ښاغلی سنيور تحليلګر ! ته ډاډه اوسه له شوروی وروسته بايد د شنو ټکيو او شين کمربند چاره وشي. نبراسکا شنه ټکي په نقشه څرګند ښودلي دي.

دا هغه وخت چې افغانان واحد ملت کېدو ته پرېښودل شي. کله چې واحد ملت نه و، شنه ټکي هيڅ هم نشي کولای، وېره له واحد ملت کېدو ده!

خو دا وطن زبردست قيمتی کانونه لري، د انرژی بحران را روان او د ليتيمو زيرمو ته اړتيا ده. چې يوځل موقع په لاس راشي او ټول له نږدې وپلټو او ځيني بيلګي يې خپلو لابراتوارونو کې وآزمايو، څه فکر کوی داسي ورځ به راشی؟ بايد رايې ولو.

کشر لږ څه ځوان تحليلګر د مشر ځواب ته په تمه شو. هغه بې له ځنډه ځواب ورکړ:

دا نو زموږ ډُکترين پوري اړه لري، بايد لويه لوبه دوام ومومي او د برايډاس پروژه پرمخ بوتلل شي تر څو دې موخې ته ورسيږو، د نبراسکا په اړه به فکر کوو.

په دغه کال کالفورنيا کې (RAND) کارپوريشن په څو اقتصادي، سياسی، نظامي او منطقوي ستراتيژيکو ټکيو متمرکز و: د عرب پسرلي ته چمتووالی، له آسترليا سره دفرانسې له خوا د دفاعي اوبتلونو د قرارداد لغو کول، دبالکان قضايا، مارس ته د روسيې له خوا استول کيدونکی سپوږمکی د چارو څارل او دافغانستان جګړه. د تينک تانک څو ديسکونو په هره موضوع کار کاو. تحليلګران بوخت وو، ډُکترين يې سنجول. د سی.ای. ا. د تکړه ستراتيژيست(ستانفيلد تيرنر) د سپارښتنو وخت را رسيدلی دی.

راند ديوې پوښتنې د ځواب په موندلو سرګردان و: کيدای شي فرانسه له آسترليا سره د اوبتلونو د قرارداد د لغو کولو دزيان جبران او تاوان وغواړي. دوو تحليلګرانو ځواب وموند:

یو خو دا چې دا ډېر کلونه فرانسه د افریقایي هیوادو زیرمې او قیمتي کانونه په یواځېتوب نوش جان کوي، بل دا چې که تاوان یې هرومرو غوښت، د عربو له تیلو به یې ورپوره کړو. هسې هم د کویټ او عراق دڅاګانو حساب ورک دی، نیمې د دوی په خپل منځې جګړه او د سارا د توپان لوخړو کې وسوځېدې، نیمې نورې په خپل سر بهیږي.
د مریلند تینک تانک اقتصادي اړخونو باندې فکر کاو، نبراسکا ستراتیژیک جیو پولیتیک اړخونه سنجول، خو دلته پ.ټ او برېژنسکی نظامي اړخونو باندې بحثونه کول. د جلال آباد برید وړه خبره نه وه. له انګلو- پاک تر ریاض، لندن، کالفورنیا، برایډاس، نبراسکا او مریلند پورې ټول یې بوخت کړي وو.
پ.ټ د برژنسکی د خوشحالولو لپاره ویل: په افغانستان کې شوروی له نظامې ماتې او سیاسي شرم پرته غټ اقتصادي ګوزار هم وخوړ. د ښاغلي پ.ټ دغه تحلیل برژنسکي ته سخت خوند ورکاو.
موټر په یو سلو شلو کې د موټر وی په درېیم خط روان دی. دوهم خط کې بسونه دي چې له پېښور څخه لاهور او فیصل آباد ته ځي، لومړي خط کې لویې لارۍ دي چې زیاتره کرنیز محصولات یا څاروي داسلام اباد مارکیټونو ته رسوي. د سفیر ګړندی موټر د سترګو په رپ کې له هریو څخه مخکې کیږي. د سفیر پ. ټ د موټر ټایرونه P205/55R 17 او M/C 240v دي چې تودې هوا او ګړندي تګ ته ښه جوړ دي. موټر ډېر دروند ندی، خو د اپریل دمیاشتې په هوا کې سړک یوڅه تود وي. وروستی امنیتي موټر هرڅه څاري. پ.ټ د موټر ښیښه لږ کوزه کړه، موټر یې له یو کلاسیک"Ford Beed " لارۍ موټر څخه مخکی شو. له دې لارۍ څخه د نارنج د ګل عطر خپرېدل. د اپریل میاشت کې د نارنج د ګل وروستۍ ورځې وي. نارنج دوه ډوله ګلان لري: نرینه او ښځینه. هغه چې میوه نیسي، د ونې ښاخونو کې کلک وي، خو دا نور

پرزمکه تويیږي، باغوانان يې راټول او لاهور ته يې استوي چې عطر ورڅخه جوړ شي. عطر بوتلو کې ډک او وربانديې وليکي: Made in France لکه هغسې چې پېښور کې بوتان جوړ او بيا وربانديې وليکي Made in Italy ! او بيا يې افغانستان ته استوي، کټ مټ لکه دا جنګ او جنګيالي!! او هو ! دا proxy warهم دغسې و انګيره. Proxy war نوخه دی؟ د holy warنوم ورکړه او نوره يې ايسته استوه لکه دا فرانسوي(!) عطراو ايټالوي(!) بوټان. دا وخت يې په شونډو مازې مکرجنه خندا ښکاره شي، خو ټول پام يې دې ته دی چې اسلام اباد ته په رسېدو بايد د پرزدنت ريګان ځانګړي سکرتر ته راپور وليږل شي. هلته راپورتران په تمه دي.

پ.ټ. د سياست ترڅنګ؛ د وروسته پاتې هېوادو په دين، رواج، اقتصاد، صنعت، خپل منځي شخړو او د ژوند په ټولو اړخونو فکر کوي. يو ځل بيا د جلال اباد جګړې ته هيله مند شو. ښيښه يې نوره هم کوزه کړه د اپريل هوا يې په مخ ولګېده ځان سره يې وويل:

هو داسې يو قوم چې په يو لاس يې چړې نيولي او بل وربانديې غوڅوي. کټ مټ لکه عراق، ايران او کويټ. اوس رقيب وتښتېد، ځآن يې ورټول کړ. کله چې اسلام اباد ته ورسېدم يواځې همدا د رقيب د تېښتې خبره چې وکړم، دا هم راپورترانو ته لويه خوشحالي ده.

د مارچ له لومړی راهيسې له پېښور تر اسلام آباده او بيا تر لندن او واشنګټنه له دوه سوه زيات راپورتران او اخباروالا شپې- ورځې سبا کوي. ټولو خپلو اخبارونو کې (د جلال اباد فتح) عنوان ليکلو ته قلمونه تېره کړي دي، خو د دې پرځای خبريالانو او خپله سفير ښاغلی پ.ټ. ته (غيرمطلوب) خبرونه رارسيږي. ورځ په ورځ لس - لس خبريالان بېرته خپلو ملکونو ته ستنيږي. دپېښور او اسلام اباد ګيسټ هاوسونو کې چې کومه غوا لنګه وه او د پيسو باران جوړ و، نور يې بازار سوړ شوی دی. دا وخت د پ.ټ. د موټرو کاروان د

اسلام آباد د ټاونونو ګڼي ګوښي ته ورسېد. تنګ او له ګڼي- ګوښي ډک سړکونه، ورځ په ورځ توديدونکي هوا، بی نظمه او ګډ وډ ښار يي زړه وواهه بيره يي وه چي د اسلام اباد (شني ساحي) ته ژر ورسيږي. پېښور کې يې دمقاومت دفترونو هم زړه وهلی و. داسي يې انګيرله لکه چي ټولي خوارۍ په اوبو لاهو شوې!؟ بيا ځان ته ډاډ ورکوي: نه! لېبرال او نوی نړيوال نظم او د مريلاند نقشه لاډيرې هيلي راکوي. خپګان نه دی په کار.

## (۳۲)

وای دجنګ کيسي خوږې، خو ساعت يې تريخ دی!
دا سمه نه ده؛ جنګ تريخ، کيسه يې ترخه او غم يې لا تريخ دی.
د کمشنري اوUNHCR د دفترونو اثاثيه نوې شوې ده. په دفترونو کې پرته له پکي ګوزاره نه کيږي، اوس ځينو دفترونو ته ايرکنديشنونه لګول شوي دي او دفترونو ته (پينتيم ټو او ټري) کمپيوټرونه راغلي دي. رحيم بيګ په نوې تکه توره څرڅکي څوکۍ په نيمه دايره دورې خوري او اخبار يې سترګو ته نيولی دی. د ميز په سر پياله ايښي، بلې خواته صادق په اندېښنو کې ډوب دی.
آخر يې زړه تنګ شو، له بيګ څخه يې وپوښتل:
نړی به په مهاجرو لږ څه مهربانه نشي ؟

- په ټول وطن دې نه مهربانه کيږي، پاتې شو لامهاجر !

نه، اوس خو شوروی مات او کابل کې د کفارو حکومت هم په ړنګېدو دی، دبيني سيوان پنځه فقره يی پلان جوړ دی، په ټوله نړۍ حق لرو.

• دهرچا خپله مُدعا او غرض دی. سوسيال امپرياليزم ختمېدونکی دی. د چرنوويل تراژيدي او د افغانستان جنګ شوروی ټولنې ته ټکان ورکړ، ټوله ختيزه اروپا به د چکوسلواکيا په قدمونو ګام کيږدي. قطبی خرس د شاتو په لټه کې و، خو کوچنيو کوچنيو غومبسو وځغلاو. اوس د شوروی غټې ګرګې او د تزار د خوبونو پالونکي هريو؛ برژنف، اندروپوف او چيرنينکوف خپل دوران تېر کړ او د افغانستان جنګ يې زړونه ورخوړين کړل، هلته اوس نوي فکرونه راځرګند شوي دي. عدالتپسند بشريت او خواريکښان به د ناکام شوي سوسياليزم کسات له دوی څخه واخلي. تور امپرياليېزم د بشريت په لمن بل تور داغ دی. د انګلو ساکسون تور ښامار په انګلو-امريکن بدل شو، نور نو سور ښامار خامخا ميدان پرېږدي. درېيمه نلۍ يواځې سيمه او جغرافيه نده، دا اوس مخ په ويښېدو خلک دي. د فرهنګی انقلاب يو بل ګام پاتی دی...

صادق لکه دبلې هرې ورځې په شان بيګ ته حيران و: هرځل هماغه تکرار خبرې او هر ځل ټولې خواوې ټکوي. دا نو څه غواړي؟

دخيرن لُنګ لرونکی ملازم دفتر ته راننوت، د صادق د چُرتونو لړۍ يې وروشلوله. يو بنډل ليکونه او مجلې يې په ميز کېښودې: اطلاعات بولټن، شهادت مجله او د اسلام اباد له دفتر څخه څو ليکونه چې د هر يوه په پاکټ د(UN) لوګو له ورايه ښکاريده.کله چې ملازم بېرته وت، ورغږ يې کړ:

دروازه بنده کړه !

جی صيب.

صادق د مجلو او پاکټونو بنډلونو ته کتل. هغه پوهېد چې دې ورځو کې هيڅ ښه خبر نشته. په جلال آباد د بريد له پيل څخه مياشت وتلې، خو پرته له وراني او وينو توېيدو بله پايله يې نشته. يو ښه خبر چې له کابل څخه را رسېدلی و، هغه دا و چې د کابل حکومت پخواني

پاچا ته یو ځل بیا بلنه ورکړې ده، خود پاچا د ځواب په هکله څوک ندی خبر.
صادق ته د پاچا بلنه ښه زیری و، ځکه چې د حاجی صاحب یواځینی ارمان (د الازرت راستنېدل) دي، ګوندي د پاچا په راتګ وطن د هوساینې ساواخلي، نو له بیګ یې وپوښتل:
.وای پخوانی پاچا راګرځي ؟
بیګ په دماغ سره ځواب ورکړ؛
- آچې و څه یې کړي دي؟ یو پښې ابله، وړی، ناروغ، بېسواد او بیوزله ملت یاستو، له نلی بې خبره توره ځا کې غلوپ وو.
صادق حیران شو، ځان سره یې وویل:
پهههههو، سړی خو ډېر لوړ ریبل کا. چې دا په څه هوا کې ده؟ په پاچا هم کبر کوي.
بیګ له پیالې غوړپ وکړ، بېرته یې داسې په میز کېښوده چې د (کړس!) غږ یې صادق ته ټکان ورکړ، کله یې چې د چای غوړپ له ستونې تېر شو، ویې ویل:
- صادق جان رورا! درېیمه نلۍ یو عظیم رهبر ته ضرورت لري.
صادق ورته وویل:
نه شرق نه غرب؟ لاشرقیه لاغربیه!؟
- نه خاورې یې په سرکه، ورکوه یې د خُمیني دې آ تور لونګی او چین ورک شي، دهغه خبر مه راته کوه څه چې یوسات ووځو د غرمې تر دودی به حویلي کې په چمن کینو کابلي آشپز به قابلی پوخ وکي.
د صادق زړه و چې ورته ووایي: هژمونیزم هم دفاشیزم په شان ناکام او بدنام دی، خو ورپیاد شول چې یوه ورځ په دې خبره ورسره خوا بدی شو. د دې په ځای یې ورته وویل چې زموږ د ډیرو بدمرغیو لامل زموږ غریبي ده. بیګ ورغبرګه کړه: غریبي او بیسوادي!

له دې خبرې سره يې په ولاړې رارسيدلي ليکونه يو يو کتل او داسنادو دوسيې اود الماری ارشيف ته يې سره جلا کړل.
صادق چې بهر ته وتلو ته چمتو و، بېرته پښه نيولی شو چې بيګ ليکونه منظم کړي. هغه د بيک په کبرجن وضعيت ډېر خپه ښکارېد.
بيګ ورته د نه بخښلو ښکارېد چې وطن کې جګړه روانه ده، دلته پوليس بېوزله او بې اسرې مهاجر ښکته- پورته ځغلوي، خو دفترونو کې د بيګ په شان څُشکه بانکه- ښوی بېړاګان ناست دي، قهوې څښي او پتمن مُديران ورته قابلي پخوي. صادق په دې خبره ښه پوهېد چې که لړ ورسره د پاچا پلوي، يا د مجاهدينو، يا په وطن کې د ملی سولې او روغې په هکله بحث وکړي، نو په هماغه ورخ به دفتر څخه خدای پاماني اخلي، دا ځکه چې بيګ د منطق، احساس، عاطفې او سختې ورځې ځوان او ميړنی نه دی. بيګ نه د بازګل په شان مخلص او ريښتينی دی، نه د پلوشې په شان زړور، زړه سواندی او غيرتي، نه د وکيل په شان پاک اووطن ته وفادار، نه د قدوس په شان کم له کمه هنری ذوق لري او آن دا چې د سهارګل بزګر په شان يې پخې خبرې زده نه دي، بيګ له دوی يوه سره هم د پرتلې وړ نه و.
څه باندې يو کال کيږي چې صادق له بيګ سره يوه دفتر کې کار کوي. پخوا لړ ښه و، کله کله به کمپونو ته تلل، ريشن کارتونه به يې وېشل او ميټينګونو کې به بوخت و، خود شوروی ځواکونو له وتلو وروسته نور کارونه په ټپه ودرېدل، دفترکې کيناستل دي او سياسی بحثونه، نانديزی، چای او قهوه څښل. خدای خبر که د داسې بيړاګانو خير چاته ورسيږي.
دا وخت بيګ نورليکونه ځای پرځای کړي وو، هغه وروستی يې د ميز روک کې کېښود او وتلو ته چمتو شو.
رحيم بيګ به چې کله د راپورونو ورکولو يا د کواردناتورانو پلانی غونډه کې د ګډون لپاره اسلام اباد ته ته، نو د کابل په خياطانو جوړه

شوې دريشی به يې واغوسته، نکتايی به يې وتړله او د دفتر سپين (تيوتا) تيزرفتار کې به روان شو، خو کله به چې پېښور کې د ( UNHCR) دفتر ته ته، د مجاهدينو په شان به يې کوريايی جمپراو باټا څپلي راواخيستې، که تنظيمی دفترونو کې به کار پيدا شو، بيا به يې دپېښوري خياطانوګنډلې مليشه جامې او واسکټ واغوستل، يو مسواک به يې د واسکټ پورتني جېب کې نبغ وتومب چې څوکه به يې له ورايه ښکارېده، غټې تسپې به يې دښي لاس ګوتو کې و اوډلې اوډاتسن کې به کېناست، روان به شو. نن يې تور پتلون اونوی سپين کميس په غاړه و.
د صادق زړه اور اخيستی و چې څه ښايسته او چنار چنار قدونه ځوانان شهيدان شول، د پلوشې په شان پېغلې د وطن د سرلوړی لپاره سترې ستومانه دي، وکيل د وطن د ترقی او دفاع لپاره عسکري دريشي واغوسته، مشران مو تولـه شپه د الله پاک دربار ته په سجدو دي د وطن دخير لپاره دُعاوې کوي... بيګ دی د دوی تر يوويښته ځار شي.
د دفتر د انګړ په چمن کې يو ميز او شاوخوا يې درې- څلور چوکۍ ايښې وې، دواړه له دفتر راووتل او د پسرلي تازه هوا ته بهر کيناستل.
دا وخت کابلی آشپز پخلنځي کې بوخت و، قابلي يې پخوله، پنجابي ملازم ورته ښکته- پورته تاوېده.

## (۳۳)

په جلال آباد د يرغل يوه نيمه مياشت شوه، خو د مجاهدينو د بري څرک نه لګېد. مهاجر په تمه او ناهيلي وو. حاجی صاحب به هر سهار مخکې تر دې چې صادق ويښ شي، جومات ته ووت. د شاهين ټاون کيڼ اړخ ته له جي.ټي. روډ څخه لرې جهانګيرآباد ته لنډ د کوڅو په پای کې يو څوکوره اربابان مېشت وو. دغو اربابانو هم

افغانستان کې جایداد او کاروبارو درلود او هم له پلرونو- نیکونو راهیسې یې پېښور کې کاروبارو. دوی د کوڅې په وروستۍ برخه کې چې پراخه او له اغزیو ډک ډاګ و، یوه چوتره د جمع د لمانځه لپاره جوړه کړې وه. له دې ځایه کوز هدیره او بیا پراخه وزګاره زمکه وه چې ګڼ بوټي او درووې پکې ولاړې وې. حاجي صاحب به په همدې چوتره لمونځ او بیا به یې یوه شببه تلاوت وکړ، بیا به یې تسپې اړولې او درودونه به یې ویل، چې لمربه لږ راوخوت، کورته به راغی. دا وخت به صادق د دفتر په لوري او خورکۍ به یې (پرایمري سکول) ته روانه وه. په سیمه کې خلکو حاجي صاحب ته زښت زیات درناوی کاوه، خبره یې هم ټولو منله.

د جومات لپاره جوړه شوې خاورینه چوتره به اوړی نیمه د ونو سیوري لاندې وه، خو په نیمه نوره به لمرو، چې د ګرمي ورځوکې به خلک چندان لمانځه ته نه راتلل، هسې نوم یې وربانديږ(جماعت) ایښی و. یو څو خښتې یې د محراب په ځای درولې وې او یو پوزی پکې هوارو. له جې.ټي. روډ تردې ځایه په کړو- وړو کوڅو کې د نیم ساعت لاره وه. زیاتره کورونه د پېښور د اوسیدونکو او یوڅو د بر وطن او مهاجرو وو. د چوترې جومات شریک و، د لراوبر وطن ټولو په ګډه لمونځ پکې کاوه. ځینې وخت به یو امام چې توري چشمې یې اېښودې راته، جمع به وشوه، نورې ورځې به جمع هم نه کېده. لکه هغسې چې جومات بشپړه ودانۍ نه لرله، امام یې هم نه درلود. دې وروستیو کې حاجي صاحب امامت په غاړه واخیست او خلکو ته یې د جمع لمونځ ورکاوه. یوه ورځ وروسته تر لمانځه حاجي صاحب خلکو ته وویل:

- ورونو لږ به همت وکړو، دا جومات به بشپړ جوړ کړو. ځینې وخت دلته ماشومان لوبو ته راځي، ځینې وخت څاروي ګرځي، مناسبه نه ده. یوه مقتدي له خوشحالۍ غږ وکړ:

اخ حاجي صاحب، څومره ثوابونه به وګټو. بل وویل:

که پولوسان منګه منه نه کا خامخا وی جوړوو، زبردست د خير کار ديه.
دا وخت دسيمي د ارباب خپلو مشر له بر وطن د راغلو مهاجرو خبره کې ولوېد ويې ويل:

- بېغمه شه، دا ټول ځای زموږ ارباب خپلو نيکونو د اميردوست ماد خان په وخت آغيستی و، هغه مهال دا جی ټي روډ او دا خاريه نه وه. موږ اربابان دلته ملتان، جلابات او آن څو کوره موبغلان کې پراته ياستو. نيم په بر وطن نيم په کوز وطن ياستو. په دې پراپرتۍ نه پوليس نه پی ډي ا. او نه بل څوک کار لري. شابه تاسود جوړولو تابيا اوکئ موږ ټول اربابان درته ويلکم وايو. موږ به جماعت له د اربابانو جماعت نامه ورکوو. دا خو راله تاسو آباد کړو، خبره به راټوله او چنده به را جمع کړو. سينګه! چنده واچوو؟

حاجی صاحب وويل:

- نه، لله الحمد دا وس لرم چې يو برابر شانته جومات په خپلو پيسو آباد کړم. همدا ثواب يې راته لويه خبره ده. سم له دې سره يو تن پاڅېد:

يره حاجی صيب، دا چې له پنج پيري امام دې بېغمه کړو، يو ثواب، اوس چې له خيره راله جماعت ساز کړې، داپسې بل ثواب. هغه پنج پيری خو به شواړ ودرېدو لاسونه به يې په هرتکبير غوړوله پورته کول او موږ ته به ی ويل امين بالجهر وايئ، په مذب يی نه پوهيدو. خدای مو سوال قبول کړوچې تاسو تشريف راوړ.

حاجی صاحب ورغبرګه کړه:

دزړونو مالک الله دی، پاک رب دی زموږ د نيت له مخې زموږ د بنده ګي خواري مقبولي او منظورې کړي.

دا وخت يو بل خوارنجوکي مقتدي چې لنډه- تنګه کابلۍ کورتۍ يې په ځان او زړه قره قل خولۍ يې په سر وه، پاڅېد:

- برادران تاسو سمیټ او خشت او مواد برابر وکئ، زه په کابل کښې په بنایی کښې کار وکلې لوی تامیر جول کولای سم. مسجد اسانه خبره ده. دوه کس ماسره هره ورځ کمک وشئ. زه لس ورځ کې مسجد تکمیل کوم.

خلکو مخ وروااړاو. ډیر خوشحاله شول. هر یوه یوځل بیا د ده وچ اوږدنګر وجود او سپیره مخ ته وکتل. ږیره یې په سپینېدو وه، سترګې یې کولکونو کې لوېدلې وې، اوږې یې لږ کږوږپې ښکاریدې، قره قل خولۍ یې ځای ځاي پوټکی غورځولی و او سپین استر یې ښکارېد.

حاجی صاحب د جومات د جوړېدو ټول لګښت په غاړه واخیست.

صادق ډاډ ورکړی و چې د دفتر معاش یې هم کورنۍ ته کافي دی او هم د خیر-خیرات چاروته.

خوارنجوکي ډنګرکي مهاجر چې لنډه- تنګه کورتۍ او قره قل خولۍ یې لرله د بر افغانستان یواځینی مهاجر و چې تراوسه یې هم لا پکول، واسکټ او څپلۍ نه وې پېرودلې. هغه به زیاتره دکابل د بنائی د ودانۍ جوړولو دموسسې کیسې کولې. د بنائي د اینجنیرانو او د بنائی له خوا د کلکوجوړو شویو پخو او ښایسته ودانیو صفتونه یې کول او د بنائی دپروژو کیسې به یې کولې، نو ځکه یو څو تنو په خوارکي باندې د(بنایي) نوم ایښی و.

خوارنجوکي بنايي لس- دولسو ورځو کې د حاجی صاحب په لګښت اود مقتدیانو په مرسته جومات بشپړ کړ. حاجی صاحب کابل کې هم په خپل لګښت جومات جوړ کړی وچې په(مسجدحاجی عبدالخالق) مشهور و. عبدالباری سره یې دموسسې دشراکت په مهال یوه جلا برخه د ماسپښین د لمانځه لپاره پرېښې وه، کله چې کمپ کې مېشت شول،لومړی یې د جومات تابیا کړې وه.

د جهانګیرآباد د وروستۍ کوڅې په پای کې چې د هدیرې لوري ته لار تلله، نوي جوړ شوي جومات سیمه ښایسته کړه. حاجی صاحب به د مازیګرله لمانځه مخکې (فضایل اعمال) کتاب هم ځان سره وړ

او د جمع تر وخته به یې کوت. حاجی صاحب څخه دیوان حافظ، قصص الانبیا، تفسیرکابلی او څو نورکتابونه کابل کې پاتې وو، کلي ته یې یواځې قران عظیم الشان او یو وظیفات شریف وړي وو. اوس چې پېښور ته رامهاجر شو، یو کتاب هم ورسره نشته. په لومړي ځل چې خیبربازار ته ولاړ اول یې یو تفسیرشریف، بیایې درحمان بابا کلیات او فضایل اعمال وپېرودل، اوس یې جومات ته هم ځان سرا راوړي. د سهار لمانځه ته به زیاتره سپینږیري او مشران راتلل، د ماسپښین او مازیګر لمانځه کې به هم مقتدیان ډېر نه وو، خو ماښام او ماخُستن به جومات ډک و.

وروسته د جومات تر جوړېدو د ارباب صاحب پام (بنايي) ته شو. بنایی ورته دکار سړی ښکاره شو. ارباب صاحب چې اوس د دې سیمې مشر و، نو د هر چا پېژندلو ته یې پام کاو. هغه ته د بنایی کیسو خوند ورکاو. کله به چې لمانځه ته لا وخت پاتې و بنایی به ورته دکابل کیسې شروع کړی: کله به یې د کابل دتازه هوا، کله د میوو او کله به یی د فابریکو کیسې کولې، په پای کې به یې په خپګان وویل:

" نور نو کابل هغه پخوانی کابل نه دی" ارباب صاحب به هم ورسره په خپګان سروخوځاو، خو د ده د خوشحالي لپاره به یی ورته وویل:

ځه مړه مه خپه کیږه، کابل کې خیسته ځوانان دي لا هم اباد دی خدای دې آباد لري او بیا به جوړ شي او بیا به ورشو. خوارنجوکی بنایی به لږ خوشحاله شو په وچو شونډو به یې مازې خندا ونخښېده او له دې سره به یې قرقلی خولۍ لږ په تندي پورته و خوځوله.

بنایی لاهم د دُنیا له حاله بی خبره او د کابل د میزایلو د لګېدو او چاودنو ګرزهار یې غوږوکې و، غږ یې ټپ اوکابل کې پاتې خپلو دوستانو ته پریشان و. ډېر یې زړه غوښتل چې مهاجرت ختم او کابل ته ستون شي.

يوه ورځ دماښام له لمانځه  سره سم يوه ډله خلک جومات ته راغلل. واړه واړه بې شملې لنګوټي يې کلک کلک په سرونو تړلي وو، تورې ږيرې، سپيني جامې او تور واسکټونه او د هر يوه په لاس کې تسپې وې. کله چې د لمانځه وخت شو، دوی ټولو لومړي صف ته ځانونه برابر کړل، مخکې تر دې چې حاجي صاحب د امامت لپاره دمنبر خواته ګام اوچت کړي، د ډلې مشر پاڅېد منبرته ورسېد، هلته ولاړ لاسپيکر يې  لږ يو اړخ ته کړ، بېرته را وګرځېد مخ يې مقتديانو ته کړ. مقتديان پاڅېدل چې صفونه جوړ او د لمانځه نيت وکړي. د ډلې مشر په غضبناکه څېره په صفونو باندې سترګې وغړولې، غږ يې کړ:

- شابه شابه صفونه سم کړئ !

دا وخت د ډلې بل غړي قامت ووايه او ټولو نيت وکړ. تر لمانځه وروسته مقتديانو لاسونه دُعاته پورته کړل، خو د راغلي ډلې مشر د تمسخُر خندا وکړه او ټول يې له دُعا کولو منع کړل، د دې وخت دُعا يې بدعت وبلله. دې پسې يې خپله وينا پيل کړه، د هجرت او جهاد ثوابونه يې بيان کړل، په تکرار يې وويل:

شکر ادا کړئ، شکر ادا کړئ .

په تريو تندي او غوسه يې يو يو ته کتل: ډېر شکر ادا کړئ چې د جهاد او هجرت فرض بيا راجوندی شو، په خپل مهاجر کېدو شکر وکړئ...

د جهاد او مهاجرت د صفت پای کې به يی وويل: دې سره تاسو ته د جنت دروازې کهولاويږی او حورې او غولمان درته ميلاويږي دي خبرې سره به يې د خندا په دود خوله تردوو غوږو ويته شوه. بيا به يې په تريو تندي او غوسه د شهادت د مقام صفت وکړ او لکه د مخکې په شان به يې جنت کې د شرابو د ډکو کاسو، د شيدو او شاتو د روانو ويالو بيان پسې ورزياته کړه: دې سره تاسو ته د جنت

دروازې كهولاويږي او حورې او غولمان درته ميلاويږي دې خبرې سره به يې بيا د خندا په دود خوله ترډوو غوړو ويته شوه.
دې سره به د صفونو آخر کې ځوانانوتر ورروستي حده په غاړه زور راوړ چې سرونه د اوږو منځ ته ټيټ کړي او لکه چرګه چې نيوی ورکوي کوښښ به يې کاو چې د مخکې صفونو ترشا پټ او د دې غوسه ناک وينا کوونکي له سترګو پټ شي. کله چې د دې غوسه ناک سړي خبرې پای ته ورسيدې، خپل يو ملګري ته يې امر وکړ چې نومونه وليکي. دا وخت يې غاړه ښه پوره اوږده کړه او د وروستيو صفونو ځوانانو باندې يې غږ کړ:
-بچو مجاهيدينو او غازيانو. د ماجرو له هر کمپ او له هرې کالوني ځوانان جهاد ته ځي، خو چې موږ خبرياستو دلته کی جذبه نيشته، دا ولی؟ کی موږ راغلي يو کی خپله فريضه ادا کوو. ځوانان به نومونه راته ووايی. څو شيبې خاموشي شوه، بيا يې غږ کړ:
- هله شابه، نامخدا شابه ! جنت خو دی کی خاصکر مجاهدو لره، شابه بچو...
دا وخت ارباب خليل پاڅيد:
- ورونو کور مو ودان. ان شاالله ستاسو دعوت ته لبيک وايو. موږ هم په هرڅه پوهيږو، خو دلته چاته اجازت نشته چې د اربابانو جومات کې په چا کومه خبره لازمي او بوج وربانديې راوړي.
د ډلي مشر وربانديې برچ وهل:
کېنه دهريه ! قتل دې جايز دی. ته پوهيږی چا سره خوله وهي؟!
زه ميجر طارق محمود يم. لکه سبا به دلته نه وې، ځان پوی که !
ارباب پاڅيد چې له ستوني يې ونيسي، خو خلکو ورته عُذر وکړ. دا وخت د ډلي مشر بيا ګواښ وکړ:
- بدبخته انسانه، تاته به پته ولګي لکه لګ صبر کوا !
يوه شيبه يې ارباب خليل ته په غوسه وکتل، ته به وايې له قهرجنو سترګو يې د دوزخ لمبې باديدې او ووتل.

بنايی خوار اندېښنه کې شو، خو ارباب بېغمه پاځېد د نوي جوړ شوي جومات ځراغونه يې ولګول بهر د چوترې مخه هم رڼا شوه، او د خلکو په لوري يې د خوشحالی خندا وکړه. ټول بهر راووتل، د جومات جوړېدو ټول خوشحاله کړي وو. حاجی صاحب ښايسته فرش، يو ديوالي ساعت، لاسپيکر او څو ټوکه قرآن مجيد هديه کړي وو، ورسره يې د جومات او هديرې ترمنځ واټن کې يوه د اوبو څا وکيندله، د جومات مخ ته يې څو بوټي کشمالي ګلان هم وکرل. حاجی صاحب دغه جومات ته (دارباباونوجومات) نوم خوښ کړی و. په دې منځ کې ترټولوزيات صادق حيران و. له کله چې مهاجر شوی، هره ورځ نوې کيسې او نوې لوبې ګوري. جومات ته د ننني راغلي ډلې په ليدو يې رحيم بيګ اودهغه خبرې بيخي هيرې شوې.
خلک د جومات له مخې خواره او هر يو خپلو کورونو ته روان شول.
د جومات ځراغونه ښايسته ځلېدل.
حاجی صاحب به چې هره ورځ د سهار له لمانځه وروسته ترځو شېبو تسبيحاتو او درود کورته ستون او د سهار له ناشتا وروسته به يا تهکال ته روان شو يا به نوتهيې ته ولاړ. ځينې ورځې به يې رحمان روډ ته هم سرښکاره کړ. دغو ځايو کې يې پخواني آشنايان وو. يو پکې د کلای بلند َع.ا. ابلاغ و. هغه د پاچا په دور کې رسوخ درلود. د حاجی صاحب ډېر آشنايان د ګلدرې، سفرزې، شکردرې، پغمان، لوګر، ده سبز او د کابل د چهاردهی د سيمو وو. عبدالرحيم ملک زی د پاچا د وخت دمالیې وزير، دده سبز مولوی تره خېل، دلوګرمولانارشاد نامتو عالم، دکامې مولاناقيام الدين خادم او د قلعه ی جواد حضرتانو ته يې درناوی درلود. دمشرقي دجبارخيلولال آغا او لغمانی مولانا کشاف يې هم دوستان وو چې يو څو اوس وفات او يوڅو اوس پېښور کې مېشت وو. د چهاردهي د وکيل امان الله د زوی ډيره پوښتنه يې وکړه، خو چا ورته وويل چې هغه جرمني ته تللی.
جلال آبادی توکل جان ورياد شو، هغه د طريقت ورونو کې ترټولو

کشرو. د جلال اباد د "کلای جانان" اوسیدونکی و، کابل کې يې د وريجو او ګوړې پلورلو هټۍ لرله، خو کور يې هما غه پلرني کلي، کلای جانان کې و. اوس مهاجر شوی او خلک وايي هريپور کمپ کې اوسي. زړه يې و چې يو ځل يې وګوري، خو چا ورته وويل چې هريپور له پېښور څخه ډېر لرې دی. تر حسن آبدال درې ګړۍ لاره ده، بيا له هغه ځايه د ايبټ آباد په لاره يوساعت مزل دی چې هريپورې کمپ ته ورسيږې. چا دا هم ورته وويل چې د توکل زوی جعفر د مجاهدينو د يو ګروپ قوماندان دی. حاجی صاحب ته ځان زهير ښکاره شو، د څلورو ساعتونو د مزل وس يې نه و، نود توکل له ليدو تېرشو. د مشرقی مشرانو کې يې د پژواک پوښتنه وکړه، يو چا ورته د ډاکترايوب د دفتر نښه ورکړه. ډاکتر ايوب پېښور کې د مهاجرو لپاره څو کلنيکونه جوړ کړي وو. هغه د سره رود د باغبانيو اوسيدونکی و. ماماګان يې دچهارباغ وو، چې د پژواک خپلوان بلل کېدل. حاجی صاحب په خواريو ډاکترايوب وموند، هغه يو ډېر لايق او له ميني ډک ځوان و، د کابل له طب فارغ و. د حاجی صاحب يې ډېر قدر وکړ. ډاکتر پوره نيمه ورځ خپل ټول کارونه پرېښودل او خپل وخت يې حاجی صاحب سره شريک کړ. کله چې دهغه له کلنيک څخه راوت، نو ورته ويې ويل:

- زويه زه ځکه ستا خواته راغلم چې دعبدالرحمن پژواک پته راکړې، دچارباغ او باغوانيو مې بل څوک ونه موندل.

د ډاکتر خيره کې د خواشينۍ نښې ښکاره شوې، ورته ويې ويل:

حاجی صاحب، هغه خو بېرته بهر ته ولاړ.

- ولې ؟

ولا دلته ورته لوی ګواښ و. دلته يې ګوزاره نه کېده. هسې خدای وساته کنه...

- دا ولی ؟

ډاکتر په درناوي سره ورته وويل:

• حاجى صاحب، پژواک وړوکى سړى نه دى. هغه سراسر ټوله نړۍ کې اوچت نوم لري. هغه د ملګرو ملتونو سازمان کې رئيس پاتې شوى و،هغه د نړۍ لانجې هوارې کړې وې، دلته چې واى د افغانستان ستونزه يې پنځو مياشتو کې هوارولې، خوچا چې دا جنګ را نښلولى، هغه يې ونشو زغملاى. پژواک صاحب له امريکې پېښور ته راغى چې افغانانو ته د يو منلو وړ حکومت جوړولو لاروموم‌ې، خو ويې نيو بندي يې کړ. زندان ته يې هيڅوک نه ورپرېښودل. ما يو- دوه د دې ځاى کسان چې خپل کلنيک کې مې مقرر کړي دي، راسره بوتلل. يو جوړه جامى، واسکټ او پکول مې پژواک صاحب ته واخيستل، د جامو سپارلو په پلمه ورغلم. دوى مرسته وکړه. زندان ته مې وويل چې زه د باغوانيو يم او پژواک مې خپلوان دى، سياسى بحث نه ورسره کوم. دا جامې ورکوم، د زندان مامور خپلو مشرانو ته تيلفون وکړ، په سختى يې اجازه راکړه. پژواک صاحب يوه کوټه کې يواځې پروت و. ږيره يې ګډه- وډه رسېدلې، ډېر خواشينى او په غوسه و. روغبړ مې ورسره وکړ. په ادب کيناستم، پژواک هيڅ خبرې نه کولې. آخر ما ورته وويل چې يوځه خوووايه، موږ راغلي يوو چې مشوره راکړې، لاربنوونه راته وکړې، څه زيارت ته خو نه ياستو راغلي چې چوپ کينو. پژواک نور هم په غوسه شو:

دڅه شى مشوره ؟

د روسانو په وړاندې د جهاد لاربنوونه اود مهاجرو لپاره مشوره.

هغه راته وفرمايل:

-دلته جهاد نه کيږي، که جهاد کوئ ځئ دننه وطن ته ولاړشئ. دا د جهاد ځاى نه دى!

بيا نو چُپ شو هيڅ يې ونه ويل. هغه يوه نوجنه کوټه کې يواځې و، يوه خيرنه دوشکه او بالښت ورته ايښي و، کوټې د بنيادم له قده لوړ

یوه وړه کړکۍ لرله، دروازه به تل کلکه بنده وه. ماته یې له توشکې لاندې یو ټوټه کاغذ راکړ وربانديې لیکلي و:

زه پژواک یم په پیچومو کې لوی شوی داچې چُپ یم
دلته غر او کمر نشته

# (۳۴)

د ۱۳۶۸ل. کال د غويي د میاشتې دوهمه اونۍ او په جلال آباد د برید دریمه میاشت پیل شوې وه. سره له دې چې د(جنرال. ح. ګ.) د ۷۲ساعته التیماتوم څخه دادی درې میاشتې جوړې شوې، خو د(فتح) پته نه وه. لکه چې د ده د جلال اباد او بیا د کابل د فتح لپاره اعلان شوی التیماتوم نور وخت هم غوښت؟

همدا وخت یو ناڅاپي پېښورته خبر ورسېد:

- یوولسمه فرقه ماته او فتح شوه!

د جلال اباد د یوولسمې فرقې د بشپړې ماتې اود ملیشو، عربو او تنظیمی ګروپونو په لاس د ثمرخېلو دتولې سیمې د نیول کېدو خبر ډېر ژر په کمپونو کې خپور شو. تنظیمی مشرانو ته داډ ورکړل شو چې د سراچې د پله په لوري مارش پیل شوی دی.

دا وخت د دوی ډېر جنګیالي لاهم د یوولسمې فرقې او شاوخوا لوړو- ژورو او د ثمر خېلو(باغ نمونه)ونو لاندې وو. دوی دهغو حکومتی سرتیرو د سرونو په پرې کولو بوخت شول چې ژوندي ورته تسلیم شوي وو. عربانو د دولت د مخالفینوسرګروپانو او تنظیمی مجاهدو ته خبر ورکړی و چې د هر سر په پرې کولو د نغدو کلدارو انعام ټاکل شوی دی. مجاهد به د هر هغه سرتیري او افسر تذکره یا د هویت کارت عربوته راوړل چې سر به یې ورغوځ کړی و او انعام به یې اخیست.

د وينو بهولو په دې سيالي کې د فرقې له قراول سره د دووسرګروپانوترمنځ شخړه راغله. دوی دوه سرتيري ژوندي نيولي وو، يو سرګروپ قسم کاو چې دا ما پورې اړه لري، خو هغه بل ويل ما پورې اړه لري او سرونه يې هم بايد زه پرې کړم. شل زره کلدارې ډېرې پېسې وې، لا ثواب هم ورسره. شخړه اوږده شوه، وخت لږ و. يوه سرګروپ دا يو سرتيری يو دوه ګامه هاخوا کړ، ورو يې ورته وويل:

- دابل سرګروپ ډېر توند دی، سر د څټ له خوا پرې کوي، بيا ډېر عذاب دربانديې تيريږي، زه دغاړې رګونه پرې کوم ډېر اسانه دې نفس خيژي.

کله يې چې دا خبره تسليم شوي سرتيري ته وکړه ، نودا وخت نبغ او مخامخ ورته ودرېد، په سينه يې کلک سوک ورکړ او په لوړ غږ يې ورباندې چيغه کړه:

- دلينين بچيه وايه ما نيولی يې که دا بل؟

سرتيري همدومره وويل:
اشهد ان لااله الاالله اشهد ان محمدً رسول الله. نور يې هيڅ ونه ويل. شېبه وروسته يو قوماندان د يوه سرتيري او بل د دوهم سرتيري سرونه پرې کړل، دواړه يې دزمکې ژورې خوا ته ور ټيل وهل، لايې هم لاسونه او پښې خوځېدل چې خاورو او شکو سره ښکته وښوييدل، شګې او تيږې په وينو سرې وې. ښه وړاندې د ابليټس ونو لاندې شل دېرش نور حلال شوي عسکر او افسران ښکارېدل، څوک يو دبل اړخ ته او څوک له يو بل لرې.
د فرقې له قراول نيولې، د ثمر خېلو تر ټولې سيمې عربان، ملېشه او افغانی تنظيمی سرګروپان ټول د حکومتي افسرانو او سرتېرو په لټه کې وو. افرادو غنيمت ټولاو او هره خوا شور- زوږ و. څو کسانو غالی مروړلې او څو نورو پنځه پنځه، شپږشپږ کلاشينکوفونه په

اوږو کړي وو. درې تنو يو سپين يخچال راواوچت کړی و، خولې ورباندې بهېدې.
د جوزا تر تولو توده ورځ وه. په شګو او تيږو بهيدلې او نښتې وينې وچې او رنګ يې تور اووښتی و. د سراچې پله خواته عرب جنګيالي مخکی تللي وو. فارمونو کې مليشه وو چې درانه وسايل او مخابرې ورسره وې. مجاهدين لا هم ثمرخېلو او يوولسمې فرقه کې بوخت وو. دا وخت قوماندان (ش. خان) را ورسېد.
بده ورځ وه مجاهدين د فرقې په دفترونو وتل، ننوتل. نامعلومو کسانوپنډونه تړل، په هره خوا يې وړل. دا وخت يوټک تور شلم عرب يو عسکر د فرقې دعسکري لاريو له منځ ژوندی وموند او دې خوا يې راوست دوه نور يې هم چېرې ژوندي نيولي وو. عسکر شهزاده نومېد دخوږيانو د ملک م. زوی او د ملک ع.ب کشر ورورو.
ژوندی نيولی عسکر يې هغه بل عرب ته وروست چې توره څېره او د قره قل د تور پوستکي په شان کلوښته کلوښته ويښتان يې لرل.
دريواړه عسکر يې يوځای خوا په خوا ودرول او بيا يې د دوی لاسونه وتړل، يو بل عرب يو دروند ساتور او يوه اوږده تېره چاړه راوکښله چی درې عسکر ورباندې حلال کړي. قوماندان ش. د خپل ګروپ کسانو سره وړاندې ورغی. لومړی يې عرب څخه چاړه واخيسته او بيا يې بې وسلې کړل، خو کنځلې يې ورته وکړې او ويې شړل. وروسته يې د سرتېرو له لاسونو پړي پرانيستل، اود تورخم په لوري يې د تلو اجازه ورکړه.عرب د شهزاده په څټ دروند تېره ساتور ايښی و، دې ته په تمه و چې ملګری يې الله اکبر ووايي او دريواړه اسيران په يوځل حلال شي، دروند ساتور د شهزاده په څټ خښ شوی و، وينو دارې وهلې، خو پوره حلال شوی نه و. کله چې قوماندان ش. دوی د عرب له تيغونو وژغورل، دريواړو مخ په تورخم منډې کړې. د شهزاده له څټ د وينو ليکه روانه او شا تخته يې سره کړې وه. کله چې پېښور کې د شهزاده درملنه وشوه، په

ښخ یې د ساتور نښه له ورایه ښکارېده. له رغېدو وروسته یې د افغانستان د علومو د اکاډمی استاد ع.ا.د. سره په ګډه د افغان ځوانانو لپاره یوپوهنتون جوړ کړ. په لومړني مجلس کې یې ورته (آریاناپوهنتون) نوم غوره کړ. څوکاله وروسته چې د بُن لومړی کنفرانس وشو او وطن کې نوی نظام جوړ شو، شهزاده جلال اباد ته راغی، دخوړیانو زمکی او جایدادونه یې سمبال کړل، حج ته ولاړ او (حاجی شهزاده) شو. په بل کال یې پوهنتون جلال اباد ته راولیږداو. ده به دوستانوته خپل ښخ ښود او کیسه به یې کوله. د ده د کیسې په اورېدو او په ښخ یې دعرب د ساتور د داغ په لیدو به د کیسې اورېدونکی ووېرېد، هیښ- پیښ به شو، یوځل بیا به یې شهزاده ته په ځیرځیر وکتل لکه له قبرڅخه را پاڅېدلي مړي ته چې څوک ګوري، خو شهزاده به وخندل. ده به خندل، خو دکیسو اورېدونکي به ویرې اخیستي وو او د کیسې له اورېدو وروسته به د هریو تر سترګو د وینو رودونه راتلل. حاجی شهزاده به یوه بله هم ورسره وترله:

کله چې قوماندان ش. موږ د عربو له تېغونو وژغورولو، نو عرب ته یې ښې پوچې کنځلې وکړې: ای د ابوجهل ذاته، ای ستاسې ... ځئ دا مردار رنګونه مو د افغانانو له پاکې خاورې ورک کړئ. تاسې فلان او بیستان او دا او دا او دا...

خلکو قوماندان ش. پېژاند. هغه یو زړور او وطنپال مجاهد و، خلک پوهېدل چې شهزاده له غوسې نه وایي، دا ریښتیا وه چې قوماندان ش. د مجاهدینو صف کې پردي نه زغمل او نه یې د اسیرانو قتل جایز باله. ده به ویل د جهاد له بري وروسته د حکومت چارې پخواني باچا ته پرېږدو.

له دې کیسې وروسته خوړیانیوالو شهزاده ته ( ژوندی شهید!) نوم ورکړی و. شهزاده کیسه کوله چې کله یې دوی د عرب له ساتور وژوغورل، دا وخت دوو ډاټسونو کې د قوماندان ش. د ګروپ نور

غږي هم راورسیدل. دمجاهدینو قوتونه د یوولسمې فرقې له ساحاتو ووتل اود سراچې پله او په هوایي ډګر د برید لپاره روان شول، د فرقې شاوخوا په ټول ثمرخېل کلي کې کراري شوه د سیمې خلک او فرقه کې کوم ژوندی سرتیری یو هم نه و پاتې. د سراچې پله او هوایي ډګر شاوخوا ښه کلکه جګړه نښتې وه. قوماندان ش. هم خپل ګروپ ته امر وکړ چې د سراچې پله په لوري مارش شي.
شهزاده به چې کله له خپل ښټ څخه د عرب د ساتور د پورته کولو او ژوندي پاتې کیدو کیسه وکړه، نو بیا به یې د هغې ورځې د جګړې او د قوماندان ش. پېژندنه کوله:
... قوماندان ش. پخوا د ملک اکبر دمجاهدینو ګروپ کې و. وروسته ترهغه چې ملک اکبر د شوروی پوځونو په یوه پوسته باندې د یرغل په ترخ کې شهید شو، قوماندان ش. خپله جلا ډله جوړه کړه، خو دمیرانې، تقوا، ایمانداری اووطنپالنې پوره سبق یې له ملک اکبر څخه زده کړی و. ملک اکبر د ملک عبدالحنان غازي زوی و. ملک عبدالحنان غازي له انګریزانو څخه د استقلال د بېرته ترلاسه کولو په جګړه کې دسرخرود له عصمت الله جبارخیل سره ولسي لښکر کې یو ځای و. دا اویا کاله مخکې هغه وخت و چې جنرال صالح محمد خان دغازي امان الله خان په امر د انګریز په وړاندې ختیزې جبهې ته استول شوی و، خو له بده مرغه د افغاني اردو صفوفو کې ګډوډي د دې لامل شوه چې د حکومتي پوځ افراد د قوماندې محل سره په ناوړه پوهاوي کې په شا راشي. دا وخت د کونړ له ارناوې څځه خان زمانخان او له ګندمک څخه جبارخیل د ولسي لښکر په قوت انګریز له خیبر څخه هم واړاو او برې د افغانانو په نصیب شو. په دې لښکر کې یو هم عبدالحنان و چې وروسته په غازي مشهورشو. کله چې غازي وفات شو، د قوم او سیمې مشرتوب د ده زوی ملک اکبرته وسپارل شو. د شوروی پوځ په راتګ ملک اکبر هغه لومړنی مجاهد و چې پراخه سیمې یې ولکه کې راوستې او د شورویانو په

وړاندې يې بريدونه کول. دا وخت ش. نوی زلمکی و. وروسته د ملک اکبر له شهادت څخه يې لس کاله دخپلو مجاهدينو مشرتوب وکړ او يو تجربه لرونکی قوماندان ورڅخه جوړ شوی و.

***

شهزاده له حتمي مرګ ژغورل شوی و. هغه د قوماندان ش. احسان نشو هېرولای. کله يې چې د ښت ټپ روغ شو، د جلال اباد د جګړې له پای ته رسېدو وروسته پېښور کې د محاذ د تنظيم هغه نظامی مرکز ته ورغی چې قوماندان ش. پکې موندل کېدای شو. غرمه مهال و چې د مرکز مخې ته يې پوښتنه وکړه. پهرداور دننه قوماندان ش. ته خبر ورکړ. شېبه وروسته هغه راووت، يو نوی چترالی پکول يې په سر، کورياييي جمپر په غاړه، "باټا" نوي څپلۍ يې په پښو او سترګې يې تورې کړې وې. چې راووت شهزاده په غېږ ورسره روغبړ وکړ. شاوخوا د ريکشو او ګاډيو شورماشور و.
شهزاده قوماندان ش. ته کيسه وکړه: د جلال آباد جګړه کې اسيرشوم، عربو حلالولو ته ترلی وم، چې ستا په لاسونو د سپکاوي له مرګه بچ شوم. قوماندان ش. دستي ورته وويل:

- وروره اجل به دې نه و پوره.

شهزاده بيا هم د ده د احسان مننه وکړه. قوماندان ش. وغوښتل چې شهزاده لږ نور هم وپېژني. لږ وړاندې د پېښور ښار د رينګ روډ څخه وړاندې د ونو يو ګڼ کتار و، دواړه ولاړل چې يو سات د وطن کيسې وکړي. شهزاده ورته وويل:

- زه اوس يوه ښه بوختتيا لرم، ډېر د ګټې- وټې کاروبار ندی، خو مقصد دځوانانو تعليم ته مې يوه وسيله برابره کړې ده. شکر ژوند مې ښه دی. غواړم ستا په خوښه د جامو او واسکټ ټوکر دلته همدې مرکز ته درته راوړم.
قوماندان ش. وخندل:

- ناځوانه. موږ په چا احسان نه باروو. الله پاک دې زما لاسونه له بدو ساتي اوکه ښېګڼه مو کړي وي، الله دی هغه قبوله کړي. ما خاص د الله د رضا او له وطن څخه د کوپارو د اېستلو په خاطر وسله پورته کړې وه، اوس چې روسان ووتل، کيدای شي پخوانی پاچا بېرته راشي. پير صاحب نور جګړه نه غواړي، زياتره مجاهدين يې په کورو دي.
شهزاده ته د قوماندان کيسه خوندوره وه. څپلۍ يې له پښو وکښلې، د لستوڼو تڼۍ يې پرانيستې او لستوڼي يې تر څنګلو پورته کړل چې د ګرمي زور يوڅه کم شي. دا وخت د ګونډو په سر ناست و، خو کله چې قوماندان ش. کيسه وغځوله، شهزاده له ګونډو په پلتيو شو، غوږ يې ونيو. قوماندان نکل وغځاو:
... هغه وخت د جلال اباد جنګ ته ځکه روان شوم، ماويل چې نور تنظيمونه ونه وايي چې وډار شو. يا به ځوک وايي چې کمونستانو سره يې تار اچولی، نو په جلال اباد د بريد په ورځو کې خپلو وسله والو سره ولاړم. چې کتل مې د پنجاب تورلينګي، مليشه، ګنډې والا او وړې ټول د چور او تالان په هيله روان وو. دا حال مې چې وليد، غوسه راغله. ډېرو ځايو کې مې ليدل چې دهغو سيمو کورونه لوټ کېدل چې مليشو او مجاهدينو فتح کړي وو. عربو ظلم کاو او تسليم شوي عسکر يې وژل. موږ ډېر ورروسته ورسېدو، زما نه دي ياد او ستا څېره مې هم نه ده په ياد کيدای شي، له حلالولوبه مې ژغورلی يې. خو کله چې په هغه ورځ له فرقې د سراچې د پله په لوري روان شولو موږ ته پته ولګېده چې يره خدای خبر که مجاهدين جلال اباد فتح کړای شي. مجاهدينو داسې ګڼله چې په ۷۲ ساعتونو کې به خامخا جلال اباد نيسي. خو د جنګ د ميدان زيانونه زښت ډېر وو. هغه سيمې چې مجاهدينو نيولې، ټولې ويجاړې شوې، کورونه لوټ شول، د جلال اباد د شاوخوا کليو او د ښار اوسيدونکي شهيدان شول. دې پيښو زه ډېر خپه کړم. ما ته هغه ورځې رايادې شوې چې د جهاد

لومړی کال و. کله چې حکومتي عسکر کلي ته راغلل او زموږ په کور کې يې وسله ومونده، نو زه يې ځان سره بوتلم. درې مياشتې يې پلچرخي زندان کې ايسار کړم. په لومړۍ ورځ يې په څپيړه ووهلم راته ويل يې چې ولې دې وسله پټه ساتلې وه.
دا وخت حاجی ش. ته هغه ورځې وريادې شوې: بيخوبي، وچه ډوډۍ اوهغه يخه کوټه...خو ده دا انګېرله چې د ملک عبدالحنان غازي برکت اود مور دُعاګانې وې چې روغ راووت. ده داسې انګېرله چې شورويانو به څومره کسان ماسکو ته وړي وي او صابون به يې ورڅخه جوړکړی وي، په څومره ځوانانو يې په زور دلينن اودهورا صفتونه وکړل او څومره يې له دين څخه واېستل، څومره قرآن شريفونه به يې سوځولي وي او څومره خلک به د دوی له ويرې په قرآن مجيد ختلي وي ...او دا دی خدای بری دمجاهدينو په نصيب کړ.
د رينګ روډ دغاړی له ګڼو ونو لاندې ښه سيوری و. قوماندان ش.د هغې ورځې کيسه وغځوله. له رينګ روډ پورې غاړه د ريکشو، کنچنې بسونو او موټرسايکلو شور زوږ غږ راځي، خو شهزاده د قوماندان ش. کيسي ته غوږ دی:
...شاخوا د چاودنو او توپچي ځواکونو درنې ډزې وې، خو موږ د بري او فتح په خيالي ښکلي نيلي سپاره وو او د نوې ځوانۍ د دورې ارمانونه راته په پوره کېدو ښکارېدل. کله چې په هغه ورځ د سراچې پله ته ورسيدو، تم شولو. د ګروپ غړو مو ځانونو څخه دلاري ګردونه څنډل او د ډاټسن موټرو بانټونه يې پورته کړی وو، ځينو اوبه اچولې چې موټر ساړه شي، ځينې د ونو سيوري ته کيناستل. سره ګرمي وه، دزمکي پرمخ د وينو څاڅکې ښکارېدل چې په سره او تيچنه خاوره او شګو باندې وچ شوي وو...

د مجاهدو قوماندان(ش) هغه عسکر ته کیسه کوي چې څه موده مخکې یوبل سره جنګېدل، خو نن له حتمي وژلو څخه ژغورل شوی عسکر د قوماندان کیسي ته غوږ دی:
...زه ډېر ستړی وم، ترځنډ دمې او چرتونو وروسته مې ځان راسم کړ او د نړېدلي دیوال پر سر د دووزنګنو په سر کیناستم، دښي لاس ځنګل مې په زنګون کېښوده، لاس مې تر زنې لاندې ونیو. پورته د ثمر خیلود غره هسکو څوکو ته مې کتل. د جهاد او مهاجرت تېولې سختۍ راپیاد شوې. ځان سره مې حساب وکړ:
اته کاله! ډېر عمر دی. اته کاله مې د وطن دښتې،تږې- غرونه او کمرونه ګزوګام کړل، له وطن څخه د پردیو لښکرو د اېستلو دسپېڅلي ارمان په درناوي مې هرکاڼي قدمونه ښکل کړل. د نابلدو کلیو خلکو په شپه کې لارې- ګودرې راوښودلې او یوګوله وچه یا لمده ډوډۍ یې راسره شریکه کړه. زه به د خپل ولس مېړانه او ملاتړ هېرنه کړم . د ښوونځي د پای ته رسولو ارمان مې زړه کې پاتې شو. د دښمن د ټوپکو ګولۍ مې د غوږ له څنګه تېرې شوې، له وژونکوماینونو اود بنګیو او برګیو له بمونو روغ راووتم، شوروی پوځ له وطنه ووت. کله چې په جلال اباد دبرید خبر خپور شو، پیرصاحب او حضرت صاحب نه غوښتل جګړې ته ورګډ شي، خو پنځو نورو تنظیمونو د سولې پروا نه لرله، بیره یې وه. موږ ویل اوس که خدای کول وروستی آرمان په پوره کېدو دی، یو افغاني حکومت به جوړ شي، پاچا به ببرته راشي. په جلال اباد برید پیل شو. زه لږ وروسته خبر شوم، د پیر صاحب له اجازې پرته خپلو مجاهدینو سره راووتم، تر یوولسمې فرقې او ثمرخېلو راورسېدم، افسوس چې د مجاهدو ډلو سره دا تورمخي او تورلینګي نه وای !!
کله به چې قوماندان ش. (تورمخي او تورلینګي) په غوسې سره یاد کړل، نو د شهزاده زړه به یخ شو.

قوماندان لږ دمه شو، لکه چې هغه ورځ یې یوځل بیا وریادوله. له لږ سوچ وروسته وریاد شول :
زه لاهم د نړیدلي دیوال په سرناست وم، په دې تمه وم چې اوس به نو مجاهدین د سراچې له پله څخه د ښار خواته د تېرېدو خبر راوړي. د ګروپ غړو دمه جوړوله. زما ترسترګود یوولسمې فرقې د تسلیم شویو عسکرو مړي او د فرقې د ثمر خېلو د روغتون د ناروغانو او ټیپانو مړي لربر کېدل، یوه شیبه مې نه هېرېدل. ځُرتي ناست وم. په هغه ورځ د ګروپ غړو دمه کوله او موټرو کې یې اوبه اچولې. زه د ټیټ نړېدلي دیوال پرسر اندېښنو کې ډوب وم چې له نړیدلي دیوالګي لږ هاخوا مې یوځل بیا په خاوروباندې وچه شوې وینه باندې سترګې خښې شوې، اندیښنه کې وم: دا د یوه افغان وینه ده، هرڅوک چې دی او هر طرف چې و، خو ژوند یې بایلود. موراوپلار به لري، اولاد به لري...دهغه تورمخي چاړه مې سترګو ته ودرېده چې څومره سرونه به یې ورباندې پرې کړي وي!؟ دهغه تکو تورو کلوښته کلوښته وېښتانو څخه مې بد راغلل، کرکه مې ورڅخه وشوه.
دا وخت په قوامانداان باندې د شهزاده زړه وسوځېد. قوماندان ش. لګیا و او دهغې ورځې کیسه یې کوله:
...زه په همدې ځُرتونو کې وم، چې دا وخت مې لیدل چې د وسله والو مجاهدینو نوې جوپه د فارمونو له خوا راورسېده. د موټرو کتار اوږد و، په زیاترو پیکا او دهشکې کلکې نصب شوې وې. ما داسې و انګېرله چې مجاهدین له سراچې پله اووښتي او خامخایې هوایي ډګر او قول اردو نیولی دی. راپاڅېدم. د ګروپ غړي مې شاوخوا راټول شول. هغوی کله هم زه داسې پریشان نه وم لیدلی. هریو حیران و چې د خوشحالی په ورځ ولې دومره ځُرتي یم؟
غوښتل مې چې خپل ګروپ سره مخ په هوایی ډګر ورشو، خو چې کتل مو له هغې خوا دمجاهدینو دوه موټرپه بیره راوګرځېدل او د ثمر خیلو باغ سره د ونو سیوري لاندې ودرېدل. موږ داسې انګېرله چې

هرومرو يې لومړۍ کرښې څخه شهيدان يا ټپيان راوړي دي، چې کتل مو دوه نور موټر هم راورسېدل. زموږ د ګروپ يو مجاهد ورغی چې ځان په خبره پوه کړي. هغوی ډېر بد خبر راوړی و، ويل يې:
دسراچې پله ته نږدې د حکومتي ځواکونو له خوا په مجاهدينو د درنو او سپکو وسلو ډزې شوې. حکومتی ځواکونو په يو کمين سره دوی غافل کړي دي. د مجاهدينو د کاروان لومړنی موټر د مخې په ښيښه لګيدلی، موټر له سړک اووښتی سرپه څيړی په هغه وياله کې لوېدلی چې دسړک ترغاړې د زيتونو له باغونو راوتلې ده. ورپسې نور مجاهدين هم د توپچي د مرميو تر باران لاندې راغلي، نو ځکه دوی بېرته راوګرځېدل، اوس به ليدل کيږي چې ثمرخيلو کې د مجاهدينود قوماندې محل څه ورته وايي. قومانده ټوله د تورلينګيو په لاس کې وه.
دجګړې لومړۍ کرښه ځای په ځای ولاړه وه، مجاهدو بد ګوزار خوړلی و، يو لوری هم وړاندې نشو تلای. دواړو لوريو يوپه بل د درنو وسلو ډزې کولې. دسراچې پله سره جګړه دوه ورځې روانه وه، خو مجاهدين له پله نشول پورې وتلای. غلام خان ډاک، سلطانپور او تولو سيمو او استقامتونو کې د مجاهدينو پرمختګ په ټپه ولاړ و. درې ورځې مخکې کله چې د يوولسمې فرقې ژوندي پاتې عسکرو او زرهدار ټانکونو خپلو سنګرونو کې ماتې وخوړه او د جلال اباد دښار په لوري په شا شول، سراچې پله ته په نږدې کېدو له لومړي لمبر قول اردو څخه زغره وال ټانکونه يې مرستی ته راغلل، خو له دې خوا دوی د بېړې له امله په څو لارو سر شوي وو او اصلي لاره او سيده سړک يې پريښی و. دا وخت دوه زغروال ټانکونه يوه ژوره ناله کې ونښتل،سرتيري او مرتبات يې ووتل او پلي وتښتېدل. څلور نورټانکونه په سيده سړک په تېښته روان وو چې له مخامخ لوري مرسته کوونکی قوا په مخه ورغله. دهغو په مخکې د قول اردو قومندان بريدجنرال بارکزی و چې غوښتل يې ثمرخيل

بېرته ونيسي. جنرال بارکزی ډېر زړور افسرو، هغه هيڅکله پروت او ستراو اخفا نه کوله د ګوليو په باران کې به نېغ او مخامخ وړاندې ته. دا وخت هغه د خپل ټانک له دريڅي راپورته شو، نيمه تنه يې ښکارېده او تنښتېدونکو ټانکونوته يې اشاره کوله چې ودرېږي او بېرته خپل سنګرونه ټينګ کړي. له هرې خوا مرستې ته رارسيدلي ټانکونه تربريد لاندې ونيول شول. دمرميو پرله پسې باران و چې همدا وخت بريدجنرال بارکزی په زړه باندې ولګېد او ځنګ ته د زرهدار په ډريورباندې په يو اړخ ورپرېوت . ده سره يوځای د ده خاص محافظ هم ولګېد. دا وخت مرستې ته راغلي ځواکونه هم په شاشول، خو سيمه د حکومتي توپچي له خوا پرله پسې ويشتل کېده او د مجاهدينو وړاندې تګ ناشونی و...

د کيسې په اورېدو شهزاده ته يو ځل بيا دهغو ورځو ټولې پېښې سترګو ته ودرېدې.

## (۳۵)

د جګړې ځلورمه مياشت شوه. د ج. ح. ګ. ۷۲ ساعتونه لا ډېر مخکې پوره وو. د افغانستان پوځ د اکتيف دفاعی حالت څخه دفاعی-يرغليز پړاو ته ورغلی و. د (آسيا پړانګان) د جلال اباد په لوري له پرمختګ ناهيلي شوي وو. د دولت مخالف ځواکونه د قول اردو او خوشګنبد له سيمو په شا تمبول شوی وو، خود قول اردو د اوبو رسولو شبکه سوری او د ښځلو اوبه ډېرې لږوې. دسړک په سر ويشتل شويو ټانکونو لاره بنده کړې وه، قول اردو ته نوي را رسيدلي ځواکونه سيمې سره بلد نه وو. تورن عبدالوکيل د مخابرې شفرونه استول، راپورونه يې ورکول او د مفرزو او بطريو قوماندانانو سره يې اړيکې وې، ډېر ځله به فريکوينسی او شبکه دمخالفينو له فريکانس سره ګډه شوه، ده به اورېدل:

-واپس آنی والی پرافغان مجاهد کو قتل کيا جائی.
-عرب مجاهدين کي مداخلت کرو، وه صرف اپنا کام کرتی هين.
له دې ډول قومندو سره يوځای به دRGP او ستينګر له بارونو لاندې افراد يو ګام وړاندې ته ټېل وهل کېدل.
تورن عبدالوکيل په دې باندې پوهېد چې کله چې فريکانس ګډ شي، نو مخالفين د دوی خبرې هم اوري. هغوی به هم قصداً فريکانس کې مداخله کوله اوکله کله به يې د هغوی اخطارونه هم اورېدل:
-دلينن بچيانو تسليم شئ!
-موږ تاسې سوچه اسلامی حکومت ته رابولو.
-که موږ سره يوځای شئ تاسې به عفو شئ کنه ډير ژر فتح د مجاهدينو په نصيب ده او تاسې به سخته سزا وګورئ...
د دفاعی- يرغليز دايرکتيف په رارسېدو سره دافغانستان د هوايي پوځ فعاليت هم زيات شوی و. دېسرلي ورځو کې پياده ځواکونو ښه پرمختګ کړی و. د برېد په څلورمه مياشت سوخوی بم غورځوونکو او Mig,21 شکاري جت الوتکو د جګړې بڼې ته بدلون ورکړ. بريدګرطراحان دې پېښي اندېښنه کې کړل. دوی پوهېدل چې د دوی دF-4 ، ميراژاو F-16په پرتله بېلابېلو اقليمی شرايطو، غرنيو سيمو او آن د وريځ په ورځوکې Mig.21اوچته وړتيا لري. په همدې خاطر د دغه برېد د وسلو په (تابلو) کې ستنګر ته ځای ورکړل شوی و. دجبهې سوق الجيش خپل ځای موندلی و. ځينو ورځوکې به عبدالوکيل فريکانس کې اورېدل:
-الی صمود الشرق
-اسرع بنفسک الی المرکز.
زاس يواځينی ډادمنه مخابره وه، چې قوماندانانو سره وې، خو دا نورو کوچنيو ساده شفري مخابرو کې به زياتره فريکانس ګډ شو.
عبدالوکيل ځينی غږونه پېژندلي ووا و د هغو په اورېدو به ورته د يوتګ تورپنډ مليشه څېره سترګو ته ودرېده. کله به چې بريدګر په

شا کېدل، عبدالوکيل به فريکوينسی لټوله، هلته به چيغی او ناري وې:
-مجاهدين کوبنائين پهلی فتح پر غنيمت!
بيا به يې بله فريکوينسی کې اورېدل:
تزويد المجاهدين بالمعدات ، هل مزيد... هل...
دا څرګنده نه وه چې دا مخابرې د جلال اباد کومو سيمو کې دي،خو غږ يې صفا راته:
دايئن طرف اګ لګائين.
مخالف سمت مين اګ.
د بريد په څلورمه مياشت دحکومتي ځواکونو پرمختګ ګړندی شو. د غازي اباد د فارمونو خواته زغره وال وسايط د پرمختګ په حال کې و. د ننګرهار د ولايت د اداري غوښتنه دا وه چې ګرمي زياته شوه، د فارمونو ونو ته بايد اوبه ورسول شي، چې فارمونه وچ نشي. هغو ځايو کې چې سيفون الوځول شوی او ويالې بندې شوي بايد د کانال د رياست مامورينو او کارکوونکو ته د کار فرصت برابرشي. په همدې خاطر د قوماندې او سوق مرکز دفارمونو خواته پام واړاو، خود کان او کترغی، چپرهار او سره رود له لوري په جلال آباد د ورځې لس- دولس زره توغندي راتلل. په يوه ورځ کې دېښار دوه سوه اوسيدونکي خپلو وينو کې ولمبېدل. د ننګرهار د عامې روغتيا دجراحي عاجل سرويس په بسترونو او دهليز کې د ټپيانو ځای نه و، طبيبانو او نرسانو شپه ورځ کار کاو. ټپيانوته په سره ګرمی کې د روغتون وربوی کې تر ونو لاندې سيرومونه ترل کېدل اوپټۍ لګول کېدې. دا وخت له کابل څخه د جراحي يوټيم د ډاکترب.ا.شيوامل تر مشرۍ لاندې راورسېد. دوی له رارسېدو سره سم پرته له دې چې د لارې د ستوماني دمه جوړه کړي، سم له واره روغتون ته ورغلل. له نرسانو څخه يې د جراحي، ټپ ترلو او پټۍ لګولو وسايل تر لاسه او لاس په کار شول. د ډېرو ټپيانو حال ښه نه و، يو شمير سرسری

تېپيان وو، يو شمير نورو وينې ته اړتيا لرله، د ماشومانو درملنه بايد لومړی وشي. د راجستر کولو، دوسيې او ريکارد کولو فرصت نه و، د يوه درملنه به نه وه شوې چې بل به راورسول شو. دجلال آباد په شان يو کوچني ښار باندې د ورځې دولس زره راکټونه او يوه ورځ کې د دوه سوه تنو تلفاتو شمير په نړيوال جنګ کې هم سارى نه درلود. ښاريانو د ورځې د شهيدانو د ښښولو وخت نه درلود، يو شمير شهيدان د کورنو انګړ کې خاروته وسپارل شول. پوځ ته د يرغليز دايرکتيف او جبهې ته د جيت الوتکو استولو د جګړې وضعيت ډېر ژر بدل کړ. د ملکي موسساتو، دروغتيا د ادارو، اوبو او برېښنا رسولو د چارو دسمون په خاطر کابل څخه مسلکي ماهرين را ورسېدل.
دا وخت د حکومت هوايي پوځ ته امر شوی و چې د جبهې لومړۍ کرښه تر اور لاندې ونيسي. په آسمان کې د جيت الوتکو راڅرګندېدو لومړۍ کرښه ډېره مخ ته بوتله. جزوتامونو ته په ټولو استقاموتو کې د وړاندې تګ قومانده ورکړل شوه. تورن عبدالوکيل ته هيله پيدا شوه چې د جنګ د وضعيت په بدلون به ده ته د يو- دوه ورځو درخصت امکان برابرشي، يا به کم له کمه يو ليک خپلې مور ته واستوي. خپلې کوژدنې ته به ليک کې داډ ورکړي چې د دښمن بريد په شاتمبول شوی، امنيت او سوله به راشي. د جګړې د وضعيت د بدلون سره سره د مخابرې په فريکوينسيو بوج زيات و. داسې ښکاريده چې مخابره دجګړې په ډګر کې د قوماندانانو دژبې او فکر اهميت لري، نو په همدې خاطر تورن عبدالوکيل د خپلې مهمې دندې په هکله فکر کاو. هغه اوس ډېر خوشحاله و چې په خپله اوږه دوه پليټونه او يو ستوری لري. ځينې وخت به يې چې لږ فرصت وموند په مخابره کې به يې د بريدګرو فريکونيسی ولټوله او دهغوی خبرو ته به يې غوږ نيو. سره له دې چې کلک امر شوی و چې فريکوينسي بايد کنټرول لاندې وي او د هر ډول ګډ او جړ حالت مخه ونيول شي، خو تورن

وکيل به د ځان دخبرولو په خاطر دبريدګرو غږ ته غوږ نيو. يوه ورځ يې ډګروال تماش ګل خان ته وويل:

- نن مې واورېدل چې چيغې يې وهلې، بهارت اوربنګال کابدله کابل سی ليا جائي ګا!

ډګروال ورته وويل:

ځُرت مه وهه ورته وايه يادېږي مو چې نوي زره عسکر او صاحب منصب يې درځخه ونيول جامې يې ترې وکښلې و لوڅ- لپړ يې ودرول او بيا يې سرونه ورباندې ټيټ کړل. په جلال آباد باندې بريد به تر هغه بدتر درس درکړي.

دواړو وخندل. ډګروال تورن ته وويل:

- تر پرونه شوروی مرستندوی ځواکونه راسره وو، زموږ پوځيانو او عسکرو کلکه جګړه نه کوله، خو نن شوروی عسکر وتلي دي. اوس موږ مستقلانه دفاع کوو، د هر سرتيري په ژبه د سرورکوو، سنګر نه ورکوو خبره ده.

ځوان تورن د ډګروال خبروته غوږو، هغه ورته کيسه کوله:

يووخت چې زه ستا په شان ځوان او وېښتان مې تور وو، توپچي قطعه کې مې د دوهم بريدمن رتبه لرله، دا نو هغه وخت و چې دوهم بريدمن لويه رتبه وه. د افغانستان اړيکې پنجاب سره خرابه شوې. دفاع وزارت د نفربري اعلان وکړ. زموږ قطعاتو ته د تيارسئ امر وشو. په هغه ورځ د پنجاب پوځيانودريشياني وکښلې، ټول د پېښور له علاقو په اټک واووښتل، خو ډېر ښه کار وشو چې جګړه ونشوه.

دواړو بيا وخندل او د ګرمي له زوره بهيدلې خولې يې پرله پسې وچولې. شيبه په شيبه نوي دايرکتيفونه رارسېدل. هوا ډېره تيچنه او د جلال اباد د ګرمي د زور همدا وخت و. فارمونو ته تللې کانالونه او ويالې وچې شوې وې، د نارنجو او مالتود باغونو د وچېدو وېره وه. قرارګا د استحکام قطعې ته امر وکړ چې په کانال او د فارمونو په ويالو کار پيل کړي چې ونو ته اوبه ورسيږي. دا وخت د جګړې

لومړۍ کرښه له مارکو اووښتي وه او له کمکي خيبر او هزارناو په جلال اباد توغندي ويشتل کېدل.
د سهار خړه وه. د ختيځ اُفق کې د لمر وړانګي نه وې راخرګندي چې د قرارګا په امر تورن عبدالوکيل ته امر وشو چې له هوايي ډګر څخه قول اردو ته ولاړ شي او د قول اردو د مخابرې ستونزې هوارې کړي. د قرارګا مخابره دې خپل مرستيال بريدمن عباس ته وسپاري. تورن وکيل دستګاه د اخذ په حال پرېښوده او خپله يې ضروري وسايل واخيستل بهر ووت. سم لا د هوايی ډګرمخې ته ولاړ زرهدار پورې نه و رسېدلی چې مزبوته ګړز شو، پياوړې چاودنه وشوه، زمکه څيرې شوه سره لمبه پورته شوه. سيمه لوخړو ونيوه. شېبه وروسته چې پورته الوتې شکې او خاورې بېرته زمکې ته رالوېدې او لوګی او ګردونه خواره شول، له نږدې پوستې څخه سرتېرو تورن عبدالوکيل وليد چې د چاودني له ځای څخه څوګامه هاخوا په زمکه پريوتی و. د عبدالوکيل کيڼ اړخ ټول په چرو سوری سوری و، ترڅو سرتيري له بلنداژه راوتل، عبدالوکيل سا ورکړې وه. دا وخت د هوايي ډګر له ترمينل نوکريوال امبولانس را ورسېد، خو مرسته دهيچا په وس نه وه.
لومړي لمبر قول اردو کې دوه ټېپان او د مخالفينو له ډلې درې اسيران ساتل شوي چې کابل ته وليږدول شي.اسيران بهرنيان دي.
د قومندې مرکز کې د هوايي پوځ استازي د خواجه رواش د هليکوپترو د ۳۷۷غونډ څخه د هليکوپترو د رارسېدو وخت په شفر ښودلی، خو پرته د قول اردو د قراول له نوکريوال هيڅوک نه دي خبر چې څو هليکوپتر به راځي او څه وخت به رارسيږي. د هوايی پوځ استازي ډګروال س. اسمعيل د قراول نوکريوال ته دسهار په اووه نيمو بجو چې لمر راهسک شوی و، خبر ورکړ چې ټپيان او درې بهرني اسيران دهغه جر غاړې پورې ورسوي چې دهوايي ډګر له لويديځ څخه مخ په خوشګنبد کلي بهيږي. خوشګنبد کلي ته نږدې

جر دوه شېلي شوی په منځ کې یو هوار او پراخ ټاپو جوړ شوی ، شاوخوا ګڼې ګز ونې او یو ځو ابلټیس دي. لس کم اته د تور غر له اړخه دوه هلیکوپټر راښکاره شول ، چې دفتح اباد د غونډیو له سره په راتېرېدو په دې خوا راتلل. د قومندې مرکز امبولانس ته هدایت وکړ چې د تورن عبدالوکیل جنازه له ټپیانو او درې تنو اسیرانو سره دهلیکوپټرو د کیناستو ځای ته ورسوي. لومړنی هلیکوپټر چې پیلوټ یې عبدالواسع هموطن و، په ټیټه ارتفاع کې د ونو له سره تېر او دشیلې اړخ ته په هوارې زمکه کېناست، دوهم هلیکوپټر هوا کې دورې وهلې. د قول اردو سرتیرو په بیړه ټپیان او درې اسیران وروخیژول. همدا شیبه امبولانس هم راورسېد اوپه تذکره کې یې په وینو لژند عبدالوکیل هم هلیکوپټر ته پورته کړ. هلیکوپټر په بیړه هواته پورته شو، له پورته کېدو سره سم یې د شاوخوا ونو ښاخونه وښورول او خاورې اوشګې یې داسې په هوا کړې لکه توپان چې لګېدلی وي. یوه کوچنی حلقه کی یې دوه دورې وخوړې او بیرته د بهسودو د پله په سر د فتح اباد دغونډیو په برید مخ په لویدځ ولاړل. له تورغر څخه د اووښتو په مهال دواړه هلیکوپټرونه لکه د دوو کوچنیو ټکیو په شان له سترګو پنا شول.

## (۳۶)

د سهار نهه نیمې بجې وې چې د خواجه رواش د هوایی ډګر نظامی برخه کې دوه هلیکوپټر کیناستل. لومړی د ملی امنیت دوه تنه مامورین وړاندې ورغلل او درې تنه اسیران یې خپلو موټرو کې

داسي کېنول چې دهغوی سترګې يې تړلي وې، ورپسې څلور امبولانسونه وو. دريو ته يې ټپيان او بل وروستي ته يې د عبدالوکيل جنازه ورپورته کړه، ټول موټر په يو کتار له هوايي ډګره ووتل. کله چې دعامې روغتيا څلور لارې ته ورسېدل، د ملي امنيت موټر کيڼ لاس ته تاو شو، اسيران يې ششدرک کې دربيم رياست ته يووړل، امبولانسونه ښي لاس ته د څلورسوه بستريز روغتون په لوري لاړل. روغتون کې يې لومړی ټپيان دربيم پوړ ته دجراحي سرويس ته يووړل چې درملنه يې وشي او جنازه يې هغه دالان ته ورسوله چې د دفاع وزارت لامخکې هغه ځای ته ګلان راوړي وو. د اوپراسيون رياست کارکوونکي رارسيدلي وو. دانضباط قطعي د مولوي صاحب له هدايت سره سم تابوت سمبال او د کابل د پسرلنيو ګلانو پاڼې يې وربانديې وشيندلې. نيم تابوت بانديې يو تور ټوکر چې د زربفتو په تارآية الکُرسي وربانديې ګنډل شوې وه او نيم بانديې د افغانستان ملی دريې رنګه بيرغ هوار شو. د جنازې د ليږد لپاره يې يوموټر چې د مخې په ښيښه يې په شنه ټوکر طيبه کلمه ليکلې وه، درول شوی و. له تابوت څخه د جنازې تر موټر پورې د تورن عبدالوکيل د مخابرې د غنډ پخواني ملګري او د دفاع وزارت د اپُراسيون درياست کارکوونکي په دوو کتارونو کې ولاړ وو. جنازه موټر کې کېښودل شوه ، ټول له څلور سوه بستريز روغتون څخه ووتل چې جنازه د دوی ترکوره ورسوي. تر دې وخته د عبدالوکيل مور او کوژدنه خبر نه وو.

د ششدرک دربيم رياست ته ژباړونکي را وغوښتل شول چې د اسيرانو پېژندنه وکړي او د راديو او تلويزيون دشپې د اتو بجو له خبرونو وروسته يې مرکې نشر شي، خو دا وخت د سره صليب اود ملګرو ملتونو د نيکوهلوځلو درې موټر راورسېدل او د اسيرانو دتسليم اخيستو ليک يې د دربيم رياست رئيس ته وښود. د ملي امنيت د اداري رئيس په ډېرې غوسې دوی ته د اسيرانو له سپارلو ډډه

وکړه. دا وخت د ملي روغي جوړې دشورا په وړانديز د صدراعظم له دفتر ځخه امر وشو چې اسيران بايد د ملګروملتونو د دفتر استازيوته وسپارل شي. د امنيت د درېيم رياست رئيس د ملي امنيت وزير ته تيلفون وکړ او ټينګاريې وکړ چې بايد د اسيرانو اعترافات رسنيو کې خپاره شي؛ خو وزير ورته  وويل چې د ملي مصالحې د عالی شورا په سپارښت د دولت مخالفين له زندانو خلاص شوي، خو دغه درې تنه اسيران چې بهرنيان دي، دوی به ملګرو ملتونو اوسره صليب ته وسپارل شي، د بهرنيو چارو وزارت به د دوی متبوعه هيوادو ته احتجاجيه ليکونه واستوي. د درېيم رياست رئيس قانع نشو، بيا يې هم ټينګار وکړ ويې ويل:

- د افغانستان دولت پخوا هم د ښه نيت له مخې بهرنيان پريښي، خو د جګړو د شدت عامل همدوی دي، نه افغانان. زه نشم کولای د وطن د تباهي عاملين او د افغانانو قاتلين وبخښم او په جرم باندې  د اعتراف کولوپرته يې وسپارم، د دوی اعتراف بايد زموږ وطنوال واوري.

رئيس له دې خبرو سره په غوسه له دفتره ووت او هرڅه يې په ډاګ پرېښودل. هغه مامورين چې اسيران يې له هوايي ډګرڅخه راوستي وو او اوس د دوی مسئوليت ورپه غاړه دی، دوو لاروکې حيران وو. دوی نشو کولای چې پرته د خپل رئيس له اجازې اسيران چاته وسپاري. د ملګروملتونو  او دسره صليب دفترټينګار کاو چې اسيران ورته وسپارل شي. دوی د دوهم او درېيم ځل لپاره له صدارت او د مصالحې عالي شورا سره اړيکې ټينګې کړې، بالاخره د امنيت وزير امر وکړ چې اسيران دې سره صليب ته وسپارل شي. راديو او تلويزيون ته سپارښت وشو چې دشپې د اتو بجو له خبري سرويس وروسته دې د جلال اباد بريد کې د نيول شويو بهرنيو اسيرانو د اعتراف شل دقيقه يی پروګرام کنسل کړي.

څلورسوه بستریز روغتون کې د تورن عبدالوکیل ملګري او د اوپراسیون کارکوونکي دجنازې په لېږدولو بوخت و او دتګاب ولسوالۍ ته یې خبرلیږلی و چې د عبدالوکیل د ماما زامن او کلیوال دې هدیره کې دقبر دکیندلو ترتیبات ونیسي. د دفاع وزارت د اوپراسیون سرتیري کاظم جان ته دنده وسپارل شوه چې د عبدالوکیل دشهادت خبر د ده مورته ورسوي. کاظم جان ته دا خبر ډیر خواشینوونکی و. سترګو کې یې اوښکې ډنډ شوې. دا هم ورته ډیره ستونزمنه وه چې دا خبر د عبدالوکیل مورته ورسوي. ده څلورمیاشتې مخکې الوتکه کې د عبدالوکیل هیر شوی بیک دهغه مورته وروړ هغه ډیره خوشحاله شوه، بیا یې دهغه لیکونه چې له جبهې رااستول شوی وو، کورته ورووړل، مورجانه به خوشحاله شوه او له خوشحالۍ به یې سترګې له اوښکو ډکې او د عبدالوکیل جان خط به یی ښکل او په سترګو به یې ومښود، نو اوس څنګه د ده د شهادت خبر وروړي؟ کاظم جان د څادر په پیڅکه خپلې اوښکې داسې وچې او پاکولې لکه چا چې یې مخې ته پیاز میده کړی وي. بیا به یې د څادر په پیڅکه سترګې او پوزه پاکه کړه. څو ځله یې اوښلنې سترګې پاکې کړې او آخر یې په بایسکیل پښه واړوله چې دبایسکیل دسیمانو ترقا شوه، ده و انګیرله چې نن یې د شهید عبدالوکیل دشهادت خبر بایسکیل ډیردروند کړی او د دې غم د اوچتولو وس نه لري. کاظم جان د عبدالوکیل دوی د کور په لوري روان شو. کله چې کوڅې ته ورسېد، له بایسکیل پلی شو، د عبدالوکیل دوی د کور دروازې پورې پلی راغی، لاس یې قوت نه اخیست چې د دروازې زنځیر وشرنګوي. چاره نه وه. زنځیر یې وخوځاو. مورجانه په بیړه راووته لکه هغه چې تیاره د زوی د راتګ په تمه د وره شاته ناسته وه !؟ خو تقدیربل شانته و. کله یې چې ور پرانیست، کاظم جان طاقت ونشو کولای سلګیو ونیو او څادر یې سترګو ته پورته کړ، دا وخت د کوڅې

په پای کې دجنازې موټر او ورپسې د خلکو اوموټرو کتارونه رانښکاره شول.
کله چې د ماښام ځراغونه روښانه کېدل د عبدالوکيل مورکۍ د انګړ په مخ خاورې په سربادولې، په ټيټ غږيې ژړل او تودې اوښکې يې توېولې. ګاونډۍ ښځې راټولې شوې وې، هرې يوې ورسره غمشريکي کوله. د انضباط ټولي تابوت انګړ ته دننه کړ. له کلي څخه د عبدالوکيل د ماما زامن او څو کليوال هم رارسېدلي وو. مور د ځوانيمرګ زوی په تابوت پرېوته. دا وخت د دفاع وزارت د اُپراسيون افسرانو، سرتېرو، د انضباط ټولی ټولو سرتيرو او له کلي څخه راغليو کليوالو؛ هيچا هم د اوښکو مخه نشوه نيولای، د ټولو سترګې لمدې وې او په دې غمجن ماښام يې د عبدالوکيل له مور سره دغم دروند بار ته اوږه ورکړې وه.
دشپې د اتو بجو له خبرو وروسته د دفاع وزارت د کادراوپرسونل له درستيزوالۍ څخه دغه استول شوی ليک په راډيو او تلويزيون کې ولوستل شو:
...تورن عبدالوکيل په ۱۳۴۰ل. کال د تګاب ولسوالۍ د چينه علاقې مربوط د ساروانيانو کلي کې نړۍ ته سترګې پرانيستی، له ښوونځي څخه تر فراغت وروسته يې کانکور آزموينه کې ګډون وکړ او د حقوقو پوهنځي ته بريالی شو، سره له دې چې اقتصادي حالت يې هيڅ ښه نه و، خو په ډېرو ستونزو يې درې کاله پوهنتون ولوست، کله چې څلورم ټولګي ته ورسېد، له عسکري مسلک سره د علاقې او د اقتصادي ستونزو له امله يې د مخابرې کورس کې نوم وليک او د درېيم بريدمن په رتبه فارغ او د مخابرې د افسر په توګه مقررشو. د ۱۳۶۷کال د سرطان مياشت کې د لومړی نمبر احضاراتو په ترخ کې له خپل غُنډ څخه د دفاع وزارت د اوپراسيون رياست ته خدمتي شو. د همدې کال د حوت مياشت کې د جلال آباد د دفاع سنګر ته واستول شو او پرون سهار له وطن څخه د دفاع په سنګر کې شهيد

شو. نوموړي کوژده کړې وه، خو واده یې لا نه و کړی. د ده کورنۍ، متعلقینو او دوستانوته د ده د شهادت له امله خپل تاثرات او غمشریکي ښکاره او ورته د فردوس جنت دُعا کوو. د دفاع وزارت ورته د جګتورن فوق العاده رتبه منظور کړه. ارواښاد یو وطنپال او د خواریکښانو او زیارکښانو آرمانو او په هېواد کې د سولې راتګ ته وفادار سرتیری و. د افغانستان له تاریخی دښمن سره په مخامخ جګړه کې یې سر ورکړ، خو سنګر یې ورنه کړ. اروا یې ښاده .
د بیوګرافي د لوستلو په تولو پینځو دقیقو کې د عبدالوکیل عکس د تلویزیون په سکرین ایښی و. نطاق اعلان وکړ:
دشهید جنازه سبا سهار اته بجې د دوی له کوره اخیستل کیږي او په نظامي ترتیباتو او درناوي سره په تګاب کې د دوی پلرنۍ هدیره کې خاورته سپارل کیږی. اناالله اوانا الیه راجعون.
سبا اته بجې د انضباط قطعې په عسکري موټر کې جنازه له کوره اوچته کړه، مخکې د جنازې موټر او ورپسې یوه لیکه عسکري موټر، په آخرکې د عامې روغتیا د وزارت او د اسلامي شئوونو دریاست موټراو وروسته ورپسې هغه موټرروان و چې د عبدالوکیل مور او دهغه پېغله کوژدنه او نورخپلوان پکې ناست وو. کله چې دجنازې موټرتګاو ته ورسېد، د ډریور څنګ ته ناست کلیوال ډریورته لارښودله:
... هاغه وړاندې ابراهیم خېل دي، له هغه وړاندې ډاګ کلا، دې خواته انجیران او انګور دره ده. اوس اهنګران او بیا چینه کلي او دهغه خواته ساروانیانو ته رسیږو...
کلیوالوقبر کیندلی و. کله چې جنازه راورسېده، یو کلیوال یو قبرته ګوته ونیوله:

- دغه شهید هم تېرکال اوړی عسکرو د نغلو له سیمې راوړی و. عسکرو فکر کړی و چې د همدې کلي به وي. هغه د سکاډ راکټ به لګېدو شهید شوی و، دلته چا ونه پېژاند، خپلوان یې نه لرل لاوارثه

و. مولوی صاحب وويل ټوله زمکه د خدای زمکه ده. هغه سره چې نور کسان ټپيان شوي وو، هغه يې مرګرو پېښور ته يووړل، خو دا مړی په ميدان پاتې و. دا شهيد به هم د ده خواسره خښ کړو، لږ هاخوا د ده يوبل ورور خښ دی چې هغه ځوانيمرګ اته کاله مخکې چا دشپې کور کې ويشتی و. دې وختو کې له چينی کلي نيولې تر انجيرانو، تر انګوردرې، ټولو هديرو کې نيمه خوا ځوانان خاوروته سپارل شوي دي، خدای دې نور رحم وکړي. ډيرې ميندې بورې او ډيرې ځوانې ښځې کونډې شوې...
د ډريور خواته ناست کليوال کيسه کوله چې ډريور موټر په لوړو ژورو د هديرې په لور تاو کړ. يو ځونور کليوال چې قبر يې جوړ کړی وو، د دوو ونو سيوری ته ناست وو. د موټرو په وررسېدو سره را پاڅېدل او د جنازې مخې ته راغلل. موټر ټول ودرېدل او جنازه خاورو ته وسپارل شوه. په پای کې کليوالو په قبر باندې د ګلاب د ګل پاڼې وشيندلې او په قبر يې جنډۍ ورپولې. غرمه نږدې کېده چې دجنازې موټر او نور ورسره راغلي موټر بېرته ستانه شول، د هديرې تر کوز سرپورې د اردو سرتيري، افسران، کليوال او د راډيو-تلويزيون خبريالان ښکاره کېدل چې د تدفين له مراسمو وروسته يې کليوالو سره خدای پاماني کوله او بېرته ستنېدل.

## (۳۷)

دجوزا وروستۍ ورځ وه. د ګرمي وروستی حد دی. دا څو ورځې کيږي په جلال آباد ښار د توغنديو باران درېدلی، خو شاوخوا کان وکترغي، هډې او ثمرخيلو څخه د ډزو غږونه راځي. د لومړي ځل لپاره د جلال آباد په آسمان کې جت الوتکې ښکاري. د افغانستان دهوايې پوځ سوخو۷ او Mig.21 جِت يو يو وار د تالندې په شان په مزبوت غږ راښکاره شي او د سترګو په رپ کې د سپين غر او

دشمشاد دځوکو په لوري پنا شي، يوځل لکه شاهين چې په ښکار غوټه وهي له ډېرو لوړو را ټيټې شي او بېرته مخ پورته د آسمان زړه څيرې او دومره هسکې شي چې ايله په سترګوښکاري.
کروندو کې غنم بادونو توی کړل. سږني پسرلي کې هيچا د نارنج ګل ښايست ونه ليد، د ګلونو دعطراو ورږم په ځای د باروتو تريخ ورږم او د شاتو د مچيو په ځای لوخړو د نارنجو د باغونو فضا نيولې وه، دنرګس ښايسته سترګې د چاودنو له خاورو ډکې وې. سږکال د نارنج ګل مشاعره ونشوه. شاعر ننګيال وليکل:
دا دپسرلي د شينکي باد وزرونه چا ترلي؟
چې زموږ د کلي د بامو دسر سپينکی کوترې
د زهرجن غبارد زهرو د باران له لاسه
له وېرې د ښکاري ګوتو کې ځاله کړی
او د چړو ځوکو کې
سپيني داني لټوي.
شاعر هغو ته ډېر عذرونه او زاری وکړې چې په ماشو يې ګوتې ايښي، ډېر يې ورته وويل؛ درته سلام کوم ماشې ته ګوته مه وروړه، خو د شاعر غږ هيچا نه اورېد. د افغانستان د وير سمندر ساحل نه درلود، ژوند په سلګو و، اسمان مرور و، د زمکې مخ سوری سوری و اود نورو پسرليو په شان د مرغانو غږ او دشاروګانو چغار نه اورېدل کېد. پسرلی تېر شو، غنم پاخه شول، خو کليوالي نجونې اوپيغلې لکه دبل هر پسرلي په شان کروندو ته دسبو راټولو لپاره او بزګران د پټيو للون ته نه ولاړل. د پسرلي په تېرېدو او د تود اوړي په رارسېدو بوټي وزمولل شول. ټول پسرلی شپه- ورځ راکټونه ويشتل کېدل. د دې وطن ښکلي زلمي په تورو ګوليو د زړه په سرونو ولګېدل او رنګارنګ آرمانو سره خاورو لاندې شول.
ډېرې ورځې کيږې اوربنتونه نشته، آسمان کې يو پوټکی وريځ هم نه ښکاري. د غنم لووخت تېر شوی، خو سږکال نه د جلال آباد

شاوخوا او نه هم ولسواليو کې لو او درمندونه ونه شول، غنم وچ شول او دجوزا بادونو توی کړل. خلکو کورونو کې ډېرې سختې د لوږې او تندې شپې- ورځې تېرې کړې. د ورځې به ځمکتلې او بلنداژونو کې پټ وو او شپه به يې شهيدان خښول او ټپيان به يې روغتون ته رسول، خو دا درې ورځې کيږي چې ښار ارام او د دمې کولو سا اخلي. خلک راوتلي که کومه هتۍ پرانيستې وي چې خپلې اړتياوې پوره کړي. ځوک غورځېدلي کړکۍ بېرته دروي، ځوک ماتې ښيښې ټولوي، ځينې له ځلورو مياشتو رادېخوا خپل ناړام شوي سپيان، پيشوګان، چرګان او مرغاوۍ لټوي اوکه ژوندي وي چې خپلو ځايوته يې راولي. دا درې ورځې کيږي چې له جوماتونو ځخه بيا د آذان غږ راځي اومومنان لکه دځلورو مياشتو مخکې په شان د خدای(ج) عبادت ته بولي، ښار کې برېښنا لکه د پخوا په شان ځغلېدلې ده. يو نيم کورکې له نغريو ځخه د تودې ډوډۍ بوی پورته کيږي، د ونو په ښاخونو کې يوه يوه ښارو او چنچنه بيا پيدا شوی. دا درې ورځې کيږي چې ريکشاوې وتلي او سړکونو کې يوه نيمه ريړۍ ښکاري چې يودبل هرکلی کوي. خلک د پاک رب(ج) شکر په ځای کوي چې لاهم ځينو کورونو کې بنيادمان شته اوژوندي پاتې دي. ژوند ښکلی دی، خو که ځوک مورته پريږدي. دښاروګانو غږ ښکلی دی، خو چې د ټوپکو شپيلۍ ماتې او په کچرو راوړل شوي ميزايل بېرته د ميزايلو وستاکارانو ته وسپارل شي.

درې ورځې کيږي چې د ښار په شاوخوا امنيتی کمربند ټينګ شو. دفاعی او امنيتي ځواکونه بېرته لومړۍ کرښه کې ځای په ځای شوي دي. د ختيزې جبهې اپراسيون ته ټکي په ټکي راپوروونه رارسيږي:

-دسراچې پله کې د ميزايلو درې دستګاوې د(توپان) پوستي شنډې کړې...

-له مهماتو ډکې اتلس عرادې واسطې په ۴۲۲۰۰ط۰۷۷۰۰ کواردنات کې وليدل شوې د تخليه کېدو په ترخ کې تخريب شوې...

یو اتیایم غنډ راپور ورکوي:
-... دمخالفینو جګړه مارو یو کتار په ۵-۹۲۳۴ کې له ثقیله وسلو سره له منځه یووړل شو.
-راغلي وسله وال د ګمبیریو ډاګ کې په تېښته لیدل کیږي.... د کشمونډ د غرو لمن کې یې دیپوته اور اچول شوی.
-دهډې موزیم پوسته ببرته ونیول شوه، جزوتام ځای په ځای شو.
اتمه لوا راپور ورکوي:
-۳۶۰۵-۱۰ او ۲۸۰۸-۱۰ کواردنات ونیول شو، مقابل لوري ته تلفات واړول شول، دوه تنه بهرني مشاورین یې ونیول شول...
-دمقابل لوري افراد د شیخ مصری په سیمه کې د شاتګ په حال کې دي او ډی. سی. توپونه ورخخه پاتې دي. ۹:۳۰
-توپچي مارکو- هزارناو او باخول برید لاندې نیولی دی...
دا درې ورځې کیږي چې د ریګ شامردخان دسیمې کورونو کې خلک د جمع لمانځه ته جومات ته راوځي او له نړېدلو تاخچو ځیل جاینمازونه مومي، پرزمکه لویدلي قران شریفونه مچوي، خاروی ورخخه ښندي او ببرته یې تاخچو کې ږدي. یو ځوان خاورې جارو کوي او غالۍ ښندي. یو ځل بیا په کوڅو کې خلکو ته د ګاونډیو نومونه وریادیږي...
د سهار په لسو بجو د قول اردو د ټانک کنډک په ګوزاریز یرغل سره وړاندې ته. د سرشاهی دوسرکه کې یې درې سنګرونه ړنګ کړي وو او د میاعلی بابا زیارت په خوا کې دمه دی. پوستې او قوماندان د کاتی- واتی او پلما له کار کولو خوښ نه دي، دا مخابرې فریکانس ګډوي او محرم شفر نشي استولای، زاس پیاوړې دستګاه ده، محفوظ او ډاډمن فریکانس لري. قرارګاه دوی ته قناعت ورکوي چې موږ نشو کولای زاس دستګاه وړوپوستو ته هم ورکړو. له ستونزو سره سره قوماندان کاتي- واتي کې له قرارګا سره اړیکي ساتلي او راپور ورکوي:

- له دريو ورځو راديخوا د سولې د دښمنانو له خوا يواځې چپليار كې كلک مقاومت روان دى او د چپليار په قوتونو هره شېبه د بياځلي او نوي يرغل برياليي كېدل پېښېداى شي.
د دې راپور په رارسېدو سره په لسو بجو او شلو دقيقو د قومندې محل څخه د چپرهار د قواووقوماندان ته د تعرض دستورداسې وركول كيږي:
- كاوون- ګُربت... كاوون- ګُربت !

ګُربت- كاوون اورم.
- له اراضي څخه په استفادې دې پرسونل ته نجات وركړل شي.

اورم اورم...
دچپليارقوتونه به مخامخ په ګوليو ورشي، خو پروت به ونه كړي.
بلې بلى ! كاوون- ګُربت ززززز
د پلما دستګاه په توده او تيجنه هوا كې لړلړ شېبه وروسته غږ ورک كړي، لږ څنډ پېښ شي ، دا دى بېرته ارتباط كې شول:
- دچپليار قوتونه په شا نه راځي...
- ارشاد اختر د كابل او جلال اباد له نقشو سره ونيول شو...

هدايت غوښتل كيږى ٢٠:١١
ديوولسمې فرقې جګړن آقامحمد راپور وركوي:
-مقدم قوتونه هوايى او ثقيله مرسته غواړي ٠٧۴٢٠٢، ١١:٢۵

***

له غرمې مخكې يوولس نيمې بجې دي. دوه جوړې سوخوى جت الوتكې په مزبوته غږ د ښار په سر په ډېره ټيټه ارتفاع تيريږي، د كوروونو په كړكيو كې د ماتو ښيښنو توټې شرنګيږي. د كوروونو چرګان لا هم وېرېدلي او دتېرو خلورو مياشتو دراكتو له املـه ګنكس او ترهه كې دي، د جت د مزبوته غږ په اورېدو لومړى سرونه ټيټوي او بيا د ونو او ديوالونو خواته ځغلي، كله هم ګنكس ځرخک وخوري،

خو چې الوتکې تېرې شوی د چرګانو کړکتاس! کړ کړکړکتاس !غړونود کور انګړ ونيو. د ديوال په سر ناستې کوترې چې الوتې وې، بېرته د بامبوټی په سر کيناستې. جيت الوتکې د سترګو په رپ کې د کامې له سره پنا شوې او ډېر کوز د کونړونو په سر پورې د دوو کوچنيو ټکيو په څېرد اسمان په شنه پراخه لمن کې د پراخه فضا تېتر څيروې او ارتفاع نيسې. په لس کم دولسو بجو پلېو قوتونو ته د کامې په لورې د تګ قومانده ورکړل شوه.
دوه (سوخو۷) په ټيټه ارتفاع د څلورم فارم او غازی اباد په سر تر کمکې خيبرځې، وروسته د شمشاد په څوکه ارتفاع نيسې. د قوماندې په قرارګا کې ډګروال س.ا. پيلوټ د هوايې پوځ استازی چې څلورمياشتې مخکې راغلی، دغو ورځو کې د جت کنډک سره په خبرو دی. سوخو۷ جت دسترګو په رپ کې د زمکنيو قوتونو له سره تيريږې، ورپسې يې مزبوته غږ چې له دوی څخه ډېر وروسته پاتې شوی، په هوا کې شورماشور کوې، له سترګو پنا شي او لږ وروسته د باڅول سرپورې نيغې دهسک په لورې پورته ځي. پيلوټ (م) او پيلوټ محمد امين سعادت د قوماندې محل سره خبرې کوې:
-يو کتار چې دربيم هدف و تخريب شو...
پيلوټان له دې وروسته دشمشاد له څوکې هاخوا اوړې، په ډېره ټيټه ارتفاع د ادمخېلو او باړې له سره تېر او بېرته په اوچته ارتفاع د سيکارام له څوکې رااوړې.
قرارګاه کې ډګروال س. ا. مخابره ورته کوې:
-غلط، غلط ! اسلام اباد کی زموږ سياسی نماينده ګي ته ستاسې په دې حرکت بيا بيا احتجاجيه ليک ليږې.
د هوايې مدافع استازی ډګروال س.ا. څنګ ته ناست معلم ع. له خندا تور اوشين دی:

- پرېږده، اوس به يې بيا تورلينګي رېږدي لکه د سردار دخشم د ورځې په شان به عسکري دريشي ارتوي او په شخصي جامو کې به ټبنتي...

دواړه خاندي.

م.ع. په جدي لهجه وايي:

زه د امنيت د اداري استازی يم، مسئوليت لرم. ډيپلوټانودا حرکت له اوامرو سرغړونه ده. له سرغړوني پرته، دا مانوره تېروتنه ده که دهغوی دښکاري F-4 منګولو ته ورغلي زموږ. شمله به په زمکه وولي.له دې هم خبرياستو چې دې وختو کې له فرانسوي ميراژ ډوله الوتکو پرته امريکي ورته دوه کنډکه F-16 هم ورکړي دي.

قرارګا کې دهوايی پوځ استازی ډګروال س.ا. د م.ع. خبره تاييدوي:

هو سرغړونه ده، خو دا ځوان پيلوټان دومره هم خام نه دي، تاسو ليدل چې هواکې يې الوتکې ته څو ملاقونه ورکړل. ښېغمه اوسئ د شمشاد په هسکه څوکه يوناځاپه اوړي، له هغې نقطې مخکې د هغوی رادار د دوی مسيرنشی ليدلای چې واوړي سمدستي ارتفاع ډېره ټيټوي، يو خودا چې ښه يې ويروي او بل داچې له رادار ځان غيب کړي، خو يوناځاپه د سيکارام په استقامت ارتفاع نيسي، دا وخت که دهغوی رادار کې ښکاره شي، دسترګو په رپ کې رااوړي.

- نه، تېروتنه ده . وېرول يې مهم نه دي، مهمه داده چې په موږ دهوايي حريم د نقض تور لګول کيږي.

س.ا. د آسمان ځنډو ته ګوري او ځواب ورکوي:

-پرېږده چې دا تورلينګي پوه شي چې د کابل نيول داسې آسانه نه دي. دا دجګوغرووطن ځاله دبازانوده . دلته پټ پکې زمريان اوسي.

وروسته له درې مياشتو مُفرزي ځای پرځای اواستحکامات پياوړي شوی وو. خلک ډاډمن شوي و او کوځو ته وتل. د دوی ځيرو کې د ډاډ نښې ښکارېدې. د قرارګا مقر کې د هوايی پوځ استازی هم ډاډمن و.

دهوايی مدافع استازی لاهم د ځوانو پيلوټانو په دي تحريکوونکو حرکاتو او له ډيورند پورې غاړه د مانور په اجرا کولو انديښمن و.
دا وخت بيا هم م.ع. ورته وويل:
-دا مانورې به د دوی مورال ورضعيف کړي، سره له دې چې مرکز له دې حرکت سره موافق نه دی، ممکن دغو پيلوټانو ته سزا ورکړي.
- هو په دې سره هلته زموږ سياسی نماينده ګی احضاروي.
م.ع. د امنيت د اداري رئيس ته په انديښني سره وايی:
- زموږ کشفي اطلاعات څرګندوي چې د مخالفينو ستنګر لرونکي افراد وړاندې نه دي راغلي هغوی کرښي ته نږدې دي. ټول شپږ ستنګر توغندي د جلال اباد جګړې ته ورکول شوي دي او د(سيا) تر څارنې لاندې دي. د ستينګرو د توغولو تعليم قوماندان غ. ته ورکول شوی، هغه د بريګيدير يوسف تر سيده څار لاندی دی. کشفي افرادو د دغو توغنديو دوه عکسونه هم رااستولي دي. زه به يې درته ښکاره کړم. ستينګر ډېر درانه نه دي، خو چې الوتکه پسې وويشتل شي، ترڅو انجن ته ځان ونه رسوي بله خوا نه ځي، دا ډېر نوي رهبري شوي توغندي دي.
د هوايي پوځ استازی ډګروال ا.س. غوږ نيولی او لويه انديښنه وررولوېده. ده ته ورياد شول چې په جلال اباد تر يرغل وړاندې د دوو مېاشتو په بهير کې د افغانستان درې الوتکې په ستينګر ويشتل شوي وې.
د کان اوکترغی سيمه کی لاهم مخالفين موجود دي، نن بيا په ښار څو توغندي وويشتل شول. الوتکو ته قومنده ورکړل شوه چې سيمه اور لاندې ونيسي. الوتکو دوه ځله په سيمه دوره وکړه، خو کوم بم يې ونه غورځاو. غوښتل يې قرارګاه ته ووايی چې دلته موږ ته څه نه ښکاري. ښايي راکټونه به د غلام خان ډاګ څخه ويشتل کيږي؟
خو بيا هم دوره خوري او کان او کترغی او شاخوا سيمه

ځاري.هوابازان لا درېيم پرواز کې دي، دېيکي حالت ته نه دي داخل شوي چې دستنګر توغندی ورپسې وتوغول شو. څلورم پرواز کې چې پيلوټ (م) د غلام خان ډاګ له سره ېېرته را ستنيږي رپوټ ورکوي:

- الوتکه لګېدلې ده. زه د ۰۰۰۷۴۷۱ راقم په سرراتېريږم... سقوط... ستاسو هدايت غواړم.

قرارګاه کې د ټوکو او خندا فضا د اندېښني او خپګان په فضا بدليږي.
د پيلوټ د (سقوط) ټکي د بري احساس له منځه يووړ.
په بيړه ځوابيه شفر مخابره کيږي:

- ...کتاف اوت !

پيلوت (م) ځواب ورکوي :
الوتکه درې بمونه لري، استقامت مې د ښار په لوري دی، ممکن نيمايي ښار تخريب کړم.

- کتاف اوت !

نشم کولای. الوتکه بمونه لري.
له دې سره سم پيلوټ د الوتکې استقامت د اسلام درې په لوري اړوي.
يوه هسکه غونډۍ د پيلوټ سترګوته ښکاري، هغه هدف ټاکي او خپله کتاف اوت اجرا کوي.
له هغه وخته چې ستينګر توغندي راغلي دي، دا د افغانستان د هوايي پوځ څلورمه الوتکه وه چې په ستينګر وويشتل شوه. وروسته تر اته څلوېښت ثانيو الوتکه په هدف لګيږي، دهغې غونډۍ په سر توري لوخړې پورته کيږي. تورې لوخړې وار په وار پورته ځي او د اسمان ډيره برخه نيسي. ارتباط قطع شو. د ډګروال س.ا. انتظار تر دولسو دقيقو اوږد شو. په ديارلسمه دقيقه له هوايي ډګر څخه د يوزر او دوه سوه مترو په فاصله کې پيلوټ (م) د مخالفينو د انداختونو منځ کې خپل پراشوټ د ميدان د پلستر په لوري رهنمايي کوي. دوه ويشت

دقیقي وروسته پراشوت د رنوي څخه په لږ فاصله کې په پلستر ولوېد.
د هوایی مدافع مرکز له بګرام څخه دافع هوا ته شفرلیږي:
- خیبر- شاهین، خیبر شاهین .

اورم اورم.
شاهین خیبر.
- خیبر شاهین اوری؟

اورم.
- ثابت. یو جیت زموږ د رادار له صفحې غیبه شوه، راپور راکړئ!

## (۳۸)

پېښور کې د جون میاشت ډېره توده وي، خو اګست کې د پشه کال بارانونه پیل کیږي. دفتر کې هوا دپه ده. له ایرکندیشن څخه ځاځکي ځاځکي اوبه ځاځي. دفتر کې د اېرکندېشن سپک غورهار اورېدل کیږي، خو د دفتر هوا نشي سړولای. پکی هم اغیز نه لري، له دفتر بهر بوټي مړاوي دي. دوه تور کارغان مخامخ د ونې په ښاخ ناست دي، د ګرمي له زوره یې مښوکې خلاصې او وزرونه یې ځوړند نیولي دي. د انګړ یوې خنډې ته د اوبو له بمبې څخه لږلږ اوبه راځاځي، یوه چنچنه له ونې راکوزه شوه په اوبو یې مښوکه لمده کړه، هغې هم ځان نری کړی او وزورونه یې ځوړند نیولي دي.
صادق له برنډې څځه پاڅېد په لمن باندې خپل مخ پکی کوي چې خولې یې وچې شي، بېرته په دفتر ننوت. بیګ په ځرخي څوکۍ ناست دی، چوکۍ په نیمه دایره وځرخوي او اخبارونه ګوري. په څلورو بېلابېلو اخبارونو کې خبر راغلی چې اسلام اباد کې د افغانستان سیاسی نماینده ګی ته په کلکو الفاظو احتجاجیه لیکونه سپارل شوي دي. په لیکونو کې داسلام اباد حاکمان شکایت کوي چې

افغانی جت الوتکو درې ځله زموږ په خاوره تيری کړی دی.ور لاندې ليکل شوي: په داسې حال کې چې اسلام اباد د ژنيو ژمنو ته وفادار دی خو کابل ...
بيګ شونډې خوځوي: لعنت دې دربانډې وي ! دا وخت د ګريوان يوه بله تڼۍ هم خلاصوي. په خولو لوند کميس لړ له تټر څخه لرې کوي، په اخبار مخ ته پکی وهي صادق ته وايي:
• درې مياشتې مخکې کابل اسلام اباد ته پرله پسې احتجاجيه ليکونه استول چې د ژنيو له له تړون سرغړاوی کوي او خپلې درې فرقې يې ملکی جامو کې په جلال اباد ورسوق کړي دي. هغه وخت د افغانستان دبهرنيو چارو وزارت د درېيم ديسک مُدير پرته د احتجاجيه ليکونو له ليږلو بل کار نه درلود. دا دی اوس چې دجلال آباد د ٧٢ساعتونوفتح ناکامه شوه، وضعيت سرچپه شو، اوس له دې خوا احتجاجيه ليکونه چالان شول، په منځ کې مخلوق تبا شو.
صادق چې ګرمي بی حوصلې کړی و، ورته وويل:
• سفارتونه د ليکونو تبادله کوي، سفيران دې منډې ترړې کوي، مقصد چې جنګ لړ کرارشي.
• کومه ده؟ له هغې ورځې چې شورويان ووتل او د ژنيو تړون لاسليک شو، جنګ نورهم زور واخيست. دومره وينې چې اوس توی شوې او څومره جنازې چې اوس کمپونو ته راځي، پخوا نه راتلې. هاخوا بسته بسته فرقې تبا، وسلې کباړ او عسکريې په رانه ميدان حلال شول. بډه بير کې مې په خپلوسترګو وليدل چې دوه بوجۍ د افغانستان دعسکرو او صاحب منصبو له کارتونو اوتذکرو څخه ډکې وې چې خاوندان يې حلال شوي وو. دا د ژنيو- منيو او دا دسفيرانو منډو- ترړو نور هم جنګ ته زور ورکړ، سفير چې دلته کونه خوځوي، هلته يوه نوې جبهه پرانيستل کيږي. کمپونو کې مهاجر دلړمانو، غونډلانو او ملاريا له لاسه د مرګ بريد ته رسېدلي دي، مرستې مالومې ندي.

صادق ته زغم نه و پاتې، ځان سره بونيږي؛ سفير، سفير او سفير!
کاشکې مو د سفير لوست يوه پاڼه هم نه وای لوستی. دا لسم کال دی
چې سفيرو سفير او سفير.
بيګ ورته وخندل:
- ياديږي مې، پروفيسور يې هم ليونی کړی و، لاړ پوهنتون يې
پرېښود.
صادق سر وخوځاو:
هو، هغه وخت موږ دربيم ټولګي کې وو. همدا د embassy-ambssador له لکچر وروسته پروفيسور لادرک شو.
دواړو وخندل، خو بيګ دستي جدي شو:
- خبره د اوکلي، پ. ټامسن، تاچر، احمد جانوويچ تابيُف او نورو اوف اوفانو ترمنځ ده، هسې وطن زموږپکې بربادشو. دا د کابل او اسلام اباد لوګه- پوګه ټول د اوکلي، ټامسن، تاچر او اوف اوفانو نانځکې دي. لاړ لوی وطن غرک شو، يو لوی ملت زخمي زخمي شو. ډېرې پټې خبرې رواني دي، د تاريخ هيڅ ورځ بی له يوه پټ رازڅخه نشته. موږ ځان نه خبروو!
صادق بېرته غوسه سره کړه، لږ په زغم يې وويل:
دا اخبارونه چې وايي چې افغانستان زموږ په خاوره تيری کړی اوموږ يې ګوابنلي ياستو، دا خو هم د افغانستان خاوره ده، دوی خو له اټک هاخوا دي.
- د دې جعلی کرښې اعتبار دې تر۱۹۹۳م. پورې دی اوس پنځه کاله ورته پاتې دي، که هغه وخت دې کوم مشر درلود، خوله او ماغزه يې لرل نو خاوره به دې خپله شي. ترهغه وخته غږ مه لره. زه چې بل اړخ ته فکر کوم؛ هيڅ بهرنی مه ملامتوه. زموږ له خپله لاسه. که ملت دې هوښيار او ويښ وي، هيڅ سفير څه نشي کولای. روڼ او د لوړ شعور لرونکی ملت تر هرچا قوی وي، خو افسوس... افسوس چې موږ ځان نه پوهوو.

صادق بیا په سوچونوکې شو. ګرمي د دواړو هېره شوه. سیاسی بحث د جون ترګرمي ډېر تود و.

# (۳۹)

کلونه تېر شول۱۹۹۳م. کال هم راغی. دتنظیمونو آرمان پوره او واک ورسپارل شوی و، کابل یې نیولی و او آن کنډواله کړی یې و. کرنیل ح.ګ. کابل ته راغلی و، په ارګ کې ګرځیدلی و. مبارکیانې ویل شوې وې، خو لوټ او سوځول لا پای ته نه دي رسېدلي.
حاجی صاحب دې الله پاک وبخښي وفات شوی و، هماَلته پېښور کې د جهانګیراباد هدېره کې له هغه جومات څخه لږ لرې خښ شو چې ده جوړ کړی و او (د اربابانو جومات) نوم یې وربانديې ایښی و. د آلاازرت راتګ چې د حاجی صاحب ارمان و، پوره نه شو. اوس څوک نشته چې دجومات امامت وکړي. کله یو کله بل پېشنماز شي.
بنایي چې د کابل له حاله خبریږي، له زړه یې یو خدای خبر دی. له کابل څخه د مهاجرو نوی بهیر اوس پیل شوی دی. هره ورځ ډلې ډلې خلک یا د جلال آباد د مهاجروکمپونوته ځي یا پېښور ته راأوړي.
له پېښور څخه د(یو.ان. اچ. سی. ار.)، سره صلیب او کمشنری زیاتره دفترونه جلال آباد ته تللي دي. په ۱۹۹۳م. کې هم لا ډیورند کرښه هماغسې(فرضي) ده. د پنجاب په ډېرو سړکونو او څلورلارو د ډیورند نوم ځوړند دی. پنجاب امر وکړ چې ورروسته له دې به په تورخم ګمرک ولګول شي او بې پاسپورته به تګ- راتګ نه کیږي.

د انګلو- پاک پوليس لکه د پخوا په شان د مهاجرو جيبونو ته ګوري او کم له کمه يو(پچاسي) ترې غواړي، کنه ورځ به يې بده وي.
دوه کوره نوي مهاجر جهانګير آباد ته هم راغلل. بنايي ټوله ورځ ورسره کيسې کوي. هغوی د کابل د لوټ اووړانېدو نکلونه کوي او بنايي ورته د مهاجرت نکلونه کوي. په هره خبره کې د حاجی صاحب نوم يادوي او نويو راغليو مهاجرو ته (دارباباتو جومات) په ګوته ورښيي او ورته وايی چې دا جومات مرحوم حاجی صاحب جوړ کړ.
حاجی صاحب د اوړي په سره ګرمي کې تبه وکړه وفات شو. بنايی به ويل د وطن غم يې زړه سوری کړی و، وطن پسې يې زړه وچاود. د حاجی صاحب يو آرمان هم پوره نشو؛ نه (آلاازرت) راغی او نه ده خپل د کابل کور بيا وليد. حاجی صاحب د ژوند په اخرو شپو کې صادق ته وويل چې لوی آرمان يې د زوی د آباد کور اوواده ليدل و، خو دا ارمان يې هم پوره نشو. له ارمانو په ډک زړه يې ټولو سره خدای پاماني وکړه. صادق هم له کابل څخه د نويو راغليو مهاجرو کيسې اوري. اوس خورکی د (پبليک سکول) اتم جماعت ته رسېدلې، مورکۍ زهيره او ټوله ورځ توخيږي، دکلي او بيا د کابل د کور ارمان کوي، خو هغه مهاجر چې له کابل بيا د دوی له کوڅې څخه راغلي دي، کيسه کوي چې يو کور او لا يوه خښته هم روغه نه ده پاتې. بربېښنا او اوبه نشته، فابريکې لوټ شوي او د خلکو له کورونو څخه د کار اسبابونه څه چې له ديوالو څخه ميخونه ايستل شوي دي. دبينن سيوان پنځه فقره ی پلان په اوبو لاهو شو او ملی روغې جوړې سروخوړ، پاچا راستون نشو او اسلامی نظام مهاجر ببرته هېواد ته ستانه نه کړل... صادق هره شپه خبرونه اوري او له کابل څخه نويو راغليو مهاجرو څخه د کابل د لوټ او تالان کېدو کيسې اوري.
نن يې تر اوږده تود سياسی بحث وروسته بيګ سره خدای پاماني وکړه. کورته چې راورسېد خواشينی اويواځې کيناست، ترماښام

پورې يې خبرونو ته غوږ نيولی و. د ماښام لمونځ ارباب خليل ورکړ، د حاجي صاحب ځای تش دی. جومات کې ناست کسان ټول خپه دي، د بنايی ملا نوره هم کړوپه شوې، سترګې يې غوچې لويدلي او لاسونه يې رېږدي، د هيچا باور نشته چې جګړې دې پای ولري. کله چې صادق د ماښام له لمانځه راستون شو، ډېر ستومانه و. مورکۍ ورته غږ وکړ چې هغې بلې کوټې ته د ماځُستن ډوډۍ ته ورشي، خو صادق وايي ډوډي يې زړه ته نه کيږي. د بيګ سياسي بحث، خبرونو او جومات کې د خلکو خواشيني ګنکس کړی دی. د کابل د جګړو وېره يې په زړه ننوتې، نه ويښ دی نه ويده. پاځېد ګوته يې د ګروپ په بټن کېښوده ، کوټه تياره شوه، ستوني ستاغ پريوت، په تياره کې يې سترګې چت پورې کنډلي. له بهر څخه پيکه غونډې رڼا کوټې ته رالوېدلې ده. وار په وار چوپتيا خپرېده، د کړکۍ له خوا د لمدې خاورې بوی راته، د کړکۍ مخامخ د لويې ونې د ښاخونو له منځه داسې غږونه راتلل چې ته به وايې کوم ايرکنديشن پکې چالان دی، د کوټې په ديوال باندې له بهر څخه رالوېدلې بنګړې ديوال د ډان او مشرق د اخبارونو د مخونو په شان له ويروونکو خبرونو ډک کړی و. د اخبار يو انځور کې يوه ببرسرۍ ږيره ور سرې د يوه زلمکي لاسونه تړلي دي او په سر يې درې انچه مېخونه ټک وهي، يوبل چې مونډۍ ږيره لري يوتن د څټ له خوا حلالوي، څو تنه نور د بهرنيو چارو د وزارت له دفترونو غالۍ د کباړ په نيت غلا کوي، قوماندان شيشه خور د خپلې ډلې کسانو ته د موزيم مالونه ويشي، قوماندان ط. ليونی دسرک ترغاړې خپل پاټک کې ولاړ دی او لاس لاندې سپېره پکول والا يې له ګڼو ږيرو سره موټروته ورپورته کيږي، له هر موټر څخه خپله برخه خټکی راکوزوي، دخلکو له لاسو ګړی را پرانيزي او ورته وايی چې د ګړی تړل کوپراو بدعت دی. قوماندان شفيع ديوانه پلې لارې ګوري او موټرو ته ورخيژي، چې کوم ځوان ووينې چې لږ يې نظافت سم او تعليمافته غونډې ورته ښکاره شي،

په سپکاوي يې له ګريوانه کش کړي، خپلو وسله والوته اشاره وکړی:

- ببريش!

د شفيع ديوانه وسله وال افراد په دې ځوانانو ترهغه موضعګانې جوړوي، ترڅو يې چې له لوړې، تندې او ستوماني سا وخيژي او بيا يې مړی چيرته ځمکتلې ته وغورځوي.... د ښار له کورونو لوخړې خيژي، د اخبار پاڼه لويه شي، لويه شي دومره لويه لکه دسينما پرده. پرده باندې د ړنګو کورونو انځورونه ښکاري. جاده ټوله نړېدلې ده. دمحمودخان پله ځلی نيم روغ ندی پاتې، د ميوند د ځلې نښه هم نه ده پاتې. د کوټې په هر ديوال باندې د محاذ، الجهاد، ډان، شهادت، مشرق... د اخبارونو پاڼې ښکاري. په هر انځور کې د آسمايی د غره له سره په ټول ښار ګولۍ ورېږي. دعيدګاه د جومات ديوالونه سوري سوري دي. د کرښو منځ منځ کې الفيصل، تابيُف،تاچر، هواردهارت، پوزانوف، ټامسن، کرنيل امام اميرترار، بريژنسکي، جانوويچ، قاضی او نورځغلي راځغلي. ټول يوبل سره خاندي، خو يونيکال او بريډاس په زغم او ډيرې هيله مندۍ ناست دي خپل وار ته ګوري. د کالمونو منځ کې لارې دي، کاپشنونه په سرو وينو ککړ ښکاري، د جنوب له لوري د اخبار د سرليک ترځنګ په غاليو فرش شوې لاره د هوښيار حکيم دقيانوس دربار ته رسيدلې ده. دقيانوس عجيبه اوده لري چې يو چا باندې يې چوف کړه، ماغزه يې لکه د غنې د جال په شان تار تار او دوره دوره واوبدل شي او په منځ کې يې يو د غټو سترګو غونډل کمين نيولی وي هرڅه ته د دښمن په سترګه ګوري. زړه سوی نه پيژني. دوهمه لار په ژېړ بخُنو غاليو فرش ده، د جالينوس دربار ته ځي. جالينوس خلکو ته نوی دين راوړی، لګيا دی تبليغ کوي. د دقيانوس مخې ته د جادو او رمل چکن شوې پاڼې دي د راند کارپوريشن اويونيکال طالع پکې ګوري. د تاچر د ژوند لړ ورځې پاتې دي. تاچر ورته خاندي او په خپل سر باندې ايښی تاج

سموي، کوه نور ځليږي او تاچر چې تازه يي په شونډو سور لبسرين او په مخ يې سُرخی او سپيده وهلې پاڅيږي قاضي ته وايي: ستا ټول دار- مدار تر همدې وخت پورې و، نور نو ستا ورځې هم تيرې دي. قاضي په ډېر خپګان خپله قره قُل خولی سموي. بيا تابيُيف ته مخ اړوي:

- ګرانه ! ته لامخکې ختم يې، نورڅه شي ته ناست يې؟

دا وخت نور سفيران تابيُف خوار پورې خاندي. تابيُيف پاڅيږي. د دکيانوس له پرتمين دربار څخه وځي. نور سفيران شکيلی پسې وهي، خاندي او چکچکې پسې کوي. دکيانوس د خپل رمل او جادو پاڼې ټولوي. دا وخت د جالينوس وار رارسيږي. يونيکال او برايډاس ته وايي:

-يا يوبل سره جوړ او يُخلا شئ، ياسيالي څخه پښه وکاږئ، دا بيچاره مخلوق هسې مه تباه کوئ.

يونيکال جالينوس پورې خاندي:

- زه هغه چمبازه، چټاقه شليته يم چې ترڅو ميدان ونه ګټم نړۍ ته اوراچوم، ته خو يوقوم ښيې! زما تر شا داسې پياوړی سفير ولاړ دی چې ساری يې نشته، هغه به ما (چ.برنارد) ته وګټي.تاسې لکه چې د چ.برنارد نوم نه دی اورېدلی؟

ورپسې د Vanga Baba وار دی. هغه هيڅ ښايسته نده. ډېر عمر يې خوړلی ده، مخ يې ګونځې او سترګې يې څه نه ويني، خو خبرې يې راند، يونيکال او برايډاس ته ريښتيا ښکاري. غوږ ورته نيسي:

... دې ورځو کې به د فزيک نوي څېړني نوي پړاو ته ننوځي. ستيفن هاوکينګ به د ګالاکسی تياره اړخونه روښانه کړي، هغه به له دې کهکشانه واوړي، د زمکې د منځوي حرکت به سرچپه شي، د نړۍ د پيچلو مسايلو حل به مصنوعی ذکاوت ته وسپارل شي، د black hole ټول راز به راڅرګندشي، ډېرش- څلوېښت کاله وروسته به ځنګلونو کې اور لګېدل وي او سمندرونو کې به د پلاستيکو ټاپوګان

کبان ووژني، د سویل لوی سمندر کې به د کنګل غرونه لامبو وهي...
بابا وانکا خاندي، خو یونیکال، راند، قاضی او نور ټول ویریدلي دي.
هغه خبرو ته دوام ورکوي:
... ګورئ به چې یوه لویه آسمانی ډبره به د زمکې له اړخه تېره شي.
مریخ ته لیږل کېدونکې بیړی به لومړی ځل ناکام سفر ولري، مریخ ته به لا رسېدلې نه وي چې سرپه ځیړی به شي... یوځل به لمر ونیول شي، نیمه زمکه به تورتم شي، دري ځله به دنړی بیلابیلو ځایو کې خسوف ترسترګوشي... نړی به دوه بغری شي؛ شتمن شمال او بیوزله جنوب ! جنوب به ځانته نوې کرنسي دوران ته کړي! دکنعان دزیتونو ښکلو ناوو کې به نوي ځایونه نوي نومونه لري، انګلو-صهیون به جوړ شوی وي له اورشلیم څخه به مخ په شام ورمات شي، د ابراهیمی دینونو د وروستي دین د اُمت ستّه به وباسي، یوه اونۍ کې به ګولان، غزې او فلسطین کې زرګونه ماشومان قتل کړي، لکه مار چې خپله لکی خپله خوري...
دې پسې وروسته به!...
وانکا ټولو ته اندېښنه اچولې، شین کوپرغړوي او پرله پسې د ډېرو بدو پېښو انځورونه کاږي. د جالینوس دربار کې ناست خلک وانګا ته حیران دي. هغه ټولو ته په ګواښ سره وايي:
خلک هسې وايي چې دوه نړیوال جنګونه!! هغه جنګونه نړیوال نه و، یوځو هېوادونه په جنګ اخته وو، نورو خپل ژوند کاو، نړیوال جنګ به اوس پیل شي چې (انسان) له(زمکې) سره جګړه پیل کړي.
په دې جګړه کې ټول هیوادونه(متفقین) دي او دوی ټول بایلونکي دي. ګڼ صنعت، د وسلو سیالي، بې خرته پلاستیک او کیمیاوي توکي، شین کوریزګازونه او نور بی سنجشه او حریصانه لیونتوب به اقلیم بدل کړي، دزمکې پرمخ به یواځې یو څو ډوله اغزي او یوځو خزندې پاتې شي... سفیران، دلیونیو ستراتیژیو طراحان او

کمپنۍ به بشراو نور فقاريه ژوي دزمکې له مخ څخه پوپنا کړي،
accumulation Capital به دبشريت او ټول ژوند دښمن شي!
دا وخت سفيران ويرې نيولي. بابا وانکا ترخه او ډاډمنه خندا کوي:
تاسې به وګورئ چې يوبل عالم به ثبوت کړي چې هرڅه له
order implicate څخه order explicate ته اووښتلي دي او
دا موجود نظم يې جوړ کړى دى...
سفير ذال ته سودا پيدا شي چې ولا دا د نړۍ نوې نظم به هم بدل او
نړۍ به بېرته دوه قطبي شي... ولا دا د وانکا خبرې خو پساتي خبرې
دي او صفر زمان هيڅ نشته ؟! ټول يا ماضي ده يا راتلونکې، خو
صفر حجم لرونکي ميدان کې بينهايت ماده موجوده ده او په انرژي
بدليدونکې ده. يورانيم، پلاتينيم، مايع ګاز...ځوان برنارد خامخا ګټه
کوي!
باباوانکا ته د اميرترار ږيره له غوسې ريږدي. اوږدې داړې يې
ښکاري. ځان سره وايي: ولا لکه چې دا دومره روزل شوى پيران
او خليپه ګان مې نور له موډه ولوېدل. دا وخت خپله زېره توره
باباوانکا پسې راواخلي:

- ورک شه خنزيره !

ذال، تاجر او نور ټول ناست کسان اميرترار ته حيران دي. صادق
يې له غوسه ناکو سترګو وويريږي، زړه يې دى چې چيغې ووهي،
خوارۍ کوي چې پاڅي او له دې ځايه وتښتي، خو ستونى يې بند او
پښې يې کلکې تړلې، لاس يې نه خوځيږي، سا يې بنده بنده شي، لکه
لوى غر يې چې په سينه پروت وي. غړيې ستوني کې بند دى، ناڅبت
کوي چې دا وخت د کوټې څراغ روښانه شي، مورجانه يې ورو ورته
رانږدې شي:
بسم الله زويه، ولې؟ خوب کې وويريدې؟

پېښور کې افغان مهاجر تر بل هر وخت زيات شوي دي. زاړه مهاجر، سکر بيست او نوي مهاجر. کمپونو کې خيمې نشته. اوس ټيټ ټيټ ختين کورونه جوړ شوي دي، هر کمپ خپل بازار لري. د افغان مهاجرو لپاره دفترونه نور هم ښه شوي دي.هر دفتر اوس انترنت او ستلايت تيلفونونه لري. يوه شيبه کې ايميل او تيلفونى پيامونه دنړى هر ګوټ ته ليږل کيږي.
د صادق زړه کې وګرځېدل که کابل کې د اسلامى دولت خپل منځي جنګونه لږ کرار شول، نو يوځل به له پوهنتون څخه د خپل سند د ترلاسه کولو او د کورد ليدلو په خاطر کابل ته ولاړشي. هلته به بغلانى کاکا هم وګوري.
کله يې چې دا خبره مورجاني ته وکړه، هغې ورته وويل چې زه او خورکى دې هم ځو. ټول به يوځل ولاړ شو خپل وطن، دوستان او کوربه وګورو او بيا به بېرته راځو.
خو کابل ته تګ ډېر سخت و. لاره کې د حاجى چمن او زرداد پوستي خلک ځوروي، له سروبي پورته پاټکونه دچا جيب کې ستن هم نه پرېږدي. د اسلامي دولت راکټونه هرځاى لګيږي، سړکونه کنډو کنډو دي. دننه ښار کې د قوم او ژبې پوښتنې دي. که د يوقوم ورته وايې اتحاد اسلامي دې وژني، که د بل قوم ورته وايې وحدت اسلامي دې وژني، حرکت اسلامي د سړې ښځې او زيره ګوري، چې ښځې دې خيرن نه و او زيره دې لنډه وه، له موټر څخه دې کوزوي موضع درباندې جوړوي يا دې ښه کلک کلک وهي، حزب اسلامي ټول هغه څه درڅخه اخلي چې درسره دي، جنبش اسلامي نه ناموس پېژني او نه عزت... له هودخېلو وړاندې کله کله د مرميو داسې باران جوړشي چې د پسرلي باران ورته هېڅ هم نه وي. د ښار دننه له يوې پاچهي بلې ته اووښتل ژوند سره لوبې کول دي.

صادق په دې تمه و چې نن او سبا به جګړه لږ په کرار شي او مور سره به کابل ته ولاړشي. دشپې يې راډيوګانو څخه ډېرښه خبر واورېد:

-...ليډران ګورنر هاوس ته راځي او يوبل سره پخُلا کيږي. اسلام اباد کې به د ميډيا کنفرانس وشي، وروسته به مکې معظمې ته ځي، هلته د پخلاينې او اوربند قسم کوي...

دا يواځې د راډيو يو ښه خبر نه و، بلکې صادق ته يو ښه زيرى و. دا زيرى يې مورته هم ورساو.

کله چې جګړه ودرېده او تنظيمی ليدران سره ټول شول، صادق، مور او خور يې له پېښوره جلال اباد ته او له هغه ځايه کابل ته روان شول. لارې ډېرې خرابه وې. له تورخم ترماهيپره د پاخه سړک نښه هم نه وه، ټول کنډر کنډر و. د کابل له لوري په کډو بار موټر د پېښور په خوا را روان وو. کله چې خلک کابل کې له اوربند خبرشول، په بيړه يې کډې بار کړې چې سرونه سبب ته کړي. دوى خوارانو ته يوه ورځ جګړه دربدل لوى غنيمت و. دوى دا اټکل کاو چې جګړې بيا پيل کيږي، داځکه چې دوى څو ځله دا ډول اوربندونه وليدل. تنظيمونه لنډه دمه سوله وکړي، غنيمتونه ځاى په ځاى او اکمالات پوره کړي او بيا سره ونښلي، منځ مخلوق تبا کړي. د پيښور له خوا زاړه مهاجر اود کابل له خوا نوي مهاجر ټوله لار يو بل سره مخامخ کېدل. په دې وخت کې په موټر کې ناست يو شيخ چې ډېر خوشحاله ښکارېد، وويل:

- خداى پاک په خلکيانو راوسته. پربږده چې زموږ له حاله خبر شي !

يوه بل له وروستي سيټ وربالدي غږ کړ:

خير يوسې مجاهده وروره، سر يې وهلى مال يې تالا! شيخه موږ چې مهاجر کيدو، پوله- پټى راځخه پاتې شو، وايه دوى ته چې پاچهي او تخت ورځخه پاتې شو.

شيخ وخندل:

- مجايده وروره الله عادل ذات دی. له دې يې بتر ذليل، درپدر او خوار غواړم.

دا وخت يې را روانه لاری موټر ته ګوته ونيوه:

- وګوره، وګوره، يونيم سرې غالۍ او يونيم پکې خپل تلميزون او ټيپونه هم راکنجوغه کړي دي، د مرګي تلميزون مو شه !

د وروستي سيټ سورلی ښه مزبوته وخندل. له دې سره دوی د هر راتلونکي موټر او هرې بار شوې کډې خواته غاړه ورکړوله:

-وګوره، وګوره چې آغه شوروي کوپانونه به يې څه کړي وي؟ زهر موشه کوپان خورو !

د کابل له خوا راتلونکې هيڅ کډه يې بې پيغوره نه پرېښوده.

ټول ستومانه وو. په کنډ- کپر سړک تر ماهيپر راورسېدل، وروسته له دې سړک جوړ و. کله چې دصنعتي پارک، هودخيلو او قابل بای سيمې ته راورسېدل ټولې ودانی ړنګې، کورونه او فابريکې لوټ اوکنډواله وې.

پيښور کې صادق دا فکر نشوکولای چې کابل به دومره له خاورو سره برابر او سپيره شوی وي. دولتي ځايونه ټول لوټ او سوځول شوي وو. د بنايی د موسسې دفتر چې مکرويانو ته نږدې و، نښه يې هم نه وه پاتې. بلاکونه سوري سوري وو. د مکرويانو څلورلارې ته په رسېدو د ماښام آذان وشو، موټر ودرېد ټول لمانځه ته کوز شول. چې لمونځ وشو او بېرته موټر ته راوختل يوه پکې په ماټ زړه وويل:

يره خدای خبر که دا لمونځ مو قبول شي، ترڅو د کابل ټوله خاوره په بل مخ وانه وړي او اووه ورځې يې لمر ونه وهي نه پاکيږي.

شيخ وخندل: يره پيښور کې مو پوره لس کاله همدا ارمان و چې کابل په بل مخ او لوټه لوټه وګورو.

صادق د دې زهرجنو خبرو ټول غم په زړه پټ تېراو، دوی ته حيران و. څه يې نشوويلای، (سکر بيست) د پښتونخوانيو مهاجرو تر مخې چندان خبرې نه کولې.

دوی د سهار په خړه راوتلي وو. د ماسپښين، مازيګر او دا دی د ماښام لمونځونه يې په لاره کې وکړل. ماځُستن خپل کورته ورسېدل. په ښار کې اوبه او برېښنا نه وه، ورروسته تر مازيګر په سړکونو هيڅوک نه ښکارېدل.لارې- کوڅې، بازارونه او څلورلارې تشې وې، يواځې څو کوڅه ډب سپي ښکته- پورته ګرځېدل چې د لوړې له زوره يې په سختئ ګامونه اوچتول. کله چې پروان مينې ته ورسېدل، د دوی د کور کړکۍ روښانه ښکاريده، خوشحاله شول. د دروازې زنګ کار نه کاو، ويې ډبوله. دا وخت بغلاني کاکا الکين لاس کې نيولی و، په وېره او اندېښنه راووت. د صادق په ليدو ډېر خوشحاله شو. هغه يې غيږ کې ونيو، ځان ته يې جوخت کړ. صادق ته د خپل پلرني کور په وره کې يو ځل بيا د پلار مينه ورپه يادشوه، سترګو کې يې اوښکې راغلې، خو ژر يې شاته وتمبولې. بغلاني کاکا سره يې په خوشحالي روغبړ وکړ. بغلانی کاکا د صادق مورکۍ او خور ته هم ستړی مشی وويله او کورته دننه شول. د صادق مور او خور د بغلانی کاکا له مېرمن او لورګانو سره بلې کوټې ته ولاړل. صادق ميلمستون کې له بغلاني کاکا سره کېناست. ستړی و. کوټه کې الکين تته رڼا کوله. صادق چې د خپل کورديوالو ته کتل، خړپړ ښکارېدل. دا وخت د بغلانی کاکا زوی هم راغی. بغلانی کاکا لومړی د حاجی صاجب فاتحه وکړه، ورروسته تر دعايي صادق ته وويل:

- مور او زمور او تاسي ګاونډيان خبر شولو چې حاجی صاحب پېښور کې وفات شو. ټول ګاونډيان خپه شول. د سيمې پښتواني خلک ډېر لږ پاتې دي، څوک له وطنه ووتل، څوک شهيدان شول. هغه څو تنه چې پاتې وو جومات کې موحاجی صاحب ته دُعا وکړه. دحاجی صاحب بزرګواري، سخاوت، تقوا او سخاوت ټولو ته معلوم دی. دا

چې دا جومات يې په نوم دی، دا ډېره لويه خبره ده. خلکو سره يې د خير- ښېګڼې چارو کې مرسته کړې، د هيچا هېره نه ده.
بغلانی کاکا يوځل بيا لاسونه پورته کړل او دُعا يې وکړه. دا وخت د بغلانی کاکا زوی چای راوړ. بغلانی کاکا صادق ته د کابل دجنګونو او تباهی کيسې کولې:
...بازار کې څه نه موندل کيږي، د هيندوانو او سکهانو کورونه لوټ او وسله والو ونيول، کېنې لاسته کلنيک کې وسله والو پوسته جوړه کړه، ډاکټر يې پېښور ته ولاړ، د بانک ښاري څانګه لوټ شوه، برېښنايي بسونه اره اره شول... همدا دوه ورځې وشوې چې جګړه لږ درېدلې ده. تازه ميوه خو بيخي نشته. له کليو او ولسواليو څخه ښارته څه نه راپريږدي، په ښار کې پاتې خلکو باندې بده تنګسه راغلې ده، هر سړی د کور سامان په نيمه بيه پلوري او له وطنه وځي، ښوونځي او پوهنتون وتړل شول، روغتونونه نشته، ملي بس ښاري بسونه ټول لوټ شول...
صادق وويل:

- کاکا ستاسو ليدل راته هرڅه دي. دا لويه خبره ده چې تاسو روغ ياست.

دا وخت بغلانی کاکا خپله کوچنۍ راديو چالانه کړه. ټول خبرونو ته غوږ شول. هماغه بی. بی. سی. وه چې له کلي نيولې تر پېښور او بيا تر کابل پورې هر کور کې ټولو اورېده. هرسړی او هرکور د بی. بی. سی. داسې معتاد و چې پرته دهغی له اورېدو يې نه دشپې ډوډۍ خوړله او نه خوب ورته. بی بی سی لګيا وه په مکه مکرمه کې يې د رهبرانو د پخلاينې او د سولې خبرونه خپرول. خلک يو څه ډاډمن شوي وو. بغلانی کاکا هم ډېر خوشحاله و. صادق ستومانه و، د ماخُستن لمونځ يې وکړ له ډوډۍ تېر شو، ويل يې اشتها نشته. د بغلانی کاکا زوی ورته بله کوټه کې د خوب ځای برابر کړ. دا هماغه کوټه وه چې حاجي صاحب به کله چې له جومات څخه راغی، نو په

دي کوټه کې به يې قرآن شريف تلاوت کاو. صادق ته خپل وړکتوب وريادشو؛ دا دی يوځل بيا هغې کوټه کې و چې لس کاله مخکې ورڅخه وتلی و، کلي ته تللی و او بيا له کلي څخه پېښور ته مهاجر شوی و. تېر ښه وختونه ورپه زړه شول. کابل د پخوا په شان روښانه او خوشحاله نه و. توره تروږمۍ وه. د صادق په سترګو خوب غلبه وکړه او ويده شو.
په هغه سبا وروسته د سهار تر لمانځه اوناشتا څخه صادق له کوره ووت چې پوهنتون ته ولاړ شي. د بغلاني کاکا زوی ورته ويلي و چې پوهنتون کې نه دروازه پاتې ده ، نه کتاب اونه کړکۍ او ځوکۍ. هرڅه کنډواله دي، خو کابل کې پاتې څو تنواستادانو او مامورينو ته يې اندرابي واټ کې د تجارت ليسه کې ځای ورکړی، کومه ورځ چې جګړه لږ کمه شي، مامورين راځي لاسليک کوي او بېرته ځي، خو اوس چې راکټونه درېدلي دي او څوورځې سوله ده، نو خامخا به مامورين راغلي وي. صادق خوشحاله شو. دسهار له خوا نهه بجې وې چې دتجارت ليسې ته ورسېد. په انګړ کې ځينې کسان ولاړ وو. ټولو کميس او پرتوګ، څادرونه، پکولونه او ږيرې لرلې، هغه رسمي لباس او نظافت او سليقه نه وه پاتې، څوک ولاړ وو، څوک يوې ونې لاندې ډېبنو په سرناست وو، يوبل سره يې خبرې کولې. ټول له وطنه د تېښتې او سرپناکولو په فکر کې وو. لږ هاخوا يو مېز اېښی و. مامورينو او استادانو په ميز ايښودل شوي کتاب کې حاضري لاسليک کوله. صادق هر پلو وکتل څوک آشنا او بلدي يې ونه ليد. د حقوقو د پوهنځی پوښتنه يې وکړه. يو چا يومامور ورروښود. هغه ته ورغی ورته ويې ويل زموږ د حقوقو تدريسي مدير يا استادان چېرې ومومم؟
هغه ځواب ورکړ:
زياتره استادان بهر تللي دي، استاد واسع قرار او ک. ا. ق وروستي استادان وو چې ولاړل، يو دوه نوي مقرر شوي استادان پاتې دي،

مُدير صاحب تدريسی دي خدای وبخښي مياشت دمخه ده افغانانو سره راکټ ولګېد دپوهنتون څوتنو نورو مامورينو سره شهيد شو.
صادق آخ کړل. ورسره سم يې وويل : الله پاک دې شهادت قبول او فردوس جنت يې نصيب شه. دا وخت هغه وروستی ورځ ورياده شوه چې تدريسي مُديرصاحب ته يې دفراغت په خاطر خپل دوه عکسونه په مېزکېښودل او فورمه کې يې وليکل: محمد صادق ولد حاجی عبدالخالق.
نوي ماموروړخځه پوښتنه وکړه:

- خيريت و څه دې ويل او څه کار دې و؟

زه لس کاله مخکې له حقوقو پوهنځي څخه فارغ يم. د فراغت سند مې په کار دی.

- وروره ترانسکرېپت او ديپلوم نشته، خو مکتوب به درته زه وليکم، ټاپه اومُهر په دې خلته کې راسره دي، نور مې څه مرسته له لاسه نه ده پوره.

دا هم سمه ده ، چاره نشته.
مامور له هغې خلطې څخه چې صادره- وارده، حاضري او څوسپينې پاڼې پکې وې، يوه پاڼه کاغذ را وکيښ، دوه نيم يې کړ کاربن پيپر يې کېښود اود محمد صادق شهرت او د فراغت کال يې تصديق کړ. يوه نمره او نيټه يې ورباندې وليکله او صادق ته يې وويل چې دا نومره هېره نه کړې:
۲۲/۴/۱۷-۱۳۷۳/۲۴
صادق کورته راغی. ستړی او ناهيلی و. ښار ټول ويجاړ و، آشنايان او ملګري نه وو. مورجانه او خورکۍ هم خپه وو. هغوی هغې کوټې ته ورغلي ووچې د دوی يوڅه سامانونه، کتابونه او نور ټک- پوک توکي موکي پکې ايښي وو. يو پکې د صادق خپل بکس و، هرڅه په خپل ځای وو.

ورځ په ناهيلۍ تېره شوه، خو دخوشحالی خبره وه چې جګړه نه وه.
ماخُستن د ډوډۍ پرمهال صادق بغلانی کاکا ته وويل:

- اکا سبا له خپره مور ببرته پېښور ته ځو. که د کابل حالات ښه شول، ان شاالله ټوله کډه بيرته راوړو، زموږ انګړ او کور ښه لوی دی، يو ځای به سره اوسيږو.

بغلانی کاکا ورته وويل : وراره! خدای دې حالات ښه کړي چې جګړې نه وي موږ هم ببرته بغلان ته ځو، هلته مو کلا، پټی او کارونه دي.

په هغه سبا لمر لا پوره نه و راختلی چې د ښارمنځ کې څو توغندي ولګېدل. وريسې لکه د غنمو نيني چې په بټۍ کې پړکهار کوي، د ماشيندارو ډزې پيل شوې.ټول هک- پک شول. د کورونو په سرونو پرله پسې د ماشيندارو ګولۍ تېرېدې. شيبه په شېبه د درنو او سپکو وسلو ډزې زياتې شوې. صادق، مورجانه او خورکۍ چې تګ ته چمتو کېدل حيران شول. په ځای کيناستل. دا وخت بغلانی کاکا بلې کوټې څخه غږ وکړ:

- وراره! بهر مه وځئ. ورځ بده ده. نن پاتې شئ چې ځان خبر کړو، سبا به له خپره که کراري وه ولاړشئ. نن د تګ ورځ نه ده.

مور صادق ته وويل:

زويه، د راتګ په مهال مې چندان خوښه نه وه، پوهيدم چې په جنګ اتبار نشته. اوس به څه کوو؟ دخورکۍ خو دې رنګ ژير الوتی، دا به څه کوي. هسې مو ځان دجنګ تنور ته واچاو.

صادق ورغبرګه کړه:

-مورې خدای مهربان دی. کراري به شي. دې خلکو دلته دا درې کاله همداسې ورځې تيرې کړې دی، زړه مه تنګوه سبا به ولاړ شو. چاره نه وه، دوی يوه شپه نور هم پاتې شول. دشپې د بغلانی کاکا راډيو کې بی بی سی خبر خپور کړ چې قسم مات شو او جګړه ببرته پيل شوه.

د دې خبر په اورېدو د صادق ویاڼې وتښتېدې. بغلاني کاکا چې د بی بی سی د اورېدو لپاره بالښت ته ډډه وهلې وه، په خپل ځای لږ را سم شو، په غوسه یې وویل:

- بیا سره ونښتل.

ستونزه دا وه چې شیخ مُحسنی ویل چوکۍ مې کمې دي.رباني د دفاع وزارت او د مالیې وزارت پیرصاحب ته نه ورکوي، حزب د صدارت ترڅنګ لس سفارتونه او نیم ولایتونه او اته سوه د جنرالي بستونه غواړي، جنبش دحیرتان بندر غواړي... بی بی سی شمارل. شپه وه ښار تیاره و. خلک د سبا ورځې لپاره د یو مړی ډوډۍ په فکرونو کې وو، بی بی سی لګیا وه د وزارتونو او سفارتونو نومونه یې کتارول، او(سفارتونه) هغه څه و چې په اورېدو به یې د صادق په سر درد شو اود حساسیت نښې به ورباندې ځرګندې شوې. هیڅ خبره بی سفیر او سفارته نه وه. د کابل په آسمان کې د سرو مرمیو او چاودنو سره اورونه بل وو. دشپې هیڅا خوب ونه کړ.

بیا هم چاره نه وه په هغه سبا سهار وخته صادق مورکۍ او خورکۍ یې له خپل کور، بغلاني کاکا اودهغه له میرمن او زوی سره خدای پاماني وکړه. په بغلاني کاکا یې سپاربښت وکړ چې کور او انګړ کې د ونو او بوټو اوبه کولو ته پام وساتي. په همدې سپاربښت سره ووتل.

د جلال آباد او پېښور میني بوس موټر له خېرخانې څخه د بګرام د نوي سړک په لاره کاپیسا او بیاله هغه ځایه سروبی او بیا جلال اباد ته او بیا پېښور ته تلل. تر بګرام لاره لږ ښه وه، خو وروسته تر هغه نجراو او تګاو پورې سړک کچه او له خاورو ډک و. د ښار له منځ څخه د مکرویان او هودخیلو او بیا دماهیپر لوري ته د تېرېدو لار نه وه، ټوله سیمه کی د سرو ګولیو باران و. لمر لا نه و ختلی چې میني بوس د نجراو او تګاو له لارې مخ په پېښور روان شو، صادق، خورکۍ او مور یې ځلورم سیټ کې ناست وو. هوا توده وه او لاره خرابه وه. میني بوس دوه ځایه د خرابې له امله ودرېد او ډریور او

کلنیر به یې په جوړولو بوخت شول. په هر ځل خرابېدو به خلک کوز شول شاوخوا به په زمکه کیناستل. ډریور به موټر لاندې شاپه تخته وغځېد، کلنیر به رنج، پلاس پیچکش او د ګریسو ډبی ورکول. ټک وټوک به و، ترجوړولو د ټکا او خرپا غږ زیات و. سورلۍ به حیران ناست وو دُعا به یې کوله؛ یاخدایه موټر جوړ کړې!
شېبه وروسته به ډریور په ګریسو ککړ لاسونه او په خاوروسپېرو جامو سره له موټر لاندې راووت، منده به یې کړه په جلو به کیناست. کلنیر به ژر ژر سامانونه راټول او ټول بکس ته به یې ختا کړل. ډریور به چې په جلو کیناست خلکو به په خوشحالی څادرونه ټک وهل او په منده به موټر ته ختل. کرپا به شوه، خو بیا به هم موټر چالان نشو. په دوهم، دریېم اوڅلورم ځل به غرهار شو، تریخ او ګڼ لوګي به هوا ته پورته شول او موټر به په ځیګروي کوږ- وږ روان شو. زیاتره خلک په دې لاره نابلده وو، کله به چې موټریونیم کلي ته ورسېد، نو خلکو به کلینر څخه پوښتنه کوله:

- وروره دا کوم ځای دی؟

کلنیر به ورته د سیمو او کلیو نومونه اخیستل. ټکنده غرمه وه چې د نجراو برید څخه تګاو ته واوښتل. کلینر لاسونه خوځول او یو یو ځای یې خلکو ته ښود:
-آچې را تېر شولو کلای خواجه او یاسین خېل و، اوس تګاو بازار ته رسیږو. ورپسې ډاګ کلا او دې خواته انجیران او انګوردره ده. هووووغه لوی کلی اکاخېل دي...
هر کلی چې کلنیر خلکو ته ښیي نو(هووووغه) ورسره وایی او لاس د موټر د دروازې له ماتې شوې ښیښې بهر وباسي او هوا کې یې ښوروي او بیا خپل غږ ښه نری کړي: هووووغه ابراهیم خېل و چې شاته پاتې شو. له دې سره سم به ټولې سورلۍ سرونه هماغې خواته کږول چې کلنیربه ښودل. چې کله به یې تېر شوي کلی ښودل نو ټولو به په خواری ځټونه شاته تاو کړل، کله به یې چې مخامخ کلي ښودل،

بيا به نو ټولو غاړې اوږدې او په هغه لوري به يې کتل. شاته پاتې کلي يو هم نه ښکارېدل ځکه چې د موټر د شا ښيښنه دومره په خاورو لړلی وه چې ورباندې رسم شوي مارغه هم ټول په خاورو پټ و.

کلنير په خوشحالی خلکوته وويل:

- دا د تګاو وروستی بريد دی او له خيره د نغلو علاقه شروع کيږي. اوس آهنګران او بيا چينې کلي ته رسيږو هلته د سړک ترغاړې ونې هم شته او اوبه هم بهيږي.

موټر له يوه پوټي لرونکې پيچومي واوښت او مخ په زوږ شو. کلنير بيا خلکوته لاس خوځاو هاخوا جګدلک، ګندمک او دا رالنډ دنغلو علاقه ده، ګورئ دا بله خوا تيزين دی.

موټر مخ په زوږ لږ څه ګړندی شواو دماتوښيښنو شرنګا يې زياته شوه. کله چې هوارې ته شو، بيا يې ځيګروی شو او ډريور به د لاس په رغوې خولې پاکولې چې دا وخت يې خلکو ته وويل:

- ورونو لږ مخکې چينه کلی او ورسره ساربانيان دي، هلته اوبه هم شته او يووړوکی جومات هم شته، موټر به ودروم د ماسپښين لمونځ به وکړو.

د سورليو غږونه شول:

خير يوسې د ثواب خبره دې وکړه.

کوردې ودان لږ به دمه شو،

کلنير لا يو بل زيری هم ورکړ:

- بس دې ځای نه چې ووتو نور نو نغلو دی او بل پړاو مو د سروبی بازار دی.

خلک خوشحاله شول. موټر ورو يوې خواته ودرېد. له شا يې د دوړو او خاورو يوه پربړه لړه هواته پورته شوه. سم له درېدو سره چا وار ته نه کتل هريو په بيړه کوز شول. په آخره کې صادق، مورکۍ او خور يې هم کوز شول. مورکی هره خوا وکتل د کيناستو ځای نه و. د سړک ښي لوري ته چې لښتی او يو- دوه ونې وې، ټول نارينه

ورغلل، هغې خواته تګ ته یې زړه ونشو، خو لږ وړاندې د سړک کیڼ اړخ ته یوه وړه غوندې غونډۍ ښکارېده چې خواته یې دوه د ګز ونې وې چې ښاخونو یې ښه سیوری جوړ کړی و. خوا سره یې هدیره وه. چې کتل یې هلته دوه تور ټیکري لرونکی ښځې ناستې وې. صادق ته یې وویل:

• زویه ته ورځه اودس او لمونځ وکړه، موږ د هغو ونو سیوري ته هغو ښځو سره کینو. چې لمونځ وشو او موټر روانېد، غږ راوکړه.

د صادق مور او خورکی د قبرونو خواته دوو ونو لاندې سیوري ته رواني شوې او صادق په بیړه د اوبو د لښتي خواته راغی چې اودس او لمونځ وکړي.

هره خوا تپ لګېد، یو یو ځل به د تګاب له شنې او ښکلې درې د انارو له باغونو تازه او ښایسته وږمه په دې خوا راولګېده. کله چې خلکو لمونځونه وکړل، ډریور بیا هم موټر لاندې شو، خدای بلا پیچونه یې وسپړل او بیا یې ښه پریمانه تورګریس ورباندی وموښل اوبېرته یې په کلکولو بوخت شو. خلکو د لښتي په غاړه څادرونه وغوړول او کیناستل. یوه په کنلیر باندې غږ وکړ:

• وروره تکړه شه ورځ له نیمایی واوښته.

اکا خیر یادوه.

بل وویل:

تر پېښوره ډېره لاره ده موږ لاسروبي ته نه یاستو رسیدلی؟!

• کاکا نورهاخوا خیروخیرت دی. سختي اود جګړې خطر تر همدې ځایه و. شکر چې له هغه قیامت او پاټکیانوپه خیر راووتو، چې له نغلو واوړو، نوره لاره هم ډېره بده نه ده او جنګ هم نشته مازیګر پورې جلبات ته رسیږو. ماښام به تورخم کې کوزشئ، بیا هاخوا شپه ورځ موټر ځي. آلته خو آبادی ده کنه ...

یوه په غوسه وویل:

• وروره تورخم کې هم غم دی کنه، د انګريز بچي څوک په ګيټ نه پرېږدي، هااااغسې د اوښانو په لاره به ځې او يو پچاسي به هم ورکوې!

د لښتي غاړې ته نږدې ناست  يوه بل په دلاسايني ورته وويل:

-چې تياره وي لانجه نه کوي، ګوندي آسانه واوړو. خدای مهربان دی.

په دې خبره يونيم خوشحاله شول، خو يو نيم لاهم کلنير ته نارې وهلې:

• تادي کوه زړګيه، موټر دې روغ نه دی، ترجلاباته خو  درې ځايه بيا پټرې غواړي، موږ بيا له پېښوره هم اوړو، راباندې نيمه شپه به شي!

يو- دوو وخندل، نورو څه ونه ويل. دا وخت ډريور کلنير ته دپيچونو او د ګريسو دقوطی د ټولولو امر وکړ او خپله په بيړه موټر ته وخوت ، سم چې د موټر غرهار شو، خلکو ځادرونه څنډ وهل او بې واره موټرته په ختو شول. صادق هم خپلې مورکۍ ته د لارې له اړخه غږ وکړ. هغه په ستومانۍ سره راپاڅېده او موټر ته راغله.

موراو خورکۍ خپلو ځايو کې کيناستې او صادق هم ورسره کيناست.

چې موټر روان شو، مورکۍ په خواشينۍ سره ترځنډه دهدېرې او د هغو دوو تور ټيکري لرونکو ښځو په لورې کتل چې يوه شيبه هلته ورسره ناسته وه، خو سرک کوږ وږ و، نور هغوی نه ښکارېدې يواځې د قبرونو توغونه ښکارېدل. مورخواشينې وه.

زوړ او کړپن مينی بوس مزل پيل کړی و، خو د خلکو دمه جوړه شوې وه. نور نو چا سره ويره نه وه. يوبل سره يې کيسې او خبرې شروع کړې. صادق مور څخه وپوښتل: دا دوه ترورياني څوک وې؟

• هی زويه، کاشکې غم وېشل کيدای، کاشکې د ځوانيمرګو ځوانانو وير پای درلودای! دوی سره مې وژړل. زويه دواړه بورې بورچندې غم ځپلې ميندې وې زامن يې شهيدان شوي وو. هماغه چې

جنډی یې ښکاري د زامنو قبرونه يې وو، یوسات يې راته د زړونو غم ووایه.
دې سره يې يو ځل بيا دهديرې پلو وكتل، خو له موټر څخه نور هغه ځايونه نه ښکارېدل. دا وخت چې مینی بوس موټر لږ هسک ځای ته رسیدلی و، یوځل بیا هدیره او په قبرونو ولاړې خازې مازې ترسترګوشوې. مورکۍ صادق ته په ورو غږدهغوی کیسه پیل کړه:
-زویه نن چهارشنبه دا يوه راغلې وه د زوی زيارت ته، لا يې په ژړا زړه نه و تش چې دا بله هم راغله. د دواړو د زامنو قبرونه سره نږدې وو. زامن يې په جنګونو کې شهیدان شوي وو. یوه خواره له کوم لرې ځای څخه راغلې وه چې د هغه ځای نوم يې واخیست نامیناز و که مانیاز و راڅخه هېر شو. ویل يې مونږ شېرکاله مخکې پېښور کې کمپ کې مهاجر وو، زوی مې مجاهدینو سره د جهاد په خاطرراغی، نوم يې بازګل و. په خواریو مې سبقونه وربانديې ویلی و، پانتون نه هم وتلی و، مهاجر شولو. چې جهادته راغی تریوې میاشتی يې بېرته خبر رانغی، پوښتنې مې ډیرې وکړې آخر مې هغه کسان وموندل چې ورسره راغلی و. هغوی راته نښه وويله چې تګاو کې چينه کلی ته نږدی د سروانیانو سره هدیره وه. دسرطان ګرمی زیاته وه، د شهید وړل پېښور ته نه کېدل، همالته مو دفن کړ. په خواريو راغلم کلیوالو راته دا قبر وښود. ډېرې خاورې مې په سر بادکړې. په قبر يې پریوتم. نصیب او شامت مې د بدو دی، په ژوند مې ښه ورځ نه ده لیدلې. له هغه راهیسې شپږ کاله ووتل. کال کې يې يوځل- دوه ځله زيارت ته راځمه. دا دبلې هم زوی شهید شوی. دواړه قبرونه خواپه خوا وو. دواړو میندو د زامنوپه قبرونو خازې درولي دي. دا بله د همدې کلي ده، د زوی نوم يې عبدالوکیل یاد کړ، جلال آباد کی جګړه کې شهید شوی و...
مورکۍ له هغو دوو میندو اورېدلې کیسه کوله، خو د صادق تر سترګو کیسه نه، چې ژوندۍ صحنه تېرېده. څومره يې چې د شهیدانو د میندو

کیسه اوربېده، د بازګل او عبدالوکیل خبري یې ترسترګو کېدې : اوس یې د دوو ټولګیوالو د قبرونو په سرونو جنډۍ رپېږي. یو ځل بیا یې دسترګو کونجو ته اوښکې راغلي، خو داځل یې ونشوې درولای، په زنګون پروت څادریې را پورته کړ اوښکې یې وربانده وچې کړې، خو د اوښکو بهیر روان و.
یوځل بیا یې له لوړو ژورو ډک سړک باندې د کرېن موټر له ماتې کړکۍ څخه په لمدو سترګو د هدیرې په لورې وکتل. له ډېر لرې دوه تور ټیکري لرونکې بوډۍ د ګز له ونو لاندې ناستې وې او لږ هاخوا په دوو قبرونو ولاړې خازې له لرې مازې ښکارېدې. صادق ته د ژوند بهیر د همدی لارې په شان له خاورو او دوړو او لوړو- ژورو ډک ښکاره شو، داسې یې انګېرله چې خپلو آرمانو ته له لرې ګورې اولکه دشهیدانو په قبر د ولاړو جنډیو په شان ورته ښکاري، دخوښۍ شیبې همداسې ترخاورو لاندې دي لکه دا دوه ټولګیوال، د ژوند کرېن بس روان دی !
صادق د مخې سیټ په تکیه سر کېښود سترګې یې لمدې وې. له جیبب څخه یې دسمال راوکیښ، زړه یې و په ژړا خپل غمجن زړه ښه یخ کړې، خو شاوخوا خلک و. دروند غم یې زغم کړ او په خوږین زړګي یې تېرکړ، تاو یې له سترګووخوت. سترګې یې وموښلې. دا وخت مورکۍ په اوږه لاس ورکېښود:

- ولې زوی ؟!

صادق مازې مخ ورواړاو. سترګوکې یې لوی غم کور جوړ کړی و.
مور ته یې ورو وویل:
هسې مورجانې دا د موټر تریخ لوګې، خاورو- دوړو مې سترګې ترخې کړې او سترګو ته راغلیو خولو مې بیخې سترګې راوسوځولې.
په دې ټول کرېن موټر کې ترخو لوګیو هغو سترګو کې اوښکې راوستې چې بینا او پرانیستې وې. دوه بورې میندې چې لوی

تورتيکري يې په سرونو و، نن چهارشنبه د دوو قبرونو خواته ناستې دي او په چوپه خوله يې د ځوانيمرګو زامنو وير کاو.



# (۴۱)

سراسر وطن کې اورونه بل و. د ټوپکو او ګوليو پريماني وه، خو خلکو ته يو کپ وچه ډوډۍ نه وه. کلي کنډر او ښارونه هيبت وهلي وو. له هغې نقشې هيڅ بود نه شول چې د انګلو- امريکن دطراحانو، دشيخانو د ډکو جيبونو او د انګلو- پاک په انترمنتر جوړه شوې او په مخ وړل کېده. د سوداګري لويو برجونو سره الوتکې وجنګول شوې.

RAND لاس په کار شو او د نبراسکا په ډُکترینو بیا کتنه وشوه. B.52 هواته پورته شوې په وطن بیا په وسلو بار د آسونواوکچرو لښکر را مارش شو، (ګرى شرون) د ډالرو بکسونه وېشلي وو، د پاټکیانو او جګړه مارو جیبونه بیا له ډالرو ورډک شول. څوک په آسونو سپاره شول او څوک آسونو پورې وتړل شول. بله پاڼه واووښته نويو ټوپکوالو پخواني کانتينرو کې بند کړل او همالته یې ساوې وختې...

***

پېښور کې دمهاجرو دکمشنري دفتر ته ملازم بنډل اخبارونه دننه کړل په میز یې کېښودل. ورپسې یې یوه پیاله دودیتي راوړه. بیګ په آمرانه لهجه ورغږ کړ:

بايي ! یوه بله پیاله هم راوړه او صادق ته غږ کړه چې دلته راشي. جلتي!

- جي ټیک هي.

صادق څخه دکابل د شیږ کاله مخکې غمجن سفر کیسې هیرې نه وې، ستومانه و. دشپې د بی بی سی خبرونو ګنګس کړی و. دفتر ته راننوت. په میز یې د اخبارونو پنډ ولید. بیګ خوشحاله و، ډېرخوشحاله !

صادق کیناست. ملازم پیاله په لاس دروازه کې را ښکاره شو. بیګ په اشاره پوه کړ چې د دوتیتي چاى پیاله د صادق مخې ته کیږدي، ورپسې یې صادق ته مخ واړاو:

- څه پکې وايې، نه مې درته ویل؟ دربیمه نلې خلک دي، جغرافیه او سیمه نه ده. لوبه بدله شوه.

صادق ستومانه او خپه و. ورو یې له بیګ وپوښتل:

پاچا راځي؟

بیګ بیا مُضحکه او مکرجنه خندا وکړه:

- آ چې و څه یې وکلل؟ د راتګ سلی مالوم دی.

صادق بیا د ساده توب له مخې ورته وویل:

بیګ صاحب، هرڅه چې و، په وطن خو اور نه بلېد. که غریبي او بیوزلي وه، عزت خوو. که هر څه و، د ژوند نښې وې او په مدار مخته روان وو.

- پرېږده یې اوس له اویاوو پورته د باچا ارمان کوې، زمانه بدله شوی ده. یو سلی په موټر سایکل راځي !

د صادق زړه ورته تنګ شو. بیګ هیڅکله داسې خبره نه کوله چې ښه ټکي او کوم زیری ولري. هغه هرڅه ته د تورو عینکو له شا کتل، بیخی یې سپکاوی کول عادت و. صادق یو اخبار راپورته کړ. ټول د افغانستان خبرونه وو. دواړه په اخبارونو بوخت شول. څنډ وروسته بیګ له اخبار سرراپورته کړ، په توره چوکۍ یې نیم دایره څرخ وخوړ صادق ته یې وویل:

- لکه چې د جنګونو وخت تېر شو، اوس د توافقاتو وخت راغلی دی، وای د بُن کنفرانس وشوه او نوی حکومت جوليږي.

رحیم بیګ کتل چې صادق ډېر خپه دی او نوي بدلون ته یې را پیدا شوې هیله بېرته مړاوې شوه، نو د دلاساینې او د سفیرانو د لوبو د څرګندولو په پار یې ورته وویل:

- رور، یوه شببه کشېنه. زما له خبرو مه خپه کیژه. خلک مو جنګونو وهلي، وګي دي، بېسواده دي، چا چې څه وربانديې راوست، دوی څه نشي کولای. درېیمه نلی خلق هیله کوي، خو مول او زوررور قدرتونه ورته حیله ولاندې کوي. اوس وقت جهان قدرتي ده، مردم خواهشي نه ده .

له هغه وخته چې رحیم بیګ ځان انګلیسي او پښتو کې ځومره(پرفکت) ګڼي، هومره په خبرو کې تېر وتنې کوي. لکه ماشوم چې نوې په خبرو راشي. دوتپتي ځخه یې غوړپ وکړ:

- رور، دغه جنوب آسيا او بيا اسيای ميانه او بيا غرب آسيا اوس ليبرال توجه الولی، مالوم شي افغانستان سه شی کيژي، معلوم وشي بعد له توفان صحرا عراق او نور عربی مملکتونه سه شی جوليژي...

خو صادق لا هم ساده دی، مازې د خپلو هيلو لپاره دعا کوي:

- خدای دې نورنو رنهايې راولي.

دا يواځې صادق نه و، پيښور کې ټولو مهاجرو همدا دُعا کوله چې خدای دی رنهايي راولي. څو ورځو کې کابل څخه خبرونه راغلل چې پاچا کابل ته رارسېدلی، نوی لنډمهاله حکومت جوړ شوی او د نجونو او هلکانو د ښوونځيو اود پوهنتونو د پيل کېدو اعلانونه شوي دي. ډېر ژر به د قانون، لويو لارو، روغتونو، برېښنا اوکنډواله ښارونو په جوړولو کار پيل شي...

کابل ته ډله ډله بهرني خبريالان تلل او راپورونه يې جوړول. خلک خوشحاله ښکارېدل، د سلمانيانو په هټيو وار نه و، ځوانانو ږيرې خرېيلې، نجونې له کورنو را وتلې، راډيوګانو د افغانستان لپاره د روښانه ورځو د راتګ خبرونه خپرول. پيښور ته ډېر ژر د درې رنګه ملي بيرغ د اوچتېدو خبرونه راغلل، صادق له خوشحالۍ په جامو کې نه ځايېد.

مورکۍ ډېره زهيره شوې وه، د وطن آرمان يې کاو، تل به يې ويل چې ارمان مې دا دی چې د ژوند وروستۍ ورځې وطن کې تېرې کړم. خورکۍ نامخدا دولسم پای ته رسولی، خو خپله صادق به چې په هينداره کې وکتل په وېښتو کې يې سپين لګېدلي وو، ځان سره به يې ويل: دا وياړ مو بس دی چې د پلار د لاس نښه د اربابانو د کلي جومات په يادګار پاتې شي. دا شُکر دی چې په هسکه غاړه وطن ته ستنېږم. نور به د بيګ له کبر او اوقيتوب، د پيښور وړسترګيو پوليسو او تورو کارغانو کاغ- کوغ څخه بيغمه شم. د دفتر د تور ملازم رنګ هم وربانډې بد لګېد. دکمشنري د بهرنيو افسرانو ويټې- وازې هم د سرې زړه چوي. په سويس کې يې پلوشې ته ايميل کې وليکل

چې کابل ته دستنېدو نیت لري. هغې د ایمیل په لیدو ورته تیلفون وکړ:

• ډېر به ښه شي چې کابل ته ستون شې. که خدای کول او حالات ښه کېدل، زه هم درځم.

د هغې په غږ کې هماغه پخوانی تودوخه او خوږوالی و. هغې په ژنیو کې یوې موسسې سره کار کاو. صادق دهغې د راتګ په زیري نورهم خوشحاله شو. دپلوشې خبره یې مخې ته ودرېده: هغه زړوره پلوشه چې وېښتان یې تر نری ملا رسېدل، هسکه غاړه او د نازکو سپینو پښیو په شان سپین مړوندونه او طلایی رنګ ګړۍ. هغې به چې کوم لوري ته ګامونه اوچتول، د عطرو وږم او د آزادی د احساس موج به ورځخه وړاندې اووروسته په څپوو.

د صادق هیلې نورې هم وغوړېدې. چیرې یې لوستي وو: کلونه به اوړي، خو مینه نه مري. پروان مېنه کې یې کور وریاد شو، کلی یې په زړه وروګرځېد، د مشرترورزي، سهارګل اکا او توخایر خبرې یې مخې ته ودرېدې. د بغلانی کاکا غږ یې غوږ کې انګازې کولې. د خپلو کتابونو صندوق ته هوسېد او د خپل کور د هر دېوال او هرې کړکۍ انځورونه یې سترګو ته راتلل. د وطن دوړو او خاورو، بوټو، سیندونو او خلکوپسې خپه شوی و.

وطن ته د تګ په خبرې سره د مورکۍ پینو کې قوت پیدا شو. د زهیرې او بوډۍ مورکۍ سترګې وځلېدې او وروسته تر څو کلونو یې وخندل، پر مخ او تندي یې بې شمېره ګونځې ښکاره شوې. صادق ته یې د زړه په تولله شیمه وویل:

• زویکیه دتګ ملا وتړه، خورکۍ دې هم دتلو په ارمان ده. ځنډ مه کوه، آ متل دی چې: تګ دې دغله دی، نو ناستی دې په څه دی !

د مور غږ ریږدېد، ژرژر یې سا سوځېده، خو سترګو کې یې ښکلې او د هیلوځلا ښکاره شوه، خورکی دولسم پای ته رسولی نو وطن ته

دتنګ وخت دی. يواځې صادق نه، پېښور کی ټول مهاجر د وطن په لوري روان وو. (کارخانو) کې په موټرو وار نه و. ټللي مهاجر بېرته راستنېدل. هيلي غوړېدلي وې او کاروانو پرته له ستوماني منزل واهه. پاټکونه نړول شوي وو، خيرن پکولونه، دچرسو بويونه او په سړک باندی اچول شوي د پاټک پړي نه وو. له تور خم، هزارناو، مارکو وروسته به نيم کاروان شينوارو خواته، نيم کامې او کونړ ته جلا شو، نيم به جلال آباد کې تم شواو خلک به وروسته تر لس-دولسو کلونو خپلو کنډر او کنډواله کليو ته تلل. دوستان او خپلوان سترې مشی او بدرګې ته راوتل او د راستنو شويو مهاجرو غاړې ته يې ګلان اچول، نيم کاروان به لغمان ته تاو شو، له سروبي په تېرېدو به نيم د نغلو له بريده دتګاو او نجراو خواته کاږه شول، پاتې کاروان به د کابل مزل لنډاوه.

***

صادق د ډريور خواکې ناست و، خورکۍ او مورکۍ شاته سيټ کې. د موټر وروستۍ برخه او پاس بام باندې سامانونه تړلي وو. له پېښوره تر سروبي په يوه دمه راغلل، سروبي کې يې مورکۍ او خور ته انار واخيستل او يو انار يې ډريورته ورکړ. ډرېور دُعا ورته وکړه. د سروبي بازار کې خلک خوشحاله وو، ځينو لاوختي درې رنګه بيرغ او ځينو د پخواني پاچا عکسونه لګولي وو. کله چې د نغلو د غونډيو سرته ورسېدل، د تګاو د درې يوه ښنده ښکاره شوه. د صادق سترګو چينه کلی اود ساروانيو هديره لټوله. هغه وړوکې غونډۍ چې خواته يې دوه د ګز ونې وې، ښاخونه يې د زمکې لورته ځوړند وو، له هغو لاندې دوه ميندی په تورو ټيکريو کې ناستې دي او د خپلو ځوانيمرګو زامنو وير کوي. په دواړو قبرونو جنډۍ رپيږي. د کلونو په تېرېدو سره د لکړو برې جنډۍ ټولې زړې ريتاړې شوي او رنګونه يې بايللي، خو ښکته خواته وار په وار نوې نوې جنډۍ ترل شوي دي. د خاورو انبارونو لاندې له هيلو او آرمانو ډک

زړونه خښ دي. تورو تيکريو کې زهيري ميندي د زامنو د آرمانو او ښايسته زلميتوب ساندې وايي او يوه بلې ته غمجن زړه تشوي. د صادق فکر کې ګرځي چې اوس به د بازګل مور د خپل ځوانيمرګ زوی په قبر د ګلابو پاڼې او نامُراده ډيوې به د عبدالوکيل په قبردخپلو شنو بنګړيو ټوټې اچولې وي.

## (۴۲)

۱۳۸۲ل. کال په کابل کې صادق ته رېښتيا هم يو ښه کال و. نوي حکومت د ډېرو ځوانانو ملاتړ ته اړتيا لرله. په تېره بيا د حقوقو فارغانوته ډېر درونډ کار ورترغاړې و. نوي قوانين، د بشرد حقونو ادارات، د حکومتولۍ چارې اود خلکو د حقوقی او قضايی پېښو حل، دانرژي لرونکو ځوانانو کار و. صادق يوه نوی ښوونځي کې په کار وګومارل شو، خورکی د کانکور آزموينه ورکړه دطب پوهنځی يې پيل کړ. بغلانی کاکا بېرته خپل کلي کورته ستون شوی و. مورجانې په زهيرو او ستومانه لاسونو د کور کړکۍ او ښيښې پاکولې او انګړ کې يې بوټو او ګلانو ته اوبه اچولې. مهاجر شوي او له سيمې وتلي ګاونډيان يو يو بېرته راتلل. دهغوی چې هغه وخت توروبښته وو، اوس يې سر او ږيرو کې سپين ډکي لګيدلي. دهغه وخت سپين ږيري نورهم په ملا کړوپ شوي او ماشومان زلمکيان شوي دي. د ښار نړېدلي کورونه او سړکونه بيا جوړيږي. لس- پنځلس کاله مخکې د کابل په سر د لويو (الوشن) الوتکو په ځای اوس (بی دوه پنځوس) تاوېدې، نور نو دبنګۍ غږ چا نه اورېد. د (برګۍ)، (سو۷)او (سوخوی) په ځای چينوک، اپاچي او بلک هاک ګرځېدې. دخړو بيريدمو په ځای ژير (هاموای) او (کلسبرو) په سړکونو ښکته-پورته ګرځېدل.

اوس له کابله دننه او بهر هرچا سره خبرې کيدای شوې. صادق به دوه- درې ورځو کې يو ځل پلوشې سره خبرې کولې. هغه لکه د پخوا په شان زغرده او بېباکه غږېده. وطن ته د بهرنيو ځواکونو په راتګ غوسه وه. هماغسې زړه وره وه. هغې صادق ته وويل:
دا ډير ښه کار وشو چې جګړه ودرول شوه او وسله وال بې وسلې شول، د پرديو دلښکر پايله خواشينوونکې ده. مورږ دا ملت پېژنو تاريخ شاهد دی. هماغه خبره مې چې د شوروی د يرغل په وخت کړی وه، بيا يې وايم:
...مصيبت هماغه لومړی ځل هم مصيبت دی، خو تکرار يې مسخره ګی او لا لوی مصيبت دی. په ۱۸۳۶م. کې لعنتي پرنس د انګريز استازي له اميردوست محمد خان سره وکتل، امير يې لومه کې ونښت، پرنس او انګريزانو يوويشت زريز لښکر په وطن راوست، دوست محمدخان يې له واکه وغورځاو او شاشجاع يې را مخته کړ، دا لومړی مصيبت و، بل ځل موبيا په اتيايمه لسيزه کې دا مصيبت وليد،خو نن بيا د دې کيسی تکرار په دې وطن باندې مسخره ګي کول دي...
پلوشه هماغسې زړوره وه. هغه څه موده مخکې ژنيو ته تللې وه، خو هر ځل تيلفون کې به يې د ټولګيوالو پوښتنه کوله. وروسته د پرديو عسکرو د راتګ له مصيبت اوڅوسياسي خبرويې صادق څخه وپوښتل:
- صادقه د ټولګي څو ملګري وينې او چيرې دي؟ له ځينو استادانو خبرېږې؟
صادق ورته وويل:
-استادَع.ر.ت. فرانسه کې دی، استاد ک.ا.ق. څو ورځې مخکې له پېښوره کابل ته راستون او بېرته يې دحقوقو پوهنځي کې تدريس پيل کړی، استاد و.ق. چې څه موده د پوهنځي رئيس و، پېښور کې وفات شو، زرلښته واده شوې، له نوروټولګيوالو نه يم خبر.

- هو، له هغې زه هم خبره شوم، له خمارى هم خبره شوم آسترليا ته تللې هلته يې واده کړى دوه بچيان يې دي، خداى دې ورته لوى کړي.
له قدوس خبره يم شيکاګو کې دى. هلته يې نعيم پوپل سره څو عکسونه اخيستي دي، زه به يې درولېږم، لکه د نعيم پوپل په شان ږيره يې پرېښې او هغسې خولۍ په سر کوي او بيا يې وخندل.
صادق ورځخه وپوښتل:
جاز او درم به ورسره غږوي او که فلوت او آرګن به يې زده کړى وي!
پلوشې په ملنډو ورته وويل:
نه خداکه د يوه لياقت لري. هسې مور ته به يې دفلمونو کيسې کولې، هيڅ شى هم ورځخه نه دى جوړ شوى. د خبرو په پاى کې يې ورته وويل: که خداى کول ډېر ژر به دې ووينم. دې خبرې يې دصادق د آرمانو غوټۍ ګل کړه، ځېره يې وغوړېده:
-خداى دې راوله،هغه به ساعت وي چې ودې وينم؟! کله به راشې؟
- توکل په خداى. يوه اونۍ وروسته درځم. دلته ژنيو کې زموږ دموسسې يوه څانګه کابل کې پرانيستل کيږي، زه د دفتر په استازيتوب درځم او معارف ته کار پيل کوم، دخپل اروابناد پلار د قبرزيارت به هم وکړم.
صادق په دې خبرو ډېر خوشحاله شو. له هرې خوا د وطن د آبادي زيري او خبرونه راتلل. که وتلي هيوادوال د وطن د آبادۍ لپاره بېرته راستانه شي، تياره وطن به بېرته رڼا شي. مورته يې وويل:

- مورجانې يوه اونۍ وروسته مېلمه لرم. له ډېر لرې ځاى ځخه راځي. خداى وکړي ترهغو به په کور لږ نور هم لاس ووهم، کړکۍ به نوې رنګ کړم.
- مور ورځخه وپوښتل:

زويه، څو تنه دي؟ که يو يا دوه وي، پروا نه کوي. که زيات وي چې يوځوک راسره مرسته وکړي.

- نه مورجانې ميلمنه يواځې ده.

سم له دې سره د مور تندی وغوړېد، ویې خندل، ځان سره يې وويل:
ما خو ويل چې د زوی مې چيرې زړه بند دی. دا دی ويښتو کې يې سپين ولګېدل او تراوسه يې پرې نه ښودم چې چېرته ورته وګرځم. خدای دې آرمان ورته پوره کړي. له دې سره سم يې په خوشحالۍ ورته وويل:
زويه خدای دې ستا کور آباد کړي چې زما زړه را ټول شي. ډېره ارمانجنه يم.
صادق وشرمېد. دهغه پام شو چې د ميلمه په ځای يې ميلمنه ويلي. بيا يې هم خوشحالي پټه نشوه کړای او ويې ويل:

- مورجانې! ميلمنه به مازې زموږ خبر واخلي، هغه ډېره بوخته ده.

پلوشه له دې ورځې لس کاله مخکې د ١٣٧٢ل. کال په اوړي کې چې کابل کې تنظيمی جنګونه پيل شول او کابل لوټه لوټه شو، خپلې مور او ورور سره آلمان ته مهاجره شوې وه. هلته يې دوه کاله سبق ووايه او بيا يې سويس کې د ژنيو په ښار کې يوې نړيواله موسسې سره کار پيل کړ. ژنيو کې د ملګرو ملتونو اړوند ډېر موسسات اولوی علمی- څېړنيز اوخيريه سازمانونه دي. د روغتيا، مخابراتو، سره صليب، هوا پېژندنې، بی پولو ډاکترانو، د ماشومانو د ملاتړ او نور زيات موسسات هلته دي.
پلوشې صادق ته تيلفون کې ويلي و چې زه به د نړۍ هيڅ ځای له خپل وطن سره برابر نه کړم. لکه مرغۍ چې خپلې ځالې ته ورالوځي، زه به هم همداسې خپل پلرني وطن، ټاټوبي او د خپلې مور غيږ ته ورځم. د راتلونکي اونۍ ډاډ يې ورکړ:

- انشا الله . خو زما د ورونو او ټولګيوالو خبر راکړه، که زموږ دفتر کابل او نورو ولايتو کې فعال شو، هلته به راسره کار وکړي،

ورته ضرورت شته دی. کوم ټولګیوال مو له پېښوره بېرته راستانه شوي دي؟
صادق ورته په خواشینۍ وویل:
-له نور چا نه یم خبر، خو بازګل او عبدالوکیل شهیدان شوي دي.
آه، خدایه دا څه اورم ! بې ورونو شوم. دپلوشې غږ وریږدېد.
پلوشه د لیکي هاخوا غلې شوه. څنډ وروسته یې له خپګان په ډک غږ وپوښتل:
کله او چیرې؟ غږ یې ټپ و او لړزیده.
دواړه د جهاد په کلونو کې په جګړه کې لګېدلي دي. بازګل له پېښور څخه د جهاد په نیت افغانستان ته راغلی و په هماغه اول کې شهید شوی، عبدالوکیل په جلال اباد د یرغل په جګړه کې شهید شوی دی.
یوه شېبه بیا د پلوشې غږ نه اورېدل کېد. صادق حیران و. څنډ وروسته چې هغې خپل زړه ښه تش کړی و، ورو یې غږ واورېدل شو: زه یوه بې وروړنه نجلۍ یم، بازګل او عبدالوکیل مې ورونه وو.
هغه بیا غلې شوه، شېبه وروسته یې چې غږ ټپ و، وویل: بې ورونو شوم. بل ځل یې لړ په زغم سره وویل:
-وی، خدای دې دواړو ته ښکلی جنت نصیب کړي، بې ورونو شوم. ما خو ویل چې راشم یو یوبه وګورم. هغه تر څنډه غلې وه. بیا یې وویل:
-ته څنګه ورڅخه خبر شوې؟
صادق ورته ټوله کیسه وکړه چې څنګه یوه ورځ مورکۍ یوې هدیرې کې د دوو قبرونو خواته دوه میندې په تورو ټیکریو کې ولیدې چې د زامنو په قبرونو یې ویر کاو او دغو دواړو میندو مورکۍ ته نکل کړی و.
پلوشه هکه حیرانه شوه:

افغانستان بيخی د تصادف او پيښنو وطن دی، کله پکې د غمونو تور ماښام وي او کله پکې معجزه وشي. خدای وکړي د کورنيو جګړو په پای ته رسېدو وطن بېرته جوړ کړای شو، راځم خامخا راځم.
صادق تيلفون بند کړ، خو لا يې هم د دوو ميندو انځور ترسترګو و چې تور ټيکري يې په سر او د دوو قبرونو خواته ناستې دي. څوک خبر په دې چهارشنبه به د بازګل مور دهغه په قبر د ګلابو پاڼې او د عبدالوکيل په قبر به ډيوه د ماتو شنو بنګړيو ټوټې اچوي؟

# (۴۳)

مهاجر بېرته را ستنېدل. پلوشه او صادق هم وطن ته راغلل. وطن ته تر راستنېدو وروسته د صادق لومړنی کار همدا و چې د پلار له وصيت سره سم، په کلي کې يو ښوونځی جوړ کړي. کليوالو ورسره ژمنه وکړه چې هرډول مرستو ته چمتو دي. صادق د پلرني پټي په برید د غونډۍ لمنه کې د ښوونځي ودانولو ته ملا وتړله. په پيښور کې يې د معاشونو بچت او سپما ولګوله، ښه لوی ښوونځي جوړ شو. ښوونکي يې د ولسوالی د معارف له تشکيل سره سم په کار وګومارل. د زده کوونکو د هڅوني لپاره يې د کتابچو، قلمونو او بکسونوپېرودل په غاړه واخيستل. کله چې پلوشه وطن ته راستنه شوه، معارف سره يې د بهرنيو مرستو يوه لويه پروژه راوړله. دا وخت صادق د خپل بچت لګولو ته اړ نه و. پلوشې سره يې ښار کې د ښوونځيو د ملاتړ دفتر پرانيست او دمعارف برخو کې يې پروژې ورسره پيل کړې. دوی خپل کار ته د( معارف ته کار ريښتيانی جهاد) نوم ورکړ. کليو او ښارونو کې زده کوونکو او وطنوالو ته د نويو هيلو رڼا ځلېدلې وه. پلوشه لکه د څوارلس کلونو پخوا په شان زغرده وه، زړه يې له هيلو او خوښيو ډک و، هماغسې خوشبويی، چست ګامونه او ريږديدونکي سينه. په کيڼ لاس يې تړلې ګړی ځلېده او د معارف

لپاره دپلان کتابچه ورسره وه. پلوشه تر پخوا اوس ډېره ښایسته وه. صادق حیران و چې د پېغلو د ښایست دوران خو وروسته تر دپېرش کنلی پیل کیږي، خو پلوشه کمینه وه، خپل ښایست ته نه وه غره. هغه د وطن د بچو او لورګانو په غم کې وه. د ماشومانو څېرو کې یې هیلې لیدلې. لس کاله له تعلیم پاتې شویو نجونو ته یې هیلې ورپه برخه کړې وې. د وطن نجونې وروسته تر لسو کلونو څخه له یوه تیاره تونل او تورې سمڅې رڼا ته راوتلې وې.
صادق هم د پلوشې په شان خوشحاله و چې د وطن هر کلی به پوخ سړک او روغتون ولري، برېښنا، اوبه او خپل بازار به ولري، کلیوال به تعلیم وکړي، نور به څوک په شري، ګوزڼ او د لیونې سپې په داړلو له ژوند نه بې برخې کیږي. نجونې به په زور نه ودیږي، خلک به له تورتم راووځي. هر ماشوم اوماشومه به سبا ورځ ډاکټر، انجنیر او ښوونکې وي...
ده د کلیوالو په خوښه د ښوونځي نوم د سیمې د لومړني مجاهد شهید ملک اکبر په نوم ونوماو. ښوونځي ته په هماغه پیل کې له لرې او نږدې کلیوڅخه نجونې او هلکان راغلل. د شاغاسي دوو ورېرونو دامریکې له لاس انجلس څخه ښوونځي او کلي کې د روغتون جوړولو ته لویه مرسته راولېږله. د دوی مهاجر شوي بزګران بېرته شاغاسي کلا ته را ستانه شوي وو. دوی اوس ترکتورونه او تریشرونه راوستي وو او د شاغاسي پیکالونه زمکه یې نیمه ورځ کې کولبه کولای شوه.
پلوشه د هغه دفتر مشره وه چې ولایتونو او لرې پرتو سیمو کې یې د ښوونځیو ملاتړ کاو. کله به چې صادق دهغې لیدلو ته د هغې دفتر ته ورته، دواړو به له آرمانو په ډک زړه د خپلو ټولګیوالو یادونه کوله او یو یو به وریادېدل. پلوشې دهغو ټولګیوالو نومونه یادول چې دا پنځلس کاله کېدل یو یې هم نه و لیدلی. ناصر، خماری، زرلښتې، قدوس او صادق ته خوشحاله وه چې جوړ دي او ورڅخه

خبره ده، خو بازګل او عبدالوکیل لکه د زرګونو نورو ځوانانو په شان خپلو آرمانو سره خاورو لاندې دي، خدای دې وبخښي. میندې یې په قبرونو د بیوسۍ اوښکې تویوي او کلیوال یې د قبرونو په خازو جنډۍ تړي. پلوشې دا پرېکړه وکړه چې دواړه میندې به مومي او د خپلې وس مرسته به ورسره کوي.

هرځل به چې پلوشې ته د دوی دوه شهید ټولګیوال ورياد شول ويل به یې؛ بې ورونېو شوم. مورږ به د وکیل د سولې، ترقي او ابادۍ ارمان او د بازګل د آزادۍ ارمان پوره کوو. دا دواړه ارمانونه یو بل سره تړلي چې د پوهې د رڼا په خپرولو سره پوره کېږي.

دوی اوس په همدې لاره ګام اوچتاو. هرځل به چې عبدالوکیل او بازګل ورياد شول، سترګو کې به یې اوښکې وځلېدې، ژر به یې دستکول څخه دُسمال راوکیښ سترګې به یې وربانډې وچې کړې. په وطن سختې ورځې تېرې شوې وې، خو لا هم د خلکو زړونو کې هیلو ټوپونه وهل. ژوند رنګ بدلاو او نوي نوي پسرلي را روان وو. هیله وه چې د بازګل او عبدالوکیل په قبرونو د ګلانو پاڼې او د شنو بنګړیو ټوټې وشیندل شي اوخازې او جنډۍ یې نوې شي.

## (۴۴)

د جلال آباد له جګړې دیارلس کاله وتلي وو. په وطن کراري شوې وه او د دیموکراسي او جمهوریت نغاره ډنګېدلې وه. ښوونځي،

سړکونه، روغتونونه او دفترونه جوړېدل. ښارونو ته برېښنا غځېده او خلک د لومړي ځل لپاره د ګرځنده تيلفونونو خاوندان شول. په زرګونو ځوانان حکومتي ادارو او د موسسو دفترونو کې په کار وګومارل شول. هر ولايت کې پانګوالو پانګونې ته زړه ښه کړ او سوداګري وغوړېده. په دې کې له پېښور څخه (آريانا)د مهاجرو افغانانو جلا وطنه پوهنتون هم جلال آباد ته راولېږدېد. جلال اباد کې يې ځوانانو او ټول ولس ښه هرکلی وکړ. هغه دفتر چې صادق او پلوشې کابل کې دمعارف د ودې لپاره پرانيستی و، له بيوزله ځوانانو سره د زده کړو برخه کې يې مرستې په غاړه اخيستې وې، دا خبرتيا يې ننګرهار او نورو ولايتوکې د زده کړو مينه والو ځوانانو ته هم ورسېده. ځوورځو کې د دولسموټولګيو څخه فارغه شويو نجونو او هلکانو د لوړو زده کړو دغې موسسه کې نومونه وليکل. صادق کابل ته د نږدې ولايتونو او ولسواليو د ښوونځيو له ليدو وروسته وغوښتل جلال اباد کې څو ښوونځيو سره مرسته وکړي او هغه چې ودانۍ نه لري، ودانۍ ورته جوړې کړي. ده اته کاله مخکې جلال اباد هغه وخت ليدلی وچې، يوځل د کابل د تنظيمي جګړو په مهال له پېښور څخه خپلې مور او خور سره کابل ته راغلی و او بيا بېرته په همدې لاره هغه کړپن زوړ ميني بوس کې پېښورته ستون شوی وو چې د تګاو او نجراو په لاره تر نغلو پورې يې په ګريسو غوړ او په سپېرو خاورو ککړ دريورځو ځايه ګوډ او مات هډونه ور پترى کړي وو. بل ځل له پېښور څخه ټولې کډې سره په دې لاره کابل ته راستون شوی و. دواړو وختو کې جلال اباد تر کابل سوله او امن کې و. اوس چې معارف سره دمرستو او کار په خاطر راغلی ډېره هيله لري چې خوارۍ به يې پوره ځای ونيسي. په لومړی ورځ چې جلال اباد ته راورسېد، څوک يې نه پېژندل، خو په ياد يې و چې د جلال اباد يو کلی د "کلای جانان" نوم لري او هلته به د خپل پلار پخوانی آشنا توکل کاکا وګوري. حاجی صاحب پېښور کې توکل ډېر ياداو، خو

هريپور پورې تګ ورته اسانه نه و، اوس دا دی  توکل خپل کلي ته راستون شوی دی.
کلای جانان د هوايی ډګر مخامخ يو کوچنی کلی و. دا وخت د جلال اباد هوا ډېره برابره وه. د دغه کلي شاوخوا هم ښه شنه او ښکلې وه. د توکل کاکا کور يې ومونډ. توکل کاکا اوس ډېر مشهور و. دکلا ترمخې يې څو ډاتسن ولاړ وو، خو د کلا يو ديوال دجلال آباد جګړه کې نړېدلی و، لا جوړ کړی يې نه و. د ده ځوی جعفر توکلي د ټولې مشرقی د معيوبينو د ټولنې مشرو. هغه د جهاد کلونو کې په پښه ګوډ شوی و. د شپې د هغه ميلمه شو. توکل د حاجی صاحب دُعا او فاتحه وکړه او په درناوي سره يې د حاجی صاحب نوم ياداو. په هغه سبا جعفرتوکلی سره دهغه ډاټسن کې ولايت ته ولاړ، والي د ښوونځيو مديران راټول کړل او صادق خپل پلان دوی ته ووايه. دا وخت چا ورته له پېښور څخه د لوړو زده کړو د يوې موسسې هم وويل. کله يې چې د ښوونځيو  له مديرانو سره غونډه پای ته ورسوله، د اريانا د لوړو زده کړې موسسې ته ولاړ.
ژوندی شهيد حاجی شهزاده  له پېښور څخه وطن ته راغلی او د آريانا خصوصي موسسه کی له خپل شريک سره په کار بوخت و. يو شمېر استادان او مامورين يې په کار ګومارلي وو. هماغسې زړور و. په څټ يې د ساتور د ټپ نښه ښکارېده. کله چې صادق ور ورسېد، حاجی شهزاده مخې ته ورته راووت او دفتر ته ولاړل. شهزاده  څو تنه استادان او اداري مامورين راټول او مجلس جوړ شو. د استادانو له ډلې استاد مومنيار د مجلس د تبرُک او پرانيستوقرائت وکړ او مجلس کې صادق دغې نوې تحصيلی موسسې سره د غټې مرستې ژمنه وکړه. وروسته ترمجلس د غرمې ډوډۍ ته کيناستل. شهزاده د خپل خاني او ملکي عادت له مخې لوی دسترخان وغوړاو او راز راز خوراکونه يې چمتو کړل.

ژوندي شهید هیڅکله چا ته سر نه و ټیټ کړی او نه یې د چا منت منلی و، خو د قوماندان(ش) د احسان دومره پوروړی و چې تر نن ورځې یې یاداوه. نن یې هم زړه طاقت ونه کړ او د ډوډۍ په مهال یې مومنیار سره د قوماندان(ش) یادونه وکړه. مومنیار د جهاد په کلونو کې له قوماندان (ش) سره ملګرتوب او آشنایي لرله. دا وخت قوماندا (ش) ژوندی نه و، هغه د تنظیمی شخړو په ترڅ کې شپږ کاله مخکې د کمکي خیبر او ډکې ترمنځ لاره کې ولګېد او ځای پرځای یې خپل موټرکې سا ورکړې وه. ژوندي شهید شهزاده د هغه نوم ته د تعظیم سر ټیټاو او تر اوسه یې یاداوه. دا په دې خاطر نه چې د ده ژوند یې ژغورلی و، بلکې په دې خاطر چې له سپکاوي ډک مرګ څخه یې بچ کړی و. له ډوډۍ وروسته یې د عرب د ساتور او د قوماندان (ش) کیسه صادق ته هم وکړه. حاجی شهزاده د خوږیانو د ملکانو له کورنی څخه و. د ده پلار، ملک میرخان ټول مشرقي کې نوم درلود. هغه د مرګ باک نه درلود، خو له سپکاوي ډک مرګ یې نه غوښت. صادق د ده دښت ټپ او د ده ژوندي پاتې کیدو ته هک حیران و. حاجی شهزاده ورته وویل چې تر مازیګره به دفتر کې یاستو، زموږ کارونه به وګورئ، یوشمیر نویو راغلو زده کوونکو سره به خبرې وکړئ، ماښام به راسره میلمه شئ چې د مشرقیوالو میلمه پالنه وګورې. صادق ورڅخه مننه وکړه او ورسره ویې منله. استاد مومنیار او یوه دوو مامورینو او استادانو لستونه لیکل، په کاغذو بوخت وو.

د ژوندي شهید دفتر ته ډله ډله زده کوونکی د نوم لیکلو لپاره راتلل، زړور و چې خلکوته به یې د ساتور نکل په خندا او ټوکو تېراو. د دې نکل په اورېدو به له ویرې د اورېدونکي وینه په رګونو کې سړه شوه، خو ده به خندل، یو- دوه د خوږیانیوالو زیږې ښکنځلې به یې عربو ته وکړې او په پای کې به یی روغ شوی ښت خلکو ته وښود.

تر ټولو زيات به يې دغو عربو چيغې او نارې ډېرې يادولې چې د مجاهدينو په جوش راوستلو لپاره به يې نارې وهلې:
الله اکبر !
جزاکم الله.
کن شجاعاً !
اری ابواب الجنة مفتوحه لکُم.
الله اکبر!
د دغو کيسو په مهال به يې ستونی لړ وپړساو او د "شجاعا" او "مفتوحه" ټکي به يې لکه دقاريانو په شان په حلق کې ژور ويل او آخر کې به يې غږ هم ورسره وغځاو. استادمونيار به لړ هاخوا د خپل کار او ليکلو ليکلوپه ترڅ کې سترګو لاندې شهزاده ته وکتل او مُسکی به شو. شهزاده به بيا د عرب د درانه او تېره ساتور او د تسليم شويو عسکرو د سرونو د پرې کولو کيسې ته دوام ورکړ او دا وخت به يې د عرب د کلوښته کلوښته وېښتانو اوتورې ځېرې چې دوه سترګې او غاښونه به يې سپين ځلېدل او نور به تک تورو، کيسه راواخيسته. تا به ويل چې همدا اوس د عرب انځور خلکو ته ښيي، خو د ساتور، چړو او د وينو د دارو کيسې به په خلکو ويره خوره کړه. ده به بيا وخندل.
يوه نوې ډله نجونې اوهلکان يې دفتر ته ورننوتل او د ښوونځي د فراغت سندونه يې ورته مخې ته کېښول چې نومونه يې وليکي. هغوی خوشحاله وو. په دوی کې دوه تنه د وردګ ولايت څخه راغلي وو. دوی خوارانو خپلې ستونزې حاجی شهزاده ته بيانولې:
مديرصاحب، منګه درې کاله مخکې د ننګرهار پوهنتون کې تر ځلرمه رسيدلي وو چې د مُنګ خپلوان چې بشريار نومېد او ننګرهار پوهنتون کې استاد و، عربانو وواژه. موږ وډارېدو، پوهنتون مو پرېښود او خپل کلي ته لاړو، اوس غواړو ځلورم ټولګی دلته پای ته ورسوو...

حاجى شهزاده د دوى ستونزې ته حيران شو. ورته ويې ويل:
مورږ دا پوهنتون له پېښور څخه نوې رالېږدولى او څلورم ټولګى نه لرو. تاسو راته وواياست چې ستاسو خپلوان استاد ولې او چېرته عربو وواژه؟
د نوم ليکلو لپاره راغلي په عاجزئ او له ګرومونو او انديښنو ډک غږ وويل:

- مُدير صاحب، ديمنګ يدې خپلوان هيڅ ګوناه نه وه، دا درونټه کې يې هلکانو ته سبقونه ويل. کله سې اووه کاله مخکې عربو هلته يو کور ونيو، څو ورځې وروسته يې يموګ دا خپلوان خوار يوبل وستاز سره چې حبيبي نومېد، له لارې خپل ډاتسن ته پورته کړل، د بهسودو په پله يې سرونه ورته په کوم شي مات کړي وو، دواړه يې د پله له سره سيند ته غورځولي وو. سور اوړى و، د سيند اوبه ډېرې زياتې او تيزې وې. يموګ خپلوان دهمدې بهسودو کلي سره سيند غاړې ته کړى و، خلکو ليدلى و او مړى يې راکښلى و، هغه مو تابوت کړ، جنازه مو وردګو ته يووړه او خښ موکړ، دهغه بل وستاز مړى اوبو وړى و ونه موندل سو. مورږو وېرېدو بيرته رانغلو، پوهنتون راڅخه پاتې سو...

د حاجى شهزاده زړه ډېر ودردېد. ډېر خپه شو. هلکانوته يې سرترېپنو وکتل. د دواړو څېلى شلېدلي او زاړه واسکټونه يې په غاړه وو. زړه يې ورته بد شو. ښه شيبه سوچونو پسې واخيست، يو اوسويلى يې وکړ او دوى ته يې وويل:

- ورېرونو! دلته څلورم ټولګى نه لرو، خو ستاسې د څانګې څلورم ټولګى مو د پېښور فيلېال کې شته. تاسو به خپل وروستى کال هلته پاى ته ورسوئ.

هلکان خواران دواړه غلي او حيران شول. حاجى شهزاده ته يې وويل:

• مدیرصاحب منګ پېښور کې بلد نه یاستو، څوک مو هلته خپلوان هم نسته او دونه پېسې هم نلرو چې هلته پوره یو کال واوسيږو.
حاجی شهزاده بیاسوچونو پسې واخیست. دا وخت یې د ملکي او خاني رګ و تخنېد، دواړو ته یې وویل:
• قسم دی چې زه خدای د بېشرمي او تسلیمی له حلالولو وژغورلم، نو اوس خو به یوه صدقه او خیرات کوم. ځئ؛ لله الحمد دومره وس او توان لرم، د ملکانو له ځالي را پورته شوی یم، یو حج مې کړی، دابل حج مې دا چې ستاسې د پېښور د یوه کال د اوسېدو او د فیس ټول لګښت په غاړه اخلم.
هلکان خوشحاله شول، خو حاجی شهزاده ته یې وویل:
• یمونګ کورنو نه به ایجازه واخلو حال به ویرسره شریک کو، بیا به راسو...
• ښکه مو چې خوښه وي زه دیو کال ټول لګښت ته تیار یم.
صادق دغو دوو زده کوونکو سره د مرستې هیڅ ونه ویل، دا ځکه چې د دوی دفتر یواځې د هېواد دننه زده کوونکو سره مرسته کوله.
د پېښور زده کوونکو سره مرسته د دوی پلان او آجندا کې نه وه.
هلکان غبرګ پاڅېدل.
د دفتر یو اړخ ته مومنیار له دوو استادانو سره په کاغذونو بوخت وو څه یې لیکل او د دوی خبرو ته غوږ وو. کله چې هلکان ووتل، یوه یې حاجی شهزاده ته وویل:
• کور دې اباد. لويې صدقې ته دې سینه وډبوله. که زما په وس څه پوره وای دوی سره مې مرسته کوله، خو څه وکم چې یووزری یم. دغو هلکانو ریښتیا ویل. زه هغه وخت ننګرهار پوهنتون کې محصل وم. ډېرې سختې ورځې وې، په خلکو بده غریبي راغلې وه، زموږ استادانو به دشپې په کلیو کې د سپوږمی رڼا ته د خلکو لو کاو، خښتې به یې وهلې یا به یې نور کارونه کول، یو کپ وچه- لمده به

يې موندله او د ورځې به يې مور ته درسونه ويل. دغه دوه تنه استادان چې دوى ياد کړل د پوهنتون تر ټولو تکړه استادان وو. يو يې م.هـ. بشريارفليپين کې ماستري کړې وه، دا بل م. ن. حبيبي د امريکې متحده ايالاتو د "اکهالاما يونيورستى" فارغ و. دواړو څه موده کابل پوهنتون او د کابل د ښوونکى عالى موسسه کې هم تدريس کړى و. دواړه په انګليسى ژبه لاسبري وو. د اروابناد بشريار جنازه ژر پيدا شوه، خو د اروابناد حبيبي جنازه څو ورځې وروسته د لالپورې سيمه کې وموندل شوه. کليوالو د سيند غاړې ته ليدلى و. درونتې ته يې خبر راواستاو او مور يوه ډله محصلان هم ورپسې ولاړو. جنازه مو کابل ته ورسره ولېږدوله او دفن مو کړه.

حاجى شهزاده دې کيسې ته هک حيران شو. د نويو منل کيدونکو محصلانو اسناد يې يو خوا کړل، څنګلې يې پر مېز تکيه کړې او پوره غوږ شو. استاد کيسه وغځوله:

- ډېره غمجنه ورځ وه. دواړه استادان مسافروو. د نورو ولايتو وو. هغه وخت ننګرهار کې د ماستري، Msc.اوPhD لرونکي او په بهرنيو ژبو پوه او د پوهنتون د استادي وړ کسان د ګوتو په شمار وو. ننګرهار پوهنتون کې د کابل او نوروليې ولايتونو استادانو خدمت کاو. اوس د خداى فضل دى ننګرهار کې ځوانان فارغ شول او پوهنتون ترډېره د همدې ولايت استادان چلوي، خو پخوا مسافرو استادانو را سره درونډ بار اوچت کړى و، خداى دى دوى ته اجرونه ورکړي او د دوى زحمت دى الله پاک جاريه صدقه کې وشميري. دا دواړه استادان هم مسافر وو.

دا وخت استاد مومنيارهم قلم خپلې مخې ته په پرتو پاڼو کېښود، د ګوتو شخې يې وکښله، شهزاده ته يې خپل نکل پيل کړ:

- يره حاجى صاحب عربانو ډېر زياتى کاو. لکه دا تا چې اوس کيسه وکړه او ودې ويل چې عرب نارې وهلې ارى ابواب الجنة

مفتوحه لګُم ... همدغه د جنت دعوتونه یې په کلیو کې هم شروع کړي وو.
حاجی شهزاده ورته غوږ شو. استادمومنیار د خپل کلي کیسه راپیل کړه:

• حاجی صاحب زه چې له پوهنتون فارغ شوم، د عسکري له ویرې کلي ته ولاړم. زموږ کلي کې د وطني تنظیمونو ترڅنګ دعربانو مرکز هم و، زه د قرآن قاري وم او په عربي هم پوهېدم. عربانو سره مې راشه- درشه شوه. دوی غټ اسونه او کچرې لرلې. آسونه یې خیر، خو دې کچرو یې داسې لغتې وهلې چې سرې به یې په هوا کاوو، یوولس پوښتۍ یې ورماتولې. کلیوالو خوارانو د دوی ډېر قدر کاو. د جُمعې په شپو به کلیوالو په وار دوی ته یوه میلمستیا کوله. یو ماښام تاجمیر آکا رامیلمه کړل. خپل یوائینی سیرلی یې ورته حلال کړ. د اوړي ماښام و. تاجمیر اکا له خپل زوی سره د دیرې په چوتره کټونه کېښودل، پوزي یې هوار کړل اود چوترې شاوخوا یې اوبه وشیندلې. درې عربان او ورسره دوه مجاهدین راغلل. تاجمیر اکا یې هرکلی وکړ. د ماښام لمونځ یې په جمع سره په چوتره وکړ. وروسته ترلمانځه پینځه واړه له کټونو کوز په پوزي کیناستل. تاجمیر اکا عربو ته د خپلې کروندې او کښت کیسه پیل کړه. دوی ته یې وویل چې تازه همدې ورځو کې یې د شوتلې او غنمو دوه پټې کولبه کړل او نن یې جوارو ته وتره نېولې ده. مني ته به له خبره خپل زلمي زوی ته کوژده کوي...دا وخت د تاجمیر زوی کوزړۍ او چلمچي سره راغی، مېلمنو ته یې اوبه واچولې. ورپسې دسترخان هوار شو. د غوړې ښوروا کاسې راغلې. په چوتره یو څه د الکین رڼا وه او یوڅه د سپوږمۍ رڼا وه چې د ونو د پاڼو له منځه په چوتره را لوېدلې وه. چې ډوډۍ وخوړل شوه، تولو لاسونه پورته کړل او دُعا یې وکړه. عرب تاجمیر ته وویل خدای دې برکت نصیب کړه. دوو مجاهدو د دوی خبرې تاجمیر ته ژباړلې. تاجمیر دسترخان ټول

کړ او لوښي يې هم راواخيستل. دتاجمير زوی بيا چلمچی او کوزړۍ راوړه.
دا وخت تاجمير زوی ته اشاره وکړه چې چلمچي د ميلمنو مخې ته کيږدي او اوبه واچوي. زلمکي زوی يې اوبه واچولې او بېرته روان شو. تاجمير اکا دا وخت مجاهد ته ووېل:

- وروره شيخ صاحب ته ووايه چې موږ د مجاهدو خذمتګار يو، اخلاص درته لرو، الله دی راته ثوابونه نصيب کړي، خدای دې همداسې د يوې جُمعی په شپه قبرراته په نصيب کړي.

مجاهد عرب ته د تاجمير خبره په عربي ووېله. عرب ورو خپل زنګانه لاندې ماشينګنه تاجمير ته برابره کړه، هغه لوښي لاسو کې نيولي وو او دسترخان يې تخرګ لاندی کړی و، غوښتل يې لوښي يوسي چې ورپسې ضربه وشوه. لس- دولس مرمۍ په ملا او اوږه ولګېد او د چوترې غاړې ته پريوت. عرب شيخ مجاهد ته وخندل ورته ويې ويل:

- د سپين ږيري ارمان مې ور پوره کړ، مبارک!

دا وخت د تاجمير زوی چې لا يې چلمچي په لاس کې وه دپلار په ليدو پر زمکه پرېوت او منګولی يې په نوجنه چوتره خښې کړې. په هغه سبا مو تاجمير خاورو ته وسپاره، هم يې يواځينی سيرلی لاړ او هم خپله.
حاجی شهزاده هک حيران شو. بې اختياره يې لاس پورته شو او په ښت باندې د ساتور پاتې ټپ باندې يې ګوتې تيرې کړې. د دې کيسې په اورېدو يې خپله کيسه هېره او بيا يې چاته ونه کړه. صادق د استاد مومنيار کيسې ته چُرت کې و.

**(۴۵)**

صادق له پېښور او پلوشي له اروپا څخه تر راستنېدو وروسته اتلس کاله کار وکړ. (اتلس کلونه!) په خوله يادېږي. صادق داسې انګېرله چې د کلونو دشمېر په اندازه عمر يې نه دی کړی: پوهنتون پای ته ورسول شو، له ماشومتوب د پوهنتون ترفراغت پوله کيسه ايله شلو پاڼوکې وليکل شي، څلورکاله کلي کې ژوند چې يواځې درې پاڼو کې ليکل کيدای شي او پنځو دقيقو کې يو چاته ويل کيدای شي، ديارلس کاله(!) پېښور کې مهاجرت چې يواځې څلورو پاڼو کې ليکل کيدای شي او لسو دقيقو کې يو چاته ويل کيدای شي! وروسته له مهاجرت وطن ته راستنېدل اواتلس کاله د ځوانانو د راتلونکې لپاره کار او هلې ځلې چې پنځو پاڼو کې ليکل او لس دقيقو کې ويل کيدای شي! لکه هغه فلم چې ډېر ګړندی له سترګو تېرشي! دا نو ژوند شو؟!

- تېرو اتلس کلونو کې هغه ماشومان چې ښوونځي ته تللي وو، اوس له پوهنتونونو څخه فارغ او په لويه هيله يې بېلابېلو ادارو، سازمانو، شرکتونو او موسسو کې کارونه کول، هرولايت کې پوهنتونونه جوړ و، د همدې کلونو فارغ شويو ځوانانو پکې د راتلونکې نسل روزنه کوله. د وطن سيندونو ته بندونه تړل کېدل، نوي بندرونه جوړېدل او په سيمه ييزو سازمانو کې افغانستان غړيتوب ترلاسه کاو، نوي روغتونونه آباد شول، د حکومت تشکيلاتو، د ولايتونو او ولسواليو شمېرکې زياتوالی راغلی و، افغانستان د يوه متمدن قانون لرونکی شوی و، ښوونځيو کې زرګونه ښوونکې په کار ګومارل شوي وو، دفترونه د آی.ټي په وسايلو سمبال شوي وو، ښارونو ته برېښنا رسول شوې وه، هوايي ډګرونه جوړ او پراخ شوي وو... خو په افغانانو د آرام ژوند لورېينه نه وه، ټولې ناولې سترګې د دې ښکلي وطن په لوري را کږې وې. له انګلو- پاک څخه بيا د کشمير دعوادار شاباز بر آلا وويل: چې ترڅو کشمير ونه ګټل شي، په کابل کې به هيڅکله سوله نه وي!

کله چې ش.شاباز له (ولايت- لندن) انګلو- پاک ته راستون شو، له هيچا يې پټه نه کړه، ښکاره يې وويل چې کابل به په کرار پاتې نشي! بی. بی. سي. بيا هم نغارې ډنګولې. خلکوپه خپګان او وېره ليدل چې دا اتلس کاله کليو او ښارونو کې ژوند او د رغاونې کارونه له بمباريو، چاودنو، دشپې له چاپو، بندي کولو، سر پرې کولو او سختې ويرې سره يو ځای و. د انګليس نازولی شازاده(پرنس هري) په الوتکه سپورشو او ځومره يې چې وس وشو، بمونه يې وغورځول. کله يې چې هلمند کې وروستی بم غورځاو دشنوچشمکو له شا يې پورته شويو دوړو او په بل مخ اړول شوي کلي کتل، داسې يې و انګيرله چې د ملالې او ايوب خان کسات يې واخيست او بېرته ولايت- لندن ته ستون شو. انګرېزشازاده هنری چارلزاليزابت ديويد خپل واده کې يوسل او څلوېښت ميليون ډالره لګښت وکړ، خو له دې واده څخه ورته دميوند او هلمند بمبارې لومړيتوب درلود او او ورته خوندور و. کله چې له خپلې لنډکی سرې ړيرې سره بيرته ولايت ته ستون شو د انګلو- پاک جنتلمينانو او د اليزابت کورنی د روحي آرامتيا احساس وکړ او هغه يې ونازاو.
صادق ته د بغلاني کاکا دزړه خواله، دحاجی شهزاده دخټ ټپ،د تاجميرغمجنه کيسه او د معارف لپاره خپلې اتلس کلنې خواری هم فلم او په ويښه خوب ليدل ښکاري او د خپل ژوند پېښې ورياديږي:
د دغه ګړندي فلم هغې برخې ته ځير شو چې په تاند زلميتوب کې له ښارڅخه کلي ته او بيا د ځوانی په ورځو کې پېښور ته مهاجر شو. د مهاجرت ناخوالې يې تېرې کړې، د پوليسو، سپيشيل برانچ او کمشنری منتونه او سپکې- سپورې ورپه يادشوې. دا دی اوس يې خپل وطن کې هم په آرام نه پرېږدي او د عزت ژوند ورته نه غواړي. هر ځل هينداره کې خپلې څېرې ته په کتلو سره داسې انګيري چې د خپل عُمر په اندازه يې ژوند نه دی کړی. د ده د ځوانی ژوند کډې او سفرونه وو: له ښار څخه کلي ته، له کلي پېښورته او له پېښور

ښېرته ښار ته. په سږکونو يې د (هاموی) او (کلسبر)کتارونو ته کتل چې لکه ژير غوباړي کتار شوي دي. په هوا کې چينوک، اپاچي او بلک هاک ګرځي چې د وطن آسمان يې بدرنګه کړی دی. په کابل هغو راج چلاو چې سفير ورته له الوتکو ښخه وسلې او د آسونو لپاره يې بوساړې غورځولې وې او د کابل خونړی او په وينو ککړ ارګ بيا له يوه لاس ښخه بل ته لويدلی و... ډېر ژر هغه وختونه ورياد شول چې يووخت روسی سو۷، سوخوی، می ل ۱۷ هليکوپتر لکه توري غومبسې شاوخوا تاوېدل او په سږکونو يې تي۶۰، مي۳۵ او (پي تي ار ۸۰ زغره وال) ګرځېدل. د شوروی پوځ په وړاندې د خلکو وينې په جوش وې، ځوانان سنګرونو ته روان وو، پلوشې د خپلواکۍ غږ اوچت کړی و، بوډاګانو د ولس د سر د سلامتۍ او خير لپاره دُعاوی کولې او اوس دا دی يوځل بيا پردی لښکر له نويو وسلو سره د انګلو- امريکن د نبراسکا د پروژې د تمامولو په نيامت را دانګلي دي. د ولفوويتز ُدکترين په مخ روان دي، سفير ذال د مکر خندا کوي، ستيژ ته يې د لبرال ديموکراسی ډرامه راوړې ده، د برايډاس او يونيکال په خيالاتو کې ډوب دی، په جګړو کې ځپل شوي ولس ته رنګارنګ وعدې ورکوي. پلوشې ريښتياويل:

"...مصيبت هماغه لومړی ځل هم مصيبت دی، خو تکرار يې مسخره ګی او لا لوی مصيبت دی... "

اوس ورپه ياديږي چې دا خبره زموږ د پوهنځی په لومړي ټولګي کې (د افغانستان معاصرتاريخ) سپين سرې او د ذره بينی عينکو لرونکي استاد داکتر ع.ن. کړې وه. ريښتيا يې ويلي وو: تاريخ ډېر سختګير معلم دی، که تاريخ زده نه کړې بيا درباندې راځي، که هېر يې کړې بيا درباندې راځي، چې بيا يې زده نه کړې بيا هم درباندې راځي!

***

هره ورځ له پېښوره کډې را رواني وې. په مهاجرت کې را لوی شوي ځوانان د پلرونو کلاوو ته راستنېدل او شاړې کروندې او پولې يې جوړولې، ميندو ساړه شوي نغري بيا تاوده کړل او نړېدلې پخڅې او بامبوتی بېرته جوړېدې. ښارونو کې نړيدلي روغتونونه، کنډر سړکونه، د اوبو زيرمې، د بريښنا مزي او ودانۍ ورغاول شوې. ستومانه ولس د بيا رغاونې په چارو بوخت شو. يوه ودانۍ نه وه، ټول ښارونه او کلی ويجاړ وو، ټولو جوړول غوښتل. وطن ستړی و، خو د ژوند کاروان ايسار نه و. ښارونه پراخه شول او کلی روښانه شول. ډېرڅه ويجاړ شوي وو، جوړېدل يې غوښتل، خو ځينی بېرته ورانېدل هم. د رغاونې د چارو ترڅنګ؛ ولس د چاودنو، بمباريو، بمونو او بوشکو د انفجار له بوږنوونکو خبرونو سره سره ژوند او سولې ته هيله لرله. صادق او پلوشې هم د ستړيا احساس ونه کړ.
تاريخ مو ښه نه و لوستی نوځکه بيا را وګرځېد!
لويه لوبه روانه وه. لويې لوبې لکه خبيثه ريښه هر ځل نوې تېغنې وهلې، موږ ته يې پای نه و څرګند: يوځل بيا سفيرانو هوکړه ليکونو ته ملا وتړله. کله شرق هوټل او کله شيراتون کې لوی لوی ديګونه بار شول او د پيسو بوجۍ وويشل شوې. (شيراتون) په (بُن) چلېپا وکښله. مُفسد او متفرق نظام د کرکې وړ ګرځېدلی و، د بُن د تړون پر کاغذ ليکلې کربښې ړنګې او پر ځای يې شيراتون کې نوی تړون وليکل شو. دا وخت صادق و منله چې د(خُشکه بانکا) رحيم بيګ په ټولو خبرو کې همدا يوه خبره ريښتيا شوه: (...نور د جنګونو دوران تېرشو، د تړونونو دوران راغی!).
دوه کاله سفيرانو د شېراتون تړون ګرځاو، راګرځاو چې د کابل ارګ کې بيا تخت په بل مخ واوښت. د تصادفاتو، پېښو او معجزو وطن کې د دوحې دشيراتون هنګامې خلک الوتکوپسې ځوړند کړل، خلکو يو ځل بيا د کورونو اسبابونه راکښل او په سړکونو يې په نيمه بيه پلورل. لکه په کلي چې سيلاو راشي او خلک کورونه پرېږدي او

تښتي. مشر او کشر ټول وتښتېدل. په ښارونو کې د ښځو اونجونو رنګونه له ويرې الوتي وو او ژرژر يې دجامو له صندقونو بُرقعې او لوی ټيکري راکښل، بولدک کې لا دځلور سوه ځوانانو جنازې خاورو ته نه وې سپارل شوې او د لشکرګاه پرسرکونو مړي پراته وو چې کابل کې درې رنګه بيرغ راکوزشو. سفيربشپړ امنيت غوښت. نوې پروژې (امنيت) غواړي، د سفير په فکر : د پروژو لپاره امنيت بايد د هديرې امنيت وي!

اتلس کاله مخکې چې صادق له پېښور څخه راستون شو تر نن پورې نوي حکومت مات اوګوډ شل کاله عمر وکړ، آخر يې د شيراتون په ترون سره سر وخوړ. ده ته ورياد شول چې له پېښور څخه د راستنېدو په مهال د ده سر او ږيره کې يې يو يو ډکی سپين و، دا دی اوس يې ږيره له نيمايي زياته سپينه شوې ده. اوس يې پلرني کورکې هغه خوشحالي نشته چې ديرش کاله مخکې وه. د حاجی عبدالخالق جومات شته، خو شاوخوا هغه همزولي نشته چې صادق سره به يو ځای پوهنتون ته تلل. د ده په اوږه د پلار پياوړی لاس نشته چې قوت ورکړي، مور ډېره زهيره شوې ده، خور طب لوستی دی، خو اوس له کار څخه را ګرځول شوې ده...

تاريخ مو ښه نه و لوستی، نوځکه بيا را وګرځېد! ملي اردو يو ځل بيا دړې- وړې شوه. نظام سقوط شو. دبغلاني کاکا زوی ملی اردو کې دنده پرېښوده، کور ته راغلی او صادق سره د زړه خواله کوي. دصادق خوارۍ او هلې ځلې ستايي، خو د شلو کلونو دخواريو سقوط ته خپه دی. صادق ته ډاډ ورکوي:

صادق هينداره کې خپلې څېرې ته وکتل. يوځل بيا يې داسي وانګېرله چې د خپل عمرد کلونو په اندازه يې ژوند نه دی کړی. ژوند ګړندی فلم و ژر ژر تېرشو. قدوس ورپه ياد شو چې له غرو اوسمندرونو پنا شو، علي ورياد شو، ناصر او دهغه ليکلې لندۍ ورپه ياد شوې، بازګل ورپه ياد شو چې دبهلول دانا او د هغه د کند او کچکول کيسې

او د ديپلوماسي نكل يې كاو. بازګل د توران او موران د وخت د سفير مكر او د هغه يوه لستوڼي كې دشكوڼ غشی او بل كې پستې بنكي او د ډوډۍ پرميز باندې يې د پټې خولې ديپلوماسي ورياده شوه. دانا بهلول د دغه مكار او په خپلو ګټو مين سفير ديپلوماسي ته ورځواب وركړ او هغه يې په تراټ وځغلاو. صادق ته بيوزله عبدالوكيل ورپه ياد شو چې ورور يې وسله والو په نيمه شپه كې ويشتی و. بيا د ځوانيمرګ قبر او دهغه سپين سرې مور ورپه يادشوه... په دې سره يې د سفيرانو ناولې ديپلوماسی ته غوسه زياته شوه، هغه چې اصلی ټكی يې (دګټوساتل) دي. پروفيسور د سفير او ديپلوماسی په تعريف كې (د ګټو ساتل) ويلی و او دا ټكی يې په تخته باندې اندرلاين كړی و.

صادق د تېرو شلو كلونو مخكې خيالونو او چُرتونو څخه رابهر شو. د پلوشې دا خبره ورياده شوه: ژوند پيښې او معجزې لري. اوس دا دی د شيراتون پېښه د سفير له لستوڼي راووته. يوه لستوڼي كې بُن بل كې شيراتون. دا وطن كله په يو ترون سم نيمايي شي، په بل بيا بفرستيت شي، كله په بل ترون د پنځوسو هيوادو لښكر غوبل پكې جوړ كړي او بيا په بل ترون تپه تياره شي...

بی. بی. سی. بيا هم لګيا وه او د تېښتې كيسې يې كولې تلويزيونو دهغې لويې- تورې الوتكې عكسونه ښودل چې له وزره لاندې يې يو ځوان او بيا ورپسې بل ځوان په زمكه راولويږي. الوتكه وار په وار ليرې او د لوړو غرونو له څوكو څخه ډېره اوچتيږي چې له سمندرونو واوړي. دلته د هوايي ډګر د ځغاستې پر كرښه هغې ته د ختلو ډېر ارمانجن سرګردان پاتې دي، تر څنډه ورپسې ګوري.

## (۴۶)

تاريخ مو ښه نه و لوستی، نوځكه بيا را وګرځېد!

د نړۍ سراسر کې خلک د تلويزيونونو په سکرين باندې هغې الوتکې ته حيران دي چې خلکو ځانونه ورپورې ځړولي دي او الوتکه وار په وار پورته کيږي، يو ځل يو او بل ځل دوهم ورلاندې ښکته د ځمکې په لورراخوشې شي او سا يې په هوا کې وخيژي!
له دې پېښې دوه کاله مخکې صادق او پلوشې د نورو ټولو سيمو ښوونځيو ته مرسته او وسايل لېږلي وو، خو تر ټولو لرې ولايت، نيمروز پاتې و. نيمروز ته د نجونو د ښوونځيو لپاره کتابونه، کتابچې، قلمونه او د ميزونو، چوکيو، دښوونکو لپاره درې مياشتنۍ کُمکې معاش او د ودانيو د بشپړلو لپاره نغدي مرسته يې چمتو کړې وه، غوښتل يې نيمروز ته يې ورسوي، خو رسولو ته يې حيران وو. دوی ژمنه کړې وه چې معارف ته خدمت اصلي کار او رېښتيانی جهاد دی. معارف په کتاب، قلم او کتابچه چليږي، وړی ښوونکی يې نشي چلولای، ښوونکی بايد ډوډۍ ولري. نو دوی وپتيبله چې شوراکې د نيمروز يازرنج دخلکو کوم وکيل وموميي او مرسته ورځخه وغواړي.
په دې ورځ چې نړيوالو الوتکې پورې د ځوړندو ځوانانو ننداره کوله، صادق ته ورياد شول چې له نن څخه دوه کاله مخکې اينجنيرسيف الدين ده ته په رموز کې يو څه ويلی و، هغه څه و چې هغه وخت يې په مانا نه و پوهېدلی!؟
په حافظه يې زورواچاو ورياد شول: دوه کاله مخکې چې ده او پلوشې درې ورځې شوراته تګ- راتګ کاو چې د نيمروز د وکيل په مرسته د نيمروز معارف ته مرسته ورسوي، خو د نيمروز يو وکيل يې هم ونشو ليدلای. يوه ورځ خبر شول چې دوو کانديد وزيرانو وکيلانو ته د نوي ښار د مُسلم کوڅې ته نږدې (هرات رستورانت) کې ميلمستيا کړې ده. دغې ميلمستيا ته د نيمروز وکيل هم بلل شوی دی، دواړه ورغلل. ور ياد شول چې هرات رستوران په ټول نوي ښار او ټول کابل کې نامتو دی. څلور ډوله کبابونه، قابلي، سوپ،

آش او چاينکي يې نوم لري. د زعفراني چای صفت يې هم خلکو اورېدلی و. د هرات رستورانت مخه د وکيلانو وسله والوساتونکو نيولی وه، څوک يې نه پرېښودل، سوالګر يې ځغلول او لاره باندې تېرېدونکو خلکو ته يې هم برندې برندې کتل. صادق يو آشنا وموند. هغه دحقوقو د پوهنځی يو فارغ و چې له دوی څخه دوه کاله وروسته و. صادق هغه سره د پوهنتون دوره کې ډېره مرسته کړې وه، د نوټ څو کتابچې او يو څو د حقوقي مسايلو کتابونه او يوه انګليسي ډکشنري يې سوغات ورکړې وو. نوم يې قدير جان و. قدير جان اوس د نيمروز يو وکيل سره (حقوقی مشاور) دی او د مياشتې څلوېښت زره افغانۍ معاش لري. وکيل صاحب ته حقوقی مسايل ورښيي، کليزه اوکمپوټر ورزده کوي او د کابل ښار بېلابېلو سيمو کې يې بلدوي. قديرجان اوس د وکيل صاحب ښۍ لاس دی، چې وکيل صاحب پرته د قديرجان له لارښوونې او مشورې يوه خبره هم نشي کولای. دا د صادق او پلوشې طالع وې چې يو زورور آشنايې وموند چې د وکيل صاحب ښی لاس دی(!). دواړه ډېر خوشحاله شول. وکيل صاحب د جهاد په کلونو کې د(جمعيت) تنظيم کې قوماندان او بيا د اسلامي دولت پر مهال، (حوزه غرب) کې لوی چارواکی و، کله چې اسلامي امارت اسلامی دولت چپه کړ، وکيل صاحب د حوزه غرب اميرصاحب سره بېرته ايران ته وتښتېد، کله چې لومړی بُن دايرشو اود بُن پريکړو سره سم؛ نوی حکومت جوړ شو، وکيل صاحب له ايرانه راغی، له هرات، ترفراه او نيمروز پورې د رسوخ خاوند او بيا ورپسې (وکيل) شو، دا دی نن هرات رستورانت ته کانديد وزيرانو را مېلمه کړی دی.

صادق عجيبه سايکالوجيکي ځانګړنه لري، يوځل چې ځُرت کې ډوب شي، يو فلم يې دسترګو له مخې تيرېږي، کټ مټ ريښتيانی فلم! ورياد شول چې له نن څخه دوه کاله مخکې دهرات رستورانت مخه کې

قدیرجان دوی ته ویلی و چې په داسې وختونو کې هیڅوک هم وکیل صاحب په آسانه نشي لیدلای. ښه ورپه یاد شول:
قدیر جان په خجالتي ځېره صادق ته ویل چې مېلمستیا د ورځې یوولس بجې پیل شوې او د مازیګر تر ځلورو دوام کوي. تر هغه وخته به موږ په یو بل رستورانت کې ډوډۍ وخورو او انتظار به وکړو.
چاره نه وه. صادق او پلوشې د وکیل صاحب د مشاور خبره ومنله او د هرات رستورانت څخه لږ وړاندې یوبل هوټل کې کېناستل. له هغه ځایه د هرات رستورانت دروازه او لویه لیکلي دړه له ورایه ښکارېده، د وسله والو باډیګارډانو یو غوبل وو. ډله ډله ګرځېدل. دوی د غرمې ډوډۍ راوغوښتله. ستړي ستومانه وو او په دې سوچ کې وو چې د نیمروز ښوونځیو ته په څه ډول نغده مرسته او وسایل واستوي. دې وخت کې به کله قدیرجان د پوهنتون د وخت کیسه راواخیسته او له صادق به یې مننه وکړه چې څومره مرستې یې ورسره کړې وې، کله به یې پلوشې ته په ډېردرناوي او ادب د خپلو بوختیاوو کیسه کوله او هر شیبه یې تازه چای راغوښت او هڅه یې کوله چې صادق او پلوشه تر ځلورو بجو ستومانه نشي. قدیرجان د صادق او پلوشې له خیریه چارو ډېره مننه وکړه او ډاډ یې ورکړ چې ان شاالله افغانستان کې به د دوی په هڅو یو بیدار او تعلیم یافته نسل وروزل شي.
دوه بجې شوې، صادق د حاجی یعقوب جومات کې د ماسپښین لمونځ وکړ بېرته رستورانت ته راغی، پلوشه ډېره ستومانه او د انتظار شیبو یې زړه ورتنګ کړی و. درې بجې قدیر جان ته د وکیل صاحب زنګ راغی، په بیړه پاڅېد او هرات رستورانت ته ورغی. نیم ساعت وروسته بېرته راستون شو. صادق ورڅخه وپوښتل وکیل صاحب څه ویل او کله راوځي چې موږ ورسره خبره وکړو. قدیرجان وویل:

وکيل صاحب زه ورروغوښتم، کانديد وزيرانو هر وکيل ته لس لس زره ډالره سوغات ورکړی چې شوراکې رايه واخلي، وکيل صاحب د ډالرو په حساب نه پوهېد او شک کې و چې کوم نوټ بدل نه وي، زه يې ورروغوښتم پيسې مې ورته وشمېرلې او هر لوټ مې جلا جلا چک کړ بدل نه و. پوره څلور بجې راوځې زه به ستاسې موضوع ورسره ياده کړم. صادق او پلوشې يوبل ته په خپګان او ناهيلی وکتل، لکه د وطن د بدمرغی د ختمولو ضمانت چې همدوی کړی وي، خو لار ورته نشي موندلای.

پوره څلور بجې قديرجان ته بيا د وکيل صاحب زنګ راغی. په منډه ور ووت. هرات رستورانت څخه يوه ډله وسله وال او باډيګاردان مخکې او يو څو وکيلان ورپسې د رستورانت مخی ته ولاړو تورو موټروته وختل. قديرجان ونشو کولای چې وکيل صاحب سره خبره وکړي او د پلوشې او صادق دملاقات وخت واخلي. ټول وکيلان په بيړه وو او يوه شيبه کې تور موټر لکه مرمی روان شول، ورپسې د باډيګاردانو يو اوږد کتار او لاخره د سوالګرو ډله چې څو ګامونه تش لاسونه ورپسې وځغلېدل، خو تر پلوشې او صادق بتر ناهيلي شول. وکيل صاحبان دسترګو په رپ کې پنا شول او تور موټر يې په هر سړک او څلورلارو لکه تورلړمان چې لکی په سر واړوي ګرندي ځغليدل.

پلوشه او صادق حيران وو. قديرجان دوی ته وويل :

- تاسو مه خپه کيږئ. وکيل صاحب سره کتل ډېر ستونزمن کار دی، خو زه همدا اوس روانېږم، ماښام به د وکيل صاحب دميلمنو خونه کې ورسره يم او تاسو ته به د کتنې وخت ونيسم.

له دې خبرې سره يې خدای پاماني وکړه او خپل موټر کې روان شو. صادق او پلوشه هم وکيل صاحب سره د کتنې په تمه ووتل.

ماښام قديرجان په ډېره خوشحالی او وياړ صادق ته تيلفون وکړ او ورته ويې ويل چی سبا لس بجې به شوراته راشې او وکيل صاحب

سره د ملاقات وخت يې نيولی دی، خو پلوشه خور دې نه راځي چې ډېره ستومانه ده او د شورا مخې ته به رسېدل او له دروازې تېرېدل او هلته د شورا د ملاقاتونو سالون کی انتظار به ورته ډير ستونزمن وي.

صادق ورته تيلفون کې وويل: قديرجانه کور دې ودان. زه به يواځې راشم.

په هغه سبا صادق د ګڼو خلکو منځ کې د شورا وره ته ورلنډ و چې قديرجان د ملاقات د اجازې يو توټه کاغذ( پارچه) د دروازې ساتونکو ته وښوده او صادق وکولای شول چی د وکيل صاحب حضور ته ورشي. ګڼ شمېرخلک د خپلو سيمو د ستونزو دهوارې په موخه راغلي وو، خو شورا ته ننوتل نا ممکن و. صادق د انتظار سالون کې کېناست، درې تنه نور نيمرزويان هم ناست وو. کله چې وکيل صاحب له خپلې نوې لونګۍ او ځلنده بوټانو او چپن سره د ملاقات سالون ته راغی، لومړی وار د صادق و. وکيل صاحب سره دوه تيلفونونه وو، پرله پسې زنګونه ورته راتلل. صادق ته يې د خبرو اشاره وکړه:

- څه موشکل لری وروره!

صادق ځان وروپېژاند او د نيمروز ښوونځيو سره يې دمرستې خبره ورته وکړه. وکيل صاحب ورخخه وپوښتل:

- څه ډول مرسته؟
- وکيل صاحب، موږ هلته زده کوونکو ته کتابونه، کتابچې او قلمونه وورړو او ښوونکو ته نغدي مرسته رسوو او يو څه لګښت د ښوونځيو د ودانيو لپاره تر سره کوو.

وکيل بيا مخ صادق ته واړاو:

- ماليم صاحب، تا ويل نغده مرسته هم ده؟

هو کيدای شي، بيوزلو زده کوونکو سره مرسته وکړو او د ښوونکو درې درې مياشتې معاش ورکړو.

وکیل صاحب ته خبره مهمه ښکاره شوه، تیلفونونه یې لری کړل، چُرت کې شو. لږ شیبه وروسته یې وویل :

• له نیمروز سره ګُمکونه او پروژې ماسره تعلُق لري. زه منحیث وکیل باید دا چاره سمبال کړم. تاسې باید دا پروژه ماته وسپارئ.

نه صیب، دا پروژه نه ده، ډېره کوچنۍ مرسته ده او مرسته کوونکي خلک زموږ ټول کار ځاري. موږ کوم لوی دونر او کومه موسسه نه لرو. فقط زده کوونکو او ښوونکو سره د خپل وس سره سم ناچیزه مرسته کوو.

د وکیل صاحب تندی تریو شو، قدیرجان ته یې مخ واړاو:

مشاور صاحب! د اینجنیرصاحب سیف الدین نومره درکوم ته خو هغه پېژني، بګرام کې امریکائیانو سره کار کوي. کله چې موږ هر ځل نیمروز ته ځو، همدی راته الوتکه برابروي او هلته نیمروز کې هم د امریکائیانو بېز کې غاوره سړی دی او ټول یې پېژني. دا مالیم صاحب به وروپېژني چې کتابونه یوسي.

قدیرجان خوشحاله شو، (ښه) یې وویل.

صادق حیران و چې اینجنیر سیف الدین به څوک وي، چې د الوتکې واک لري او بګرام کې د امریکائیانو اډې او نیمروز کې یې بیز سره اړیکې دي؟

وکیل صاحب د نورو موکلینو د راغوښتلو امر وکړ. قدیرجان صادق ته وویل:

• ته خپه کیږه مه، زه به اینجنیرصاحب سره خبره وکړم، وخت به ورسره ونیسم بیا به تاسو ته تیلفون وکړم.

دوه ورځې وروسته کله چې پلوشې او صادق د بامیان دمعارف استازیو سره وکتل او دهغه ولایت د مرستو د ډیر ښه رسولو او ویشلو ډاډ یې ترلاسه کړی و، د بامیان والي دوی ته د مننې لیک ورکړ. پلوشه او صادق د بامیان له خلکو او والي ډېر خوښ شول،

په همدي خوشحالي کې د قدير جان زنګ راغی. د صادق خوشحالي نوره هم زياته شوه. کله يې چې تيلفون (اوکې) کړ غږ يې اوچت کړ چې پلوشه يې هم واوري او خوشحاله شي. قديرجان ورته وويل:
همدا نن ماښام د وزيراکبرخان مېنې ديارلسم سرک ته راشه، اينجنيزسيف الدين خپل کور کې دی، ماوتا به ورسره وګورو، خو خورکی پلوشه دې نه راځي. صادق ومنله او د خپل ورتګ ډاډ يې ورکړ. پلوشې خبرې اورېدې څه يې ونه ويل.
سم له ماښامه چې څراغونه ځلېدل صادق وزيراکبرخان مېنه کې ښودل شوي سرک ته ځان ورساو. کتل يې چې قديرجان ورته ولاړ و. قديرجان هماغسي مينه ناک و، لکه ديرش کاله مخکې چې د محصلي په مهال مينه ناک او ريښتنی و. هغه وخت يې هم صادق ته اخلاص درلود او اوس يې هم ورسره ډېره مرسته وکړه. کله چې وړاندې ورغی، هغه ورته وخندل او ستړی مه شی يې ورته وويله.
مخامخ يې يو د لوړو سمنټې ديوالو لرونکی کور ورروښود؛ ورته ويې ويل دا د اينجنير صاحب سيف الدين کور دی. کورنی يې امريکې کې اوسي، خپله يواځې دی، دوه نارينه او دوه ښځينه يې پخلنځي کې کار کوي. دوه چينايي ځواني ښځې هم دلته دې کور کې ورسره اوسي، خو نه پوهيږم چې هغوی څوک دي او دلته څه کوي. سيف الدين چې بګرام کې وي، هيڅوک د انګړ دننه نشي تلای، اته ويشت تنه باډيګاردان او محافظين ورته مقرر دي.
صادق کورته وکتل، ښه پريمانه اغزي لرونکی سيمان ورځخه تاو وو. د وسله والو ساتونکو مورچلې هم له ورايه ښکاريدې. دوی چې دروازی ته ورنږدې شول، يو مخابره والا غوسه ناک ساتونکی مخې ته ورته راغی، هغه قدير جان ځوځله نور هم اينجنيز سره ليدلی و، خو صادق يې نه و ليدلی، نو قديرجان څخه يې پوښتنه وکړه چې دا څوک دی؟

قديرجان ورته وويل: زموږ ملګرى دى اينجنيز صاحب راغوښتى دى. غوسه ناک ساتونکى مخابره کى خبرې وکړې، شيبه وروسته يې صادق او قديرجان سره تر پښو تلاشى کړل او انګړ ته ننوتل. انګړ کې شين چمن او د ګلانو بوټې وو، کټ مټ لکه د دوى د پېښور دفتر او لکه دbulding goolden انګړ، خو دا ودانۍ د سرد خاورې اود (غ ) رنګ نه لرې، دا ډېره ښايسته ودانى ده، دا د کابل په نقشه جوړه ده. له چمن څخه ورهاخوا د جاليو درې کپسونه وو، يوه کې د ماښام د څراغونو رڼا ته د يو سپي دوه سترګې وځلېدى، په بل کپس کې يو غټ کلنګى چرګ او په دې درېيم کې خړ خړ زرکان وو، چې د ماښام تياره کې مازې ښکارېدل. صادق قديرجان سره مېلمستون ته ننوت. ميلمستون ډېر لُکس او فيشني و، سرې غالى، رنګه څراغونه، د زينو دووه غاړوته ګلدانۍ او ښکلي لوښي...

نن چې نړۍ الوتکو پورې د زوړندو خلکو منظره ګوري او هک حيران دي، صادق ته د اينجنير کور او د دوه کلونو مخکې کيسه ورياده شوې ده. د ذهن کامره کې يې د هغه لُکس کور ټوله منظره يو ځل بيا را ژوندۍ شوه.

صادق عجيبه سايکالوجيکى ځانګړنه لري؛ په وېښه خوبونه ويني، په خوبونو کې دتاريخ پېښي ويني! ښه ورپه ياد شول چې دوه کاله مخکې کله چې له تلاشي کولو وروسته قديرجان سره د سيف الدين د وزيراکبرخان مينې لُکس او فيشني مېلمستون ته ننوت، هيلې يې ژوندۍ وې او د وطن برخليک لکه دنن په شان تور نه برېښېد.

صادق اندېښنو په سر اخيسيتى، ور په ياد شول کله چې د ميلمستون په کوچونو کيناستل، په ميز ميوې او خو بوتلونه پيپسي، انرژى او بلاوبتر ايښي وو. اينجنير له لوى دهليز څخه د ميلمنو کوټې ته را دننه شو، په هماغه شيبه يې لمبلي و، وېښتان يې لامده وو، را رسېدو سره سم يې د شامپو او مشکين صابون بوى خپورشو. قدير جان سره

يې روغبړ وکړ. بيا يی صادق ته هم لاس ورکړ. دا وخت قديرجان اينجنير ته وويل:
اينجنير صاحب زما د دې ملګري نوم صادق دی. ديرش کاله مخکې ما سره د حقوقو پوهنځي کې آشناشو، خو دوی راڅخه يو کال مخکې وو، ماسره يې هغه وخت ډېره مرسته کړې وه. ماوتا بيا همدوره وو. ياديږی دې؟ دواړو وخندل.
د صادق د حافظې پټې کمرې يو ځل بيا انځورونه روښانه کړل:
صادق ته ورياد شول چې سيف الدين يې لا د مظاهرې په ورځ ليدلی و، چې هلکانو (سيفو!، سيفوی بوغمه!) نارې ورته وهلې، غږ يې لکه چرګ چې نوی په آذان راغلی وي، خو اوس سيف الدين ډېر بدل شوی دی. غږ يې لکه د بی. بی. سي. نطاق او څيره يې صفا سُتره شوې او دا مخ يې عجب پلاستيکی جراحي کړی دی، پوزه يې هسکه شوې، دوو خواوو ته يې موړې هوارې شوي، اوس داسې نه ښکاری لکه درې پوزې چې ولري. زوی دې لوی شه امريکې چی کوږ سړي څخه سم ښايسته ځوان جوړوي!
قديرجان سيف الدين ته د صادق او پلوشې د هلو- ځلو اود معارف د جهاد خبره کوله. دا وخت صادق ته د ديرشو کلونو مخکی سيف الدين ورياد شو: د ده د حافظې کمرې هغه انځور هم روښانه کړ چې سيفو له مرده باد چيغو سره مرده باد نارې وهلې او سوکان يې ايله د هلکانو تر اوږو رسېدل، خندا ورغله، خو ژر يې ځان کابو کړ.
سيف الدين بيا وخندل او قدير ته يې وويل هو ښه مې ياد دي. عجب وخت و، خو ما پوهنتون له لومړي ټولګي وروسته پرېښود او پلار سره د ايران مشهد ته مهاجر شوم. څه آهو موټر او مالداري مو چې وه هغه مو نيمروز کې وپلورل او مشهد کې مو کور رانيو. موږ له تورن صاحب ا.خان سره جهاد پيل کړ، په بل کال يې د امريکې د فلوريدا د ايالت د (اورلاندو) ښارته مهاجر شوم، خو هغه چندان ځای نه و، د ساحل اوبه به تل په ځپو وې، نوځکه د کالفورنيا (نيوادا) ته

ولاړم. د کاليفورنيا د سمندر د غاړو اوبه ويرووونکې څپې نه لري، يو څه آرام دى. دجهاد تر پايه او بيا د کابل جنګو کې په همدې نيوادا کې وم، کله چې ناټو افغانستان ته راغله، زه هم د ژباړونکې په توګه ورسره راغلم. څه موده د پلچرخي خواته ورلنډ، د حربي پوهنتون مخامخ د ايساف مرکزي قومنداني کې ژباړونکى او پوځي مشاور وم. ورروسته امريکائيانوسره بګرام ته ولاړم او دا دى اوولس کاله شول هلته يم. کال کې يو دوه ځله کاليفورنيا ته ځم خپله کورنۍ ګورم، خو تر هغه ځايه دلته راباندې وخت ښه تيريږي. قديرجان بيا وخندل او ورته ويې ويل:

- ښه دې وکړل ځان دې بيغمه کړى و، موږ خو دلته د چاى اوډوډى، کار داوطلبانه، راکټونو او عسکري او لوږې- تندې له لاسه ولاکه د ځواني په عُمر پوه شوي ياستو. ډيرې ترخې ورځې مو تېرې کړى، ورکوه يې جنګ دې ورک شي او نوم يې. اوس دې خداى کراري کړي چې وطن بېرته اباد کړو. دا دى صادق جان د ماشومانو تعليم سره د مرستې ملا تړلې ده. غواړي د نيمروز معارف ته مرسته واستوي او په خپل لاس يې مستحقو ته ورکړي، نو ځکه تا ته راغلو چې آسانتيا او امکانات ورته برابر کړې.

سيف الدين صادق ته مخ واړاو:

- ماته پرون وکيل صاحب تيلفون کې دا خبره وکړه، کاشکې دا ټوله پروژه وکيل صاحب ته وسپارې.

نه اينجنير صاحب ، دا پروژه نه ده، دا زما او د پلوشې يو ملى تلاش او ارمان دى. غواړو خپله يې ترسره کړو.

سيف الدين چې نيمه پيپسي څښلې وه،هغه يې کېښوده، صادق څخه يې بيا وپوښتل:

- موږ څه کولاى شو؟
- اينجنيرصاحب تاسو صرف نيمروز ته دالوتکو په يو پرواز کې زموږ د وسايلو دليږد اسانتيا راته برابره کړې. موږ به يوه اونۍ

کې وسايل په ښوونځيو وويشو او ښوونکو ته به درې درې مياشتې معاشونه ورکړو، بېرته به راشو.
اينجنير حيران شو، پوښتنه يې وکړه:
• نيمروز کې ښوونځی جوړ شوي؟ ښوونکي شته؟ موږ چې بيزته الوتکه کې ځو راته ښکاري چې زرنج اوس ډېر لوی شوی، ودانۍ اوسړکونه پکې ښکاري او د بيز له برجونو ښار کې څراغونه ښکاري. زموږ د وخت نيمروز ډېر بدل شوی. اوس به فکر نه کوم چې آهوان په دښتو کې سرګردان او خلک به يو مړی وچې ډوډۍ پسې لالهاند وي؟
صادق دستي ورته وويل:
• هو، خو د درس او تعليم کيفيت ډېر ښه نه دی، مرستې او هڅونې ته اړتيا لري، دا مرسته به موږ ورسره وکړو.
اينجنير ته دا خبره عجيبه وه. صادق ته يې وويل:
نو تاسو څه فکر کوئ، ښوونځي به پاتې شي او چليږی به؟ تاسو د دوحې د شيراتون له غونډو خبرنه ياست؟
صادق ته ورياد شو چې هغه شيبه هک حيران شوی و، خو د سيف الدين په خبره پوره پوه نشو. سيف الدين ته يې ويلی و:
موږ د مرستې رسولو خبره وکيل صاحب سره وکړه، هغه ستاسو پته راکړه او ويې ويل چې تاسو د نيمروز معارف سره د مرستې لاره کې امکانات راته براولای شئ.
سيف الدين د پيپسي کوتی په سر واړاو يو غوړپ يې ورڅخه وکړ، شونډې يې په ميز اېښودل شوی کاغذی دسمال باندې پاکه کړه، بيا يې د تمسخُر خندا وکړه ويې ويل:
يره نو وکيل صاحب ته سړی څه ووايی؟ ما خووکيل صاحب ته هم وويل چې ځه پښې سپکوه، نغد ډالرونه دې درسره واخله چيرې دوبۍ يا ستامبول کې غټ غټ بلډونګونه واخله، نور ژوند هلته کوه چې د

دنیا په مزه پوه شې، زه هم میاشت دوو کې وځم، بېرته کالفورنیا ته ځم.
صادق حیران شو. نن چې خلک الوتوکو پوري زوړند دي، صادق ته وریاده شوه چې د سیف الدین موخه څه وه اودهغې شپې په خبره ایله اوس پوه شو !!
صادق بیا په خپله حافظه زور راوړ او وریاد شول چې کله سیف الدین بېرته کلفورنیا ته دتګ خبره کوله، ده قدیرجان ته وکتل. قدیرجان سیف الدین ته وویل:
- صادق ورور سره به نیمروز ته د معارف د شاګردانو د وسایلو رسولوکې امکانات برابر کړئ، تر دوو میاشتو ډېر وخت دی، دوی به ترهغه وخته بېرته راستانه شوي وي.
سیف الدین ساعت ته وکتل او ژر يې د تلویزیون ریموټ رااوچت کړ چینل يې بدل کړ. د طلوع تلویزیون راښکاره شو. طلوع کې اریانا سعید تاوېده راتاوېده او بدلې يې ویلې.
له دې سره سم صادق ژر جیب ته لاس کړد یاداشت کتابچه او قلم يې راوکیښ، دڅه شي په لیکلو بوخت شو، قدیرجان هم لږ وشرمېد او له تلویزیون څخه يې سترګې په دیوالو لګېدلو منظرو ته واړولې.
یوه انځورکې یو تازي ډوله سپی ښکاره کېد، بله یوه کې د سیف الدین عکس و چې چېرته دسمندر ترغاړې يې توري چشمی په سترګو او مخامخ دې خوا راګوري، دا وخت د اریاناسعید سندره پای ته ورسېده.
سم له دې سره سیف الدین په پاربدلو ولولو وویل: اوس زما د خوښې تورکي سریال پیل کیږي! آرمان چې پرونی یوه برخه يې را څخه تېره شوې وه، له بګرام ناوخته راورسېدم. دا دخیرخانی پدرنالتي کوتل کې داسې رش و چې نیم سات يې ودرولو ، دې خوا چې شهرارا ته راورسیدو کوم معین صاحب په لاره و، ترافیکو شل دقیقې

څلورلارې وتړله، چې راغلم په بیړه مې تلویزیون ولګاو سریال تېر و. تاسې به کتلی وي ؟ هغې نجلۍ د هلک بلنه ومنله ؟
قدیرجان ورته وویل:
- نه ولا اینجنیر صاحب زه لږ سرګردان وم، تلویزیون ته نه وم ناست.

سیف الدین ورته وویل:
- هغه تېره برخه کې خو نجلۍ هلک ته وویل چې پرون یې د سمندر ترغاړې شګو کې خوند ونه کړ، نن شپه مې لُکس هوټل ته بوځه شپه به تېره کړو، ایندقه ځای کې د سریال دا برخه پای ته رسیږي، بله شروع کیږي چې له ماخخه قضا شوه. آتېره برخه یې ډېره ټراژیډ وه، بوراک خوار په خپلې ډارلینګ ځومره خرچه وکړه، آخر ابل یک سره ولاړه بوراک یې پرېښود هههه !! نه هغه یک او نه آقیم توک او بوراک یو هم خبرنه و چې ښایسته بیهتره دوو نورو سره هم د یارۍ تار لري هههه ! ګورئ به یې چې د دې یک پلار یې ماما هم وي هههه !

په دې ټولو نجونو کې می بیهتره خوښیږي، چې کوم سریال کې یې کار کړی، د هغه په لیدو به نور سریالونه لکه بی وفا، عشق وانتظار، عشق ممنوع،پرنده سحرخیز ټول به هېر کړئ.فاطمه ګل او کودال هم ښه دي، کیوانج او ناظم بیګ زبردست کارګردانان دي. کالیبه په کتو نه ارزي.قدرت سایانجی او ګنج اوغلو هم ښه دي، خو د علی او مکین مزه نشته...
د تلویزیون شورزوږ شو. رنګارنګ بنګړي پکي ونښېدې، د ټُرکی سریال نوم او بیا د نجونو او هلکانو یوه یوه څېره راښکاره شوه. بیهیترې خندل، اوغلو مرور او چاته برګ و، یک خندل، یوې بلې نجلۍ له خولې دسګرټ لوګي پوف کول... د سریال د اتلانو انځورونه لرې شول اودا وخت تلویزیون یو اعلان واچاو، یوې نجلی چیغې وهلې:

- لذت ببرید، ازبسته های جدید روښن لذت ببرید! یوې بلې په سندریز غږ وویل: روشن نزدیک شدن. تلویزیون بیا چیغې کړې: لذت ببرېد!

سیف الدین شونډو لاندې و غړومبېد: ورک شئ لا له دومره اعلانو سره! ریموټ یې لاس کې وسرېال ته یې بېره وه. دا وخت قدیر جان ورته وویل:
اینجنیر صاحب، کله دې چې امکانات برابر کړل موږ ته وخت وښیه.
صادق به خپله دتیلفون نمره درکړي.
سیف الدین یوبل غوړپ پیپسي وڅښله او قدیر جان ته یې وویل:

- زه دې برخو کې هیڅ معلومات نه لرم. زما کار ژباړه او د افغانانو له رواج او عاداتو سره د امریکائیانو آشنا کول، امریکائیانو سره د وکیلانو ملاقات او هغوی ته د ځینو اړتیاوو د پوره کولو لار موندل دي. سبا د اونۍ وروستۍ رخصتي پیل کېږي، دوه ورځې وروسته، په دوشنبه به زه بګرام کې یم، خپل معلومات به پوره کړم، د دوشنبې په ماښام چې بېرته راغلم، پایله به درته ووایم. ولا دا به هلته زمو بیز ته په زړه پورې وي چې تاسو ورشئ او ښوونځیو سره مرسته وکړئ. تاسو میوه نوش جان کړئ، زه یو ساعت وروسته میټنګ زوم پلټفورم کی د بګرام شترینګ کمیټې سره مجلس لرم. تاسوبه اوس ولاړ شئ، د دوشنبې په ماښام دغه وخت به راشئ.

له دې سره بېرته تلویزیون ته ځیر شو، بېره یې وه چې اعلان ختم او سرېال پیل شي.

## (۴۷)

صادق ته ښه ورياد شول چې دوه کاله مخکې ترڅو د سیف الدین د اونۍ وروستۍ رخصتي پای ته رسېده، پلوشې سره یې د ځینو

ولسواليو ښوونځې مونيتورنګ کړل. د دوشنبې په ماښام چې ځراغونه ځلېدل د وزيراکبرخان هماغه ښودل شوي سړک ته يې ځان ورساو. کتل يې چې قديرجان ورته ولاړ و. قديرجان بيا هم هماغسې مينه ناک و، لکه ديرش کاله مخکې چې د محصلي په مهال مينه ناک او ريښتنی و. هغه وخت يې هم صادق ته اخلاص درلود او اوس يې هم ورسره ډېره مرسته وکړه. کله چې وړاندې ورغی، هغه ورته وخندل او ستړی مه شی يې ورته وويله. دواړه مخامخ د سيف الدين د لوړو سمنټي ديوالو لرونکي کور خواته روان شول. کله چې دروازې ته ورننږدې شول، يو مخابره والا غوسه ناک ساتونکی مخې ته ورته راغی، دوی يې وپېژندل، خو بيا يې هم د کوردننه مخابره کې خبرې وکړې. له هغې خوا سيف الدين د ورتګ اجازه ورکړه. وسله وال ساتونکي دواړه تلاشي کړل او بيا هم هماغه مېلسمتون ته ورغلل چې تېره اونۍ يې سيف الدين هلته کتلی و. سيف الدين مخامخ کوچ باندې ناست و او ټلويزيون يې کوت چې دوی ورننوتل. دوی ته يې ستړی مه شی وويله او کيناستل. اينجنير سيف الدين تلويزيون غلی کړ او د پخلنځي خدمتګارې ته يې غږ وکړ.

دا وخت يوې ځوربې ميرمنې چې برګ ټيکري يې په سر و، پيته پوزه او چوغې سترګې يې وې، پتنوس کې ځو انرژي او پيپسي را وړل، ورسره يوځای له پخلنځي ځخه د کباب شوې غوښې او قابلی بوی تر سوږموشو. ورپسې يوې بلې په عُمر پخې مېرمنې له ميوو ډک پتنوس راوړ او د دوی مخې ته يې کېښودل. دا وخت سيف الدين صادق ته وويل: دا مو د کور خدمتګاراني دي، پخلی کوي، د ورځې د زرکانو او کلنګی چرګ ساتنه کوي، دانه ورکوي، د سپي پاکټي خوراکه له بګرام ځخه زه راوړم، هغه دلته دکابل بازارو کې نشته، يو پاکټ دوه ويشت دالره بيه لري، د ورځې درې پاکټه نوش جان کوي.

دا ښځې پخلنځي کې ښه کار کوي، خو چرګ ورځخه خوار شو، دغو ورځو کې يې ښکې ځوړندې غوندې دي. د کوټو صفايي کې هم تکړه دي. کورونه يې برچې کې دي. تر ماځُستن دلته پخلنځي کې کار کوي، دا وخت يې چې کار پای ته ورسيږي، موټر کی يې کورونوته استوم، ډيره لار ده؛ ده افغانانو کې رش وي، بيا له نواباد او دهمزنګ او له دربيمي کارتې تيريږي ايله برچې ته ورسيږي، نو سهار بيا لږ وروسته ، لس لس نيمې بجې چې زه له خوبه راويښ شم،را رسيږي. دوه نارينه کاريګر مې هم د برچی دي، دوی لسو ورځو کې يوځل رخصت لري او کورته ځي.
دا وخت کله چې خذمتګاره وتله صادق د دروازې پرانيستو سره سم، يوه چينايی تکه سپينه پيغله وليده چې له دهليز ځخه تېريده. قدير جان لږ وشرمېد، ارمان يې وکړ چې کاشکې صادق نه وای ليدلې، خو صادق لاهم د مېلمستون له کيسو خبر نه و. پرته له وکيل صاحب او قديرجان، محافظينو او دپخلنځي له کاروکوونکو نور هيڅوک د ده له دغو دوو چينايی ميلمنو خبر نه وو.
دا وخت قديرجان ژر پتنوس رامخې ته کړ چې د صادق سترګې له دهليز راواړوي. له دې سره سم خذمتګارې ور ببرته پورې کړ او د قديرجان زړه هم ډاډه شو، خو سيف الدين پوه نشو چې صادق د ده تکه سپينه ميلمنه چې لمن يې ايله د ورنو تر پورته برخې رسيدلې وه او سپينې پښې او متې يې لکه تازه- تنکی پښی لوڅې وې وليدله. قديرجان د سيف الدين په بيعقلی ښه خبر و. د محصلی له وخته يې (سيفوی بوغمه يي) پيژاند، خو ځه وکړي اوس د وکيل صاحب په پار د سيف الدين ټول رازونه ساتي. ځلوښت زره تنخا ډېرې پيسې دي او د وکيل صاحب حقوقي مشاوريت داسې دی لکه ماشوم ته چې خبرې ورزده کوی!!
د صادق ټول سوچ د نيمروز زده کوونکو او ښوونځيو سره و. حيران و چې د وطن د ماشومانو دتعليم په خاطر ځومره درګاه په درګا

ګرځي، له پلوشي سره د خلکو احسان اومنتونه مني او دواړه ستومانه دي. له اينجنير يې د خبرو اجازه وغوښته، هغه د لاس په اشاره اجازه ورکړه:

• اينجنير صاحب زموږ وسايل چمتو دي، زه د هلکانوښوونځيواو پلوشه د نجونو ښوونځيو ته ځو. زموږ وسايل او ښوونکو سره نغدي مرسته ښه پوره زياته ده. کندهار، زابل او هلمند کې امنيت اوښوونځي نشته، غواړو د هغوی برخه هم هرات او نيمروز ته ورسوو. هلمند کې وکيل جبارقهرمان د هر ډول مرستو ژمنه کړی وه، خو هغه ووژل شو، نور څوک راته امکانات نه برابروي. دا د نيمروز د معارف چانس دی چې دکندهار، هلمند او زابل برخه پوره اندازه کتابونه، کتابچې او قلمونه ورته رسيدلای شي. ممکن ښوونکو ته هم شيږشيږ مياشتې تنخا ورکړو. هلته به موږ ان شاالله دوه اونيو کی مرستې ورسوو او بيرته به کابل ته راځو.

سيف الدين لکه کومې ټوکې ته چې غوږ نيولی وي، وخندل:

ماليم صاحب، دا موضوع مې بګرام کې ياده کړه. د نيمروز حال داسې نه دی چې ښوونځي دې روغ پاتې شي. امريکائيان وځي، د نيمروز ښز پرېږدي، نور نو الوتکې هم نه ورځي. له هغې ورځې چې ولسمشر تورن صاحب د برېښنا له وزارت تبديل کړ، او د وکيل صاحب له مشورې پرته يې د کمالخان بند شروع کړ، د نيمروز امنيت ورځ تربلې بدتر کيږي. اميرصاحب لا مخکې د سلما د بند جوړلو باندې هم خوښ نه و. تاسې به ونشئ کولای نيمروز ته ولاړ شئ. د افغانستان له حکومت څخه امريکائيان هم خوابدي دي، څو ځله يې ورته وويل چې د کورنيو چارو او دفاع وزارت معينيتو کې بايد يو- دوه پيغلې مقررې شي، خو تراوسه ولسمشر دا کار نه دی کړی. وکيل صاحب هم ورڅخه خوابدی دی، ولسمشر ټول پام اوبو او د کمالخان بند ته اړولی، خو خدای خبر که ترسره يې کړي. دا درې ورځې مخکې هم د کمالخان د بند اووه اينجنيران ووژل شول.

حکومتي خلک له دلارام تر زرنج تګ راتګ نه‌شي کولای. مخ په فراه او هرات هم حالات خرابيږي...
صادق انديښنه کې شو، معارف ته د خدمت تمه يې وشليده. د زماني نادودو ته حيران و. پېښور کې بيګ ورياد شو چې ټوله نړۍ اوبو نيولی وه، خو د بيګ تر زنګنو وې، دلته وطن وينو کې ډوب دی، هره ورځ ځوانان شهيدانيږي، کورونه بمباري کيږي، شپنيو تلاشيو د کليوالو ژوند ور زهر کړی، په کليو د بمونو مور وغورځول شوه، خو سيفوی بوغمه او وکيل صاحب رنګه څراغونو لاندې په سرو غاليو فرش کورکې د لوی تلويزيون مخې ته ناست دی اود ميوو او پيپسيو پتنوسونه ورته ډک ايښي، خذمتګارې ورته ښکته پورته ګرځي...
په بېغيرتو يې لعنت ووايه.
دا وخت قدير جان اصلی خبرې ته راغی او سيف الدين ته يې وويل:
• اينجنيرصاحب، صادق جان يو عالی پلان لري، د نيمروز د غريب ولس بچيانو ته يې کتابونه، کتابچې، قلمونه او ښوونکو ته يې د څو مياشتو معاش برابر کړی، غواړي ستا په مرسته يې هلته ورسوي. وکيل صاحب چې تاسو ته تيلفون کړی و او زه يې له صادق جانه سره دلته راواستولم د همدې لپاره.
سيف الدين صادق ته ځير شو. صادق نه و خبر چې دا مهال د وزيراکبرخان ډېرو کورونو کې څه تيريږی؟ په دې کيسو يواځې هغوی خبر دي چې وکيلانو او ژباړونکو ټاميانو سره خبرو کې شريک وي.
صادق چې د سيفو ناګاري ته وکتل، داسې يې و انګېرله چې (اينجنيرسيفو) د ده دتيرې اونی خبرې او د دوی نيت بيخي هېر کړی دی، نو کيسه يې يوځل بيا ورته له پيل څخه را شروع کړه:
انيجنير صاحب اوس خو پخواني آشنيان وختو، ستا په ليدو ډېر خوشحاله شوم. يو ځل بيا د پوهنتون دوره را ياده شوه. شکر چې

جوړ او روغِ مي وليدي. دېرش کاله ډير وخت دی. زه هم پېښور کې مهاجر وم، خو اتلس کاله مخکې را ستون شوم، معارف ته کار مو رېښتيانی جهاد وباله او د ښوونځيو جوړولو او له درس او تعليم پاتې ماشومانو، پېغلو او ځوانانو ته مو کار پيل کړ. نيمروز يو لری پروت ولايت دی، معارف يې ډېر وروسته دی، غواړو مرسته ورسره وکړو.

سيف الدين ته خندا ورغله:

سيف الدين اوس د محصلي د وخت نوی په آذان راغلی چرګوړی نه و، هغه اوس د روان سياست په ټولو تارونو خبر و. د صادق په خبرو بيا خندا ورغله ورته ويې ويل:

- صادق جانه ته خو خبر يې چې له خيره سره دسولې خبرې روانې دي. زموږ بيزونه او پوستې له ولايتونو را ټوليږي، ممکن نور نيمروز ته ډېر پروازونه ونه لرو، يا به هيڅ پرواز ونه لرو. هسې خواری مه کوئ. ځان ستومانه کول مو ګټه نه کوي. دوحه کې خبرې وروستۍ شوي، کيدای شي لنډ وخت کې هرڅه بدل شي.

صادق ورته وويل:

- دا خو به ډير ښه شي چې د سولې خبرې بريالی شي، موږ به په سوله کې نور هم زيات کار وکولای شو.

خو د اينجيرځواب حيران کړ، هغه ورته رټ وويل:

- نه خو خبره بل ډول ده. ماليم صاحب! تاسې به ونشئ کولای دې حالت کې مرسته نيمروز ته ورسوئ. لری سيمو او په تيره سرحدي ولايتو کې حالت بدليږي. د ګوانتانامو زندانيان راوستل شول، د پلچرخې بنديان هم ټول خوشې کيږي، زه بېرته کاليفورنيا ته روان يم او وکيل صاحب ته مې سلا ورکړه چې تورکيې ته ولاړشي...

صادق ورته وويل:

هو موږ هم اوريدلي چې د سولې هيئتونه ګرځي، هيلې مو زياتې شوي دي، دوحه کې خبرې روانې دي، عبدالله عبدالله هم هلته دى. او رينتيا تاسو خو بګرام کې له هرڅه خبريږئ، حالات په کومه روان دي او دوحه کې څه تيريږي؟
سيف الدين يوه منېه ورپورته کړه او د ميوې پتنوس يې د صادق مخې ته ورنږدې کړ، ويې ويل:
زه تېره اونۍ همالته شيراتون کې وم. دوحه کې له هرڅه خبر يم. هلته د امريکې تر ټولو لويې نظامى اډې دي، ټوله لويديزه اسيا ورڅخه څاري. خليج يې هم له همغه ځايه تر سترګو لاندې دى. د افغانستان د جمهوري حکومت مخالفو ته يې هم هلته دفتر ورکړى دى. په قطر کې د (العدير) اډه کې لس زره امريکايي عسکر، سلګونه کلس برو او هاموى ګاډي او لسګونه جنګي او ترانسپورتي نظامي الوتکې دي، په امارت کې د(الظفرة) اډه کى ۳۸۰۰امريکايي عسکر ميشت دي چې ډېرې پرمختللى لاکهيد U-2 شپېته الوتکې پکې دي. د عسکري موټرو او لاريو شمير يې هم همدومره دى. د دواړو قومنده د CENTCOMپه لاس کې ده، خو موږ بګرام کې د دواړو؛ هم د سينټکام او هم د ناټو تر قومندې لاندې ياستو، سنتکام او ناټو خپلو دندو کې يو څه توپير لري. اوس د افغانستان په اړه بګرام، د آرياناهوټل او د امريکې دسفارت مخامخ پخوانى عسکرى کلوپ کې مشورې روانې دي. د سفارت ديپلوماتان، د عسکرى کلوپ نظاميان او د آريانا هوټل استخباراتيان هر ماښام پېکونه جنګوي او نوې پريکړې کوي، فيصله لوړو دريځونو ته استوى.
د سيف الدين کيسه اورېده وه او هره نوې کيسه کې به يې ځان ښودنه کوله. هغه له ډېرو رازونو خبر و. دبګرام دننه، د دوحې مجلسونه او د ناټو پرېکړې ورته معلومې وې.
د دوحې د سولې د خبرو کيسه يې صادق ته لا حيرانوونکې وه. سيف الدين ويل چې دسولې خبرې د شيراتون هوټل کې وې. دا وخت يې

د شراتون کیسه راواخیسته: (شیراتون) کې د اتلس کاله مخکې د(بُن )په شان یوه غونډه رابلل شوې وه. د ډېرشو هیوادو او سازمانو استازي ورته را بلل شوي وو. شیراتون کې دنظامی برخې ژباړونکی زه وم... صادق ورته حیران ګوري او غوږ یې نیولی دی.

...د دوحې دشیراتون هوټل ډېر ښکلی دی. دې هوټل ته د نړی ډېر کم شمېر نیکمرغه کسان میلمانه کیدای شي. د عجایبوساری یې ډېر لږ لیدل کیږي. د دُنیا سراسر کې ډېر کم کسان دي چې شیراتون یې لیدلی وي. سیف الدین پیپسي په سرواړوله:

- پههه ها! ښایسته کوټې، د سمندر دغاړې په لوري منظره، خوراکونه، د کنسرت او فلم ښودلو هال، د لامبو تک شین ډنډ، ... ورکوه یې له هرې کازینو ښخه اوچت دی!

دا وخت یې په کبراو خاص نخوت غاړه کږه- وږه کړه او کیسه یې وغځوله:

د دوحې دشیراتون هوټل د سمندر غاړې ته نږدې جوړ شوی دی. د کب په میاشت کې دساحل په غاړه پسته هوا چلیږي. سفیرصاحب د دغه پینځه ستوریز هوټل یو ځانګړی پوړ د۲۰۲۰م. کال فبروۍ کې بوک کړی و، ډېر ژر ټول میلمانه او زه ورغلو. د دغې نیټې لګښت د شیراتون په ریکارډ کې ترټولو لوړ دی، دا ځکه چې زیاتره رابلل شوي کسان دخووخته بوفه خوراک شوقیان و، د ورځې څوځله غسل او د کوټې پاکولو ته اړتیا لري. هلته د افغاني میلمنو د نابلدي یا بې احتیاطۍ له امله د لوښو د ماتېدو او د کټ او بسترې د خرابېدو احتمال هم سنجول شوی و. سفیرصاحب دا تجربه ځلوېښت کاله مخکې د پرزدنت ریګان له وخته په یادساتلې ده.

سفیرصاحب سره مو څو ځله بګرام کې له نږدې کتلي، د پخوا وختو کیسې یې راته کړي دي او بګرام کې پراته امریکاییان یې د افغانانو له حال- احوال خبر کړي او خپل تېر تجارب یې ټول موږ ته وویل:

ده د هوټل د کارکوونکو د شکايت د مخنيوي تول تدابير سنجولي دي. ميلمه او رابلونکي يې دواړه يو د بل (وطنداران) دي، خو د ميلمستيا ځای د قهرجنو خلکودی. هغه دا ځل ځان ته آسماني رنګه دريشي، ماشي يخن قاق او تکه سره نکتايي او بله نيلي دريشي سپين يخن قاق او جګري نکتايي په پام کې نيولي ده، خو شيږدېرش کاله مخکې يې د پرزدنت ريګان د ميلمنو د ژباړن په توګه توره دريشي، سپين کالرلرونکی يخن قاق او توره نکتايي وه، زه هغه وخت نوی فلوريدا ته رسيدلی وم، دمهاجرت مې يوه اونۍ تېره وه، يوکال وروسته بيا د کلفورنيا نيوادا ته ولاړم. سفيرصاحب تل دا ټکی په پام کې نيسي چې له غټو سترګو سره نسبتاً نرۍ نکتايي غوره ده. څلوېښت کاله مخکې سپيني مانۍ ته تللو ميلمنو ورته د پکول، واسکټ، څپليو، کميس-پرتوګ او مسواک ثواب بيان کړی و، خو ديپلوماتيکو آدابو نه هغه وخت د دې شيانو اجازه ورکوله او نه اوس اجازه ورکوي. هغه وخت ميلمنو ته واشنګټن کې ښه مجلل هوټل دڅو شپولپاره نيول شوی و، خوراک بوفه و. شيږدېرش کاله مخکې د ژباړې په مهال هغه شېبه لوری- لودن ورڅخه ورک شو، چې مېلمه پرزدنت ته د اسلام د منلو وويل، خو پرزدنت ډېر هوښيار و، ويې خندل و يې ويل؛ زه به سوچ وکړم. دا پيښه د سفيرصاحب تراوسه په ياد ده. د دوحې د کنفرانس په خاطر د قطر امير ته د جلالتماب پومپو د راتګ هم ويل شوي و، نو ځکه د هوټل دهليزونو کې ليکلي وو: Grand Sheroton ! WELCOME Hotel Convention & Doha Resort مراسم ډېر پرتمين جوړ شوي وو. شيراتون سپين رنګ لري، لکه سپينه بکره. د دوحې ډېرې ودانۍ ځکه سپين رنګ لري چې د لمر وړانګې بېرته غبرګې او ګرمي کمه شي. د شيراتون له هرې کوټې او هرې برنډې د خليج د سمندر غاړه ښکاري. دلته هر ډول د ډکو جيبونو لرونکي ميلمانه راځي؛ مجرد، کورنۍ سره، ملګرې سره، رسمي، غيررسمي، بهرني، کورني، بوډاګان، ځوانان- ښځې او

نارينه ټول دلته راټلای شي. کوټې يې هم راز راز دي: کنګ کلاب، حوئيت جونيور، سوئيت اسکيونيو، سوئيت ډيپلوماتيک، سوئيت بن ت هاوس، توائين ډلوکس، کنګ ډلوکس. ورسره د غونډو، ودونو، کليزو نمانځنو، جشنونو او راز راز خرمستيو ته جلاجلا هالونه لري. تر وروستی پوړ اسانسور، هره کوټه کي رنګه تلويزيون، انترنيت او وای فای، له نوشابو ډک يخچالونه... بهر د ترانسپورت پارکنګ، د سمندر په غاړه لمريزی چوکی، د لامبو حوضونه، مساژ، دتينس او اسکواش، د باربيکو او پينګ پانګ ځايونه. دننه هم د بليارد د لوبو ځای. په دهليزونو کې لوی ګلدانونه او د اوبو شرشرې، زينو او لابي کې سپيني، غنم رنګې او تکې تورې ګډې وډې نجوني چې له ورانه پورته لنډو لمنو او لوڅو ځنګلو سره په طلايي پتنوسو کې پيالې د ميلمنو مخې ته ږدي او په هر ګام اخيستو يې د بدن پستې برخې ريږدي. د سپينو نجونو وېښته ترملا رسيږي، خو غنمرنګو او تورو بيا خپل وېښتان منجوله کړي يا يې په تندي باندې په سيخک کلک کړي، يا يې نری نری کمڅی کړي دي. چې ګرځي د بوټانو يې يوه ټکا خيژي او ورسره يې لوخ ورنونه خوځي.
صادق د خپلې سايکولوژيکې منفردې ځانګړتيا له مخې د سيفو کيسه اورې او د هرڅه انځور يې سترګو ته درېږي، لکه په وينه چې خو ب ګوري. سيفو لا هم لګيا دی:
شيراتون ته د ځليدونکو ښيښه يي دروازو څخه په ننوتو لوی دهليز او لابي، بيا مخامخ د اوږد ميز شاته يو کتار نجوني د بوکنګ او چک اوت چارې په مخ وړي. دوبياني د مېلمنو مينځل شوي جامې د هر هر چا کوټې ته وروړي. خوراکونه هم بېلابېل دي: Hubara Al, Emsherft ,Irish harp ,launge Atrum ,Laveranda، خو زموږشتمن سفيرصاحب د خپلو مېلمنو لپاره خاص حلال او آسيايي خوراکونه سره له وريجو، کباب، د چرګي هګی، دال او ښوروا فرمايش ورکړی دی. هررستورانت کوکتايل، فانتا، پيپسي،

برندیل، شمپاین، بیر، وُدکا او ویسکي لري، خو زمونږ سفیرصاحب د میوې شربت او شین چای فرمایش ورکړی و.
د صادق د ذهن کمره د سیف الدین د کیسی ژوندی فلم کاږي: ...د شیراتون شتمن مشتري چې له سمندرونو پورې غاړې څخه راغلی دی، په دې پوهیږي چې د داسي خلکو کوربه دی چې دهغو په خاطر باید شوندې په ترخو اوبو لمدې نه کړي، خو ترخو یې چې وس وي باید وخاندي. کابلوف کټ مټ هماغسي اندیښنه کې دی لکه څلوېښت کاله مخکې چې سفیر احمدجانوویچ د انګلو- پاک د پرس کلپونو دکنفرانسونو په ورځو کې په اندیښنه کې و. کابلوف دې ورځو کې شپبه په شپبه کرملین سره خبرې کوې، مسکو کې مېرمن زخارووا د کابلوف راپور ته سترګې په لاره ده. اوس کابلوف د کرملین له حاکم دومره وېره کې نه دی لکه هغه وخت به چې جانوویچ په وېره کې و.
د ښاغلي سفیر جامه او څېره د مېلمنو په پرتله ډېر توپیر لري. هغه په ناتیف ژبه د خپل هېواد (ستیزن) دی او دلته په لوکل لنګویچ خپلو مېلمنو ته ( وطندار) وایي، خو په دیپلوماسي کې اصلی خبره او مهم مقصد د خپل متبوعه هېواد ګټې ساتل دي.
نن د شیراتون شتمن مشتری له ژورې  اندیښنې سره مخامخ دی: شل کاله مخکې د یرغل په ډزوغپ کې و، خو اوس شیراتون کې د تېښتې خوندي لاره لټوي. صادق د سیف الدین ښکلی او لکس میلسمتون کې د اندیښنو او غوسې له زوره ناکراره دی. میوې، پیپسي او د انرژی بوتلو ته یې لاس نه ورځي. د وطن د سبا ورځې اندیښنو ډوب کړی دی، د کیسو انځور یې مخې ته لړ- بر ګرځي:
...دشیراتون د کنفرانسونوتالار ته له څو دروازو خلک ننوتل، لکه د اتلس کاله مخکې د بُن د کنفرانس په شان خبریالان راغوښتل شوي، مرکې روانې دي، عکسونه اخیستل کیږي. د بی. بی. سی. ترټولو پخوانی خبریال د خبریالانو د ډلې په سرکې ناست دی. دا ښاغلی اتلس کاله مخکې د بُن کنفرانس کې هم تر نورو خبریالانو مخکې و، دیرش

کاله مخکې د پېښور پرس کلب کې هم تر نورو مخکې ناست و، خو هغه وخت يوناڅاپه اعلان وشو چې غونډه محرمه او د تړليو دروازو تر شا ده. خبريالانو ته پنځه پنځه سوه کلدارې ورکړل شوې او له تالار څخه وکښل شول. د بی بی سی تجربه لرونکی خبريال دا ډول ډېر کنفرانسونه ليدلي او عکسونه يې اخيستي دي. د ديرش کلو مخکې کامره يې يوه درنده او د پښو لرونکی کامره وه، خو نن ورسره يوه سپکه او آسانه کمره ده چې آن يو وړوکی بکس کې وړل کيدای شي. هغه وخت د پرس کلب دهليزونو کې د دال او چاول بويونه وو، خو نن د عطرو يوبل ډول ورږم دی، څښاک هم دوتپتی چای نه دی، راز راز انرژي ګاني، ريډبول، پيپسي او جوس راوړل شوي دي. اوس د فقيدبرژنسکي ځای پمپو او د ويليام کسی ځای شيخ نيولی دی. ډېرڅه بدل شوي، خو د سفير حرص، هيلي او د جنګ زمکه هماغه پخوانۍ ده... دبی بی سی د خبريال ټول په ياد دي . خبريال بايد قوی حافظه ولري. خبريال دا شيبه ځان مرکې اخيستوته چمتو کوي. د شيراتون د کوربه مشتری سترګو کې د لويو پروژو، د سياست د پيچلتيا، د ديپلوماسی مقاصد او د لويې لوبې د مکر نښې ښکاري، هغه لويه لوبه چې د بی. بی. سی. د همدې خبريال نيکونو را پيل کړی ده.

## (۴۸)

خلک ډله ډله له وطنه تښتېدل، د هغو ښوونځيو دروازې وتړل شوې او نجونې په کور کېناستې چې پلوشې اتلس کاله ورته خوارۍ ګاللي وې، د ځوانانو د خيالونو لوړ څلي نړېدل، د ښار په هر سړک د کورونو سامانونه په نيمه بيه پلورل کېدل، چا کډې بار کړې وې او چا ډک کورونه پرېښودل. د مهاجرتونو يوه بله څپه پيل شوې وه. په ښار کې د هرچا په ژبه د (پاسپورت) او (ويزه) خبرې وې، ځومره

چې د ژوند داسبابونو بيه ټيټه شوې وه، هومره د پاسپورت او ويزې بيه لوړه شوې وه، يوه ناڅرګنده وېره خوره وه. لوېې لوبې، فساد او ليبراليزم وطن تورې تيارې ته ورټېل وهلی و. د B.52 په زور د جوړو شويو پيلانو- پهلوانانو پښې سستې شوې وې او لکه د وريځو اوښان هوا کې تار تار شول، په وطن باندې متفرقه او مفسده حاکمه شوې ډله ترغې په ترغې شوې وه. څو ورځو کې له سمندرونو څخه د آخوا د ټولو راوستل شويو سپيو او پېشوګانو لستونه جوړ او له بګرام څخه تلونکو الوتکو کې بېرته ورل کېدل. هغو سپيو چې (ښه ډېر) بکسونه، واسکټونه، بيکونه، بوشکې او د خلکو تخرګونه او څټونه او د موټرو ټولبکسونه او په کليو کې د کليوالو غوجلې، کندوان، اخورونه او کادانې يې لټولې او بوی کړې وې، نور بس وه، امر شوی و چې راځي دې! ناټو د سپيو او پېشوګانو د ليږد پلان او سفير د ډله ډله ژباړونکو، د سيف الدين په شان ټاميانو، د ټلوالې د خرمستو وکيلانو، لنډغرو، فاسدو برېښيو او وزيرانو لست او د ليږد پلان جوړ او عملي کړ. سيف الدين لا وختي بيرته امريکا ته رسيدلی و او وکيل صاحب دا وخت ترکيه کې ناست و.

***

د حاجی عبدالخالق له جومات څخه د تل په شان د آذان غږ راته، مورکۍ په مُصلی ناسته وه او په زهيرو ګوتو يې تسپې اړولې، وروسته تر لمانځه يې د خپل يوه زوی او يوې لورکۍ د ژوند، روغتيا، پردې او عزت دُعا وکړه. د ښار په رګونو کې لا د ژوند سا چلېده. د صادق زړه کې لا هم د هيلو ډيوې تت شوې نه وې. د پلوشې هوډ او د ټينګار ولولې لا هم ځپانده وې. صادق پلوشې ته ډاډ ورکاو، خو د هغې اوښکو او خاموشه سلګيو وار په وار زور اخيست. د پلوشې تور ټيکری په سرو او د بنديوانو نجونوپه سوچ کې وه. ځنډ ووت، ګړی ته يې وکتل چې څه مهال دی، خو چې کتل يې ګړۍ دربدلې وه. غوږ ته يې نږدې کړه، خو همېشنی مهين او ورو (ټک

ټک) غږ يې غلی و. ګړی وخت نه ښود په ټپه ولاړه وه، هغه يې له لاس څخه خلاصه او په ناهیلۍ يې دستکول کې واچوله. ډېره شېبه دواړه غلي وو، کله چې د پلوشي زړه د يو څو اوښکو په تویولو تش شو، د تل په شان يې په هسکه غاړه او کلک هوډ وویل:

- نه یم غمجنه ګوندي بیا ښې ورځې راشي. ناارامه یم، خو وجدان مې آرام دی. ترڅو چې د ورځې مرغان الوځي او د شپې آسمان کې رانه ستوري ځلیږي، د هیلو ډیوې به روښانه وي، رڼا به بیا راشي. ډېر لوی ملت او پرتمین هېواد لرم. زړه مې ستومانه او ټپي دی، خو خوا سره مې سرلوړی ولس لرم. غریب، خو سپېڅلی وطن چې د خلکو په رګونو کې يې د مینې توده وینه چلیږي، په مغزو کې يې شور او زړونو کې يې مینه ده. د دوی غمونو، دردونو، بې کوریو، مهاجرتونو او بېوزلیو ته دې لوګی شم. له هغه راهیسې مې چې ښی او کیڼ لاس پېژندلی او مورجانې راته کلمه او لمونځ ښودلی، دا دی څلوېښت کاله شول، دا ټول مې د خپل ولس له ارمانونو سره تېر کړل، ډېر څه مې په وس پوره نه وو، خو پیکي کې مې سپین ولګېدل. له دې سره يې په اوښکو لوند دسمال دستکول کې کېښود.

مهاجرو کیدونکو له وطن څخه د لرې کېدو په شېبه کې د لوړو غرونو څوکو ته کتل، لکه چې هریوه ویل:

-وطنه اوس درڅخه ځم، یادوم به دې، مه مې ملامتوه. زه هم خپه یم. ګوندي چې بیا ښې ورځې راشي. وزرونه مې لا مات نه دي، بېرته به ستا په لوري راالوځم.

***

د تګاو د انارو پخېدو ته وخت پاتې و. د انارو دباغونو ونو لاندې ګیا په وچېدو وه، خو د انارو رنګ لا نه و سور شوی. د تګاو دچینه کلي او ساروانیانو د هدیرې له شاوخوا تود تپ لګېد. له لرې د ګز د دوو کړو ونو څنګ ته دوه سپین سرې بوډۍ میندې چې تور ټیکري

یې په سر وو او یوه پېغله، د دوو قبرونو تر خوا ناستې وې او د بازګل او عبدالوکیل د آرمانو ویر یې کاوه. نن به بیا په قبرونو د ګلابو پاڼې او د شنو بنګړیو ټوټې اچول کیږي.

پای.

۱۴۰۲، دلړم یوویشتمه= ۲۰۲۳/۱۱/۱۱



# په کیسه کې د یو شمېر راغلیو ځایونو او څېرو پېژندنه

- کابل نوی ښار:

له دیرشمي لمريزې پیړۍ څخه وروسته د کابل زوړ ښار له باغ قاضی، چنداول، رکاخانه، سراجی، شوربازار، ګذر عاشقان- عرفان، سنګتراشی، ګذرخرابات، تخته پل... بیا دا خوا خیابان، مرادخاني، ده افغانان... سیمو کې نفوس زیات او پخوانی کورونه کال په کال استهلاک کېدل. بوستان سرای خپله بڼه بدله کړه، شاهی بازار ړنګ شو، نوې ودانۍ لکه سپین زر، پلازا، .. جوړ او د ښار څلورمه ناحیه شوه. د دې په دوام د ملک اصغر له څلورلارۍ د پوستین فروشی او صدارت د څلورلارې په خوا او بیا د کورنیو چارو وزارت، انصاری څلور لارې، حاجی یعقوب څلورلارۍ، طره بازخان څلور لارې د شیرپور تربریده او شمال لورې ته کلای فتح الله نوی ودانۍ اوسرکونه وکښل شول، دمیرمنو تولنې ودانۍ( زینب ننداری) پارک سینما او نور جوړ شول. د حاجی محمد یعقوب جومات او څلور لارې د نوي ښار مرکزي برخه ده. په مقایسوی توګه د پخوانی کابل اوسیدونکو دغو سیمو ته د نوي ښار(شهرنو) نوم ورکړ، خو نوي ښار ساحه کې هرهر ځای خپل نوم درلو.د د زرغونې او ملالی لیسې ، یو د ډاک لوی دفتر، دافغان موزیک او موزیک سنتر پلورنځې، ورووستته بیا د حمیدي پلورنځي يي هم مشهور شول. د اشرافو او نامتو کسانو کورونه هم همدی ځای کې وو. له دې امله چې د جوی شیر نیمي اوبه په دې خوا راتلې، نو ونې اوبوتې پکې ډیر و او وروسته بیا د نوي ښار پارک(۱۳۳۳ل.) هم جوړ شو. له دې امله چې د شیرپور پخواني چونۍ نږدې وه او هغې کې عسکری اسونه روزل کېدل، نو د وترنرۍ یو کلنیک(بیتارخانه) هم جوړ شوی و. دمیرمنو د تولنې ودانۍ ته مخامخ (کوټۍ) ډوله ودانۍ وې چې وروسته بیا ونړول شوې، د پارک مقابل لورې ته نانوایی جوړه شوه او بیا وروسته حاجی یعقوب یوجومات جوړ کړ، دا جومات وروسته بیا د کابل ښاروالی له خوا پراخ او نوې شو. ورو ورو د زاړه ښار شتمن اوسیدونکی او ځینې دولتی لوړ رتبه مامورین ورکډه شول. دوه کوڅې مرغفروشی(دچرګانوکوڅه) او ګل فروشی پکې ډیرې نامتو شوې. همدغو سیمو کې د توریستانو او هیپیانو تمرکز زیات وو. کیسه له همدې ځایه پیل شوی چې صادق دلته کار کاو.

- شیدې پلورونکی شیرآقا:

د پنځوسمو کلونو په بهیر کې چې ساسچ او همبرګر لا خلکو نه پېژندل؛ د شورنخود، کچالو، منتو، آش، کشمش آب، شرومبو اوشیدوبازار ګرم و. په تېره بیا شیدو سره به هګۍ ګډې او دا وخت د کابل سیلو ډېر خوندور روټ عرضه کاو، چې بیه یې ډېره لوړه نه وه. د سیلو تولیدات ټول د دولت په بیه پلورل کېدل، چې خلکو ته ډېر اقتصادی و. شیرآقا یو زلمی و چې د چرګانو کوڅه کې یې دشیدو پخولو هټۍ پرانیسته، لږ وخت کې د خوندورو شیدو پخولو کې نامتو شو. ده خپله هټې کې تازه هګۍ او دسیلو خاشخاش لرونکی روټ هم درلود. دکابل د ذات البیني جنګونوپه مهال پېښور ته ولاړ، وروسته تر ۱۳۸۱ بېرته راستون شو، بیا یې یو دوه کاله هماغه هټۍ وچلوله، خو هغه رونق یې نه درلود، په غالب ګومان په ۱۳۸۳ل. کال وفات شو.

- آغابادرا

له څلوېښتمو کلونو تر شپیتمي لسیزې نوي ښار کې د افغانستان د خصوصی پانګونې او کاروبارونو(نویو تشبثاتو) یوه کامیابه تجربه لرو. په تېره بیا لاسي صنایعو(پوستین، خامک، کلالی او کاشي، دسنیو تولیدات، دمزري او چرم صنعت) ښه رونق وموند، چې ورسره د کابل دبیلابیلو سیمو پستکارتونه او د هوټل او ترانسپورت خدمات هم ښه پرمخ ولاړل او دخلکوپه ژوند او ټول اقتصاد باندې یې مثبت تاثیر درلود. (افغان تور) هغه اداره وه چې لوړ عاید یې درلود. د توریزم له برکته بانکی سکتور، دبهرنیو ژبو کورسونو، ترمیماتی ورکشاپونو او نورو هم رونق موندلی و. توریزم افغانستان ته نیک شهرت وګاټه. آغابادار، عبدالباقی،... دکندهار خو سوداګر او د توریزم د سکتور تجربه لرونکی متشبثین وو. له کندهار د کابل تر نوی ښار په دی کار بوخت وو. دوی کندهار کې تاریخی ځایونو ته د توریستانو لارښوونه کوله او هوټل یې درلود او دکابل په نوي ښار کې یې د لاسي صنعت کاروبار درلود.

- کابل د آسیا پاریس

له جګړو څخه مخکې کابل ښار د خپلې ښکلی هوا، شاوخوا دشنو منظرو، تاریخی ځایونو، میلمه پالو او بی الایشه صادقه خلکو، ښدای هڅووب، ځانګړو- خوندورو میوو او خوراکونو د لرلو له امله توریستانو، اروپایی دیپلوماتانو او له بهر څخه نورراغلیو بهرنیانو ته ځانګړې جاذبه لرله. دلاسی صنایعو رونق، تاریخی ځایونه، اثار او ابدات ټول د یادونی وړ و، نو ځکه بهرنیانو کابل ته (د آسیا پاریس) نوم ورکړی و.

- خواجه یین فاریابی

فاریابی حاجی صاحب نوي ښار کې یو هوټل لرونکی و. په اصل کې د فاریاب اوسیدونکی و، د کابل نوي ښار کې یې هوټل او رستورانت جوړ کړی و. یو ټولنیز، سخاوتمند او مهربان شخص و. د چرګانود کوڅې او د شاببو جان کوڅې ټولو هټیوالو او کورونو پېژاند، ټولو سره یې راشه درشه لرله. اوس یې په هغه پخوانی دوه پوړیز ملکیت یوه اوچته پلازه(فاریابی پلازا) جوړه شوی ده. په ۱۳۸۴ل. کال وفات شو، لوی

خيرات يى و. په هغه ورځ تقريباً د ټول ښهرنو اوسيدونكى او لارويان دي خيرات ته وبلل شول. د خپل وخت يو بريالى متشبث او پانګوال و.

- آډلوپ ډابس

په۱۳۵۷ ل.= ۱۹۷۸م. کال کي په کابل کي د امريکي د متحده ايالاتو سفيرو. نوموړى په کابل کي د حکومت د مخالفينو له خوا لومړى برمته شو او بيا د پوليسو په وړاندي د برمته کوونکو دمقاومت په پايله کي له برمته کوونکو سره يو ځاى ووژل شو.

- حاجى صالح محمد او حاجى حيات

د پخواني کابل يو مخور و چي نادرپښتون واټ کي يي يو آپارتمان او حمام درلود. د کابل ښار ډيرو نورو مخورو، سپينږيرو او اهل تصوف او عرفان سره يي اړيکي وي. قارى محمد امان ته يي وراره ويل چي هغه وخت يي لا افغان لوى پلورنځى نه و جوړ کړى. ملک امان الله د پاچا په وخت د چهاردهى وکيل و، چي د حربى ښوونځي شاوخوا سيمه کي يي زمکي لرلي، دتره خپلو مولوي صاحب، عنايت الله ابلاغ سناتوراو دپاى منار آغاصاحب د دي سپينږيرود ډلي وروستي کسان وو چي وروسيتو کلونو کي به يي سيدفخرالدين آغا خاطرات بيانول. حاجى حيات د پښتونستان واټ وروستى برخه کي د تازه ميوي پلورلو هټى او خواته يي د(حيات الکتريک) د برېښنايى سامانو مغازه لرله. دوى دواړه سيمه کي پيژندل شوى معمرسپين ږيري او د ټولو د درناوى وړ مشران وو.

- پوزانوف

کابل کي د پنځوسمي لمريزې لسيزې د پاى د کلونو دشوروى اتحاد د سفير نوم دى.

- نغلو بند

د کابل- جلال آباد د لويي لاري شمال اړخ ته، د سروبى له ولسوالى ښخه لږ پورته د نغلو د غونډيو لاندى د کابل او پروان دسيند ديوځاى کيدو په محل کي د افغانستان د اوبو ترټولو لوى کنترولى او ذخيروى بند دى. په دي بند باندى د برېښنا د توليد توربينونه جوړ شوي چي د هيواد د برېښنا ډيره برخه ورځخه تامينږي. دا د خپل وخت يوه لويه زيربنايى پروژه وه چي د هيواد دلومړنى پنځه کلن اقتصادى- اجتماعى علمى پلان په بهير کى بشپړه شوه. د دغه پنځه کلن پلان(۱۳۴۰-۱۳۳۵) شاملى پروژې عمدتاً زيربنايى تاسيسات ( د اوبو بندونه، سړکونه او حلقوى لويه لار، هوايى ډګرونه، سيلوګانى، د سمنټو فابريکى...) وو. دا بند د شوروى اتحاد د متخصصينو په مرسته جوړ شو چي ۲۸۰۰ متره (تقريباً درى کيلومتره) اوږدوالى، ۱۱۰متره لوړوالى اود ۵۵۰ميليون مکعب مترو اوبو د زيرمه کولو وړتيا لري.

- ښنګى او برګى

عوامو هغو بم غورځونکو الوتکو(AN. 12) ته ښنګى ويلي چى دشپي به يى دمخالينو په سنګرونو بمونه غورځول، دغو الوتکو ترانسپورتى خدمات هم اجرا کول. او برګى

يي دهغه وخت نظامي هليکوپټرو ته ويل چې د ستر او اخفا په موخه په څو رنګونو رنګ شوی وی.

- د جلال اباد جنګ

جلال اباد د افغانستان په خيځ کې، د ننګرهار ولايت مرکز دی. دا سیمه مديترانه يي يا نيمه مديترانه يی اقليم لري. اوړی يی تود، ژمی يي نسبتاً معتدل دی. له پښتنو څخه د ديورند فرضی کرښې جلا کړی دی. لوی قومونه يي شينواری،مومند، خوږياني، جبارخيل او داسی نور دي. دا قومونه نيم پښتنو او نيم ننګرهارکي مېشت دي. د افغانستان يو لويه تجارتی لاره چې هندوستان سره د واګه د وچې بندر او عرب سمندر سره د کراچی بندر څخه پيل کيږی، وروسته د خيبر له درې، د تورخم سیمه کي ننګرهار ولايت ته راځي او بيا دا لاره د ورييښمو تنګی له لاری کابل او نورو مرکزی ولايتونوته رسيږي. جلال اباد ترڅلوېښتمي لمريزي لسيزي يو کوچنی ښارو، خو کله چې په همدې لسيزه کې د ننګرهار د ناوې ترټولو لويه او باثمره پروژه تکميل شوه، د جلال اباد په اقليم، اقتصاد، کاری مهارتونو، منظرې، تجارت، فرهنګ او د ژوند په نورو اړخونو يې ژور مثبت تاثير وکړ اودا ښار پراخ او نفوس يې زيات شو. د کانال پروژه کی دهيواد دډيرو نورو ولايتونو مامورين او کارمندان په کار وګومارل شول او د ډيرو ولايتونو شتمنو کورنيو دې ښار کې د ژمی تيرولو او تفريحی ورځو لپاره کورونه وپيرودل. کال په کال د جايداونو او زمکو بيه يی لوړه او ښار نوې بڼهِ غوره کړه، دطب پوهنځی يی نه يواځې هيواد کې، بلکې سیمه کې نامتو و. دغه ولايت ډيری تاريخی سيمی او ابدات لری. د ۱۳۶۷ کال دحوت له ۱۶مي د ۱۳۶۸ل.کال تر سرطان پورې په دی ښار لوی بريد او سخته جګړه تېره شوه. دا جګړه د افغانستان د حکومت او دهغه د مخالفينو تر چتر لاندی يوه څو هدفی جګړه وه. سره له دې چې هغه وخت حکومت مخالفينو سره اوربند او سوله اعلان کړی وه، دقدرت سپارلو ته چمتوو، خو د ګاونډيو لپاره د جلال اباد جنګ څو نور هدفونه لرل:

- د افغانانو دمورال ضعيفه کول، په دوی کی ګاونډی هيواد ته د اانقياد روحيه رامنځته کول، افغانی غرورماتول، د جلال اباد د پرتم له منځه وړل،
- د يوې لويې زراعتی پروژې تخريب چې دګاونډي هيواد مشابه توليدات يی لرل او دافغانستان د وارداتو ډيره برخه يی تعويض کوله،
- د ننګرهار د اوبو د کانال تخريب ترڅو دا اوبه دوی ته ورشی او افغانستان يی له استفادې محروم شی،
- د ملی متخصصو، ماهرو کدرونو فرار او فزيکی له منځه وړل، دتاريخی سيمو او آبداتو تخريب، د جګړې بهير کی د افغانستان د پوځ د وسلو او مهماتو ترلاسه کول،
- د ملی موسساتو( پوهنتون، بانکونو، تحقيقی ستيشنونو(شيشم باغ)، فارمونو، لويو لارو له منځه وړل او نور سياسی، اقتصادی او فرهنګی هدفونه.

جګړې شپږ میاشتی دوام وموند، په دې ترڅ کې د هډې تاریخی موزیم چې افغانانو، نړۍ او یونسکو ته یې زښت زیات اهمیت درلود ونړېد او وسوځېد، د فارمونو ډېرې برخې وچې او له منځه ولاړې، د کانال ډېر زابرونه ډک، کانال څو ځایه تخریب او کنډو او یو شمیر تاسیسات( مالداری، ماشینری، دغواکانو اصلاح شوی نسل، سیلو ګانی، ښوونځی دفامیلیو ودانی...) له منځه ولاړې. د افغانستان د پوځ ۴۹۰ تنه او د جلال اباد ۲۰۰۰ شاوخوا ملکی کسان تلف او د پوځ ۱۲۹۳تنه اود جلال اباد دښار لسګونه زره ښاریان ټپیان شول. په دې جګړه کې یوشمیر عسکری وسایط، دکانال دپروژې دمیکانیزه واحدونو وسایل، تراکتورنه، زراعتی نسل غواوې، سپکې او درنې وسلې او نورې ملي شتمنی ګاونډي هیواد ته واړول شول. جګړه کې د ۵۰۰تنو شاخوا القاعده او عرب جنګیالی، سلګونه دګاونډی هیواد ملیشیا او زرګونه افغان مجاهدینو ته تلفات واوښتل او زرګونه نور ټپیان او معیوب شول. د دې جنګ په پای ته رسیدو کورنیو او بهرنیو لیکوالو، مبصرینو، ژورنالیستانو او پوځي کسانو مختلف آثار ولیکل. دغو آثارو کی د دې یرغل نه اټکل کیدونکی پایله ټولو ته د تعجب وړ او د افغانانو دفاع ورته هیښوونکې وه.

- داکتر محمد ایوب

د مهاجرت دوران کې یو زړه سواندې طبیب (ډاکتر) و چې دمهاجرینو د خدمت لپاره یې دمهاجرت چاپیریال کې څو کلینیکونه جوړ کړي وو. وروسته له ۱۳۷۱ ل. کال او وطن ته د مهاجرو له راستنیدو یې ننګرهار، کابل او کونړ کې روغتیایی کلینیکونه جوړ کړل. د اروابناد پژواک کلیوال او د ننګرهار د سرخرود د ولسوالۍ اصلی اوسیدونکی و، چې اروابناد عبدالرحمن پژواک سره یې نږدې تعلقات لرل او کاکا یې ورته ویل. کله چې اروابناد عبدالرحمن ای. اس. آی. زنداني کړ، هیچا نشو کولای ورسره وګوري، لا زندان یې چاته نه و معلوم. ډاکتر محمد ایوب هغه وموند. په ډېرو ستونزو یې وکولای شول چې د جامو د وروړلو په بهانه ورسره وګوري. دا وخت پژواک صاحب ډېر مایوس و.

- زاس/ذاس

د افغانستان د اردو یوه مجهزه مخابره وه. له دې امله چې عموماً قطعاتو او راپوررونه او لوژستیک او ټولو عسکری لیکنو کې په (ذ) یعنې د ذاس په بڼه لیکل کېده، نو ځکه یې د (زاس) بڼه معموله نه وه.

- ملک میرخان

خوږیانو کی قومی مشر او دِغوره کرنیزو زمکو لرونکی و، په مشرقی کې په ملک میري مشهور و.

- توکل

د جلال اباد هوايی ډګرته مخامخ د یو کوچنی کلی اوسیدونکی چې د جلال اباد د جنګ له امله پېښور ته مهاجر شوی و. هلته په رسیدو سره یی زوی (جعفر) له جنګیالو سره یوځای شو او افغانستان ته د جنګ لپاره راغی، خو ډېر ژر په ښنه ټپي شو. کله چې مجاهدینو افغانستان کی واک ترلاسه کړ، بېرته خپل کلی – کورته راستانه شول. وروسته بیا جعفر د معیوبینو د ټولنی مشر او په ننګرهار کی د سره صلیب د کمیټې روغتون ورته د ګرځیدو وسایل او لکړه ورکړه. د بن له کنفرانس وروسته توکل کاکا بوډا شوی و او د ژوند وروستیو کې یې خپلو زمکو کې کار کاو.

- عبدالرحمن پژواک

نامتو دیپلومات او سیاستوال. د ننګرهار د سرخرود د ولسوالی اوسیدونکی. د دري او پښتو ژبو شاعر.

- تنظیمونه/حس صباح سازمان

پنځمه هجری پیړۍ کې د (حشاشین) د سازمان موسس و چې قلعه الموت کې اوسېد. دهغه وخت ډېرو اسلامی حکومتونو ته یې ستونزې جوړې کړې وې. څادر به یې په سر خپور و، توره لونګی ډوله یو-دوه ګزه رخت به یې په سر تاړه. وروسته یو شمیر اسلامی تنظیمونو او له هغی جملی د افغانستان تنظیمو خپل تشکیلات  او د فعالیت طرز له همدې ډول سازمانو کاپي کړل. البته د اخوان المسلین او حسن البنا نظریات او تشکیل بیا ډېر معاصر او رهبریې دمطالعی خاوند او په عصري علومو پوه شخص و. دافغانی تنظیمو دبنسټ ډېره د دیموکراسی لسزه کې کېښودل شوه چې په پیل کې یې د ځینو مظاهرو سازماندهی وکړه، خو په ۱۳۵۴ل. کال یې مشران (ربانی، مسعود، حکمتیار،...)پاکستان ته ولاړل او عملاً یې د محمد داود خان په ړاندې وسله وال اقدامات پیل کړل. تنظیمونو څخه موخه همدغه سیاسی احزاب و چې افغانستان ته د شوروی  د پوځ د راتګ اوپاکستان کې د افغانانو د مهاجرت پرمهال ډېر پیاوړی شوی وو. یو شمیر افغانی تنظیمو د (اخوان المسلمین) دعمل برنامه خپل مرام باله. دغه تنظیمونه د شوروی پوځ په وړاندی د جګړې اصلی قوت و.

- پیرصاحب

ګیلانیان چې  قادریان دي، د ننګرهار د سرخرود د ولسوالی چارباغ کې د نسبی طریقت پیل کوونکی قادریان و چې انګریزانو له عراق  او ایران څخه نیولې تر هندوستان پورې خپاره کړل. هغه وخت هندوستان یوه لویه اسلامی ټولنه وه چې دمسلمانانو شمیر د نورو مذاهبو تر پیروانو کم نه و. انګریز چې اتلسمه پیړۍ کې روسانو(تزاریانو) سره سیمه کې د قدرت سیالی پیل کړه، قادریان ورته اسلامی ټولنو کې په کار شول. لومړی ځل د پیرسعدالله په نوم هرات ته راوستل شول. له دې امله چې سردار دوست محمد خان یو دیندار سړی و، نو هرات کې یې ځای ورکړ. په دې توکه ورو ورو د شیخ سیدحسن قادری ګیلانی عراقی پیرګل نسبي درې اولادونه دریو مهمو ځایو کې مېشت

شول: ترکيه، هند(کشمير) او چارباغ. چهارباغ هغه کلي دی چي په کال ۱۸۴۲م. کي د انګريزد لښکر يوائځنی ژوندی عسکر(ډاکتر برايدن) په تپي حالت وررسيدلی و او هلته يې درملنه وشوه. وروسته بيا د ګيلانی د کورنی شيخ حسن لندن ته واستول شو. موده وروسته له لندن څخه راستون او د ګومل، وزيرستان، بنواود پکتيا په کليو کې او د غلجی کوچيانو کيږديو کې يې بيسواد بزګران او پووندہ مريدان خپل مريدان کړل. کله چې امير عبدالرحمن خان پاچا شو او د انګريزانو له لاسوهنو په تنګ شو، دغو شيخانو ته هم غوسه شو. کله چي اميرعبدالرحمن خان مړ شو، د اميرحبيب الله خان په وخت کې بيا دا پيران او شيخان افغانستان ته دننه او تر ۱۹۰۵م. يې ډيرو ځايو کی مريدان وموندل. په دې وخت انګليس دوی ته دنده وسپارله چې د ديورند دکرښې غځولو ته زمينه جوړه او افغانستان کې د جرمنيانو د فعاليت څارنه وکړي. په تدريج سره دوی ډير افغانان د اوهامو لومو کې ښکېل او د هرډول بيداری او نهضتو مخه يې نيوله. د امان الله خان په مهال دغو پيرانو له پکتيا نيولی تر سنګو خيل، اترخيل او شينوارو خلکو کې نفوذ وکړ او د پاچا په ضد يې ولمسول. دې سلسلې د محمد ظاهرشاه تر وخته دوام وموند. کله چې سيدحسن چی په نقيب صاحب مشهور شوی و، مړشو، مړی يې په ۱۹۴۷م، کال چارباغ ته راوړل شو او هلته ښخ شو چې تر نن پوری يې زيارت ته خلک ورځي، قلنګ يې جاري اومنجاور لری او خلک خپل حاجات ورڅخه غواړي. دوی له ننګرهار تر قندهار او تر کندز پورې زرګونه جريبه جايدادونه ترلاسه کړل. له سيدحسن ګيلانی وروسته پيرسيدعلی ګيلانی دهغه ځای ونيو. د ډابس سفير د قتل په مهال د دوی د کورنی يو سوداګر د قره قل، Peugeot او شوورلايت موټرو تجارت کاو.

- زبيګنيف برژنسکي

د ايتايمی لسييزې دپيل( د سړې جګړې د اوج) کلونو د امريکا دبهرنيو برنامو نامتوطراح اود ولسمشر جيمی کارتر د ملی امنيت سلاکار و. د ژوند کلونه يې (۱۹۲۸-۲۰۱۷م.)، نومړی هم لکه (ولفو ويتز) د لومړی سړې جګړې د دوران لوی طراح و چې منځنی آسيا، د آسيا جنوب او منځنی ختيز او ټولې ختيځې اروپا يې د مطالعاتو دايره کې وو.

- ولفوويتز

لړ مخکې يې يادونه وشوه. د دوهمې جګړی له پای ته رسيدو وروسته او د ناټو له جوړېدو سره سم؛ د ده طرحې د لويديځ د سياست يوه پټه کړی وه.

- ګورکه

انګريزانو(استعماری قوتونو) به د مستعمره سيمو له بيوزلو خلکو د خپلو جنګونو د پرمخ بيولو لپاره لښکر جوړکړ. وسله او قوماندہ به د انګليسانو وه، جګړه کوونکي افرادبه (ګورکه) وو.زياتره وخت به دغه ګورکه د مادی او معنوی فقر له امله دخپل هيواد آزادی غوښتونکو سره په جنګ ول.

- بنايي وداني جوړلو موسسه

افغانستان وروسته تر څلوېښتمو کلونو د اقتصاد، تجارت، جوړښتونو، فارمسی، تخنیک او تعلیم برخو کې څو بريالي پروژې او څو نامتو موسسي جوړې کړې وې. د جوړښتونو(ودانيو) برخو کې د (تهيه مسکن) او (خانه سازی) ترڅنګ يو هم بنايي موسسه وه. مرکزی دفتر يې دمکرويانو له څلورلارې مخ په ختيځ (پلچرخي لوري ته)غځيدلی سرک کيڼ اړخ ته، د راډيو د فرستنده دستګاه او يکه توت ته د تاو شوی سرک ته نږدې سيمه کی و.

- داکتر شيوا امل

افغان نامتو ډاکتر چې ۲۰۲۴م. کال کې يې المان کې د طبابت برخه کې تر ټولو لوړه جايزه ترلاسه کړه.

- جنرال بارکزی

دلمريزی پيری په شپيتمو کلونو کې د افغانستان د پوځ جنرال او په ۱۳۶۷ کال کله چې د جلال اباد جګړه پېښه شوه، د ننګرهار د لومړی لمبرقول اردو قوماندان و. هغه په ۱۳۴۳ل. کال له حربی ښوونځي څخه په ممتازه درجه فارغ او بيا يی په ۱۳۴۷ کال کې د حربی پوهنتون پلي پوهنځی په عالی درجه بشپړ کړ. له دې کال څخه وروسته يې د افغانستان دپوځ بېلابيلو قطعاتو کې خدمت کړی و. د جلال اباد د دفاع سنګر کې د مخالفينو په مرمی وويشتل شو.

- معلم عمر

په ۱۳۶۸ل. کال د ننګرهار ولايت د ملی امنيت د اداری رئيس و.

- پوهندوی محمد هاشم بشريار

د ننګرهار پوهنتون د ښووني او روزني دپوهنځي د روزنيزې رواپوهني د څانګې علمي غړی، او تر دې مخکې يی د ښوونکو د روزني انستيتوت کی تدريس کړی و. د وردک ولايت و، فلپين کې يې روانشناسی او روزنيزو علومو کې ماستری کړې وه. کله چې ننګرهار کی پخوانی دارالمعلمين او پيداګوژی پوهنځي ته ارتقا وکړه، د لوړو زده کړو د وزارت د حکم له مخي ننګرهار ته واستول شو. د ۱۳۷۷ل. کال د سرطان مياشت کې وسله والو د سرک له غاړې ډاټس کې پورته کړ او د هغې ورځې په ماښام ووژل شو. مړی يې سيند کې وموندل شو. د پوهنوال علمی رتبې لپاره يې د اروا پوهني او تربيتی سايکالوژي کتاب او څو مقالي چمتو کړې وې، خو ژوندی پاتې نشو.

- پوهندوی محمد نذير حبيبی

په اصل کې د پروان ولايت د سيدخيل ولسوالۍ و، ژوند او زده کړې يې کابل کې کړې وې، په ۱۳۵۱ل. کې د کابل پوهنتون د کرنې پوهنځی څخه په لوړو نمرو فارغ او همدې پوهنځی کی د علمی کادر په توګه مقرر شو، ورسره يو ځای څه موده د دې پوهنځی تدريسی مدير هم و. وروسته د امريکې د متحده اياالاتو د اکهالاما پوهنتون ته ولاړ او ماستری يې هلته بشپړه او بېرته وطن ته راستون شو. کله چې په ۱۳۵۷کال

ننګرهار پوهنتون کی د کرنی پوهنځی تاسیس شو اروابناد حبيبی د لوړوزده کړو دوزارت د حکم له مخې د دغه پوهنځی داستاد او لومړنی رئیس په توګه جلال آباد ته واستول شو. هلته ډېرو ستونزو سره مخ شو؛ يو ځل يې د کابل جلال اباد په لويه لار کې د موټر د چپه کېدو له امله ښی لاس او پښه مات شول، د يوه کال په ترڅ بېرته روغ شو. بل ځليو کوچنی زوی (محمد سهيل)سيند يووړ او په درېيم ځل(۱۳۷۷چنګاښ) د سړک له غاړې يو ډاټسن موټر ته وسله والو پورته او د بهسودو د پله په سر يې ويشتلی او سيند کې يې اچولی و. وروسته بيا د ده يو نږدې دوست او شخصي ملګري پوهنوال ن.ا. قاسمی چې د هرات د ولایت او د بيروت د پوهنتون فارغ و او د ننګرهار د کرنې پوهنځی کې د استادانو د کمښت له امله، د لوړوزده کړو د وزارت له خوا هلته استول شوی و، د حبيبی د وژلو علت دا ښودچې: حبيبی ته د يوان اچ سی آر دفتر له خوا بلنه ورکړل شوه چې دوی سره کار وکړي. هلته مشارو. په يوه غونډه کې يې ويلی و چې دفترونه، د مرستو لیږد او نور هغه مصارفات چی افغان مهاجرو سره پاکستان کی کيږی، بايد ټول افغانستان ته راولیږدول شی، ترڅو يي د حيف او ميل مخه ونيول شی او مرستې په موثر ډول افغانانو ته ورسيږي.

- جنرال محمد شريف او جنرال صلاح الدين سبحانی

جنرال محمد شريف د کشف مرستيال. جنرال سبحانی دعبدالسبحان زوی د کابل د ده سبز اوسيدونکی، په ۱۳۴۷ل. کال حربی پوهنتون څخه فارغ و، نوري لوړې زده کړې يې مصر کې کړی وې. عبدالواسع هوطن د هليکوپترو د ۳۷۷غونډ پيلوټ. په جلال اباد دبريد په مهال افغانستان د بلخ ده دادی، دهرات شينډنډ، کندهار، بګرام او د کابل خواجه رواش کې د ملکی هوانوردی اوالوتکو ترځنګ، نظامی برخی هم لرلی. نظامی الوتکی ترانسپورتی، شکاری Mig. 21 ، سوخوی جيت او هليکوپتر وې. په دې جمله کې د هليکوپتر ۳۷۷ غونډ د کابل د خواجه رواش هوايی ډګر نظامي برخه کې و.

- جمال مينه

د کابل پوهنتون ختيځ ته پرته سيمه چی د سيدجمال الدين افغان د نوم په وياړ په دې نوم نومول شوی ده. خو د کابل پوهنتون ټول پينځه سوه وربوی هغه زمکه ده چی غازی امان الله خان د ټل له جنګ څخه د نادرخان د بريالی راستنېدو او د ده د تشويق لپاره له عامه سلطنتی ملکيت څخه ورته بخشش کړې وه. غازی امان الله خان له انګريزانو سره په جګړه کې نامتو جنرالانو ته سوغاتونه، بهادری او نښانونه منظورول. وروسته بيا کله چې د افغانستان د لومړني پوهنتون(دارلفنون) بېلابيل پوهنځی په ښار کې يو يو رامنځته شول، د ځلوېښتمي لسيزې په ترڅ کې ټول د جمال مينې دساحې خواته دغه پنځه سوه جريبه وربوی ته راوليږدول شول. دا چې کوم چا جمال يو نامعلوم شخص معرفی کړی او ويلی يې دی چی دا ساحه د جمال په نوم د يو چا وه، ناسمه خبره ده.

- خاد

له ۱۳۵۹ تر ۱۳۶۴ پورې د افغانستان د استبخاراتو اداره وه.

- پی.ډي.ا.( Authority Development Peshawer/PDA )

د پېښور ښار انکشافی اداره چې دفتر یی حیات اباد فیز تری کې و. پرته د دی اداری له اجازې چا هیڅ تعمیرنشو جوړولای، ملکیتونه ورسره ثبت و او هره نقشه یې مخکې له تطبیق څخه تایید، رد یا اصلاح کوله.

- Pirates Ships د سمندري غلو بېړۍ ګانې

په اروپا کې؛ په تېره بیا د پرتګال، انګلیس اوفرانسي د بېړۍ جوړلو او چلولو صنعت ډېره سابقه لري. د سوداګري تر څنګ یې دخپلو استعماري هدفونو له مخې نوي ټاپوګان هم وپېژندل او خپل (ملکیت) یې کړل. عجیبه ده چې دا هیوادونه د لویو سمندرونو لرې برخو کی، له خپلو هیوادو د زرګونو کیلومترو په واټن ټاپوګان لري. په دې لړ کې له اتلسمې پیړۍ مخکې سمندری غلو هم ځانګړې کوچنی چټکې بیړۍ لرلې چې د سوداګرو په بیړیو به یې یرغل کاو او د هغوی مالونه به یې لوټل. سمندري غله(دزدان دریایی) یوه نامتو او وېروونکي اصطلاح شوه چې بېړیو ته یې (Pirates Ships) ویل کېدل. ورو ورو د امنیتي تدابیرو او د سمندری پولیسو د ګزمې او د لویو بیړیو د ښه مجهز کیدو په تخنیک سمندری غله ورک شول.

- ارباب خلیل

د اربابانو یو مشر و چې پېښور او افغانستان کې یې ژوند کړی و. د کابل د جنګونو په مهال د پېښور د جهانګیراباد سیمه کې میشت و. څه خپلوان یې د بغلان ولایت او څه نور خپلوان یی جلال اباد او کابل کې وو. پېښور کې یې افغان مهاجرو سره ښه راشه درشه پاللــــه. د دوی د اوسېدو کوڅه د اربابانو د کوڅې په نوم مشهوره وه. یوه سیمه جلال اباد ښار کې هم د اربابانو په نوم شته.

- یوولسمه فرقه

په ننګرهار کې د افغانستان د پوځ یوه عسکری فرقه وه، له شپیتمو کلونو مخکې د جلال اباد دهوایی ډګر مخامخ سیمه( له خوشکنبد مخ په ختیځ لوري) د جلال اباد-تورخم دعمومی سړک په غاړه پرته وه چې وروسته بیا ثمرخیلو ته ولیږدول شوه او په ځای یی د ننګرهار لومړی نمبرقول اردو ځای په ځای شو.

- آی. اس. آی.( ISI)

کله چې د انګلیس استعمار په ۱۹۴۷م. کال د هند له نیمې وچې څخه ظاهراً ووت، په انګلستان کې یې خپل روزل شوي جنتلمین په هغه خاوره حاکم کړ چې نیمه یې له هندوستان او نیمه یې له افغانستان څخه بېله کړې وه. د هغه وخت د پوځ او نظامي شتمنیو یوه لویه برخه پاکستان ته په برخه ورسېده. برېټانویانو ځان ته وفادار فیودالان، پوځیان، بیروکراتان او سیاستوال ونازول او د پاکستان واګې یې ورته وسپارلې چې دوی ته ښه وفادار، چوپړیان او د داډ وړ وو. دا خلک ستر زمکوال او فیودالان وو (د بېلګې په ډول د قریشي او مخدوم کورنۍ او داسي نور) چې دا اشرافیه (Elite class)

تر اوسه د (Establishment) تر نامه لاندي په پاکستان واکمن او مسلط دي. بریتانویانو ته د وفادارو خلکو او کورنیو بشپړ مالومات ښاغلی سر لیپل هینري ګریفن په خپل کتاب (The Chiefs of Punjab) کې لیکلی دی. بریتانویانو د پنجاب د اشرافیه د ښووني او روزني په موخه یو ځانګړی پوهنتون (College Chief's) جوړ کړی و چې اوس د (College Aitchison) په نامه یادېږي. د پاکستان ډېر پوځي او سیاسي مشران له همدې پوهنتون څخه فارغ شوي دي. په دې مصنوعي جغرافیه کې یې د مشروع حکومت ښودلو په موخه انګریز مامور میکایلی(Thomas Macaulay Babington ) یو قانون(آئین) او ورسره یو بل انګریز دغه استبلشمنت ته ( چې نوم یې جنرال فرانک والترمیزیروی و) اردو او نور تاسیسات جوړ اود راتلونکی لپاره یې د خپلو موخو او غرضونو په خاطر دوه استخباراتی سازمانونه هم جوړ کړل. یو یې د عمومی اطلاعاتو اداره اوبل یې نظامی جاسوسی وه، خو دواړه ډېر کامیاب نه وو. وروسته تر یو کال د استخباراتو یو ډېر ماهر انګلیس(کاتوم) په ۱۹۴۸م. I S I ایا (Inter Services Intelligence) تاسیس او بریتانیا کې یې ورته د مامورینو روزنه هم پیل کړه. د پاکستان د خلکو د عوایدو او مالیاتو ډېره برخه دغه سازمان ته ورتله، چې د وخت په تېرېدو یې سیمه کې بې امني او د ګاونډیو هیوادو چارو کی لاسوهني پیل کړې. دغه استخباراتی سازمان ته بېلابېل تشکیلات او کومیټې جوړې او په دندو وګومارل شوې. ورو ورو یې عملیاتواو تشکیلاتو دنړې نورو برخو ته هم غځوني وکړې. نن ورځ دا په نړۍ کې د استخبارتی چارو پنځم مُهلک سازمان بلل کیږي. دندي یې د پاکستان د ګټو خوندي کول، ګاونډیو هیوادو (په تېره هند او افغانستان )کې ځارګري، د پاکستانی پوځ د بېلابیلو څانګو ترمنځ همغږي، پاکستان کې د بهرنیو اتباعو، ډیپلوماتانو، سوداګرو او نورو ځار، په بهر کې د پاکستانی ډیپلوماتانو ځارنه او نورې جاسوسي دندې دي. د دې سازمان پټې شبکې د افغانستان مسایلو ته ځیر دي. د ډیورند کرښه، د افغانستان اوبه، د افغانستان د وضعیت بی ثباته ساتل، افغانستان کی د اقتصادی پروژو تخریب، د ډیورند له کرښې ګام په ګام د افغانستان خاورې ته پرمختک، دافغانستان د مرکزی حکومتونو په وړاندې د مخالفینو روزنه او تجهیز او داسې نور فعالیتونه یې څرګند، خو د هر ډول ملی تفکر، ترقی پسندي، ملی یووالی او دتمدُن دمظاهرو مخنیوی یې پټ فعالیتونه دي، چې پاکستانی مدرسو کې د روزل شویو عناصرو په لاس یې عملي کوي. په تېره بیا په لاندنیو کلونو کې یې لاندنیو رئیسانو د افغانستان چارو کی ویجاړوونکې دندې لرلې: جنرال اخترعبدالرحمن(۸۷-۱۹۸۰م.)، جنرال حمیدګل(۸۹-۱۹۸۷)چې همدا وخت یې په جلال اباد د برید نقشه طرح کړه)، اسد درانی(۹۲-۱۹۹۰)( دا وخت دافغانستان ټول ملی موسسات، اردو، سړکونه، تاریخی ابدات او نوری مادي او معنوی شتمنی برباد شوې)، اشفاق پرویزکیانی(۲۰۰۷-۲۰۰۴)چې د افغانستان د متزلزل او بی ثباته وضعیت په وړاندې یې وسله والو مخالفینو روزولو او بیا تنظیمولو او وسله وال کولو چارو ته

سازمان ورکړ اود بن لادن ژوند یي خوندي کړ)، عاصم منیر(۲۰۱۸-۱۹)، او جنرال فایز(فیض) حمید(۲۰۱۹-۲۰۲۱) چې افغانستان کې یې یو متفرق، غیر متفق، مفسد، خو د ثبات په لوری تلونکی جمهوری نظام بیخی له منځه یوور.

- سي. آی. ای(CIA )

د امریکی د متحده ایالاتو د اطلاعاتو(استخباراتو) مرکزی سازمان دی چې د امریکی د ملی امنیت د ساتني، د لویو پالیسیو د پټ ملاتړ او څار او د راز راز نورو سیاسی او امنیتی دندو مسئولیت لري. دغه سازمان د دوهمي نړیوالی جګړي له پای ته رسېدو وروسته جوړ او مرکزی دفتر یي ویرجینیا کې دی. دا سازمان د اطلاعاتو را ټولولو پرته، دولتي سیاست جوړوونکو ته مشوري هم ورکوي. د سړې جګړې په دوره کې یې افغانستان د تمرکز نقطه او په دې سیمه کې یې دشوروی اتحاد په ضد د نظامی او نورو فعالیتونو ملاتړ وکړ. عجیبه ده چې؛ د فیډل کاسترو په ضد د فعالیتونو او لګښتونوڅخه وروسته یې دوهم درجه تمرکز او لګښتونه په حکمتیار او د افغانستان په جنګ وو، دا د دې څرګندونه کوي چې د اتیایمو کلونو به بهیر کې د افغانستان مسئله دغه سازمان ته ډېره مهمه وه.

- کاجی بی(KGB)

د شوروی اتحاد د دولتی امنیت کمیټه( Комитет государственной безопасности (استخباراتی) اداره وه چې وروسته د ستالین له مړینې په ۱۹۵۳م. کې د دغه هیواد د پخواني د امنیت وزارت په ځای جوړه شوه. دغی اداري د شوروی اتحاد ټولو جمهوریتونو کې تشکیلات او د سیاسی او ملکی ژوند په ټولو برخو کلکه څارنه لرله، چې په ۱۹۹۱م. کال کې د شوروی اتحاد له ړنګیدو وروسته منحل شوه. مهمه دنده یي د لویدیځو هیوادو په وړاندی کلک امنیتی- اطلاعاتي دریځ او له سي.آی. ا. سره پټې ډغری وهل و. دا اداره په ټول شوروی اتحاد کې تر ټولو پیاوړې اداره وه.

- د انګلستان استخباراتی نظامی سازمان( MI 6)

بشپړ نوم یي(Military Intelligence, Section 6 ) دی. پټ او نظامی ډوله فعالیتونه ترسره کوي، د بهرنیو دولتونو، شرکتونو او نورو استبخاراتی سازمانو په اړه معلومات راټولول، د ټولي بریتانیا د امنیتی چارو څارنه او د ګټو ساتنه یی دنده ده. د آسترلیا د پټو اطلاعاتو سرویس، د اسراییلو موساد(جاسوسی اداری)، د پاکستان ISIاو CIAسره ټینګې اړیکي لري.  د بریتانیا د بهرنیو چارو وزارت فعالیتونو کې یې ډېر اغیز دی. د تاسیس له وخته بیا تر اوسه یې نوم او د دندو جزئیاتو کی بدلونونه راغلي دي.

Ketabona | کتابونه
WWW.KETABONA.COM

له کتابونه ډاټ کام انلاین کتابتون څخه په وړیا ډول
په ډېره آسانه بنه صفاء هراړخيز کتابونه ډاونلوډ کړئ!

www.ketabona.com



@Ketabona
www.ketabona.com
info@ketabona.com

TALK TO US
+93 767 616767
info@Ketabona.com